

# بوش

# د دروغجنو پاچا

# د مفسدینو سالار

Download from:aghalibrary

# فهرست

سریزه ---------------------------------------------------- ۱
د جهاد په اړه څو پوښتني ---------------------------------------- ۷
خطرناك سفر ----------------------------------------------- ۴۱
یولسمه اعلامیه ----------------------------------------------- ۸۷
دولسمه اعلامیه -------------------------------------------- ۱۱۹
دیارلسمه اعلامیه ----------------------------------------- ۱۴۲
۱۴ اعلامیه ------------------------------------------------ ۱۷۴
۱۵ اعلامیه ------------------------------------------------ ۲۰۱
۱۶اعلامیه ------------------------------------------------- ۲۲۳
۱۷ اعلامیه ------------------------------------------------ ۲۴۷
د حمل د میاشتی پیښي ------------------------------------- ۲۶۴
د اسامه په شهادت به امریکا که ایران خوشحاله شي -------- ۲۷۲
د امریکا جنایات په عکسونو کي ------------------------ ۲۷۲۸۵

**Download from:aghalibrary**

## یادونه:

دوو خبرو ته د درنو لوستونکو پام راگرځوو:

- د دې کتاب ډېرې برخې د ورور حکمتیار لخوا لیکل شوې، د ځانګړو مصلحتونو په خاطر مو په مخکني چاپ کې دا یادونه نه وه کړې.
- د ځینو معاذیرو په وجه ونه توانېدو چې دا کتاب په دقیقه توګه تصحیح کړو، د پښتو د (ی) ګانو په ارتباط ځینې اشتباهات په کې شته چې مونږ ئې له درنو لوستونکو نه بخښنه غواړو .

**Download from:aghalibrary**

Download from:aghalibrary

بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

د مجاهدینو سري فوځ ویاړي چي با ایمانه او زړه ور مجاهدین ئې د توري او قلم په سنگرونو کي د انگریزانو او امریکایانو په ضد په مقدس جهاد لگیا دي، او په مېړانه د صلیبی نیواکگرو ځواکونو مقابله کوی، دښمن ئې د هېواد له اشغال او د مقاومت له ځپلو او پر هېواد له مسلط کېدو مأیوس کړی، دښمن په تېرو پنځویشتو میاشتو کي خپل ټول زور ځواك وآزمویو، چي څه ئې له لاسه کېدل هغه ئې ونه سپمول، د مخالفینو د نیولو او وژلو لپاره ستر ستر عملیات، په کلیو، کورونو او جوماتونو وحشیانه بمباری، د بې وزلو افغانانو بې رحمانه او بې دریغه وژنی، د جنگی مصارفو او د فوځونو شمیر زیاتول، د افغان ولس د ایمان کمزوری کولو او د جهادی جذبی ختمولو لپاره د اخلاقی فساد خورول او د دې ناولی مقصد لپاره پراخی هلي ځلي، فحش فیلونه، مبتذلی سندری، هرڅه ئې وکړل، خو نه په اوضاع مسلط شو، نه ئې مقاومت وځپلی شو، نه ئې واکمن حکومت جوړ کړی شو، او نه ئې جگړه

Download from:aghalibrary

پای ته ورسولی شوه، نن هرڅوك د افغانستان وضعیت خطرناك ګڼی او امریکایان خپلو موخو ته په رسېدو کې ناکام شمیری، او هرڅوك دی نتیجی ته رسېدلی چې اشغالګران لدې هېواد نه له وتلو پرته بله چاره نلري.

پر عراق د یرغل لپاره بش او بلیر د ګڼ وژنو وسلو شته والی پلمه کړ، ستر انګریز بلیر به ویل چې عراق نه یوازي داسې ګڼ وژونکې وسلې لري چې ټوله نړۍ تهدیدوي، بلکه کولی شي چې په پنځه څلویښت دقیقو کې دا وسایل د کارولو لپاره چمتو کړي!! جورج بش تر تیري میاشتی پوري مکرر ویل چې عراق خطرناکې ګڼ وژونکې وسلې لري، دا وسلې د امریکا د امنیت لپاره ګواښ وو، مونږ به حتماً هغه راپیدا کوو!! اوس هر چا ته دا خبره جوته شوې چې امریکایي او انګریزي چارواکو خپلو ولسونو او ټولې نړۍ ته پدې هکله دروغ ویلي وو!! د پلټنې امریکایي هیئت دا خبره اعلان کړه چې په عراق کې له جګړې نه مخکې داسې وسایل نه وو!! دا د غربي دیموکراسۍ د فساد بله بیلګه ده، قرآن د کافرانو یو خصلت همدا ښیي چې هغوي دروغ وايي، د دوی عقیده او عمل په درواغو ولاړ وي، د خداي په اړه دروغ وايي، له خلکو سره دهوکه کوي، له خپل عقل او د خپل انساني وجدان سره چل ول کوي او خپل ځان غولوي!! چې یو کس، هغه هم د یو لوي ملك مشر؛ د ټولې نړۍ په وړاندې په څرګنده دروغ وايي؛ هغه به په خفا کې څه کوي!! چې یو مشر په جګړې کې د خپل ولس د ښکېل کولو په اړه دروغ وایي؛ هغه به د نورو قضایاوو په هکله څه کوي!! قرآن د هغه چا مشري خو پرېږده حتي شهادت ئې د منلو وړ نه ګڼي چې په خپلې افتراء سره ئې د چا عزت ته تاوان رسولی وي، خو په غرب کې هغه څوك هم مشر کېدی شي چې د جګړو اور بلوي، د جګړو لپاره دروغجنې پلمې برابروي، او په جګړې کې د خپل ولس د ښکېلولو لپاره دروغ وايي او د لسهاوو

زرو بې وزلو او بې گناه خلکو د مرگ ژوبلې باعث کېږي!!

د افغانستان او عراق جنگ او له مظلومو بندیانو سره د دوی چلند که له یوې خوا د دوی د کاواك نظامي ځواك ماهیت نړۍ والو ته افشاء کړ، له بلې خوا ئې د دوی د پریوتي اخلاق او د بشري حقوقو د دروغجنې ادعا اصلي څېره بربنډه کړه، امریکایانو او انگریزانو چې له بندیانو سره څه کړي دا د دوی د پریوتي اجتماعي اخلاق لوازم دي، د دې جرړې باید په انفرادي او شخصي انحرافاتو کې ونه لټوو او د څو باغي او بداخلاقه عسکرو کړنه ئې ونه گڼو، دوی د عراق او افغانستان په ټولو زندانونو کې له بندیانو سره ورته چلند کړی، بربنډول، جنسي تیري، برقي شوکونه، وهل ټکول، په روزل شوو سپیانو داړل او سپکول؛ د دوی عام چلند دی، آیا د داسې پیښو په زرهاوو عکسونه د دې ښودنه نه کوي چې دا یو عام، منظم او پلان شوي کار دی، نه انفرادي تیري؟ مونږ ته له همغو لومړیو ورځو نه دا راپورونه رارسېدل خو باور مو نه راتلو چې امریکایان به تر دې حده وحشي او ذلیل وي. امریکایان باید پدې پوه شي چې پدې تحقیر، توهین او تذلیل سره ئې د نړۍ د ټولو مسلمانانو په زړونو کې د انتقام او غچ داسې اور بل کړی چې معلومه نده کله او څنگه به سوړ شي، شاید د نیویارك په څېر ډېر عملیات هم د مظلومو مسلمانانو دردېدلي زړونه ساړه نکړي شي.

مونږ هغو خلکو ته حیران یو چې له افغاني او عراقي بندیانو سره د دغه وحشیانه او ذلیلانه چلند افشاء کېدو وروسته هم د دوی غیرت تحریك نشو، د امریکایانو نوکري ته ئې دوام ورکړ، نه ئې د دوی په ضد وسله واخیسته او نه ئې له ملگرتیا نه لاس په سر شوو، آیا دا منلې شو چې د دغو خلکو په زړه کې به د ایمان او غیرت کوم بڅرکی وی او په رگونو کې به ئې د یوه مسلمان او افغان وینه خوځېږي؟ هغو ته هم حیران

یو چي د امریکایانو او انګریزانو په ځاي په هغو ذلیلو اجیرو فوځیانو بریدونه کوي چي د څو ډالرو په مقابل کي استخدام شوي. هغو ته هم حیران یو چي په خپلو هېوادونو کي د کفر، فساد او الحاد په اصلي عواملو د ګوزار په ځاي د خپل مخالف مذهب په جوماتونو کي انفجارات کوي، او پر بې وزلو لمونځ کوونکو مشینګنې چلوي او دیته له مذهب نه د دفاع نوم ورکوي!! پداسي حال کي چي پر تا او ستا پر وطن امریکایان او انګریزان حکومت کوي، واکداران دي بې دینه، بداخلاقه، غله او د پردیو غلامان، سیاست، اقتصاد، فوځ او پولیس دي د پردیو په واك او خدمت کي، راډیو او ټلویزیون دي شپه ورځ د دین، مذهب او اخلاق په ضد زهر خوروي، د دین جرړي باسي او الحاد او بې دیني د ټولني ګوټ ګوټ ته رسوي، خو ته دا ټول زغمي، هیڅ عکس العمل نه ښیي، او خپل زور د یوه جومات له ملا او له څو بې وزلو لمونځ کوونکو سره آزمویي!! او ګمان کوي چي پدي سره له مذهب نه دفاع کوي او د خداي رضا ترلاسه کوي!! افسوس د دغو خلکو په حالت!!

د مجاهدینو سري فوځ د افغانستان او عراق په وضعیت د ښه پوهېدو لپاره دا رساله ستاسو مخی ته ږدی، د جهاد مینه والو او د هېواد آزادۍ ته سترګی په لاره افغانانو ته د روان مقدس او تاریخی جهاد په اړه دا کتاب ډالی کوو، چي پنځه برخی لري:

- د جهاد په اړه څو مهمو پوښتنو ته ځواب.
- د برمل ولسوالۍ ته د یوه خبریال د سفر په زړه پوری خاطره او د جهاد د سنګرونو سترګو لیدلی راپور.
- د سري فوځ د تیر کال اوه اعلامیی چي په هغوی کي د تیرو اوو میاشتو مهمی سیاسی او نظامی پیښی څېړل شوي.
- د حمل د میاشتی ځینې پیښې.

- **د ورور حکمتيار هغه په زړه پورې او له معلوماتو ډکه مقاله** چي د شهادت او وحدت په ورځپاڼو کي "د اسامه په شهادت به امريکا ډېره خوشحاله شي که ايران؟ تر عنوان لاندي خپره شوې.
- عکسونه د وحشي او ذليلو امريکايانو جنايات افشاء کوي.

د مجاهدينو سري فوځ

بسم الله الرحمن الرحیم

# د جهاد په اړه څو مهمي پوښتني

په دې شپو ورځو کې د جهاد په اړه څو داسي مهمي پوښتني راولاړې شوې چي په هرمحفل کي وربانديي بحثونه کېږي، هر مسلمان غواړي دې پوښتنو ته د قرآن او حدیث په رڼا کي سم او صحیح ځواب پیدا کړي او د جهاد په هکله په خپل ایماني مسئولیت پوه شي. ما لازمه وګڼله چي دغو پوښتنو ته د قرآن او حدیث په رڼا کي ځواب ووایم.

پوښتني دا دي:

۱. آیا له جهاد في سبیل الله نه مراد یوازې قتال دی که هر جد وجهد؟ آیا هر جد و جهد ته جهاد ویلی شو؟ آیا تبلیغ او دعوت ته هم د جهاد في سبیل الله نوم ورکولی شو؟

۲. آیا د جهاد اعلان به د حکومت له خوا کېږي او له دې پرته جهاد جائز نه دی؟ او که هرمسلمان په خپل سر دا کار کولی شي؟ او که د اعلان لپاره ئې نور شرائط وي نو دا شرائط کوم دي؟

۳. آیا شهادت طلبانه او فدائي عملیات جائز دي؟ آیا هغه چا ته

شهید ویلی شو چي په ځان پسې بمونه تړي او د دښمنانو په منځ کي د دې بمونو په چاودلو سره ځان او دښمن له منځه وړي؟ آیا دا کار د قرآن له دې آیت سره مخالفت نه دی چي فرمايي: ولا تلقوا بايديكم الى التهلكة: په خپل لاس ځان په تهلکه کي مه اچوئ؟

**۴.** د قرآن د دې حکم معنی څه ده چي د دښمن په خلاف د خپل وس او توان په اندازه قوت او وسايل برابر کړئ؟ آیا معنی ئې دا ده چي زموږ وسايل به د شمېر او کیفیت له لحاظه له دښمن سره برابر وي بیا به د دښمن مقابله کوو او که د خپل موجود توان په اندازه د وسايلو په برابرولو مکلف یو؟

**۵.** آیا مسلمان د دې حق لري چي وواېي: زه د مکي دور په څېر صبر کوم، د نوح، ابراهيم، عیسی، یوسف او نورو هغو پیغمرانو علیهم السلام په شان له مسلحانه جهاد نه ډډه کوم چي د دښمن په خلاف ئې وسله نه ده استعمال کړې؟

د پورتنیو پوښتنو ځوابونه دا دي:

په دې خبري چي آیا له جهاد في سبیل الله نه مراد یوازي قتال دی که هر جد وجهد؟ هلته ښه پوهېدی شو چي څو ټکي په پام کي ولرو:

- قرآن د هر کار او عمل لپاره ځانګړي او خاص اصطلاحات لري، هره اصطلاح باید په خپل ځای او خپل خاص مورد کي استعمال شي، څوك چي په قرآن ایمان لري هغه ته پکار ده چي د قرآن هره اصطلاح په خپل ځای کي وکاروي او له خپل خاص مورد نه پرته ئې د بل څه لپاره استعمال نه کړي.
- په قرآن کي د جهاد في سبیل الله اصطلاح یوازي د دښمن په

خلاف د مسلحانه جهاد په معنی راغلې، که قرآن ته مراجعه وکړئ نو وبه گورئ چي د (جهاد في سبيل الله) ذکر له (هجرت) نه وروسته راځي او دا ټول په هغو سورتونو کي راغلي چي په مدينه کي او د جهاد له فرض کېدو وروسته نازله شوې، د مکي دور په څو محدودو آيتونو کي د (جهد ايمانهم)، ( وان جٰهدٰك) ، (جاهدوا فينا) او ( ومن جاهد) په صيغه راغلي چي هلته ئې مراد زيار او زحمت ايستل دي.

- د اسلام ټول ائمه په دې متفق دي چي له جهاد في سبيل الله نه مراد قتال في سبيل الله دي نه بل څه.
- د قرآن له هيڅ آيت نه دا نه معلومېږي چي (تبليغ) او (دعوت) ته دې (جهاد في سبيل الله) ويلی شوي وي.
- د الله په لار کي مالي قربانۍ ته (انفاق في سبيل الله) ويل شوي نه جهاد في سبيل الله.
- په مکي دور کي (دعوت) او (انفاق) وو خو دې ته په مکي سورتونو کي د جهاد نوم نه دی ورکړی شوی، جهاد په مدينه کي فرض شوی او اساسي او تفصيلي ذکر ئې په مدنې سورتونو کي راغلی، له دې نه معلومېږي چي جهاد بېل شي دی او دعوت او انفاق بېل.
- دا خبره چي (دعوت ، تبليغ او انفاق) هم ( جهاد في سبيل الله) دي، په حقيقت کي هغه کسان کوي چي يا په دې نه پوهېږي چي د قرآن هره اصطلاح بايد په خپل ځای کي استعمال شي او يا د الله په لار کي د جهاد کولو اراده او همت نه لري. د دې لپاره چي په نه جهاد

سره ئې څوك ملامت نه کړي نو وايي: زما دعوت او تبليغ، زما وينا او ليکنه او زما سياسي او اجتماعي مبارزه هم جهاد في سبيل الله دي!! دوى ته وايو: ستا دا ټول کارونه د قدر وړ دي، الله تعالى دې مزيد توفيق درکړي، خو هيڅ يو ئې جهاد في سبيل الله نه دى.

د دوهمې پوښتني په ځواب د پوهېدو لپاره بايد لاندي خبري په پام کي ولرو:

- د قرآن په هيڅ آيت کي نه صراحتاً دا راغلي او نه تلويحاً او اشارتاً دا موندلى شو چي د (جهاد اعلان) به د حکومت او رياست لخوا کېږي.
- په ټول قرآن کي نه د (حکومت) او (رياست) الفاظ راغلي او نه دا خبره چي د جهاد اعلان به د حکومت، رياست، خلافت او امارت يا حاکم، رئيس، خليفه او امير لخوا کېږي.
- د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي هم دا نه شو موندلى چي د جهاد د اعلان لپاره ئې د (حکومت) او (رياست) شته والى ضروري ګڼلى وي او دا په کي ويل شوي وي چي جهاد يوازي په هغه صورت کي جائز دى چي (حکومت) او (رياست) ئې حکم صادر کړي.
- څوك چي له قرآن او حديث نه ډېر لږ معلومات هم ولري په دې پوهېږي چي نه په قرآن کي د جهاد د اعلان لپاره د (حاکم) او (رئيس) يا (حکومت) او (رياست) شرط لګول شوى او نه په احاديثو کي. که څوك ووايي چي له جهاد نه مخکي جماعت ضروري دى، دا خبره صحيح ده، خو که څوك ووايي چي د جهاد اعلان به د يوه برحال حکومت لخوا کېږي، نو دا خوشې بې بنسټه خبره ده، دا له دين نه د

یوه بې خبره سرکاري مفتي خبره کېدی شي خو د یوه واقعي عالم فتوی نه شي کېدی.

- د پیغمبر علیه السلام له قول او فعل نه دا معلومېږي چې د جهاد د پیل لپاره دوو اساسي شیانو ته ضرورت دی: (جماعت یعني حزب او ډله) او (مهجر یعني د هجرت ځای)، پیغمبر علیه السلام فرمایي:

آمركم بخمس الله أمرني بهن بالجماعة والسمع والطاعة والهجرة والجهاد في سبيل الله، فإنه من خرج من الجماعة قيد شبر فقد خلع ربقة الإسلام من عنقه، إلآ أن يرجع، ومن دعا بدعوى الجاهلية فهو من جثاء جهنم، قالوا: يا رسول الله وإن صام وإن صلى؟ قال: وإن صام وإن صلى وزعم أنه مسلم:

په پنځو هغو شیانو تاسو ته امر کوم چې الله تعالی ماته د هغه امر کړی: په جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او جهاد في سبیل الله او څوك چې د یوې لوېشتې په اندازه له جماعت نه لرې شو نو هغه د اسلام کړی له خپلي غاړې وایستله (له اسلام نه ووت) مگر دا چې بېرته راوگرځي او چا چې د جاهلیت شعارونو ته بلنه ورکړه هغه به د دوزخ خس شي، خلکو وویل: یا رسول الله! که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئې ویل: که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي او په ځان ئې دا گمان کړی وي چې مسلمان دی.

له دې مبارك حدیث نه په څرگنده توگه معلومېږي چې له جهاد نه مخکې باید جماعت جوړ شي او بیا د حاکم نظام له سلطې نه د وتلو په خاطر هجرت وشي او بیا مسلحانه مزاحمت پیل شي. پیغمبر

علیه السلام په مکي دور کي جماعت جوړ کړ او مدينې ته له هجرت سره سم ئې د قريشو په‌ضد مسلحانه مزاحمت پيل کړ.

- باید دا خبره په خیال کي وساتو چي دغه پنځه کارونه پر مسلمانانو واجب دي، په دې مأمور شوي چي جماعت به جوړوي، داسي جماعت چي په سمع او اطاعت ولاړ وي، بیا به د حاکم سیاسي نظام له سلطې نه د وتلو لاري لټوي، د ضرورت په‌صورت کي به هجرت کوي او بیا به د همدې نظام د رانسکورولو لپاره وسلې ته لاس کوي.
- ریاست جوړول خو د اسلامي جهاد هدف او مقصد دی، نه دا چي لومړی به حکومت جوړېږي بیا به دا حکومت د جهاد اعلان کوي!! جهاد خو د دې لپاره فرض شوی چي په دې سره غیراسلامي نظام رانسکور کړی شي او پرځای ئې اسلامي حکومت قائم شي. پیغمبر علیه السلام د ابوجهل د حکومت د نسکورولو او د ټول حجاز په مرکز او پایتخت (مکه) کي د یوه اسلامي حکومت د قائمولو لپاره جهاد پیل کړ. نه خو غیراسلامي حکومتونه په خپله رانسکورېږي او نه اسلامي حکومت له جهاد نه پرته له بلي لاري قائمیدی شي، ځوك چي دا غلطه او بابیزه خبره کوي او د جهاد د اعلان لپاره د حکومت شته والی شرط ګڼي، هغه دې ووایي چي پیغمبر علیه السلام ولې په داسي حال کي جهاد پیل کړ چي په حجاز باندي د قریشو واکمني وه، دی له پایتخت (مکي) نه د مدینې یوه ووړ کلي ته مهاجر شوی وو، هلته ئې نه حکومت وو او نه فوځ!! دې جنابانو ته وایو: آیا د روسانو په ضد به د جهاد اعلان ببرك

کارمل کولو ؟!! آیا په فلسطین کي به د جهاد اعلان شارون کوي، په کشمېر کي واچپائي، په چیچین کي پوتین او اوس په افغانستان کي جنرال ډیویډ بارنو یا کرزی!!

- د جهاد اعلان هغه څوك په حکومت پورې تړي چي یا د حکومت نوکر وي، یا د جهاد مخالف وي او یا د جهاد اراده او همت نه لري، داسي فتوی تل سرکاري مفتیان ورکوي، هیڅ داسي غیرسرکاري عالم نه شئ موندلی چي په قرآن او حدیث پوه وي او هغه دې جهاد په حکومتونو مخصوصاً موجوده مفسدو او غیراسلامي حکومتونو پورې مربوط کړي. که لږ دقت وکړئ او د دا راز مفتیانو پټې اړیکي وڅېړئ حتماً به درته معلومه شي چي دا کسان د اسلام او جهاد د مخالفینو له خوا استخدام شوي، د کومي مسیحي او تبشیري مؤسسې لپاره کار کوي، د کومي کلیسا لخوا د جوړې شوې خیریه مؤسسې مأمور دی. انگریزانو په اسلامي نړۍ د خپلي سلطې په دوران کي داسي ډېر مفتیان استخدام کړي وو، اوس غربي مؤسسې په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چي د جهاد مفهوم د اسلامي امت له ذهنه وباسي، د هجرت، جهاد، شهادت، اسلامي خلافت، الفاظ د اسلامي هېوادونو له تعلیمي نصاب نه خارج کړي، امریکایانو په افغانستان او عراق کي همدا کار وکړ، له پاکستان او سعودي نه ئې همدا وغوښتل چي نه یوازي جهادي مفاهیم له نصاب نه وباسي بلکي قرآني آیات هم وباسي. که د پاکستان د تعلیم وزیر په پارلمان کي له تعلیمي نصاب نه د قرآني آیتونو د ایستلو خبره کوي، دا د ده خبره نه ده، دی خوارکی خو په

هغه څه ویلو او کولو مکلف دی چي د امریکا سفیر ورته امر کوي.

- په مکه کي د ابوجهل حکومت او ریاست وو، پیغمبر علیه السلام د بعثت له لومړۍ ورځي نه د دې ریاست د نسکورولو او په ځای ئې د یوه الهي او دیني ریاست د قائمولو لپاره کار پیل کړ، که په مکه کي ئې وسله وال جهاد نه دی اعلان کړی نو خلکو ته خو ئې ویل: څوك چي په دې طاغوتي نظام کافر نه شي خدای ئې ایمان نه قبلوي، په الله ایمان هلته منظور او مقبول دی چي له طاغوتي ریاست او نظام نه انکار وکړي. دې نظام ته به د خپلو شخړو او منازعاتو د حل او فصل لپاره رجوع نه کوئ، د ټولو منازعاتو د حل او فصل یوازنۍ مرجع به د الله دین ګڼئ.
- د اسلامي نړۍ اوسني حکام او حکومتونه ټول غاصب او جابر حکومتونه دي، نه د ملتونو په خوښه او د داسي بیعت له لاري راغلي چي له اکراه او اجبار نه پرته ترسره شوي وي، نه د ملت په وړاندي د مسئولیت احساس کوي، نه په دې ځان مکلف ګڼي چي په ما انزل الله به حکم کوي او له ولس سره مشوره، نه له خدایه وېره لري او نه په ولس ترحم، نه واکمني یو الهي امانت ګڼي او نه بیت المال د ولس امانت، د پردیو د متو په زور مسلط شوي او د پردیو د ګټو لپاره د خپل ولس قرباني کولو ته چمتو، یو هم له ابوجهل او د ابوجهل له حکومت نه غوره نه دي. ابوجهل ځانته خادم حجاج بیت الله او خادم الحرم الشریف ویل، ځان ئې د کعبې متولي ګڼلو او په دیانت کي ئې ځان هومره په حقه ګڼلو چي ویل به ئې: اې خدایه!! که محمد په حقه او موږ په ناحقه یو نو پر موږ له آسمانه تېږې ووروه!!

دا جنابان دي ووايي چي په دې حکومتونو کي داسي کوم څه نشته چي د ابوجهل په حکومت کي وو؟ قرآن په مکه کي د فرعون قصه د دې لپاره رااخلي چي خلکو ته ووايي: ستاسو ابوجهل همغه فرعون دی چي موسي عليه السلام ئې مقابلې ته لېږل شوی وو، د دې لپاره چي خلك پوه کړي چي محمد عليه السلام د مکي د موجوده فرعوني نظام په ضد همغه څه کوي چي د ده سلف موسی عليه السلام کول. پيغمبر عليه السلام فرمايي چي ابوجهل زما د امت فرعون دی. د موجوده حکومتونو ملګري او حاميان په اصل کي د فرعون او ابوجهل ملګري دي، څوك چي وايي: د دغو حکومتونو د اجازې په صورت کي جهاد جائز دی او له دې پرته جهاد په فساد او بې امنيتیِ منتج کېږي!! دا همغه کسان دي چي د موسی عليه السلام او محمد عليه السلام په هکله به ئې ويل: دوی شر خوروي، بې امنيتي راولي، اقتدار غواړي. څوك چي د اسلامي ملکونو موجوده حالت د امن حالت ګڼي او وايي يا غواړي چي دا حالت بايد دوام وکړي او دا وايي چي په دې کي داسي څه نشته چي د شديد بحران نوم ورکړو او د جهاد ضرورت احساس کړو!! دا کس يا ډېر ناپوه او بې خبره دی، هم له دين نه او هم له دنيا نه او يا ډېر غرضي دی او د حکامو نوکر او خادم. د اسلامي ملکونو حالت هومره بد دی چي تر دې د زيات بد حالت تصور نه شي کېدی. فقر، لوږه، د غني او فقير تر منځ ژور تفاوت، د مظلومانو په سر، مال، عزت تېری، اخلاقي فساد، شرك، الحاد او بې ديني، د پرديو په وړاندي ذلت، اسارت او غلامي، دا ټول خو پربېږده نن اکثر اسلامي هېوادونه نه سياسي

استقلال لري او نه اقتصادي، له سياسي، اقتصادي، نظامي او فرهنگي لحاظه پردي ورباندي حکومت کوي، نن په پاکستان کي ايف بې آي او سي آی اې حکومت کوي، هرڅوك په هر وخت کي نيولی شي، په پاکستان کي د امريکايانو نظامي اډې دي، له دغو اډو نه په افغانستان کي نظامي عمليات ترسره کوي، د پاکستان حکومت د د مظلومو مسلمانانو په وژلو او نيولو کي د امريکايانو مرسته کوي، حتي د خپل ولس په ضد جنگېږي، پاکستان ته د هر امريکائي هيئت له راتلو سره سم د پاکستان په سرحدي قبايلي سيمو کي د قبايلو په ضد د دې لپاره عمليات ترسره کېږي چي امريکايان په دې قانع کړي چي اسلام آباد د تروريزم په ضد جنگ کي د امريکا مخلص او وفادار ملگری دی او هرڅه کولو ته تيار، د پاکستاني تلويزيون په صفحه هر ورځ د بې دينۍ او اخلاقي فساد خورولو هغه صحنې ښودل کېږي چي مثال ئې يوازي د غرب په هغو سيکس تلويزيوني شبکو کي ليدل کېږي چي د رسمي فاحشه خانو لخوا اداره کېږي او د آزاد او بربنډ جنسي عمل فيلمونه ښيي. نه د فرعون په نظام کي تر دې زيات فساد وو او نه د مکي د جاهليت د دور په نظام کي. قرآن د فرعوني نظام څو ځانگړتياوې بيانوي چي دا ټول او تر هغه نه زيات په موجوده نظامونو کي گورو:

۱. فرعون ځان د مصر د ټولو شتمنيو واکمن گڼي، زموږ اوسني واکدران همداسي د ملك هرڅه د ځان غنيمت گڼي.

۲. فرعون خپل ولس په حاکم او محکوم، شتمن او نيستمن وېشلي او په مصر کي ئې طبقاتي نظام رائج کړی وو، مرفه او

حاکمه طبقه او ناداره او محکومه طبقه، نن همدا نظام په اسلامي ملکونو کي رائج دی، د حاکم او محکوم تر منځ تفاوت هومره ژور چي د فرعون په طبقاتي نظام کي تر دې زیات نه وو.

۳. فرعون ځان ټولواك ګڼي، د هري پرېکړې آخري مرجع، د جائز او ناجائز او حلال او حرام د تعیین آخري مرجع، نن زموږ حکام همداسي دي، د مصر تر فرعون زیات مستبد او مطلق العنان.

۴. فرعون د ستر قصر خاوند وو، زموږ د حکامو قصرونه که تر فرعون نه زیات ستر، اشرافي او مرفه نه وي تر هغه نه له هیڅ لحاظه کم نه دي او که دا قصرونه د عام ولس له څمڅو او ګوډلو سره مقایسه کړو نو تفاوت هومره دی چي د فرعون د قصر او د یوه عادي مصري د غېږدۍ تر منځ دومره تفاوت نه وو.

۵. قرآن وایي چي فرعون د موسی علیه السلام د وژلو اجازه له خپلو درباریانو غواړي، همداراز وایي چي یوسف علیه السلام په داسي حال کي چي د مصر د هغه وخت څواکمن وزیر وو خو دا ئې نه شو کولی چي خپل ورور له قانوني دلیل نه پرته څو ورځي له ځان سره وساتي، خو زموږ ټولواکان د هیچا د نیولو او وژلو په اړه له هیچا سره نه د مشورې ضرورت احساسوي او نه د قانوني مجوز ضرورت، د امریکا د وزارت خارجه د یوه مأمور ټیلفوني هدایت کافي دی چي د اسلام آباد چارواکي په وانه کي خونړي عملیات ترسره کړي، بمونه ووروي، توپونه او ټانکونه استعمال کړي او د لسهاوو مظلومو مهاجرو افغانانو، قبایلو او ملیشو وینې توی کړي. امریکا ته د نظامي اډو په ورکولو کي او د افغانستان په ضد

د امریکایانو ترقومندي لاندي جنگ کي د شریکېدو په اړه دا ضرورت نه محسوسوي چي له پارلمان نه موافقه ترلاسه کړي. شپږ سوه مظلوم مسلمانان نیسي او د کومي محاکمې نه پرته ئې امریکا ته حواله کوي.

**۲.** فرعون ویل چي سمه خبره همغه ده چي زه ئې کوم، ستاسو ښیگڼه یوازي په هغه څه کي ده چي زه ئې وایم، زموږ واکداران له دې لحاظه ترفرعون نه ډېر ډېر مخکي دي، نه د خدای او قرآن پروا کوي او نه د قانون. دوی ته پارلمان او خلك د یوه توت په اندازه ارزښت نه لري، څه چي ئې زړه وغواړي همغه کوي.

• سرکاري مفتیان له جهاد سره د مخالفت په فتوی کي په دې خبري استناد کوي چي پیغمبر علیه السلام په مکي دور کي حتی هغه وخت هم د وسلې اخیستلو اجازه ورنه کړه چي یاران ئې یو په بل پسې وژل کېدل!! برعکس هغوی ته ئې د صبر توصیه کوله!! دې جنابانو ته وایو: دا دوی ولې وژل کېدل او دا تاسو ته ولې څوك څه نه وایي؟ نه دا ظالم، جابر او بې دینه حکام تاسو ځوروي، نه مو په زندان کي اچوي، نه مو وژني!! دا ستاسو او د صحابه وو د ایمان ترمنځ څه فرق دی چي هغوی د ایمان په خاطر وژل کېدل منل خو ابوجهل او د ده نظام ته نه تسلیمېدل؟!! که هغوی دا ستاسو خبره کولی نو نه وژل کېدل او نه له ملك نه هجرت ته مجبورېدل. د دوی د وژل کېدو معنی خو دا ده چي دوی له حاکم نظام نه بغاوت کړی وو ، د دې نظام واکمنان ئې نه منل، له نظام سره د ټکر او تصادم په حال کي وو ، نظام له دوی نه وېره درلوده، د همدې لپاره ئې وژل. دا تاسو

ولې په مکي کي د دوی په صبر استناد کوئ خو په مدينه کي د همدغو صحابه وو په مسلسل جهاد استناد نه کوئ؟!! ولې د دوی په هجرت استناد نه کوئ، ولې پر دښمن باندي د دوی په مسلسل بريدونو استناد نه کوئ؟!! ولې پر دې استناد نه شئ کولی چي پيغمبر عليه السلام د مديني په لسو کلونو کي تر اويا نه زياتې نښتې له دښمنانو سره درلودې، يعني دا چي پيغمبر عليه السلام په هرو تقريباً څلورو مياشتو کي يوه داسي جګړه کړې چي په خپله ئې په کي برخه اخيستې ده او په هرو پنځوسو (۵۰) ورځو کي ئې يوه داسي نښته تنظيم کړې، چي يا ئې په خپله هم په کي برخه اخيستې او يا د ځينو خاصو وجوهاتو له مخې ئې په هغه کي شرکت نه دی کړی خو ويلي ئې دي: په هغه ذات مي قسم چي زما ژوند د ده په واك کي دی، که د يارانو خاطر نه وی نو زه به له يوې هغې وړې ډلې (سريې) نه هم وروسته نه وم پاتې شوی چي جهاد ته درومي!! په همدې ذات لوړه کوي او وايي: دا غواړم چي د الله په لار کي يو ځل شهيد شم بيا راژوندی شم، بيا شهيد شم او بيا راژوندی شم او بيا شهيد شم... دا ولې هغه د بار بار شهادت تمنا کوي خو تاسو د شهادت خبره خو پرېږده د جهاد د خبري له کولو نه هم ډډه کوئ؟!!

- که وغواړو چي د پيغمبر عليه السلام د سنت او اسلوب مطابق د سياسي او اجتماعي مبارزې يو انځور وړاندي کړو نو په هغه کي لاندي څلور مرحلې په څرګنده توګه موندلی شو:

۱. د داسي دعوت مرحله چي په ټولنې مسلط ځواکونه ئې نه شي زغملی، د تعذيب، زندان، مقاطعې، محاصرې او د تبعيد له

ګوابنونو سره مخامخ دعوت، چي سازش او مصالحه نه مني، چي له دښمن سره د روغې جوړې خبره په کي نه وي، چي له حاکم نظام نه د کامل بغاوت او عصيان بلنه ورکوي، د دې نظام له فکري او اعتقادي بنسټونو نه د برائت شعار ورکوي. داسي دعوت نه چي له نظام نه ئې مجوز ترلاسه کېږي او يوازي هغه خبره په کي کېږي چي واکداران ئې زغملی شي او نظام ئې اجازه ورکوي. مهمه نه ده چي دا دعوت به سري وي که علني، مهمه دا ده چي خپل خصوصيات حفظ کړي او د مکي دور ټول ځانګړتياوې ولري.

۲. کوم دعوت چي د پيغمبر عليه السلام د دعوت په څېر وي، سياسي، اجتماعي او فکري انقلاب غواړي او له دښمن سره د اصولو په سر سازش نه شي کولی، هغه به حتماً د هجرت له مرحلې سره مخامخ کېږي، هجرت د حقيقي اسلامي مبارزې يو طبيعي پړاو دی، دا پړاو په هوښيارۍ او احتياط نه بلکي له اصلي مسير نه په انحراف او له اصلي لاري نه په تېروتنې سره منتفي کېدی شي.

۳. د مبارزی درېيم پړاو له دښمن سره د مسلحانه تصادم پړاو دی، دا پړاو د مهجر له مونډلو سره سم پيل کېږي، پيغمبر عليه السلام د مدينې په څېر د يوه وړوکي کلي له مونډلو سره سم خپله مسلحانه مبارزه پيل کړه. په لومړي سر کي پټه مسلحانه مبارزه، د وړو وړو چريکي ډلو په واسطه، چي هدف ئې د دښمن سلطه متزلزل کول او هغه امنيت له منځه وړل وو چي د حاکم نظام په ګټه او د هغه د بقا باعث وو. او په دوهمه مرحله کي څرګنده مقابله او مخامخ نښته. د کفري نظام په ګټه (امنيت او اقتصاد) جړکول او په ولس باندي د

واکدارانو مسلط رعب او هیبت ختمول د دې مرحلې اساسي او مهم اهداف دي. همداراز نظام مالي امکاناتو ته اړ دی، له دې نه پرته هغه دوام نه شي موندلی، د چریکي عملیاتو په نتیجه کي د حکامو د خوښي امنیت متلاشي کېږي، د لویو لارو امنیت د ېر ژر له منځه لاړ شي، نظام له دې عاجز شي چي بډای او تاجر ته چي د نظام دربیمه ستنه ده ، د کار لازم او خوندي شرائط برابر کړي. هیڅ نظام دا حالت د اوږدې مودې لپاره نه شي زغملی، عام ولس چي د نظام له ظلم نه تل ځورېدلی خو له وېرې نه نه څه ویلی شي او نه څه کولی، د دغو عملیاتو په نتیجه کي د څه ویلو او کولو جرأت پیدا کړي او همدا د عمومي پاڅون مقدمه شي او د یوه ستر انقلاب کار له همدې ځایه پیل شي. په دا راز عملیاتو سره د رژیمونو نسکورول او لویو ځواکونو ته ماتې ورکول ممکنه ده، دا ادعا کولی شو چي له کودتاګانو نه وروسته د رژیمونو د نسکورولو تر ټولو آسانه لار همدا ده. که د پیغمبر علیه السلام تر قیادت لاندي مسلحانه مبارزې ته ځیر شو نو وبه ګورو چي دا مبارزه د قریشو په ضد له چریکي بریدونو (سریو) نه پیل شوه، ورو ورو ئې لمن تر مخامخ نښتو خوره شوه، د مکي له فتحې نه وروسته د جزیری له نورو ځواکونو سره او په پای کي په نړۍ واله سطحه د روم او فارس په څېر لویو ځواکونو سره مخامخ شوه. دا بهیر ښیی چي د مبارزی لمن باید په تدریج سره او په طبیعي توګه له محلي ځواکونو نه تر منطقوي او بین المللي ځواکونو پورې خوره شي.

۴. ځیني کارونه باید د مرکز تر فتحې پورې وځنډولی شي، په

ټولنې کي اقتصادي اصلاحات يو له دغو کارونو څخه دی، دا ځکه چي پيغمبر عليه السلام د مکي له فتحې نه وروسته دا کارونه کړي، له سنت نه د متابعت تقاضا همدا ده چي هر کار په همغه وخت او همغه توګه ترسره کړو چي پيغمبر عليه السلام ترسره کړي.

- دا جنابان په دې هم نه پوهېږي چي په مکه کي د جهاد د اجازت نه ورکولو وجه دا وه چي هلته جهاد نه وو فرض شوی، مدينې ته له راتلو وروسته جهاد فرض شو، د جهاد دا فرضيت ترقيامته دوام کوي، دا ځکه چي د جهاد فرضيت نه دی منسوخ شوی. په مکي دور باندي د جهاد په اړه بايد له دې اړخه استناد وشي چي که د مسلمانانو وضعيت داسي وي لکه په مکه کي او شمېر ئې هومره وي لکه په مکه کي د مسلمانانو شمېر، نو دوی ته په کار ده چي د صحابه وو په څېر صبر وکړي او وسلې ته لاس نه کړي. خو که د دوی وضعيت داسي شو چي مدني دور ته ورته وي او د مسلمانانو شمېر هومره وي چي هلته د مسلمانانو شمېر وو نو دوی ته په کار ده چي جهاد ته ملا وتړي. د پيغمبر عليه السلام په سنت د عمل کولو تقاضا خو دا ده چي د جهاد په ميدان کي هم هغه څه وکړو چي پيغمبر عليه السلام کړي، هغه مبارك خو په مکه کي د يوه مؤمن جماعت جوړولو په کار لګيا وو او په دې هڅه کي وو چي کوم مهجر پيدا کړي، داسي کوم قوم پيدا کړي چي ده ته پناه ورکړي او د الله په لار کي جهاد ته تيار شي، د مدينې يو شمېر اوسېدونکي دې ته تيار شول، مدينې ته له راتلو وروسته هغه جهاد پيل کړ، په لومړي سر کي ئې د عملياتو لپاره واړه واړه څو کسيز ټولګي لېږل، دښمن

ئې تنګولو، په هر ځای کې ئې دښمن ته تاوان رساوو، په ولس کې ئې د هغه رعب، وېره او اعتبار ختمولو، پرولس او ملك باندي د دښمن سلطه ئې جړقوله، بیا ئې د دښمن په تجارتي قافلو بریدونه پیل کړل، په بدر کې ئې له ۳۱۴ یارانو سره د دښمن مخامخ مقابله وکړه، تاسو ولې دا خبره نه شئ کولی چې کله د مسلمانانو شمېر دري سوه څوارلس ته ورسېږي کولی شي همغه څه وکړي چې پیغمبر علیه السلام وکړل؟!!

• د جهاد مخالفین په دې نه پوهېږي چې د اسلامي امت دا اوسنۍ وضع د هغه ماتې نتیجه ده چې اسلامي خلافت په کې له منځه لاړ او غربي ځواکونو اسلامي نړۍ په خپلو منځونو کې ووېشله او په هري برخي ئې بېل بېل ځواکونه مسلط شول، له هغه وروسته دا څوومه پېړۍ ده چې مسلمانان په ذلت، اسارت او محکومیت کې ژوند کوي، له آزادۍ او خپلواکۍ نه محروم دی، په سیاسي، اقتصادي او فکري لحاظ استعماري ځواکونه ورباندي حکومت کوي، لاس پوڅي حکومتونه ئې ورباندي مسلط کړي، له داسي اختناق او استبداد سره مخامخ دي چې د نړۍ په هیڅ ګوټ کې ئې مثال نه شو موندلی، واکداران ئې د پردیو په وړاندي سپك او ذلیل او د خپل ولس په مقابل کې مغرور او بې رحمه، دوی د پردیو غلامان دي او ولس د ځان غلامان ګڼي. د غلامۍ، ذلت او محکومیت دغه دردونکی حالت په ولسونو کې د عزت النفس احساس، د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه او د سرلوړي او پتمن ژوند تلوسه په کلکه ځپلې ده، یو وخت خو په ټولو اسلامي ملکونو

استعماري ځواکونو مخامخ او د خپلو فوځونو په زور حکومت کولو، خو پس له هغه چي دا ځواکونه د خاصو عواملو په وجه ووتل نو داسي رژيمونه ئې شا ته پرېښودل چي د دوی ګټې خوندي وساتي، د دې هېوادونو د مسلح ځواکونو جوړښت ئې داسي تنظيم کړ چي د لاس پوځو رژيمونو مدافع او د هر ملي پاځون د ځپلو لپاره د دغو ځواکونو په خدمت کي لاس په سينه ولاړ وي، تعليمي نظام او نصاب ئې داسي جوړ کړ چي په علمي مؤسساتو کي تر روزنې لاندي ځوانانو کي د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه راولاړه نه شي، د پرديو په غلامۍ او تقليد کي د فخر احساس وکړي او له خپل اسلامي او ملي هويت نه پردي شي. د وتلو په وخت کي ئې د دې هېوادونو جغرافيائی نقشې داسي جوړې کړې چي له يوې خوا د دغو هېوادونو ترمنځ تل سرحدي منازعات روان وي او له بلي خوا هغه قومونه چي له استعماري ځواکونو سره جنګېدلي د مختلو ملکونوترمنځ ووېشلی شي، په اقتدار کي له برخي نه محروم کړی شي، هغو اقليتونو ته قدرت وسپارلی شي چي له استعماري ځواکونو سره ئې ملګرتيا کړې او په راتلونکي کي تل په دوی متکي وي او په اقتدار کي د پاتې کېدو لپاره د دوی شرائطو منلو ته اړ وي. د دې ښه مثالونه پښتانه او کردان دي، چي له استعماري ځواکونو سره د دوامدارې مبارزې په وجه يو په دريو او بل په څلورو برخو ووېشلی شو. استعماري ځواکونو په دې اوږدې مودې کي په پراخو تبليغاتو سره قومي، ژبني او محلي تعصباتو ته هومره لمن وهلې چي هيڅوك د لوی او متحد ملت او امت تصور او فکر

ونه شي کړی، استعماري ليکي مقدس او تغيير نه منونکي وګڼي، دا دره د هغې بلي ګاونډۍ درې اوسېدونکي پردي او حتی دښمن وګڼي او اصلي دښمن هېر کړي. په دې نه پوهېږي چې د اسلامي هېوادونو اکثر حاکم نظامونه يا پرديو تحميل کړي او لاس پوڅي او په اسلامي هېوادونو د زاړه استعمار د سلطې پاتې شونې دي، يا خانداني دي چې خاصي کورنۍ د ولس د ارادې خلاف په زور او د پرديو په مرسته پر دوی حکومت کوي، يا قومي او فرقه ئي بڼه لري، د يوې مذهبي فرقې پلويان اختيارات په واک کي لري، نور ئې له خپلو ټولو انسانی او اسلامي حقوقو نه محروم کړي، د دوی سياسي او مذهبي مشران وژني، چا د شيعه ترنامه لاندي سنيان ځپلي او له خپلو ټولو اسلامي او انساني حقوقو نه ئې محروم کړي او چا د سني په جامه کي شيعه محروم کړي، د اسلامي هېوادونو په دې دردونکي حالت به هغه څوك رضايت ښيي چې يا په غلامۍ او اسارت کي ستر شوی، د غلامۍ ذهنيت لري، آزادي نه پېژني او د آزادۍ خوند ئې نه دی څکلی او يا هغه څوك چې په خپلي ټولنې کي له خور فساد، ظلم، بې عدالتۍ او بې امنيتۍ نه خبر نه دی، په دې نه پوهېږي چې دلته څه روان دي، هره ورځ څومره کورنۍ تباه کېږي، د څومره بې وزلو انسانانو په سر، مال او عزت تېری کېږي، بډايان څنګه بډاي شوي او نادار ولې او د چا د ظلم او تېري په وجه له هرڅه نه محروم شوي؟!! هغه ته د ټولنې موجود حالت د امن حالت برېښي، په دې نه پوهېږي چې دلته يوازي واکداران په امن کي دي، له حاکمانو نه پرته هيڅوك د امن احساس نه کوي، په سلو کي د پنځه

نوي خلکو سر، مال او عزت خوندي نه دی، که دلته تاسو له يوه عادي انسان نه پوښتنه وکړئ چي د يوه پوليس په خوا کي د تېرېدو په وخت کي څه احساس کوي؟ چي کله د ده کلي ته پوليسان ورشي کليوال څه احساس کوي؟ آيا دا گمان کوي چي دا پوليسان د دوی حفاظت کوي او که دوی په يونيفورم کي د رښا ورځي غله گڼي او له دوی نه هومره وېره لري چي له غلو ئې نه لري؟!! د محکمې او قاضي په هکله څه فکر کوي؟ هغه د مظلوم مدافع گڼي که د ظالم حامي؟ د دفتر مأمور ته په کومه سترگه گوري؟ د ده په عدالت او امانت څومره باور لري؟ له نظام نه ئې څه ترلاسه کړي او څه خير ئې ترې ليدلی؟ له کوم ظلم نه ئې ژغورلي؟ چېري ئې د ده له سر، مال او عزت نه دفاع کړې او د چا په مقابل کي؟! راشئ وگورئ چي هر پوليس هره ورځ څومره خلك ځوروي، هره ورځ په هرکلي کي خان، ملك، شتمن او د ځمکو خاوند په بې وزلو کليوالو څومره ظلمونه کوي، د څومره کسانو ځمکي او جايدادونه د ځواکمنو لخوا غصب کېږي، د بې وزلو څومره لوڼې په زور نکاح کېږي، د څومره پيغلو په عفت تېري کېږي، په هر دفتر کي هره ورځ څومره ناروا وې او حق تلفي کېږي، په بيت المال کي څومره غدر او خيانت کېږي، چارواکو له هغه بيت المال نه په استفادې سره چي له بې وزلو انسانانو نه په يوه بل نامه په ناروا ترلاسه شوي، ځانته څنگه اشرافي ژوند برابر کړی او عام خلك څنگه د فقر، لوږې، خوف او سپکاوي دردونکی ژوند تېروي!! دا ډېره عجيبه ده چي څوك دې حالت ته د امن نوم ورکوي او وايي: بايد داسي څه ونه کړو چي دې موجود امن ته

صدمه ورسېږي، باید هغه وخت د دې حالت د بدلولو هڅه وکړو چې مطمئن وو تر دې غوره حالت راوستی شو!! دغو له واقعیتونو نه بې خبره کسانو ته باید ووایو: ټولو پیغمبرانو ته همدا خبره شوې چې دوی موجود امنیت ختموي، شرارت خوروي، د شخړو او جګړو باعث دي!! دوی ته باید ووایو: هغه امنیت چې د بې عدالتۍ او ظلم په خدمت کي، د ظالمانو په ګټه، د دوی د سلطې د دوام ضامن او د بې وزلو او مظلومانو په تاوان او په مظلومیت او محرومیت کي د دوی د دوامدار پاتې کېدو باعث وي، دي ته اور اچول پکار دی، پیغمبران د دې لپاره راغلي چې دغه دروغجن امنیت ختم کړي او په ځای ئې هغه واقعي امنیت راولي چې په عدالت ولاړ وي او مظلوم له ظلم نه وژغوري. عجیبه ده که څوك په دې حقیقت نه پوهېږي چې د اسلامي نړۍ موجود حالت د داخلي ظالمانو او بهرنیو استعمارګرانو په ګټه دی، په دې کي هره تبدیلي د دوی د منافعو خلاف او د ملتونو په نفع دی. اوس په اسلامي هېوادونو کي یوازي اسلامي احزاب او ډلي منظم او ځواکمن سیاسي قوتونه دي، فقط دا ډلي کولی شي له دې تبدیلي نه استفاده وکړي.

د شهادت طلبانه عملیاتو په هکله او دا چې آیا دا عملیات جائز دي؟ آیا هغه چا ته شهید ویلی شو چې په ځان پسې بمونه تړي او ځان او دښمن له منځه وړي؟ آیا دا کار د قرآن له دې آیت سره مخالفت نه دی چې فرمایي: ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة: په خپل لاس ځان په تهلکه کي مه اچوئ؟ په دې هکله باید څو خبري په پام کي ولرو:

• دا مکمل آیت نه بلکي د یوه آیت یوه برخه ده، آیت داسي دي:
وَ أنفقُوا فی سبِیلِ اللّهِ وَ لا تُلقُوا بأیْدِیكُمْ إلی التهلُكَةِ وَ أحْسِنُوا إنّ اللّهَ یحب الْمُحْسِنینَ* البقرة: ۱۹۵

او د الله په لار کي انفاق وکړئ او ځان په خپل لاس په تهلکه کي مه اچوئ او احسان وکړئ چي الله محسنین خوښوي.

د دې آیت معنی دا ده چي د الله په لار کي انفاق نه کول، بخل او له قربانۍ نه ډډه کول، تهلکه ده، باید قرباني ورکړئ او د الله په لار کي خپل مال ولګوئ تر څو له دې تهلکي وژغورلی شئ. له دې آیت نه مخکي ویل شوي چي که څوك په تاسو تېری وکړي نو تاسو هم بالمثله ځواب ورکړئ (فَمَنِ اعْتَدَی عَلَیْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَیْه بِمِثْلِ مَا اعْتَدَی عَلَیْكُمْ) له دې نه معلومېږي چي په دې وروستي آیت کي له انفاق نه مراد د دښمن په ضد جهاد کي قرباني ورکول او مال مصرفول دي. له دې آیت نه دا انتباه اخیستل چي ځان په خطر کي مه اچوئ، یوه غلطه انتباه ده، دا سمه نه ده چي څوك د یوه کلام نیمائي برخه راواخلي او مخکنۍ او وروستنۍ برخي ته له پام نه پرته، له هغې خاصه معنی راوباسي. په دې آیت استناد کول او دا خبره ترې ایستل چي شهادت طلبانه او فدائي عملیات جائز نه دي، نه یوازي بې بنسټه او غلط استناد دی بلکي له آیت نه معکوسه معنی او انتباه اخیستل دي. آیت د قربانۍ بلنه ورکوي او د عدم قربانۍ عواقب او پایله تهلکه ګڼي خو دوی معکوس مطلب ترې راباسي!!

• په مخکني آیت کي له دښمن سره بالمثله عمل جائز ګڼل شوی، که دا آیت او له دې وروسته راتلونکی آیت یو ځای او د یوه مضمون

د متصلو برخو په حيث په پام کي ولرو نو له دې نه دوه خبري معلومېږي: لومړی دا چي له انفاق نه په دې ځای کي د دښمن په خلاف په جهاد کي قرباني ورکول او د مال انفاق مراد دی او دا مطلب په ګوته کوي چي د جهاد په سامان او وسايلو باندي د مال د نه مصرفولو عاقبت خطرناك او په خپل لاس ځان مرګ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چي له دښمن سره بالمثله معامله جائز ده.

- دا د شهادت طلبانه عملياتو مخالفين ولې دې ته توجه نه کوي چي قرآن له دښمن سره بالمثله معامله جائز ګڼي؟! قرآن مضطر انسان ته حرام روا کړي، قرآن مجبور انسان ته د کفر د کلمي ويل هم روا کړي، قرآن مظلوم انسان په بدي وينا او ښکنځلو د مؤاخذي وړ نه ګڼي، د ده د مظلوميت په وجه، د يوه ناروا او ناجائز کار سره سره، هغه ته معافي اعلانوي. څوك چي د اسرائيلو او امريکا په ضد شهادت طلبانه عمليات ترسره کوي، له يوې خوا مظلوم دی، له بلي خوا له ظلم نه د نجات بله لار نه ګوري، له بلي خوا بالمثله عمل کوي او بالآخره دې ته مجبور شوی.

قرآن فرمايي:

وَ لَمَنِ انتَصرَ بَعْدَ ظلْمه فَأُولَئك مَا عَلَيهم مّن سبيلٍ * إنّمَا السبيلُ عَلى الّذينَ يَظلمُونَ النّاس وَ يَبْغُونَ فى الأَرْضِ بِغَيرِ الْحَقّ أُولَئك لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ *

سبا: ۴۱-۴۲

او چا چي له مظلوميت نه وروسته انتقام واخيست هيڅ الزام وربانديي نشته، الزام خو په هغه چا دی چي په ناحقه پر خلکو ظلمونه کوي او په ځمکه کي فساد لټوي، دغو لره دردناك عذاب دی.

• کوم کسان چي د امريکايانو په ضد شهادت طلبانه عمليات ناجائز ګڼي، هغوی په عراق او افغانستان کي پر امريکايانو د مجاهدينو نور بريدونه هم نه تائيدوی، دا سرکاري مفتيان دي، هغه خبره کوي چي د دوی حکومتونه ئې کوي، هغه فتوی ورکوي چي حکومت ورته ليکلي وي او پر هغې د مهر لګولو امر ورته شوی وي. که يو سرکاري مفتي په فرانسه کي د حجاب ممنوعيت د فرانسې داخلي مسئله ګڼي او همغه فتوی ورکوي چي د مصر حکومت ئې ترې غواړي نو دا به د امريکا په ضد د شهادت طلبانه عملياتو څنګه ملاتړ کوي او څنګه به د هغه د جواز فتوی ورکوي؟!! څوك چي يوه شېبه هم د الله په لار کي جهاد ته نه وي وتلی، نه ئې وسله اخيستې، نه په سنګر کي پاتې شوی، نه ئې زندان ګاللی، نه ئې د ظالمو حکامو په ضد يوه د حق خبره کړې، له دې نه څنګه دا طمع کوئ چي د شهادت طلبانه عملياتو ملا تړ وکړي او هغه جائز وګڼي؟!! د جهاد فتوی بايد له مجاهد عالم او مجاهد مفتي نه وغوښتی شي نه د قاعد او د جهاد مخالف سرکاري مفتي نه.

• که څوك شهادت طلبانه عمليات له هغې ځان وژنې سره مقايسه کوي چي يو کس د بې صبرۍ او د الله تعالی له رحمت نه د يأس او ناهيلۍ په وجه ځان وژني، دا ډېره غلطه مقايسه ده، د قرآن

هغه آيتونه چي د خوف او وېرې په وجه له ځان وژني نه ممانعت کوي په شهادت طلبانه عملياتو تطبيقول ډېر ناروا تطبيقول دي. دا خو د وېرې او يأس په وجه نه بلکي له الله سره د شديدې مينې او د ده پر دين باندي د غيرت کولو په وجه ځان قرباني کوي.

• نه پوهېږو دا کار چي څوك په خپلي چانتې کي بمونه، کارتوس او د راکټ مرمۍ اچوي او د هغه دښمن مقابلې ته درومي چي هم ئې تر ده وسايل زيات او مخکي تللي دي او هم ئې شمېر زيات دی او له هغه سره د ده د نښتې لوی او قوي احتمال دا دی چي دي په شهادت رسېږي، خو سره له دې سنگر ته درومي او د دښمن مقابله کوي او بلآخره په شهادت رسېږي، دا کار له دې څه فرق لري چي يو کس همدا بمونه په ځان پسې وتړي او د دښمن منځته ننوځي او هلته دا بمونه منفجر کړي او دښمن له منځه يوسي؟!! دا په داسي حال کي چي دی دغه کار ته اړ وو، بله چاره ئې نه لرله، له څرگندې وسلې سره دښمن ته نه شو نږدې کېدی، د دښمن د وژلو نورې لاري چارې ورته نه وې. ډېره عجيبه ده چي څوك هغه کار جائز او د مکافات وړ وگڼي او دا ناجائز او د سزا وړ. په کار خو دا ده چي دا کار په دې خاطر تر هغه بل هم د لوړ اجر مستحق وگڼلی شي چي دلته د الله په لار کي وژل کېدل يقيني او په هغه بل کي احتمالي دي. يو د الله په لار کي د شهادت وروستۍ او يقيني فيصله کوي او هغه بل د شهادت ترڅنگ د دې طمع هم لري چي ژوندی بېرته راوگرځي، دا د بريد په وخت کي ځا نته هم پام کوي او دا احتياط کوي چي ده ته صدمه ونه رسېږي خو هغه بل د ځان هيڅ پروا نه کوي، ټول هم او

غم ئې دا وي چي د الله دښمن ته تر زيات نه زيات تلفات واړوي. که د هر معيار له مخې دا دواړه مقايسه کړو نو د عدالت تقاضا دا ده چي د دې شهادت غوښتونکي کار تر هغه بل نه ډېر ډېر لوړ وګڼو. دا به ډېره عجيبه وي چي څوك دا يو کار شهادت وګڼي او هغه بل ته د شك په سترګه وګوري او له شهادت ګڼلو ئې ډډه وکړي.

- مخکي له دې چي څوك په دې هکله څه ووايي چي په نيويارك او اسرائيلو کي د غيرمحاربو کسانو د وژل کېدو حکم څنګه دی، هغه بايد دا خبره په پام کي وساتي چي آيا امريکايانو او اسرائيلو دې ته ورته کار کړی که نه، غيرمحارب کسان ئې وژلي که نه، لاسونه ئې د بې ګناه خلکو په وينو سره دي که نه، د قاتلانو مرسته کوي که نه، قاتل ته ئې پيسې او وسلې ورکړې که نه، په ښار، کلي او جومات ئې بمونه ورولي که نه؟ که هغوی دا کارونه کړي وي نو د دوی مقابل طرف ته له هره لحاظه دا حق حاصل دی چي د دوی په ضد همداسي وکړي، له دې لحاظه هم چي هغه مظلوم دی او د انتقام اخيستو حق لري او له دې لحاظه هم چي هغه ته هر عدالت د بالمثله عمل اجازه ورکوي. لکه څنګه چي اسرائيليان هر فلسطيني محارب ګڼي، د هغه په وژلو صرفه نه کوي، نه په لوی رحم کوي نه په ووړ، نه په ښځو رحم کوي نه په سړو، د شيخ احمد ياسين په څېر يوه سپين ږيری، له دواړو سترګو او پښو محروم، له جومات نه د راګرځېدو په حال کي، له امريکائي هليکوپټر نه په راکټ ولي او له ګڼ شمېر کسانو سره ئې يو ځای په شهادت رسوي، امريکايان همدا ستر جنايت يو جائز عمل ګڼي او وايي چي اسرائيل له ځان نه د دفاع

حق لري!! او س که څوك د امريکايانو او اسرائيلو په ضد دې ته ورته عمل کوي، هغه شرعاً، عدلاً او عقلاً د دې حق لري. امريکايانو او اسرائيلو په هغه څه چي دوی ئې په فلسطين، افغانستان او عراق کي کوي هر فلسطيني او هر مسلمان ته د دې مجوز ورکړی چي هر امريکائي او اسرائيلي محارب وګڼي او خپل انتقام ترې واخلي. دا بېله خبره ده چي څوك مجاهدينو ته مشوره ورکړي او ورته ووايي: په کار ده خپل بريدونه د دښمن هغو ځواکونو او ځايونو ته متوجه کړئ چي د دښمن جنګي ماشين پرچاو او د ملا تېر ئې ورمات کړي. خو که هغه دا ونه کړی شي او ووايي چي هلته مي لاس نه رسي، هلته د رسېدو توان نه لرم، نو چي د خپل دښمن پر هرځای بريد وکړي او خپل غچ ترې واخلي دا د ده مشروع حق دی.

- د دې پوښتني په ځواب کي چي د قرآن د دې حکم معنی څه ده چي د دښمن په خلاف د خپل وس او توان په اندازه قوت او وسايل برابر کړئ؟ آيا معنی ئې دا ده چي زموږ وسايل به د شمېر او کيفيت له لحاظه له دښمن سره برابر وي بيا به د دښمن مقابله کوو او که د خپل موجود توان په اندازه د وسايلو په برابرولو مکلف يو؟ بايد ووايو: که څه هم د دې آيت مطلب ډېر څرګند او واضح دی خو د جهاد مخالفين له دې نه هم غلط تعبير کوي او وايي چي يوازي هغه وخت به د دښمن مقابلې ته وځو چي د قوت او وسايلو له لحاظه له دښمن سره برابر وو!! د دوی د دغه غلطي انګېرنې په اړه څو خبري کول ضروري دي:

o په نوموړي مبارك آيت کي دا نه دي ويل شوي چي تاسو به

خامخا د دښمن په اندازه قوت او وسایل برابروئ، برعکس ویل شوي چي د خپل وس او توان په اندازه قوت او وسایل برابر کړی.
آیت دغه دی:

وَ أَعِدُّوا لَهُم مَّا استَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَ مِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَ عَدُوَّكُمْ وَ ءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَ مَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَ أَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ*

الانفال: ۶۰

او د دوی لپاره له (قوت) او (له تړلو آسونو) نه چي څومره ستاسو په وس کي وي برابرکړئ، ترڅود الله دښمن او خپل دښمن او له دوی نه علاوه چي تاسو ئې نه پېژنئ خو الله ئې پېژني، ووېروئ او څه چي تاسو د الله په لار کي خرڅ کړئ، تاسو ته به ئې بشپړ بېرته درکړي او پر تاسو به هیڅ ظلم نه کېږي.

o په دې آیت کي خو د جنګي وسایلو په جوړولو او برابرولو کي مالي مصرف ته مسلمانان هڅول شوي او ورته ویل شوي چي په دې اړه ستاسو مصارف الله تعالی نه ضایع کوي، نتیجه به ئې په بشپړه توګه تاسو ته درکوي، د جهاد مخالف سرکاري مفتیان ولې د دې واضح مفهوم برعکس هغه د جګړې د شروع کولو لپاره د شرط په توګه معرفي کوي؟

o پیغمبر علیه السلام هغه وخت د قریشو په ضد جهاد پیل کړ چي نه ئې د مجاهدینو شمېر د قریشو د جنګیالیو په اندازه وو او نه ئې وسلې او جنګي وسایل او امکانات. که زموږ پیغمبر علیه السلام له دې آیت نه دا مفهوم نه وي اخیستی چي جګړه به له دښمن سره د قوت او وسایلو له تعادل او توازن نه وروسته پیل کوئ، نو ته څنګه او په کوم دلیل دا غلطه معنی ترې اخلې.

• اما دا پوښتنه چي آیا مسلمان د دې حق لري چي ووایي: زه د مکي دور په څېر صبر کوم، د نوح، ابراهیم، عیسی، یوسف او نورو هغو پیغمرانو علیهم السلام په شان له مسلحانه جهاد نه ډډه کوم چي د دښمن په خلاف ئې وسله نه ده استعمال کړې؟ په دې هکله لاندي وضاحتونه ضروري ګڼو:

• هیڅ په دین پوه انسان دا خبره نه کوي، څوك چي د اسلام نه ډېر لږ معلومات هم ولري دا خبره غلطه ګڼي او له کولو نه ئې ډډه کوي، هغه پوهېږي چي د جهاد له فرض کېدو نه وروسته هیڅوك دا حق نه لري چي ووایي: د جهاد ضرورت باید منتفي وګڼلی شي او په ځای ئې د مکي دور په څېر صبر ته مخه شي، په دې هم هر مسلمان پوهېږي چي د قرآن له نازلېدو وروسته ټول مخکني کتابونه منسوخ شوي، اوس له قرآن نه پرته په بل کتاب عمل کول حرام شوي، همسي هم له قرآن نه پرته بله داسي ډاډمنه مرجع او کتاب نه دی پاتې چي د نورو پیغمبرانو په هکله موږ ته ثقه او ډاډمن معلومات راکړي او پر دې مو پوه کړي چي هغوی د کفري نظامونو د بدلولو لپاره کومه طریقه خپله کړې وه، اسلام موږ ته وایي چي که عیسی علیه السلام

ځمكي ته بياراغى نو توري ته به لاس كوي او د جهاد لپاره به ملا تړي، همغه عيسى عليه السلام چي بايبل خلكو ته د ده وينا داسي په ګوته كوي: كه چا پر يوه مخ څپېړه دركړه، بل مخ هم ورواړوه!! كه رومي عسكر درته وويل چي دا پېټى مي يو فرسخ راسره يوسه، ته ئې دوه فرسخه يوسه!! خو كوم عقل به دا خبره ومني چي د عيسى عليه السلام په څېر يوه مجاهد پيغمبر به داسي خبره كړې وي؟!! پيغمبرانو عليهم السلام په هكله خو موږ ته قرآن په ټول صراحت سره وايي چي هر يوه په خپل وخت كي د مسلطو نظامونو مقابله كړې، ځيني زندان ته تللي، ځيني هجرت ته اړ شوي، ځيني په اور كي اچول شوي، د چا په صليب د خيژولو او په دار كولو فيصله شوې، ياران ئې وژل شوي، د اور په كندو كي ژوندي اچول شوي، موږ نه پوهېږو چي د دغو پيغمبرانو په څېر له صبر كولو نه د دغو كسانو مراد څه دى؟ له دغو پيغمبرانو نه خو يوه هم داسي صبر نه دى كړى چي دوى ئې وايي، نه پوهېږم ته د موسى عليه السلام په سنت عمل كول غواړي، كه د ابراهيم عليه السلام، كه نوح، داؤد، سليمان او عيسى عليهم السلام؟!! ته خو د بې دينه، مفسدو او ظالمو حكومتونو تر حكم لاندي آرام ژوند كوې، نه ته د واكدارانو په نارواوو اعتراض كوې او نه حكومت ستا مزاحم كېږي، د همدې حكومتونو نوكري كوې، نه زندان ته ولاړې، نه هجرت ته مجبور شوې، نه په اعدام محكوم شوې، نه په اور كي ولوېدې، نو زه نه پوهېږم تا د كوم پيغمبر په سنت عمل كړى او د دغو پيغمبرانو په سنت له عمل كولو نه ستا مقصد څه دى؟!! د دوى په سنت د عمل

کولو معنی خو دا ده چي ته د ابراهیم علیه السلام په څېر تبر راواخلې او د نمرودي نظام هغه بت نسکور کړې چي د ټول نظام مانۍ ورسره ولړزي او د دې پروا هم ونه لرې چي په اور کي دې اچوي او یا د موسی علیه السلام په څېر له یوې عصا سره د فرعون مقابلې ته ولاړ شې او یا د نوح علیه السلام په څېر له زر کاله پېټ او څرګند دعوت نه ستومانه نه شې، یا د عیسی علیه السلام په څېر چي له یوه ښار نه بل ته وایستلی شو او په پای کي د ده د وژلو او په دار کولو فیصله وشوه!! خو که مقصد دې دا وي چي په دې حکومتونو کي خپله نوکري د مصر په حکومت کي د یوسف علیه السلام له وزارت سره تشبیه کوې!! نو څو خبرو ته غوږ شه:

- یوسف علیه السلام دا کار په هغه وخت کي کړی چي لا په پیغمبرۍ نه وو مبعوث شوی. د پیغمرانو علیهم السلام یوازي په هغو کارونو د استناد کولو حق لرو چي له بعثت نه وروسته ئې کړې.
- یوسف علیه السلام له زندان نه دربار ته رسېدلی، هغه ته په دربار کي د مصر پاچا او ملك د وزارت عظمی وړاندیز کوي او ورته وایي: غواړم تا د ټول مصر کامل واکدار (مکین) او د ټولو شتمنیو (امین) وټاکم، یعني د ټول مصر دوهم باصلاحیته او څواکمن واکدار، خو یوسف علیه السلام د سیاسي دندې په ځای دا غوره وګڼله چي د اجتماعي خدماتو وظیفه په غاړه واخلي او د راتلونکي احتمالي قحطي د مقابلې کار ورته وسپارلی شي. ده د صدارت او وزارت عظمی په ځای د وزارت مالیې دنده غوره وګڼله. خو په عمل کي هغه د مصر داسي بې رقیبه واکمن وو چي د ملك له مرګ نه

وروسته دی د تخت او تاج خاوند شو. عجيبه ده چي ته د يوسف عليه السلام په دې کار باندي په موجوده حکومتونو کي خپل ذليل مأموريت توجيه کوې، دا ډېره قبيح او شنيع توجيه او مقايسه ده.

o په داسي حکومتونو کي د کار کولو په هکله پيغمبر عليه السلام فرمايي: لَيَأتِيَنَّ عَلَيْكُمْ أمراء يُقرّبونَ شرَارَ الناس، ويُؤخّرونَ الصّلاةَ عَنْ مواقيتها، فَمَنْ أدْرَكَ ذٰلكَ مِنْكُمْ، فلا يَكُونَنّ عَرِيفاً ولا شُرْطِياً ولا جَابِياً ولا خَازِناً * داسي امراء به پرتاسو مسلط شي چي ترټولو زيات شرير کسان به ځانته نږدې کوي او لمونځ به له خپل اصلي وخت نه ځنډوي، له تاسو نه چي هر چا دا حالت بيامونده نو نه دې (په دې نظام کي) د خلکو استاځيتوب کوي، نه دې پوليس شي، نه د زکات او عشر راټولوونکی او نه خزانه دار. د دې مبارك حديث په رڼا کي راشئ وګورو چي د اسلامي ملکونو په موجوده نظامونو کي د کار کولو حکم څه دی؟ که د داسي امراوو او حاکمانو تر قيادت لاندي له حکومتي کارونو نه منع شوي وو چي يوازي دوه عيبه لري: شرير او مفسد کسان ځانته نږدې کوي او لمونځ له خپل وخت نه لږ ځنډوي، نو په هغو حکومتونو کي د کار کولو حکم به څه وي چي چارواکي ئې د کفري ځواکونو په لاس مسلط شوي، په ماانزل الله حکم نه کوي، په فساد، بې دينۍ، خيانت او غدر کي ترستوني غرق دي، د دين، ايمان او اخلاق د جرړو د ايستلو لپاره له هيڅ څه نه ډډه نه کوي، سود او قمار حلال ګڼي، د شرابو بازار ئې ګرم کړی، رقص، سرود، د ښځو او نارينه وو اختلاط، د دوی د هر محفل لوازم، نه په پټه بلکي په څرګنده او

بربنډه توګه او د ټلویزیون په صفحه!!

o قرآن موږ له دې نه منع کړي یو چي له ظالم، فاسق او کافر سره دوستي او ملګرتیا وکړو، که څه هم زموږ نږدې خپلوان وي. د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي په دې هکله صراحت شوی او ویل شوي چي که له مؤمنانو نه چا له کافرانو سره دوستي او ملګرتیا وکړه نو هغه له الله سره خپلي ټولي اړیکي قطع کړې او د کافرانو له ډلي نه ګڼل کېږي. لکه چي فرمايي:

لا يَتَّخِذ الْمُؤْمِنُونَ الْكَفِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَ مَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّهِ فِى شَيْءٍ *

آل عمران:۲۸

مؤمنان دې له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نه نیسي او چا چي دا کار وکړ نو یقیناً چي په هیڅ څه کي له الله سره تعلق نه لري (له الله سره د ده ټولي اړیکي قطع شوې)

قرآن هغه څوك د دوزخ د اور مستحق ګڼي چي د ظالمانو ملګرتیا کوي:

وَ لا تَرْكَنُوا إِلى الّذينَ ظَلَمُوا فَتَمَسكُمُ النّارُ وَ مَا لَكم مِّن دُونِ اللّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمّ لا تُنصرُونَ *

هود:۱۱۳

او د ظالمانو په لوري تمایل مه کوئ که نه نو په اور به اخته شئ، په داسي حال کي چي له الله پرته هیڅ اولیاء نه لرئ، بیا به مو هیڅوك مرسته ونه کړی شي.

پیغمبر علیه السلام فرمایي: من مشى مع ظالم لیعینه وهو یعلم أنه ظالم فقد خرج من الإسلام.

څوك چي له یوه ظالم سره په دې خاطر درومي چي د هغه ملاتړ او مرسته وکړي، په داسي حال کي چي پوهېږي هغه ظالم دی، یقیناً چي له اسلام نه ووت.

وصلی الله تعالی علی سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین

# خطرناك سفر

## د يوه خبر يال د سترگو ليدلى حال

<u>گرانو لو ستونكو</u>! زه يو مسلمان افغان ژورنالست او خبريال يم، دا دريم ځل وو چې زمونږ د اژانس رئيس د برمل ولسوالى د پرلـه پسې جگړو په باره كې راځخه پوښتنې كولې خو زما ځولة به تشه وه او زر زر به مې په امريكا او بي بي سي راډيوگانو حوالې وركولې چې طالبانو داسې كړي او امريكايانو داسې، خو زمونږ مشر به په خوله كې راولويد چې گنې ژورنالست په راډيوگانو حوالې وركوي او كه پخپله لـه مختلفو لارو نه معلومات را ټولوي؟! پدې خبرو سره به يې زه ډېر خږ پږ كړم خو دا هم راته گرانه وه چې زما غوندې بې زړه او كمزورى انسان دې لـه يوې داسې خطرناكې سيمې نه د سترگو ليدلي حالات راټول كړي چې هر ساعت په امريكايانو يرغلونه كېږي او هم امريكايان رنگ رنگ ظلمونه كوي. مگر ورو ورو د څو ورځو په تېرېدو سره د يوه پلان په جوړولو بريالى شوم او بالآخره مې په خپل كلي او كور كې د استراحت په پلمه رخصت واخيست، له كابل نه چې زمونږ د سورلى بس را خوځېدو نو د پل خشتي د جومات د سهار اذان په خلاصېدو وو، د خداى تعالى فضل او كرم وو تر گردېزه دا سفر پرته له كومې ماتې گوډې او يو ښه هوټل ته د چاى په رارسولو پاى ته ورسېد او بيا لـه لږې شېبې چكر او دمې نه وروسته د ارگون د هدې په

لته کې شوم، خدای پاك يوه ښه نوی او ګرندی جيپ ته ور سيخ کړم او د ارګون په لور روان شوم. د شپې ارګون ته ورسېدم، هلته مې د يوه دوست په کور کې ښه شپه تېره کړه، د شپې د ارګون په هوايي ډګر شپږ توغندي راپرېوتل، د ورځې بيا زه ميدان هوايي ته لاړم چې پدې باره کې له امريکايانو څخه پوښتنه وکړم خو امريکايانو راته اجازه را نکړه چې نظامي مرکز ته يې ورداخل شم، بيا ما له ولسي خلکو څخه پوښتنه وکړه چې نن شپه چا او له کوم ځايه توغندي راوويشتل؟ خلکو راته وويل پدې مرکز مسلسل توغندي ويشتل کېږي، دا لومړی ځل ندی. بيا ما له خلکو پوښتنه وکړه چې طالبان او مجاهدين چېرته دي، زه غواړم چې له هغوی سره مرکې وکړم، خلکو راته وويل د برمل ولسوالی ته ورشه هلته په درځنونو طالبان او مجاهدين موجود دي، په امريکايانو هره ورځ يرغلونه او حملې کوي. بيا زه د برمل ولسوالی په طرف روان شوم، غرمه ۱۲ بجې د برمل ولسوالی مرکز نوي اډې ته ورسېدم، د غرمې ډوډۍ مې هلته په يوه هوټل کې وخوړه، په بازار کې مې د خلکو په سرونو پګړی او پکولونه ليدل، حيران شوم چې دلته خو به طالبانو او د شمالي اتحاد کسانو پخپلو کې اتحاد کړی نوي؟ په يوه موټر، يوه هوټل او يوه دوکان کې يو ځای ښه ناسته ولاړه کوي، بيا ما د هوټل له څښتن څخه پوښتنه وکړه چې زه خبريال يم ربښتيا ربښتيا به وايې امريکايان چېرته دي او طالبان چېرته دي او دغه پکول او لونګی والا خلك څنګه يو ځای ګرځي دا خلك طالبان دي که شماليان او که ګډ وډ؟ هوټلي راته وويل وروره ربښتيا درته وايم دروغو ته هېڅ ضرورت نه لرم، دلته نه شماليان شته او نه طالبان، دغه خلك په قوم وزير دي، ځوانان يې پکولونه او مشران يې پګړی په سروي او په **۲۵** د اسد مجاهدينو د برمل ولسوالی چې مرکز يې همدا دی چې ته پکې ولاړ يې فتح کړي، تر اوسه بيا نه شماليان ورته راغلي نه غربيان او نه ورته

راتللی شي، پاتې شول امريکايان هغوی هلته په مچدادکوټ کې پراته دي، طالبان او مجاهدين په هغو جګو جګو غرونو کې اوسېږي. ما بيا له هغه څخه و پوښتل چې زه څنګه کولی شم د هغوی له مشرانو سره مرکې او ملاقاتونه وکړم؟ هغه وويل هغو جګو جګو غرو ته لاړ شه، د طالبانو او مجاهدينو مرکزونه پکې دي، ممکن له هغوی سره دې ملاقاتونه وشي، ما ورته وويل ورور که يو نفر را سره کړې، مصارف به يې زه ورکړم، ما دې هغوی ته ورسوي، هغه وويل خبرياله ورور زما او ستا به وروري وي، نن شپه دلته وکړه، سبا د جمعې ورځ ده، د هغو ځايونو کسان دلته راځي، له کوم اعتمادي نفر سره به دې ولېږم. سبا د جمعې له لمانځه نه وروسته ئې له يوه سليمان زی کوچي سره په يوې دوه سېټه پيك اپ کې کښېنولم او کوچي ته يې وويل چې دغه زما دوست دی، ورور يې جهاد ته راغلی دی، چا ورته ويلي چې برمل ولسوالی کې جهاد کوي او د ده مور ورپسې ليونی شوې او پلار يې هم عصبي تکليف پيدا کړي، ستا مصارف هم درکوي، له طالبانو او مجاهدينو سره يې مخامخ کړه. هغه کوچي وويل صحيح خبره ده، يو ګروپ طالبان او مجاهدين زمونږ د کور تر څنګ په غره کې شته، هغوی ته به يې ورسوم. له دوه ساعته مزل نه وروسته د ټنډې مرغی سيمې کې له پيك اپ څخه ښکته شولو او بيا پياده روان شوو، پنځه ساعته مو پياده مزل وکړ، د شپې ۹ بجې د طالبانو او مجاهدينو مرکز ته ورسېدو، هلته مې دغه کوچي ته دوه سوه افغاني ورکړې، کوچی خپل کور ته لاړ او زه له هغوی سره مرکز کې پاتې شوم. د شپې مجاهدينو له ما څخه تحقيقات شروع کړل، ما په ډاګه ورته وويل چې زه خبريال يم، غواړم چې ستاسو له مشرانو سره مرکې او مصاحبې وکړم او ستاسې عمليات او د امريکايانو ظلمونه د نړيوالو تر غوږونو ورسوم، خو د هغوی زړونو دا خبره نه منله او په ما يې نور شکونه کول... شپه تېره شوه، سهار د

لمانځه نه وروسته مجاهدينو راته وويل خبرياله! راځه چې بل مرکز ته ځو، ما فکر وکړ چې اسده وژلو ته دې بيائي، دوه ساعته مزل مو وکاوو، په لاره داسې روان وم لکه د ملاريا په مرض چې مبتلا وم، له زړه مې يو خدای خبر وو، و مې کتل چې د غره په منځ کې ۱۰ خېمې نصب دي، د خېمو له لېدو سره لږ غوندې ډاډه شوم، واوره ورېده، ډېره سخته يخنی وه، بيا مجاهدينو يوې لويې خېمې ته بوتلم، دوه خېمې يې يو ځای نصب کړې وې، د ګيس وړوکې ډېوې رڼا کوله، بخاری توده وه، يو ښکلی او منور جهادي مشر چې په ږيره کې ئې نوی سپين ويښتان لګيدلی وو، زېړه پګړی په سر او عّينکې په سترګو په خېمه کې ناست وو، ما سلام پرې واچاوو، هغه مشر له خپل ځايه راپاڅېد او په ډېر اخلاص سره يې وويل وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته او بيا يې راته وويل چې اسدجانه هر کله راشې، تاسې لومړی صحافي او خبريال ياست چې د مجاهدينو له سنګرونو څخه له نژدې نه ليدل کوئ، خو ګوره چې په حقايقو سترګې پټې نکړې او يواځې زمونږ يا د امريکايانو په خبرو پوره باور ونکړې، له ولسي خلکو، ښځو، سپين ږيرو او ماشومانو څخه هم د حالاتو او جنګونو پوښتنه کوه او کله چې حقيقت درته ښه معلوم شو هغه بيا نشر کړه، که زمونږ يا د امريکايانو له وېرې يې ښکاره نشرولی نشې نو د شب نامو په شکل کې يې نشر ته وسپاره، خو ګوره چې صحافت د حقايقو نشرولو بهترين مسلك دی، چې خيانت پکې ونکړې، اسد جانه! پام کوه چې د سترګو ليدلي حالات په خپل نوم نشر نکړې، ځکه امريکايان نه غواړي چې حقيقت نړيوالو ته معلوم شي، په يوه فرعي نوم يې نشر کړه که نه له ډېرو مشکلاتو سره به بيا مخ شې، او داسې نور نصيحتونه يې راته وکړل، ما چې د دغه مشر دا د عدل او انصاف نه ډکې خبرې واورېدې نو ډېر زيات ډاډه، مطمئن، خوښ او حق حيران شوم چې نړيوال خو دا ځوان

تروړست او دهشت ګر بولي پداسې حال کې چې ما تر اوسه داسې حلیم، منصف، عادل او معتدل انسان نه وو لیدلی، خبرو یې ډېر خوند راکړ، ما زړه کې وویل کاشکې دغه مشر په ساعتو ساعتو راسره خبرې وکړي. پدې وخت کې ما له دغه مشر څخه وپوښتل چې د پکتیکا ولایت برمل ولسوالی کې څه عملیات چې مجاهدینو کړي که د هغو په باره کې معلومات راکړئ تر څو نړیوالو ته یې ورسوم نو ډېره ښه به وي. هغه جهادي مشر وویل چې ورورہ زه خو اوس چېرته روان یم او له چا سره مې وعده کړې خو تر څنګ یې یو وچ ځوان ناست وو، د هغه په اوږه یې لاس کېښود او ماته یې وویل چې اسد جانه زمونږ نظامي او جنګي قوماندان دغه ځوان دی، د ټولو جنګونو حالات ده ته تر بل هر چا ښه معلوم دي، دغه ځوان به درته ټول معلومات درکړي. بیا یې هغه ځوان ته وویل چې قوماندان صاحب له مبالغې نه به ډډه کوې، کوم حالات چې دې په سترګو لیدلي هغه ټول دغه خبریال ته بې له کمي او زیاتي بیان کړه. قوماندان وویل بلکل صحیح خبره ده او ماته یې وویل چې د ده خبرې زما خبرې دي که بیا زما او ستا ملاقات و نه شو چې خپه نشې او په غېږ یې مونږ سره خدای په اماني وکړه او رخصت شو.

زما په زړه کې تر اوسه ارمان دی چې کاشکې مې خدای پاك بیا له هغه مشر سره ملاقات نصیب کړي. ما بیا له هغه قوماندان څخه پوښتنه وکړه چې ستا دلته څومره وخت وشو؟ قوماندان وویل د سرطان په اوله نېټه دلته راغلی وم او کوچني اختر کې کور ته لاړم، پوره ۵ میاشتې مې دلته تېرې کړې، اوس بیا که ژوند باقي وو ان شاء الله لوی اختر کې به کور ته ځم.

پوښتنه: قوماندان صاحب څنګه او د چا په ارتباط دلته راغلې؟

ځواب: دغه مشر څو خطونه ماته رالېږلي وو او زه یې غوښتی وم، کله چې

ما له دغه مشر سره ملاقات وکړ ده راته وویل چې مونږ ستا په شان پخوانیو مجاهدینو او قوماندانانو ته زیات ضرورت لرو او ماته یې وویل چې څو ورځې مونږ سره دلته پاتې شه او د امریکایانو خلاف عملي جهاد کې برخه واخله. ما د هغه جهادي مشر په ځواب کې وویل که ما ته په رښتیا سره ضرورت وي نو څو ورځې څه چې څو میاشتې به در سره تېرې کړم. کله چې پوه شوم رښتیا ما ته ضرورت وو نو ما بیا پوره د پنځو میاشتو دلته د جهاد په سنگر کې د پاتې کېدو نیت وکړ.

پوښتنه: قوماندان صاحب تاسې پدې ۵ میاشتو کې څومره عملیات او حملې کړې؟

ځواب: وروره یقین وکړئ چې په هفته کې یوه یا دوې حملې مجاهدینو د امریکایانو په مرکزو او قافلو کولې او زیاته یې کړه چې یوائځې د برمل ولسوالی په مربوطاتو کې پدې ۵ میاشتو کې ۲۷ غټې حملې مجاهدینو کړې دي.

پوښتنه: پدې جگړو کې د طرفینو تلفات څومره وو؟

ځواب: ۳۲ مجاهدین شهیدان او ۱۸ زخمیان شوي، د امریکایانو دقیق معلومات به هغوی ته ښه پته وي خو کوم تلفات چې مجاهدینو په خپلو سترگو لیدلي هغه دا دي چې د امریکایانو ۳۷ موټر او ۴۱۰ تنه زخمیان او وژل شوي او مجاهدینو ته ۲۷ کلشینکوف، ۸ راکټ، ۳ پیکا او درې امریکایي ټوپك د غنیمت په توگه لاس ته ورغلي.

پوښتنه: دغه ۲۷ عملیات مجاهدینو په کومو سیمو او کومو تاریخونو کې سر ته رسولې؟

ځواب: د سرطان ۱۵ د شکین شمال کې یو امریکایي موټر په ریموټ والوزول شو، د سرطان ۲۵ د شکین جنوب کې یو نظامي موټر وسوزول شو، یو امریکایي ټوپك مجاهدینو غنیمت ونیوو. د سرطان ۳۰ د خنډ په

سیمه کې د امریکایانو دوه ګاډي په راکټونو وویشتل شوو. د اسد ۳ د امریکایانو په قرارګاه د مچداد په کلا ۹ مزائیل وتوغول شول. د اسد په ۹ د ټنډه مرغی په سیمه کې د امریکایانو دوه موټر په ماینونو والوزول شوو. د اسد په ۱۴ په نوې اډه کې د امریکایانو یو موټر په مائن والوزول شو. د اسد په ۲۵ د برمل ولسوالی فتحه شوه ۱۲ کلاشینکوف، دوه پیکا او درې راکټ د غنیمت په توګه ونیول شوو. د اسد په ۲۹ د شکین او انګور اډې تر منځ د امریکایانو دوه موټر په ماین والوزول شوو. د سنبلې په ۷ د امریکایانو په قرارګاه مچداد باندې ۷ توغندي وتوغول شول. د سنبلې ۹ د تروې ولسوالی فتحه شوه ۱۲ کلاشینکوپ، دوه راکټ او یوه پیکا د غنیمت په توګه ونیول شوو. د سنبلې ۱۲ د پش خنې غونډۍ تر څنګ د امریکایانو دوه موټر په ماینونو والوزول شول. د سنبلې ۱۵ د ټنډی مرغی په سرك د امریکایانو په قطار حمله وشوه، درې امریکایي موټر وسوزول شوو. د سنبلې ۱۸ د جاني خېلو ولسوالی فتحه شوه. د سنبلې ۲۰ د وازي خوا ولسوالی فتحه شوه. د سنبلې ۲۲ د خیر کوټ ولسوالی فتحه شوه. د سنبلې ۲۲ د هفتې په ورځ د ورځې ۱۲ بجې د انګور اډې تر څنګ د امریکایانو یو جیپ په مائن والوزول شو. د سنبلې ۲۷ د ټنډی مرغی د پش خنی غونډی تر څنګ لویه جګړه وشوه، ۳ امریکایي موټر وسوزول شوو. د میزان په ۴ د مچداد په کلا ۲ د سکر بیست توغندي وویشتل شوو. د میزان په ۱۱ د مچداد په کلا د تعرض پروګرام وو ټوله شپه مچداد په راکټونو وویشتل شو، د میزان په ۱۷ د نوې اډې او ارګون تر منځ د امریکایانو په کتار حمله وشوه، دوه موټر وسوزول شوو. د میزان په ۲۲ د مچداد په کلا ۲ توغندي وویشتل شوو. د عقرب په ۳ د خنډ منطقه کې د امریکایانو ۲ موټر وسوزول شوو. د میزان په ۳ د نوې اډې تر څنګ د امریکایانو په قافلې حمله وشوه، ۲ موټر

وسوزول شول. د جدي په **۱۵** له انګور اډې نه د کمپائن لویه قرارګاه وتښتېده. د جدي په ۱۷ د مچداد په کلا د مزائیلو توغولو ترځنګ تعرضی حمله وشوه. د جدي په **۱۹** د ارګون په هوایي اډه حمله وشوه. د جدي په **۲۲** د شکین او ارګون تر منځ د امریکایانو په قافله حمله، دوه موټر وویشتل شوو، بیا **۱۵** هلې کوپټرې راغلې او شا او خوا یې الوتنې او بمبارد شروع کړ، الحمد لله مجاهدینو ته بلکل څه تاوان ونه رسېد.

پوښتنه: دا جګړې ولې په میډیا او راډیوګانو کې نشر نه شوې؟

ځواب: د نړۍ ټوله میډیا او راډیوګانې د امریکایانو په خدمت کې دي، د دغو ځینو جګړو فلمونه مونږ سره شته، هغه به هم تا ته درکړو او بله دا چې تاسې کولای شی د سیمې له اوسېدونکو څخه هم پوښتنه وکړی، څنګه چې ما درته دا جګړې بیان کړې همداسې به یې د سیمې هر اوسېدونکی درته بیان کړي، بله دا چې اوس خو ته دلته راغلی یې، ژورنالست او خبریال هم یې، وبه ګورو چې د خپلو سترګو لیدلي حالات په میډیا او راډیوګانو کې نشر ته سپارلی شي او که نه؟! قوماندان صاحب زیاته کړه چې زه څه درته وایم خدای (ج) شاهد نیسم چې ټول حقیقت لري، یوه ذره مبالغه او دروغ پکې نشته او دا په ځان لازم ګڼم چې ما پدغو څو میاشتو کې څه لیدلي هغه ټول تا ته ټکي په ټکي بیان کړم او په تا بیا لازم ده چې په میډیا او اخبارونو کې یې نشر ته وسپارې، تر څو هغه مجاهدین چې د روسانو خلاف جنګېدلي او نن د غربي دروغجنې میډیا او د صلیب ساړه جنګ تر تاثیر لاندې راغلې او د امریکا خلاف جهاد ناشونی کار ګڼی پدې حقایقو سره به حقیقت ورته معلوم شي، که د خدای خوښه وي د امریکایانو خلاف هم د جنګ میدان او ډګر ته راودانګي، نو د جهاد په اجر او ثواب کې به یې زه او ته هم ورسره شریك شو ان شاء الله تعالی.

پوښتنه: د روسانو خلاف ټولو افغانانو جهاد کاوو، د امریکایانو خلاف ولې هومره خلك نشته؟ آیا د امریکایانو خلاف جهاد کې افغانان شك کوي که څنګه؟!

ځواب: پدې خبره ټول حقاني علماء متفق دي چې د امریکایانو خلاف جهاد داسې فرض دی لکه د روسانو خلاف چې فرض وو، په هغو ټولو خلکو د خدای تعالی رحمت، فضل، کرم او احسان دی چې د امریکایانو خلاف جهاد کوي، زه هم د خدای تعالی حمد، ثنا او شکر ادا کوم چې ما ته یې د روسانو خلاف په جهاد کې هم د ګډون توفیق راکړ او د امریکایانو خلاف یې هم په وسله وال جهاد کې د برخې اخیستلو توفیق راکړ، خو دومره خبره ده چې د روان صلیبي جنګ میډیا او سوړ جنګ ډېر خلك تر تاثیر لاندې راوستې او دا فکر کوي چې د امریکایانو خلاف جنګ کول ځان وژنه، لیونتوب او ناشونی کار دی، د روسانو د تیري په وخت کې ټوله میډیا او راډیوګانې د روسانو په خلاف وې، اوس خو ټوله میډیا او راډیوګانې د امریکا په خدمت کې دي.

پوښتنه: خلك وایي چې امریکایان هر څهویني آن تر دې چې که د شپې په تیاره کې هم څوك نقل او حرکت وکړي نو امریکایان یې ویني؟ پدې هکله څه ویل لرئ؟

ځواب: دا هم یو ښکرور دروغ دي، دغه لس خېمې چې په یوه کې یې ته ناست یې ۳ میاشتې کېږي چې په همدغه ځای کې نصب دي او ۲۰ تنه مجاهد پکې او سېږي او پدغه سیمه کې د نورو ګروپونو مجاهدین له ۴۰۰ څخه زیات دي، د کشف شیطانه الوتکه شپه او ورځ پدې ځای ګرځي، ته خپله دا حالات وینې، تر اوسه پورې امریکایانو دغه خېمې او مرکزونه کشف نه کړای شول. دا د صلیبي جنګ د تبلیغاتو پروپاګند او د ساړه جنګ یوه برخه او کړه ده چې امریکایان هر څه ویني، حقیقت داسې

ندی لکه څنګه چې یې خلك وایي، بلکې امریکایان لکه رانده هېڅ هم نه ویني.

پوښتنه: قوماندان صاحب! خلك وایي چې د امریکایانو خلاف که خبره قدرې هم څوك وکړي نو امریکایانو ته رسېږي، پاتې شو جهاد خو غټه خبره ده که مونږ جهاد ته ووځو امریکایان خبرېږي بیا ور څخه ژوند نشو کولای، پدې باره کې تاسې څه وایی؟

ځواب: وروره دا د حقیقت خلاف خبره ده، ډېر ځلې داسې شوي چې د لمر ختلو نه تر ماښامه پورې مجاهدینو له امریکایانو سره مخامخ جګړه کړې، ماښام امریکایان تښتېدلي او مجاهدین روغ رمټ خپلو مرکزونو ته راغلي، پداسې حال کې چې جیت الوتکو ایف ۱۲ بي ۵۲ او اپاچي هلي کوپترو به سخت بمبارد کاوو او خلکو به دا ګمان کاوو چې یو مجاهد به هم روغ پاتې نه وي او هر مجاهد به هم همدا فکر کاوو چې یواځې زه به ژوندی یم نور ملګري به مې شهیدان شوي وي، خو کله به چې ماښام شو او ټول مجاهدین به را ټول شول یا به یو یا دوه تنه زخمیان وو او کله نا کله به کوم شهید هم وو او بس، ځکه د مرګ او ژوند فیصلې د امریکا په لاس او اختیار کې نه دي، بلکې د الله تعالی په اختیار کې دي. اصلاً دا خبرې ضعیف الایمان او ډارن خلك کوي، دغه په سلګونو مجاهدین چې ته یې پخپله وینې امریکایان شپه او ورځ د دوی په مرګ پسې ګرځي، که دوی امریکایانو وژلي وي نور خلك به هم ووژني، خو حقیقت دا دی چې ځینو خلکو ایمانونه په ډالرو خرڅ کړي دي، هسې بهانې لټوي او له جهاد نه ډډه کوي او نور مسلمانان هم له جهاد نه منع کوي.

پوښتنه: خلك وایي چې امریکایان خپل مخالف هر څوك هر ځای چې وي که وغواړي نیولی یې شي نو که مونږ یې مخالفت وکړو بیا زمونږ خیر نشته! قوماندان صاحب! له دې خبرې سره تاسې موافق یاست؟!

ځواب: وروره دا هم ښکرور دروغ دي که امریکایانو حکمتیار، ملا عمر او اسامه نیولي وي نو د خلکو خبره بیا صحیح ده او بله دا چې په زرګونو ځوانان د امریکایانو مرګ پسې ګرځي او ډېر مجاهدین ټوپك په لاس د امریکایانو مرګ پسې په سمه او غرو کې د قهرېدلو زمریانو غوندې سرې سترګې ګرځي خو امریکایان یې یوه وېښته ته هم تاوان رسولی نشي که امریکایان غیرت ولري نو هغه ځوانان دې ووژني او یا دې ژوندي ونیسي ځوك چې ورسره مخامخ جنګېږي. امریکایان خو د ډالرو په زور او د ضعیف النفس مسلمانانو په واسطه غیرتي مسلمانانو ته مشکلات پیدا کوي.

پوښتنه: خلك دا هم وایي که مونږ د امریکایانو خلاف په جنګ کې زخمیان شو تداوي به مو څوك وکړي او که شهیدان شو تدفین به مو څوك وکړي؟ قوماندان صاحب! پدې باره کې څه وایې؟!

ځواب: د سنبلې ۱۲ د برمل ولسوالی د پش خنی غونډی بیخ کې د عبدالصمد او عبدالقادر په نوم مجاهدینو په سرك کې امریکایانو ته لیني ماینونه ښخ کړي وو، د امریکایانو ۲ موټر راغلل، دوی دوو مینونو ته شارت ورکړ، د امریکایانو دوه موټر یې ټوټې ټوټې او د اور لمبه کړل، په موټرو کې ناست امریکایان په هوا کې ګډېدل، دا چې دغه دوه تنه مجاهدین ۵۰ متره سرك ته نژدې وو نو دواړه هلته شهیدان شول، بیا د بشر د حقوقو دروغجنو مدعیانو د دغو دواړو مړي په ضد ټانګ مینونو کېښودل او انفجار یې ورکړ، دواړه یې ټوټه ټوټه کړل، بیا مونږ د هغو شهیدانو ټوټې را ټولې کړې او جنوبي وزیرستان اعظم ورسك کې د هغوی جنازې وشوې، یقین وکړئ چې ما په خپل ژوند کې داسې عظیمې او سترې جنازې نه وې لیدلې، ویل کېدل چې یو لك خلکو پکې ګډون کړی وو. نو آیا دا تدفین او تجهیز ندی؟! او د زخمیانو د تداوي په باره کې

باید دا ووایم چې مجاهدینو سره د جنګ صحنه کې ډاکتران موجود وي، کوم مجاهد چې زخمي کېږي اولیه کومکونه ورسره د جنګ صحنه کې ورسره کېږي، په مرکزونو کې خو د اپریشن "عملیاتو" مکمل سامانونه هم موجود وي، تاسې یې خپله وینئ.

پوښتنه: خلك دا هم وایي چې اکثریت افغانان د امریکایانو حمایت کوي، د ګوتو په شمار څو طالبان او حزبیان د امریکایانو مخالف دي! پدې هکله ستاسې نظر څه دی؟

ځواب: زما نظر څه، حقیقت دا دی چې په زرګونو افغانان په ټولو ولایاتو کې د امریکایانو په خلاف په جهاد بوخت دي، دلته تاسې خپله ګورئ چې په سلګونو افغانانو د امریکایانو مرګ پسې متې را بډوهلې دي، دا د افغانستان له ۵۰۰ ولسوالیو څخه یوه ولسوالۍ ده، پدې ولسوالۍ کې له زرو تنو زیات مجاهدین دي، تاسې یې خپله ګورئ، د افغانستان نورې ولسوالۍ له همدې نه قیاس کړئ، یوائې د ګوتو په شمار څو تنو وطن پلورونکو خپل ایمانونه په ډالرو خرڅ کړي نور ټول مسلمان هېوادوال، علماء دي که عوام، ښځې دي که سړي، ټول د امریکایانو او انګرېزانو مخالف دي ځکه هر څوك چې په قرآن او محمدرسول الله ایمان ولري هغه به ضرور د دوی مخالف وي، ځکه چې امریکایان او انګرېزان نه قرآن مني او نه محمدرسول الله مني، بلکې د دواړو سر سخت دښمنان او مخالف دي، نو په چا کې چې یوه ذره ایمان هم وي هغه به د دوی مخالف وي. په افغانستان کې خو په سلو کې ۹۸ خلك مسلمانان دي، په قرآن او محمدرسول الله خپل ځانونه قربانوي، هېڅ مسلمان د امریکایانو حمایت نه کوي.

پوښتنه: قوماندان صاحب! خلك دا هم وایي هر چا چې په امریکایانو ډزې کړې هغه یا وژل شوي او یا اسیر شوي! پدې باره کې تاسې څه وایی؟

ځواب: دا هم يو ښکرور دروغ دي، قسم په خدای تعالی چې ډېر داسې مجاهدين شته چې څو څو ځلې يې په امريکايانو له ډېرې نژدې څخه ډزې کړې، د امريکايانو موټر يې ويشتلي، امريکايان يې وژلي، خو دوی تر اوسه د خدای په فضل او کرم روغ رمټ ګرځي، پدغو څو څو ځلو کې زمونږ مجاهدين نه اسير شوي او نه وژل شوي. پدې وخت کې قوماندان صاحب څو تنو مجاهدينو ته غږ وکړ او ټولو ته يې قسم ورکړ چې ربښتيا به وايئ چې څوڅو ځلې تاسې په امريکايانو ډزې کړې او له څومره ليري څخه مو پرې ډزې کړې؟ ځينو يې وويل ۱۰۰ متری کې، ځينو يې وويل ۵۰ متری او ځينو يې وويل ۱۰ وارې، ځينو وويل پنځه يا شپږ وارې مو پرې ډزې کړې. بيا قوماندان صاحب ما ته مخ راواړوو چې خبريال صاحب! اوس دې يقين راغی چې د مرګ فيصلې د امريکايانو په لاس کې ندي.

پوښتنه: خلك دا هم وايي چې اپاچي هلي کوپترې ډېرې خطرناکې دي هر ځای يې طالبان او مجاهدين له منځه وړي، تر څو چې د دغو هلي کوپترو چاره نه وي شوې نو د امريکايانو مقابله ناشونی کار او ليونتوب دی! پدې باره کې څه وايی؟

ځواب: قوماندان صاحب پدې وخت کې په کړس کړس وخندل دوو، تنو عجب ګل او قاسم نومې مجاهدينو ته يې غږ کړ چې دغه خبريال صاحب وايي چې اپاچي هلي کوپترې ډېرې خطرناکې دي او سم هدف ولي، پدې باره کې تاسې ځواب ورکړئ. هغو دوو مجاهدينو وويل چې په ۲ د ميزان مونږ له يوې جګړې څخه راوګرځېدو، مجاهدين سخت تږي وو، اوبه ۱۰۰۰ متره لرې وې، مونږ دواړه د اوبو راوړلو لپاره هغې چينې ته لاړو، کله چې مونږ له چينې څخه اوبه راواخيستې دوه اپاچي هلي کوپترې راغلې او مونږ دواړه يې وليدلو، د هغې چينې تر څنګ وړې وړې ونې وې، دواړه هلي کوپترې راوګرځېدې او پر مونږ يې شروع وکړه، قسم په

خدای (ج) چې پوره ۳ ساعته یې په مونږ رنګ رنګ نخرې وکړې او مونږ به کله یوې او کله بلې ونې ته پناه وروړله، له کومې ونې څخه به چې مونږ ووتلو هلې کوپترو به هغه ونه ویشتله، لنډه دا چې د ورځې درې نیمې بجې وې چې پر مونږ باندې ئې شروع وکړه، تر ماښام پورې د باران په څېر لاسي بمونه، غټې بمونه، راکټونه، شلکاوې او نورې اسلحې یې لـه دغو دوارو الوتکو په مونږ د باران غوندې ورولې، د خدای ساتنه وه زمونږ یوه وېښته ته یې هم تاوان ونشو رسولی، بیا د شپې رادیوګانو وویل چې زمونږ قهرمانو پیلوټانو د اپاچي هلې کوپترو په ذریعه د طالبانو یو قوماندان سره د ۱۷ طالبانو ووژلو، ماښام دواړه هلې کوپترې لاړې، مونږ روغ رمټ راووتلو. پدې وخت کې ډېر کلیوال او د نورو ګروپونو مجاهدین دغې چینې ته راغلل او ځان سره یې د زخمیانو او شهیدانو د انتقال سامانونه هم راوړي وو، کله چې مونږ ورسره مخ شوو مونږ ورته وویل هلې کوپترو صرف مونږ دوه تنه محاصره کړي وو، زمونږ نور مجاهدین هغه فلاني ځای کې دي، بیا ټول له خپلو مجاهدینو سره یو ځای شوو، ټول خلك حیران وو چې د خدای تعالی ساتنه داسې وي، پدې وخت کې دغو دوو تنو راته وویل چې خبریال صاحب هغه ورځ مونږ یو شعر جوړ کړی حتماً به زمونږ دغه شعر نشر ته سپارې!

د دوی شعر دا دی:

مــــازیګر څلــــور بجـــــې وې زمــا د ژونـد خــوږې لحظــې وې

اپــــــاچي دوه طیـــــــارې وې خــرس نــه بــدې یــې څېــرې وې

ډېــــــرې ټیټــــې ګرځېــــدلې زمــونږ پــه ســر بــه څرخېــدلې

ټولـــــو خلکـــــو دا ليـــــدلې    ســپو پـــه شــان بــه غپېــدلې

د ټيپـــوس غونـــدې هـــوا کـــې    ښـــکار پســـې بـــه تاوېـــدلې

تـــــر ماښـــــامه ګډېـــــدلې    مـونږ لـه ښـکې نـه ښـى ليـدلې

اخــــر دواړه ســــترې شــــولې    يـــــا لـــــه ډار وتښـــــتېدلې

خــالي لاس او خــړې ســترګې    خپـــل غـــارو تـــه ســتنېدلې

يـــو عجـــب او بـــل قاســـم وو    د دښـــــمن پـــــه ســــرحاکم وو

دوې بمبـــار تـــه کلـــك قـــايم وو    ســپېڅلي او صـفا يـې عـزايم وو

د دوی ننـــګ همـــت ايمـــان تـــه    پيلوټـــــانې حيرانېـــــــدلې

پــه دا دومــره ډېــر بمبــار کــې    هم پـه دومـره سخت ګـوزار کـې

تغيـــر رانغــى زمـــونږ لار کـــې    نـــه زمـــونږه پـــه قطـــار کـــې

زمـــونږ نجـــات تـــه ملايکـــې    رب اســــمان نــــه رالېږلــــې

مـرګ رښـتيا چـې پـه اجـل وي    کـه پـه کـور کـه پـه مورچـل وي

بـــې اجلـــه مرګـــی نشـــته     کـه د ټانـګ او جهـاز غوبـل وي

همــــدا زمـــا عقیـــده وه     رب ســـره مــــې رابطـــه وه

پـــه هـــوا کـــې درد ېـــدلې     برګـــې برګـــې یـــې کتلـــې

زمــونږ پــه ســر بــه کوزېـدلې     پیلوټــــانی ښـــــکارېدلې

خـــرو پشـــان معلومېـــدلې     ښـــکته پورتـــه بـــه کېـــدلې

ځـــومره لنـــډې یـــې دوری کـــړې     زمــونږ پــه سر یــې مـانورې کـړې

رنـګ پـه رنـګ بـه یې نخرې کړې     ټولــو خلکــو یــې تماشــې کــړې

دا بـــد رنګـــې او بـــد شـــکلې     بـــــې هدفـــــه چورېـــــدلې

کـــافران ټـــول پـــه خنـــدا وو     کـــرزی بـــش هـــم پـــه نڅـــا و و

ټـونیبلیر او ټـومی فـرنګس هـم     پــدې جنـګ بانــدې رضـــا وو

چـې خبـر شـول طالـب روغ دی     لـــونې ښـــځې یـــې ژړېـــدلې

زمـونږ د ژونـد ښـې خـاطرې وي     زمـــونږ پـــه ژبـــو کلیمـــې وي

د تکبیـــــر د غــــږ نـــــاري وې    لـــــوړې زمـــــونږ حوصـــــلې وې

الله الله بــــــه مــــــو ویلــــــوگ    یــــوه الله تــــه مــــو اســــرې وې

مــــونږ ویشــــتلي انگریـــزان وو    مــــــونږ وژلــــي صــــلیبیان وو

ســــــوزولي مــــــو ټانگـــــان وو    ډیــر غصــه پــري پینتگـــان وو

د بــــي ۲ ۵ ۲ پیلوټــــانو پــــه ســـر خــــاوري بــــادولې

پوښتنه: قوماندان صاحب! خلك وايي چې د امریکایانو مخالفینو سره افغانان مرسته او کومك نه کوي، پدې باره کې څه ویل لرئ؟

ځواب: حقیقت دا دی چې د افغانستان مسلمان خلك د امریکایانو مخالفینو سره داسې مرسته کوي لکه د مدینې انصارو چې د مکې له مهاجرینو سره کوله. مسلمانو هېوادوالو د روسانو د تیري په وخت کې له مجاهدینو سره دومره مرسته نه کوله لکه نن یې چې د امریکا مخالفینو سره کوي. د مثال په توگه یوه شپه مجاهدین د امریکایانو سره له جنگ نه راوگرځېدل، په لاره کې کلیوالو ورته سره او کباب کړي چرگان راوړل خو د روسانو د تیري په وخت کې به مونږ په خلکو په زور ډوډۍ خوړله، الله تعالی دې راته معافي وکړي. همدا راز یوه شپه د پکتیکا په ولایت کې د یوه کور سړیو له مجاهدینو سره وعده کړې وه چې امریکایانو ته د کمین لپاره فلاني ځای ته درسره ځو، د شپې چې مجاهدین هغه کور ته لاړل د کور سړي موجود نه وو، یو عاجل مریض یې ډاکتر ته وړی وو، د سیف الله په نوم یو ۱۲ کلن ځوان په کور کې موجود وو، مجاهدینو ته یې ډوډۍ

راوړه، کله چې مجاهدينو ډوډۍ وخوړه نو د سيف الله څخه يې پوښتنه وکړه چې پلار دې څه وخت راځي؟ هغه وويل ان شاء الله ژر به راشي، لنډه دا چې وخت زيات تېر شو، مجاهدينو خپلو کې وويل نن شپه پروګرام نه کېږي، بېرته به خپل مرکز ته لاړ شو، سبا شپه به راشو. پدې وخت کې سيف الله کور ته ننوت، دا جريان يې خپلې مور ته ووايو، مور يې ورته وويل چې ورشه او مجاهدينو ته ووايه چې درې تنه نور لار پېژندونکي شته، په لاره خبرې او پوښتنې مه کوی او هغوی به مخکې وي تاسې ورپسې روان شئ، هغه مطلوب ځای ته مو رسوي. بيا يې سيف الله ته وويل چې ورته ووايه زه هم تاسې سره ځم. هغه وو چې سيف الله مجاهدينو ته وويل يا الله حرکت کوو. درې تنه لاره پېژندونکي پيدا شول زه هم تاسې سره ځم، مينونه چېرته دي؟ څلور ماينونه يې له مجاهدينو څخه واخيستل او سيف الله او دغو درې تنو له ځان سره واخيستل او د هدف په لور دوی مخکې او ۱۱ مجاهد ورپسې روان شول. دوه نيم ساعته مزل نه وروسته د کمين ځای ته ورسېدل، مجاهدينو مينونه هلته ښخ کړل او بيا کمين کې کېناستل. هغه ۱۲ کلن "سيف الله" مجاهدينو ته وويل چې زما مور وايي چې مونږ تاسې سره کمين کې کېنو او که اجازه را کوئ چې کور ته لاړې شو، مجاهدينو وويل چې ای سيف الله ستا مور دلته څه کوي؟ سيف الله وويل چې پلار او ترونو مې بيمار ډاکتر ته بولی وو، دغه درې تنه مې يوه مور او دوه مې خويندې دي، ما په کور کې ستاسې تصميم دوی ته ووايو چې مجاهدين نن شپه کمين ته نه ځي او بېرته خپل مرکز ته ځي ځکه زما پلار نشته او مجاهدينو لار نده ليدلې، نو مور مې وويل چې جهاد خو په نر او ښځې فرض دی او خپله ملا يې وتړله او زما دوو خويندو ته يې وويل زر زر بوټان پښو کړئ چې د امريکايانو وژلو ته مجاهدينو سره ځو، ځکه امريکايان د دنيا له هغه بل کنج نه راغلي او زمونږ اسلامي وطن يې

اشغال کړی او مونږ ۳ ساعته مزل نشو کولای؟ نو ماته یې وویل چې سیف الله بچیه ورشه او مجاهدینو کاکا ګانو ته دې ووایه چې لار پېژندونکې سړې پیدا شول، اصلاً سړي نه وو بلکې زما مور او خویندې وې. مجاهدینو چې د سیف الله خبرې واورېدلې نو سبحان الله، الله اکبر ولله الحمد یې وویلې او ټولو لاسونه اوچت کړل او دغو ښځو ته یې د دنیا او اخرت ښېګړې او جنت الفردوس له رب العالمین څخه وغوښت او بیا ټولو مجاهدینو وویل چې یا رب العالمین زمونږ خویندو او میندو ته هم همداسې ایمانونه په نصیب کړې. **نو آیا دا له مجاهدینو سره د خلکو کومك دی او که بل څه؟**

قوماندان صاحب زیاته کړه: ما دلته څو میاشتې په عملي جهاد کې تېرې کړې، یوه ورځ مې له خپل کور سره په تلیفون کې خبرې وکړې چې که بې خرڅه یاستی نو زما له فلاني دوست څخه قرض واخلی. د کور خلکو په ځواب کې راته وویل چې بې خرڅه نه یو، فلاني دومره او فلانی دومره پیسې رالېږلې دي، ۱۳ کسانو زمونږ کور کې پیسې ورکړې وي چې قوماندان جهاد ته تللی داسې نه چې د کور خلك یې بې خرڅه شوي وي!! قسم په خدای چې چا زر، چا دوه زره، چا درې زره، چا پنځه زره، چا شپږ زره، چا دولس زره او چا شل زره کلدارې ورکړې وې. کله چې زه کور ته راغلم هر چا راسره په ورین تندي روغ بړ کاوو. قسم په خدای (ج) چې یوه ورځ د روژه ماتې لپاره ۱۰ کورونو ته دعوت شوی وم او په همدغه لوی اختر کې ۱۷ جوړه جامې، شپږ جوړه بوټان او څلور ښه جمپرونه راته خلکو سوغات راکړې، پخوا مې دومره ناز په خلکو نه درلودو. نو آیا دا د امریکایانو له مخالفینو سره د خلکو کومك او مرسته ده او که نه؟!

پوښتنه: قوماندان صاحب! که تاسې ته کرزی صاحب خواست وکړي، په دولت کې ورسره کار کوی که نه؟ او که په راتلونکو انتخاباتو کې د خپلې

منطقي خلك تا پارلمان ته انتخاب كړي دا كار به قبول كړی او كه نه؟!
ځواب: قسم په خدای (ج) چې له لوږې مړ شم او يا په كوڅو كې پاپړ خرڅ كړم دا د ځان لپاره عزت ګڼم له دېنه چې د امريكايانو په موجوديت كې معين، وزير، د لوی جرګې او يا د پارلمان غړی شم. مسلمان كله هم د چوكۍ، نوم او نشان لپاره جهاد او جنګ نه كوي، مسلمان خو د اعلاء كلمة الله لپاره جهاد كوي.
پوښتنه: قوماندان صاحب! تاسې وويل چې د برمل ولسوالی كې مجاهدينو پدې څو مياشتو كې ۲۷ جنګونه كړي كه د دغو جګړو څه تفصيلات راته ووايا ست؟
ځواب: ورور جانه د ټولو عملياتو تفصيل خو ډېر وخت نيسي، د كوم تاريخ عمليات چې ستا خوښه وي هغه به درته ووايم؟ ما "خبريال" بيا ورته وويل د سنبلې (۵) تاريخ د جګړې څه تفصيل راته ووايه. قوماندان وويل: د سنبلې ۲ تاريخ د ماښام لمانځه نه وروسته مونږ ۲۷ تنه مجاهدينو ته زمونږ مشر د كمين په باره كې توضيحات راكړل چې داسې وكړئ او داسې مه كوئ..... او بيا له دعا نه وروسته د كمين په لور روان شولو، زمونږ يو فرعي مركز دی له هغه ځايه څلور ساعته د كمين تر ساحې پياده مزل دی او دغه مركز چې اوس مونږ پكې يو ۲ ساعته د كمين تر ځايه مزل دی، په خپل مركز كې مونږ په هر مجاهد نمبر كېښود، مثلاً زما (۱) د احمد (۲) او د محمود (۳) پدې ترتيب د ۲۷ كسانو نمبرونه مو كېښودل او هر نفر به خپل مخكي او وروستي نمبر او نفر ضرور پېژاندو ځكه د شپې مزل وو د اورلګيت بجلی او نوري رڼا استعمال خو بند وو، كه چېري ضرورت پېښ شي تر څو په تياره كې هم د ملګرو موجودي په اسانه سره وكولای شو، د شپې نوم مو هم خپلو كې كېښود چې عمر ځواب بې خالد وو، د كمين سيمې ته پدې تر تيب سره روان شولو چې درې نفري ۹ ګروپونه مو جوړ

کړل او په لاره کې به له هر نیم ساعت مزل نه وروسته مونږ ۱۰ دقیقې دمه کوله او د یوه او بل ګروپ تر منځ به ۱۰ متره مسافه وه، کله چې د کمین سیمې ته ورسېدو د سپیانو غړونه مو تر غوږ شول، بیا مو هر ګروپ له بل ګروپ څخه ۵۰ متره لرې کښیناوو که چېرې امریکایان وي چې چاره یې وکړو، بیا زه سره د دوو نورو مجاهدینو د سپیانو غړونو ته نژدې ورغلو، کله چې پوه شولو چې د امریکایانو کمین نشته او سپیان هسې غاپي نو بېرته خپلو ملګرو ته راغلو او ټول مجاهدین مو د کمین ساحې ته وړاندې کړل. ټول مجاهدین مو څلور ځایه کړل، یو ګروپ د اکمال، یو ګروپ د دفاع او دوه ګروپونه مو سرك ته د کمین لپاره واستول، دوه شپې مجاهدینو په کمین کې وکړې، دریمه ورځ یوه بجه د امریکایانو دوه ګاډي راغلل، مجاهدینو پرې ډزې وکړې، دواړه یې وویشتل، سمدستي ایف ۱۲ او اپاچي هلې کوپترې راغلې، دفاعي ګروپ سره ۸۲ ملي متری توپ هم وو، هغوی په جیت الوتکو د ۸۲ دوه ډزې وکړې، هلې کوپترې وویرېدلې او جیت الوتکو هم اوچت پروازونه پیل کړل، پدې وخت کې د امریکایانو ۲ ګاډي نور راورسېدل، سخته جګړه شروع شوه، تر ماښامه پورې څلور جیت الوتکو بمبار کاوو، د امریکایانو له نظامي اډې مچداد کلا څخه یې هم په لویو لویو توپونو د مجاهدینو سنګرونه ویشتل، د خدای تعالی ساتنه وه، فقط یو تن مجاهد زخمي شو، هغه زخمي فوراً مونږ مرکز ته ورساوو او نور ټول مجاهدین روغ رمټ خپل مرکز ته ستانه شول، ټولو خلکو دا ګمان کاوو چې ډېر مجاهدین به شهیدان او زخمیان شوي وي. بیا د شپې د کابل رادیو، بي بي سي او امریکا غږ وویل چې د پکتیکا برمل ولسوالی کې ۱۲ تنه شکمن طالبان ووژل شول او څلور نور یې ژوندي ونیول شول او د امریکایي فوځیانو څخه فقط ۳ تنه معمولي زخمیان شول! لعنة الله علی الکاذبین.

پوښتنه: پدغه جنګ کې تاسې سره عربان یا نور خارجیان وو او که نه؟
ځواب: ټول افغانان وو، یو تن خارجي هم له مونږ سره پدې جګړه کې نه وو، د برمل په ولسوالی کې خارجیان یا عربان بلکل نشته، ټول افغاني مجاهدین دي.
پوښتنه: قوماندان صاحب! که د سنبلې ۲۷ تاریخ د جګړې څه جریان راته ووایې نو ښه به وي؟
ځواب: مونږ ۷ تنه مجاهدین د شپې ۱بجه دغه جهادي مشر له خوب څخه بیدار کړو او راته یې وویل ځانونه تیار کړئ. مونږ په یوه ساعت کې خپل ځانونه تیار او عیار کړل، د شپې ۲ بجې له همدغه مرکز څخه چې ته جناب پکې ناست یې مونږ د کمین سیمې ته حرکت وکړ، ۲ ساعته مزل نه وروسته د کمین منطقې ته ورسېدو، زمونږ وظیفه ترصد او د منطقې حال احوال اخیستل وو، کله چې د کمین سیمې ته ورسېدو د ورځې ۹ بجې وې، مونږ ۷ کسانو خپلو کې مشوره وکړه چې کومې غونډۍ ته وخېژو، زما خوښه ښي طرف غونډۍ ته وه ځکه ښی طرف غونډۍ ډېره لوړه او اوچته وه او ټوله ساحه ورڅخه ښه معلومېده، خو یوه مجاهد د حضرت ګل په نوم وویل چې که زما منی نو اول دغې نژدې چپ طرف غونډۍ ته خېژو ځکه ډېر ستړي یو، مازدیګر یا سبا به بیا هغې بلې جګې او لوړې غونډۍ ته وخېژو، مونږ ورسره ومنله چې صحیح ده، د غونډۍ بېخ ته ټول یو ځای ورسېدو، هلته بیا ما وویل چې پنځه تنه دې همدلته کیني یو تن دې له ما سره د غونډۍ سر ته وخېژي که د غونډۍ سر کې امریکایان وي نو صرف مونږ دوه تنه به شهیدان شو تاسې پنځه تنه خو به بچ شی، هغه وو چې د عبدالباسط په نوم یو مجاهد له ما سره غونډۍ ته د ختلو لپاره تیار شو، ما عبدالباسط ته وویل چې وروره زه به مخکې شم ته شل متره وروسته راپسې راځه، که چېرې امریکایان په غونډۍ کې وي پام کوه چې

ژوندی مې ونه نیسي که ژوندی یې نیولم ته مې ووله. ورو ورو د غونډۍ سر ته وختلو، کله چې مونږ دمه وکړه او بیا مو شا او خوا غونډیو ته په دوربین کې وکتل عبدالباسط ماته وویل چې قوماندان صاحب! هغه غونډۍ کې څوك دي؟ ما چې وکتل ګورم چې هغه غونډۍ له امریکایانو څخه ډکه وه، دا هغه غونډۍ وه چې ما غوښتل اول هلته وخېژو، که چېرې زما خبره ملګرو منلې وای نو ټول یې ژوندي نیولو، بیا ما عبدالباسط ته وویل چې قاري صاحب! ته لاړ شه د غونډۍ ښېخ ته هغه نور ملګري هم ځان سره دلته راورسوه، عبدالباسط لاړو او ټول ملګري یې راوستل. مونږ خپلو کې مشوره وکړه چې څه وکړو؟ فیصله پدې وشوه چې مونږ خو جنګ ته نه یو راغلي، د تر صد او حال احوال لپاره راغلي یو، نو ټولو وویل راځی چې ټول اصلي مرکز ته لاړ شو او نور مجاهدین به په جریان کې واچوو او ټول به په شریکه پدغه کمین حمله وکړو. ما وویل چې ۲ ساعته مزل دی، ټول ستړي ستومانه یو، زه مزل کې ښه یم، زه به لاړ شم او نور مجاهدین به له ځان سره راولم، تاسې له دغه ځایه لږ لرې کښینئ، هغه وو چې عبدالباسط وویل زه هم درسره ځم ځکه چې یواځې سفر ښه ندی، حالات خطرناك دي، ما ورته وویل چې صحیح ده، دواړه اصلي مرکز ته وخوځیدو، ماښام ناوخته خپل مرکز ته ورسېدو، له مرکز څخه مو لس تنه نور مجاهدین ځان سره راوستل او په همدې شپې مو بېرته د کمین ځای ته ځان راورساوو، د شپې ۳ بجې له خپلو پنځو ملګرو سره یو ځای شولو، باقي شپه مو په پیره او ګزمه تېره کړه، سبا د ورځې زه او د لقمان په نوم یو مجاهد د اوبو راوړلو لپاره لاړو، په لار کې دوه کوچیان په مخه راغلل، مونږ د سیمې د حالاتو پوښتنه ورڅخه وکړه، هغوی وویل امریکایانو دوه شپې په فلانیو غونډیو کې کمین نیولی وو خو پرون مازدیګر ټول بېرته لاړل، بیا زه او لقمان هغو غونډیو ته لاړو چې پرون ورختلي وو، کله چې

مونږ ټولې غونډۍ ولیدلې چې رښتیا پکې امریکایان نه وو او تښتېدلي وو، نو بیا ما لقمان ته وویل چې ته ملګرو پسې لاړ شه زه به دلته ناست یم او ټول ملګري راوله، د لقمان دې کور آباد وي هغه لاړ او ټول ملګري یې راوستل. شپه راغله، ټوله شپه مونږ پیره او ګزمه وکړه، بیا د شپې ۴ بجې مونږ مشوره وکړه او دغه ۱۷ تنه مجاهدین مونږ څلور ځایه تقسیم کړل، یو ګروپ د دفاع لپاره، یو ګروپ د اکمالاتو، یو ګروپ د کمین پخاطر سرك ته او یو ګروپ مو د ترصد لپاره وټاکو، ټوله ورځ ټولو ګروپونو د امریکایانو د راتلو انتظار کاوو، بالآخره د ورځې یوه بجه وه چې د امریکایانو له عمومي قرارګاه "مچداد کلا" څخه پنځه موټر په ډېرې تېزی سره د کمین په طرف را روان شول، په ترصد کې زه او حضرت ګل نومې مجاهد ناست وو، یوه نیمه بجه د کمین ځای ته راورسېدل، پدې وخت کې درې موټر نور چې له امریکایانو ډك وو د مچداد کلا څخه د کمین په طرف په ډېرې تېزی سره راروان شوو، مونږ ورته کتل چې د پش خنی د غره تر څنګ ښکته شول او د هغې غونډۍ په طرف راروان شول چې مونږ پکې ناست وو، پدې وخت کې به مونږ ته ۳۰۰ متره را نژدې شوي وو چې د کمین مجاهدینو له مونږ څخه هدایت وغوښت چې د امریکایانو ګاډی مونږ ته بلکل را نژدې شول څه وکړو؟ مونږ ورته وویل چې فوراً شروع وکړئ، هغه وو چې د راکټونو ډزې شروع شوې، پدې وخت کې دغه امریکایان مونږ ته هم ۲۰۰ متره نژدې شوی وو چې مونږ هم پرې ډزې وکړې، د دفاع ګروپ هم ډزې شروع کړې، له دریو خواوو په امریکایانو ډزې شروع شوې، امریکایان هك حیران شول چې دا څه قیصه ده، دغه امریکایان چې زمونږ په طرف را روان وو دوی غوښتل چې اول دغه غونډۍ ونیسي که دغه غونډۍ یې نیولې وای نو په کمین کې ناست مجاهدین یو هم ورڅخه خلاصېدلای نشو، یقین په خدای وکړه چې د امریکایانو چیغې

مونږ اوربدلې، د ښځو په شان يې ژړل، كوكارې او ماما ماما نارې يې وهلې، خداى شاهد دى چې درې موټر يې په راكټونو وويشتل شوو او بيا فوراً جيت الوتكې او هلي كوپټرې راغلې، له ۲ بجو شروع تر ماښام پورې بمبار وو، خو مجاهدينو د قهربدلو زمريانو غوندې په امريكايانو حملې كولې، د ماښام لمانځه نه وروسته ټول مجاهدين هغه ځاى كې سره يو ځاى شول چې مخكې له جنګ څخه مو تعين كړي وو، د ټولو مجاهدينو مرمۀ خلاصې شوې وې، پداسې حال كې چې لس لس شاجورونه هر مجاهد سره موجود وو، په پاى كې فقط دوه تنه مجاهدين زخميان شول او بس، دواړه زخميان په خپلو پښو مركز ته لاړل. د شپې لس بجې مونږ په يوه كلي تيربدلو يقين وكړى چې خلكو كباب كړي چرګان زمونږ مخې ته راوړل، د ماښام لمانځه نه وروسته كليوال او د نورو ګروپونو مجاهدين د جنګ صحنې ته راغلل، د زخميانو او شهيدانو د انتقال لپاره يې ځانونو سره سامانونه هم راوړي وو، خو زمونږ ضرورت ورته پېښ نه شو، د شپې د ازادى او كابل راديو وويل چې د برمل ولسوالى كې ۱۰ شكمن طالبان وژل شوي او دوه تنه ژوندي ونيول شوو!! لعنة الله على الكاذبين. پدې وخت كې قوماندان صاحب يوه مجاهد ته غږ كړ او ورته وې ويل چې د ۲۷ سنبلې د جګړې شعر دغه خبريال ته ووايه. هغه مجاهد دا شعر راته ووايو او ما ثبت كړ.

دا دى هغه شعر

په سر د هر كافر به ماشينونه چلېدل
د ټولو مجاهدو ټوپكونه ډزېدل

ورځ د پنجشـــــــــــنبې ۲۷ د ســـــــــــــنبلې وه

برمـــل ولســـوالی کـــې صـــلیبیان وژل کېـــدل

پنځـــه مـــوټره راغلـــل پـــه ســـرك د انګرېزانـــو

لـه دريـو خـواوو ټـول مجاهـدين پـرې ولوېـ دل

درې ګـاډي پـه حملـو د مجاهـدو سـره لمبـه شـول

لـوخړې او لـوګي يـې پـاس آسـمان تـه وختـل

بـاران غونـدې مرمـة د مجاهـدو پـرې ورتللـې

پيـاده يـې وارخطـا وو پـه مينونـو بـه ختـل

څرخـي طيـارې راغلـې دوه بـارداره دوه جنګـي وې

بـاردارو کـې زخميـان او خپـل مـردار ئـې نقلـول

بيـجيـت طيـارې راغلـې کلـك بمبـار يـې کـړ شـروع

دوه بمـه يـې پـه خپلـو انګرېزانـو واچـول

پــه دوه بجــو شــروع شــو تــر ماښــام پــورې بمبــار وو

د هــر مجاهــد څنــګ كــې بــه بمونــه غورځېــدل

هاوانونـه ئـې شـروع كړل لـه مركـز د كـوټ مچـداد نـه

د هـــر مجاهـــد خـــوا كـــې هاوانونـــه لګېـــدل

بيــلـم مجاهـدين يـو سـانتي متـر شـاته نـه شـول

انګريــزان لــه ډېــره قهــره د ســپو شــانې غپېــدل

دوه تنـه مجاهـد خـو معمـولي غونـدې زخميـان شـول

زخميـــانو تـــه فـــوراً ښـــه ډاكتـــران ورســـېدل

بمبـــار او هـــم توپونـــه كليوالـــو چـــې ليـــدل

پـــه حـــال د مجاهـــدو ښـــځې نـــر بـــه ژړېـــدل

كـافر بـه شـو پـه تېښـتنه مجاهـد بـه چې تكبيـر كـړ

تكبيـــر ســـره كـــافر او منـــافق بـــه ســـوزېدل

ولاړ وو كليـــــوال د مجاهــــدو اســــتقبال تــــه

د ټولـــــو مجاهــــدو يـــــې لاســـــونه ښـــــكلول

انگرېزانـو بانـدې ورغ چـې تـوره شـپه وه جـوړه شـوې

خوښـــــى نــــه مجاهــــدو اتڼونــــه اچــــول

مهــاجر چــې شــول خبــر چــې مجاهــدو فتحــه وكــړه

لــه ډېــرې خوشــحالى رب تــه پــه ځمكــه ولوېــدل

د شــپې وې لــس بجــې چــې مــونږ پــه كليــو تېرېــدلو

ســره كــړې چرگــان خلكــو زمــونږ مخــې تــه راوړل

د كفــر قــافلو بانـــدې حملـــې چـــې كـــړې غازيـــانو

اســـمان كـــې ملايكـــې او مرغـــان خوشـــحالېدل

د حـــزب، جمعيـــت، طالـــب او اتحـــاد مجاهـــدين

د لـوى فرعـون خـلاف پـه يـوه صـف كـې جنگېـدل

حـلال یـې کـړل پسـونه وزیروالـو لـه خوښـی نـه

د هـر مجاهـد خولـه کـې یـې ورنونـه ورکـول

۳۵صـلیبیان پـدې جګـړه کـې شـول مـردار

پـه غـم یـې کـرزی بـش او تـونیبلیر وژړېـدل

میډیا کې خبر خپور شو چې شکمن طالب اسیر شول

لـه دروغـو ډك خبرونـه پـه مـیـډیا وچلېـدل

دوه کالـه رب پـه مـا د قلـم ژبـې جهـاد وکـړ

د کفـر قتلیـدو تـه مـې نـن وړانـدې ودانګـل

لـه خدای څخه راضي یمچې عملي جهاد تـه یې بوتلم

او هـم یـې زیـات انګرېـز زمـا پـه لاس چـې ووژل

پوښتنه: قوماندان صاحب! که د آخري عملیاتو څه ناڅه تفصیل راته ووایی ښه به وي؟

ځواب: د برمل ولسوالی مربوط د انګور اډې سرحدي دروازه کې د

امریکایانو د کمپاین ډېره لویه قرارگاه وه چې تقریباً ۱۰۰ جریبه ځمکه یې نیولې وه او ډېر ټینگی مورچلی او سنگرونه یې درلودل، د مجاهدینو د زیاتو بریدونو له کبله تر پوزې راغلې وه او کله به چې دوی ته له ارگون څخه اکمالات راتلل نو د لارو په اوږدو کې به مجاهدینو پرې حملې کولې، بالآخره د جنوری په پنځم تاریخ د لمر ختلو نه تر ماښام پورې دوی د خپلو سنگرونو په ورانولو لگیا وو، یو لوی بلدوزر یې هم راووست، بلدوزر هم په ورانولو لگیا وو، بیا مونږ خپلو کې مشوره وکړه چې دا ظالمان خو تښتي، ښه به دا وي چې په لاره کې ورته کمین ونیسو خو مونږ دا نه گڼله چې همدا د جدي ۱۵ کې به تښتي، باور ورکړه چې دوی خپل سنگرونه ورانول او ما د قرآن کریم سورت حشر راواړوو په هغه سورت کې دبنی قریضه او بني نضیر د غزاگانو حالات بیان شوي، الله پاك وایي چې دوی ((یهودان)) خپل کورونه په خپلو لاسونو ورانوي او هم مسلمانان د دوی کورونه ورانوي، د برمل ولسوالی پدې قرارگاه کې هم همداسې وشول چې تر ماښام پورې دوی خپل سنگرونه ورانول او د ماښام نه وروسته مونږ په قرارگاه ورغلو گورو چې قرارگاه کې هېڅوك نشته، دوی د ماښام په تیاره کې تښتېدلي وو، بیا مونږ ۴۰ مجاهدین ورداخل شولو او د قرارگاه ټول سامانونه مو د غنیمت په توگه خپلو مرکزونو ته انتقال کړل او سبا د ورځې پدغو ظالمانو پسې مجاهدین مخکې لاړل او د امریکایانو په هغو مرکزونو چې په ارگون او مچداد کلا کې وو د راکټونو او مزایلو ډزې وکړې. همدا راز په ۱۷- ۱۹ او ۲۲ د جدي مجاهدینو قوي قوي حملې د امریکایانو په اډو او قافلو وکړې، بیا ۱۵ هلې کوپترې، جیت الوتکې، ایف ۱۲ او بي ۵۲ راغلې او هسې یې آخوا دېخوا بمونه او راکټونه وویشتل، ټول مجاهدین روغ رمټ خپلو مرکزونو ته ستانه شول. د انگور اډې د فتحې په باره کې یوه مجاهد یو شعر جوړ کړی، جناب

خبريال صاحب! که خوښه دې وي هغه به درته ووايي.

شعر دا دی

د جـــــدي ۱۵ كـــــې مرتــــدان وتښـــــتېدل

برمـــل نـــه د انگرېـــز ټـــول غلامـــان وتښـــتېدل

جـــوړ كـــړي مرچلونـــه د فـــولاد غونـــدې محكـــم وو

پـــه خپلـــه يـــې ټـــول وران كـــړل ظالمـــان وتښـــتېدل

د چـــا پـــه فكـــر او خيـــال كـــې دا خبـــره نـــه راتلـــه

د خـــداى وهنـــه گـــوره چـــې ماښـــام و تښـــتېدل

بليـــر بـــش كـــرزي د دوی پـــه تېښـــته مـــاتم وكـــړ

د شـــكين لـــه منطقـــې چـــې جاسوســـان وتښـــتېدل

دوی مخكـــې او مجاهـــدو ورپســـې منـــډې وهلـــې

انگـــورو لـــه اډې ټـــول گيـــدړان وتښـــتېدل

شـــمال او لـــه جنـــوب نـــه مجاهـــدو حملـــه وكـــړه

لـــه ســـمې او لـــه غـــرو نـــه شـــرابيان وتښـــتېدل

۴۰ ټلـــه ســـر تيـــري مجاهـــد ميـــدان تـــه راغلـــل

وزيـــرو علاقـــې نـــه شـــيطانان وتښـــتېدل

كـه نـن وي كـه سـبا لـه افغانسـتان نـه هـم تښـتېږي

برمـــل نـــه پـــه ربښـــتيا ټـــول خنزيـــران وتښـــتېدل

بـــې شـــمېره ملايكـــې مجاهـــدو ســـره مـــل وې

لـــه وېـــرې د مرګـــي منافقـــان وتښـــتېدل

د غـــم او د مـــاتم ټغـــر شـــو خـــور لويـــه جرګـــه كـــې

تعزيـــت او فـــاتحې نـــه اســـتادان وتښـــتېدل

لـــه غـــرو نـــه مجاهـــد پـــه تكبيرونـــو را روان وو

جنتيـــان چـــې را نـــژدې شـــول دوزخيـــان وتښـــتېدل

امیر المؤمنین به نن شپه ښه خوب وی لیدلی

انګورو له اډې چې صلیبیان وتښتېدل

نن شپه به خوشحال شوي د لیلې دشتې ځوانان وي

سرکوزي یې چې برمل نه قاتلان وتښتېدل

هم زیات به خوشحال شوی حکمتیار وي پدې فتحه

سویل له منطقې چې انګرېزان وتښتېدل

په ۰۰ جریبه ځمکه کې پرته دا قرارګا ه وه

صحرا شوله پرې تنګه کافران وتښتېدل

لومړی ده لویه فتحه او غنیمت چې نیول ک ېږي

روغتون نه ټول سامان او ډاکتران وتښتېدل

کابل کې چې خبر شول مجاهدو برمل ونیو

له ډېرو دفترو نه رئیسان وتښتېدل

لــه فتحـــې د برمـــل نـــه چـــې خبـــر شـــوه وكـــيلان

تـــالار نـــه د جرګـــې ږ بــــر وكــــيلان وتښــــتېدل

ګرانو لوستونكو پدغه مركز كې نورو مجاهدينو راته وويل: خبريال صاحب! كه خپه كېږې نه زمونږ غوښتنه هم واوره او هيله كوو چې زمونږ مطالب او غوښتنې هم نشر كړې، مونږ په جنګونو كې د سترګو ليدلي حالات په لنډيو ويلي دي چې يو څو لنډۍ دا دي:

امريكايــان جنــګ كــې تښــتېږي

چــې مجاهــد پــرې حملــې كــړي چغــې وهينــه

د ښـځو پشـان ژاړی پـه جګـړه كې

د راكـــټ ږز ســـره پرېـــږدي خپـــل ټوپكونـــه

د دوی توكل پـه توپ او جهـاز دی

د مجاهــــدو توكـــــل تــــل پـــــه الله وينــــه

ســتا لــه بــې ۵۲ نــه نــه ډارېـږم

د خـدای پـه مرسـته بـه دې هـر ځـای ځملومـه

مـونږه پنځـه تاسې پنځـوس شـي

راشئ میـدان تـه چـې معلومـه یـې سـره کړونـه

امریکا روس پـه شـان بـه مـات شـی

لـــه افغانـــانو ســـره مـــه وهـــه زورونـــه

دښـمن تـه عـذر او زاری نـه کـړو

د هـــر دښـــمن خولـــه پـــه ســـوکونو ســـمونه

زه د هغـــه غـــازي بچـــی یـــم

چـې سـتا پلرونـه یـې پـه میونـد وژلـي دینـه

لـــه مکنـــاتېن نـــه تپـــوس وكـــړه

بیـــا د افغـــان پـــه خـــاوره وكـــړه یرغلونـــه

دلتـــه غلـــیم تـــم كېـــد ای نشـــي

لـــه پـــلار نیکـــه ځنـــې دې وکـــړه تپوســـونه

ســوپر طاقــت بــه دې شــي صــفر

روس او انګرېــز نــه ولــې نــه اخلــې عبرتونــه

بــش د خــدائی دعــوه نــن کــړې

رب بــه موســی ورتــه پیــدا کــړي ورك بــه شــینه

د طیــارو ضــد مــو جــوړ کــړی

پـــه مجاهـــدو بـــه نـــور نـــه وي بمبارونـــه

د بــش بچیــه ځــان دې ټینــګ کــړه

مجاهــدین دې مــرګ تــه بیــا راغلــي دینــه

د امریکایــــــانو مــــــددګاره

لــه شــاه شــجاع ببــرك نــه واخلــه عبرتونــه

د صــلیب زویــه خــلاص بــه نشــې

کــه ځــان نــه تــاوکــړې د ټــانګونو دېوالونــه

د امريکـــا پـــه ډالـــر مســـته

واخلـه خوندونـه شــپې دې لـرې پـاتې دينـه

د انگرېزانـــو گـــاډي راغلـــل

ماشـه پـه لاس مجاهـد ځـار ورتـه کوينـه

د ژونـد مـې ښـې لحظـې هغـه وې

چې انگرېـز پـه مـا ، مـا پـه انگرېـز کـول ډزونـه

کـه اوس شـم مـړ پـروا مـې نشـته

رنجـن نـه زيـات مـې صـليبيان وژلـي دينـه

تـر څـو مـې روح وې پـه بـدن کـې

د امريکـا لـه جنـگ بـه وانخلـم لاسـونه

د مجاهـد نـوم پـرې حـرام دى

لـه امريکـا سـره چـې څـوك کـړي کومکونـه

مجاهـــد هغـــه چاتـــه وايـــي

چـې د ژونـدون تـر اخـر وخـت جهـاد کوينـه

مجاهـد ځنګـه ځـان تـه وايـې

لـه امريکـا سـره چـې نـه کـوې جنګونـه

د امريکـا خـلاف چـې نکـړئ

لـونګی کـړئ کـوزې پـه سـر واچـوئ شـالونه

دلمونځ پـه ځـير د مـرګ تـر وختـه

د مسـلمان پـه ذمـه فـرض دي جهادونـه

شـهادت هـر چاتـه نـه رسـيږي

رب العـزت بـه مخلصـان اختياروينـه

انګريز کوکارې کړې چې مړ شوم

مجاهـدينو پـه راکـټ ويشـتلی يمـه

د غلامـــی ۱۰۰ کالــه ژونــد نــه

دآزادی یـــو ســـاعت ژونـــ د شـــرف لرینـــه

مفســـرین چـــې غلامـــان شـــول

زه بـــه جاهـــل اشـــنا نـــه ځـــه ګیلـــه کومـــه

انګریــز مامــا مامــا نــارې کــړې

د تکبیــر غــږ ســره یــې مــات شــول اودســونه

پــه طوفــان بانــدې هــلاك امریکایــان کــړې الله

پـــرې خوشـــحاله د نـــړۍ مســـلمانان کـــړې الله

چې د کفر حمایت کړې هغه خوار کړې الله

پــرې خوشــحاله د تحریــك ټــول طالبــان کــړې الله

امریکــا د روس پــه څېــر ټوټــه ټوټــه کــړې الله

پــرې خوشــحاله حکمتیــار او اتحادیــان کــړې الله

بـش پـاول او ټـونيبلير ربـه هـلاك كـړې ډېـر زر

پــــرې خوشـــحاله عربـــان او عجميــــان كــــړې الله

د عـــزت او د شــــرف لاره جهـــاد ده ربښـــتيا

مــونږ پــه دغــه لاره ټينــګ او هــم روان كــړې الله

ستا دربـار تـه يـې اميـد ده پـه كيوبـا كـې الله

زر راخــلاص ګونتنــامو نــه ټـول بنـديان كـړې الله

د وزيــرو ښــځې هــم جهــاد كــې برخــه اخلــي

ټولــو ښــځو تــه نصــيب داســې ايمــان كــړې الله

هــر يــو قــوم او قبيلــه چــې جهادونــه كــوي

پــرې نــازل خپــل رحمتونــه او بــاران كــړې الله

پوښتنه: قوماندان صاحب! خپلو هېوادوالو ته څه پيغام لرې؟
ځواب: زما پيغام د امريكايانو مرسته كوونكو افغانانو ته دا دى چې په اسلام، وطن او په خپل ځان رحم وكړي، د خداى پخاطر دې د امريكايانو له مرستې لاس واخلي او د خپلو مجاهدو ورونو سره دې په ارتباط كې

شي او د ضرورت په وخت کې دې ورسره مرسته وکړي چې پدې سره به يې دنيا او آخرت ښه شي.
زما پيغام مجاهدينو ته دا دی چې خپل ټول قوت دي لومړی خارجيانو ته متوجه کړي، د افغانانو په وژلو دې خپل وخت او قوت نه مصرفوي ځکه د افغانانو وژنه خارجيانو ته هېڅ تاوان نه رسوي، د خارجيانو پرې چرت هم نه خرابېږي بلکې د خارجيانو ملاتړي لا زياتېږي. او بله دا چې چرګه مړه کړه چرګوړی خپله مړه کېږي خو که چرګه ژوندی وي نو نورې هګۍ اچوي او نور بچيان زېږوي، که امريکايان وتښتي دغه ملګري به يې بيا د پخوا په څېر دوشنبه او پنجشنبه روژې نيسي او د شپې به تهجد کوي، نو د افغانانو وژل ګټه نه لري، الله تعالی به يې دوزخ کې واچوي، په الله تعالی دې وسپاري.
زما پيغام هغو افغانانو ته چې ځانونه د امريکايانو کلك مخالف بولي، او په مجالسو او محافلو کې له خلکو سره بحثونه کوي، دا دی چې هغوی دې خپله جهاد ته ووځي، که خپله عذر لري خپل ځامن او ورونه دې جهاد ته ولېږي، دوی خپل ځامن تبليغ ته ۴ مياشتو او سعودي ته د کال لپاره لېږلی شي خو يوه مياشت يې ترينينګ او جهاد ته نه پرېږدي، ولاحول و لا قوة الا بالله، زما ډېره ګيله له همداسې دروغجنو د امريکايانو دو آتشه مخالفينو څخه ده چې هسې بحثونه کوي، سپينې ږيرې او غټې پګړۍ په سر ښشه ښشه په جومات کې په اول صف کې لمونځونه کوي، هسې ځانونه د امريکايانو مخالف بولي خو عملاً يې هېڅ اقدام نه دی کړی، د دوی يواځې د جهاد تائيد مجاهدينو او اسلام ته هېڅ ګټه نه رسوي، هسې خپل وخت تېروي، خدای دې ورته هدايت وکړي.
زما پيغام هغو طالبانو ته چې له خپل امير سره يې بيعت کړی او يا يې د طالبانو حکومت کې رسمي کار کړی وي او نن عملي جهاد نه کوي دا دی

چې د امريکايانو خلاف جهاد ته راشئ، پرون همدغو طالبانو د بخاري، ترمذي او مسلم شريف درسونه پرېښودل، د رباني او مسعود خلاف جنګ ته راغلل، نن چې په زرګونو کافران برګې او شنې سترګې افغانستان کې ګرځي، دوی پېښور او کوئټه کې اوس پنج کتاب، خلاصه، انګليسي او د کمپيوټر کورسونه وايي او جهاد ته يې شا کړې، و لاحول و لا قوة الا بالله.
په آخرت کې به د رسول الله صلی الله عليه وسلم، او د زرګونو شهيدانو لاسونه به د دغو ځينې بې غيرته طالبانو چې نن انګليسي او کمپيوټر کورسونه وايي او جهاد ته ئې شا کړې ګريوانونه نيولی وی او د قهار او جبار رب العزت حضور ته به يې را کش کوي او وايي به چې:
يا رب العالمين! دا هغه کسان دي چې په اسلامي امارت کې وزيران، رئيسان، واليان، سفيران او ولسوالان وو، دوی ستا له دين، اسلامي نظام او بندګانو سره ډېره نامردي او بې غيرتي کړې، له مفسدانو سره يې جنګ کې مدرسې بندې کړې او د جنګ ډګر ته راغلل خو کله چې يهود، نصاری، صليبيان او د نړۍ نور کافران افغانستان ته راغلل دوی په پېښور او کوئټه کې د انګليسي او کمپيوټر کورسونه شروع کړل او جهاد ته يې شا کړه، يوه لحظه يې ستا د دين له دښمنانو سره جګړه څه چې وچولی هم تريو کړی نه دی، نو ای رب العالمينه! مونږ خو له دوی څخه ډېر زيات خپه يو ځکه يو وخت دوی خلك په زيره کمولو او پګړی نه پر سر کولو او د انګليسي په ويلو وهل او ټکول، د اسلامي امارت له خوا ورته دا آمر نه وو دا د دوی خپل اجتهاد وو چې له انګليسي ويلو نه يې خلك منع کول خو اوس دوی خپله زيرې کمې کړې، پګړی يې لرې کړې او د انګليسي او کمپيوټر کورسونه وايي!! يا رب العالمينه! ته پوه شه او دوی، مونږ زړونه پرې يخ کړه.
زما پيغام افغاني ميرمنو او سپين ږيرو ته دا ی چې مجاهدينو ته

دعاګانې وکړی او خپل د زړه تړتیې (زامن) جهاد او د امریکایانو خلاف جنګ ته تشویق او ترغیب کړي او له جهاد څخه یې مه منع کوی، همدا د دوی ستر جهاد دی.

زما پیغام جهادی مشرانو، قوماندانانو او د روسانو خلاف جنګېدلو مجاهدینو ته دا دی چې د امریکا خلاف هم عملي جهاد ته راشي، ځکه امریکایان له روسانو څخه ځو چنده ډارن او نازولي دي او د جنګ په تاکتیك او چلونو نه پوهېږي، جنګي روحیه او تجربه یې ډېره کمزورې ده، د لږ مقاومت په نتیجه کې د جنګ له میدان څخه تښتي او د دوی ټول دار مدار په تبلیغاتو او پروپاګند باندي دی. که روسانو سره جنګېدونکي تجربه کار مجاهدین ملا وتړي او د امریکایانو خلاف جنګ ته راشي باور وکړی چې په ډېر لږ وخت کې به امریکایان د روسانو په څېر مات او په تېښته مجبور شي.

زما پیغام افغاني علماء کرامو ته دا دی چې دوی دې له خدایه ووېرېږي، د خدای (ج) وېرې ته دې د امریکایانو په وېرې ترجیح ورکړي، خپل مسئولیت او رسالت دې اداء کړي، دوی خو د انبیاوو وارثان او د ولسونو امامان دي، د دوی فساد د ټول عالم فساد دی او د دوی مړینه د ټول عالم مړینه ده. که نور څه نشي کولای د امریکایانو له تائید او حمایت څخه دې لاس واخلي.

زما پیغام مالدارو افغانانو ته دا دی چې خپل زکات او خیرات مجاهدینو ته وسلې، غذا او لباس کړي، تر څو د خدای په وړاندې مخ سپیني وي او د صلیبیانو په خلاف جهاد کې یې ونډه اخیستې وي، تر ټولو ښه او مناسب د زکات او خیرات ځای د جهاد سنګرونه دي، بختور هغه کسان دي چې زکات او خیرات یې د صلیبیانو وژونکو مجاهدینو لاسونو ته رسېږي، بدبخت هغه کسان دي چې د دوی د زکات او خیرات په پیسو

خلك سينماګانو ته ځي او يا کورونو ته ويسي آرونه راوړي او د ځوانانو ناروا مېلې ګرموي.

زما پيغام متعلمينو او نوو ځوانانو ته دا دی چې دوی په رخصتيو کې جهاد او د ټرينګ مرکزونو ته لاړ شي او د وسلو زده کړه وکړي چې همدا کار متعلمينو او ځوانانو د روسانو د تيري په وخت کې هم کاوو، ځکه مسلمان بايد د وسلو په استعمال پوه وي او دلته هم په خپل کور يا د ګاونډي په کور کې تفنګچه، کلاشينکوف، لاسي بمونه او د داسې نورو وسلو زده کړه وکړي، دا وړې وړې وسلې خو هر کور کې شته، که نور نه شي کولای لنډي کوتل، دره او باړې ته دې لاړ شي، چکر هم دی او د وسلو زده کړه به هم وکړي، د جمعې په ورځ خو رخصت وي، تر باړې پورې چې ۵۰ روپۍ هم ځوك جيب کې ولري د مهاجرو له کمپونو او له خپل کور څخه هلته تللی او راتللی شي، دا چې ځينې اسلامي مرکزونه په زرګونو روپۍ د سوات او کالام په چکرونو مصرفوي، هغوی دې د خدای تعالی پدې فرمان عمل وکړي:

**و اعدوا لهم مااستطعتم من قوة و من رباط الخيل ترهبون به عدوالله و عدوکم** الانفال: ۲۰

او هم دې د رسول الله پدې احاديثو عمل وکړي چې فرمايي:

**تعلموا الرما فإن أباكم ابراهيم كان رامياً.**

**إرموا بني اسماعيل، فان أباكم كان رامياً.**

زما پيغام اسلامي مرکزونو ته دا دی چې ځوانانو ته بايد جهادي فکر او مفکوره ورکړي، بايد بې روحيي، خمود او جمود يې تربيه نکړي، دا چې د اټك، کُنډپارك، سوات او اسلام آباد ته په سلګونو ځوانان د درې شپو لپاره بوولی شي نو لنډي کوتل، باړې او درې ته يې هم د يوې ورځې لپاره

د وسلو زده کړې ته بوولی شي، د دغو مرکزونو مسئولین دې له خدایه ووېرېږي، د اسلام اصلي روح دې د ځوانانو په مغزو کې راپیدا کړي، ځوانان دې له امریکایانو څخه نه وېروي، له خدایه دې ووېروي، د ځوانانو استعدادونه دې بې ځایه نه مصرفوي او د هغوی احساسات دې نه مړه کوي.

زما پیغام ځان وژونکو او فدائي حملو کوونکو ځوانانو ته دا دی چې هغوی دې د امریکایانو په اقتصادي زېرمو او د امریکایانو په الوتکو او نظامي مرکزونو حملې وکړي، په داخلي افغانانو یا په پنځو شپږو امریکایانو دې حملې نه کوي او خپل قیمتي ځانونه دې نه قربانوي کله چې مطمئن شو چې پداسې حملې سره لږ تر لږه سل ۱۰۰ امریکایان له منځه وړلی شی، بیا دې حمله وکړي، باید هر مجاهد په سلګونو امریکایان ووژني او خپله هم پدې تکل کې وي چې باید بیا هم ژوندی پاتې شم او نور کافران هم ووژنم که بیا د دې عقیدې سره سره هم شهید کېږي د مور شیدې دې شي دا ځکه چې غازي له شهید نه اسلام ته ګټه او امریکایانو ته ضرر زیات رسوي، نو ځوانانو ته باید د غازي توب ملکه د شهید توب څخه ډېره ګرانه او خوښه وي او هدف یې یواځې شهادت نه بلکې غازیتوب او د خدای په ځمکه د خدای قانون او نظام حاکمول وي.

په پای کې قوماندان صاحب وویل: خبریاله وروره! که نور څه پوښتنې لرې مهرباني وکړه، د خپل وس په اندازه به ځوابونه درکړم. ما ورته وویل: قوماندان صاحب! کور دې آباد، د دنیا او آخرت ژوند دې رب العزت ښه کړه، زما له توقع څخه زیات څه راته تاسې بیان کړل، ان شاء الله تعالی چې زه به دا ټول په مطبوعاتو کې نشر ته وسپارم، که مطبوعاتو نشر ته ونه سپارل نو د شب نامو په څېر به یې نشر ته وسپارم.

ګرانو لوستونکو: ما د برمل په ولسوالی کې پنځلس ورځې تېرې کړې، له

کلیوالو، سپین ږیرو، ځوانانو او حتی له زړو ښځو څخه مې هم د دغوو ذکر شوو جنګونو او پېښو په اړه پوښتنې وکړې، یقین په خدای تعالی وکړی چې دغه څه چې دغه قوماندان صاحب راته ویلي وو هغه ټول حقیقت وو، بلکې د ځینو جنګونو قیصې چې قوماندان راته کړې وې چې مثلاً قوماندان ویلي وو چې د میزان په ۱۷ د امریکایانو دوه موټر د ارګون او نوې اډې تر مینځ مجاهدینو وسوزول، کلیوالو راته وویل چې قسم په خدای (ج) چې مونږ له نژدې څخه لیدل چې د میزان په ۱۷ د امریکایانو درې موټر د ارګون او نوې اډې تر مینځ مجاهدینو وسوزول همدا راز د ټولو جنګونو قیصې راته خلکو وکړې. بله دا چې د ډېرو جنګونو تلویزوني فلمونه مجاهدینو هم راته راکړل، له ما سره همدا اوس موجود دي، ځینې فلمونه مې د الجزیرې او العربیه چینلونو ته ورکړي، هغوی نشر کړي، تاسې به لیدلي وي او ځینې نور یې راسره دي، پدې ورځو کې به یې انټرنټ کې که امکانات وي نشر ته هم وسپارم او هم د دغو جنګونو فملونه کیسټو او سی ډی ته را اړوم، تاسې ګران لوستونکي به یې په نژدې ورځو کې دغه لیکل شوي حالات او جګړې په کېسټونو کې ووینی او بیا به مو یقین راشي چې هغه فلاني خبریال د (تازه خبر، خطرناك سفر) په رساله کې چې څه لیکلي وو هغه ټول حقیقت وو.

ګرانو لوستونکو، خدای شاهد نیسم چې څه راته قوماندان صاحب ویلي هغه ټول حقیقت درلود او فلمونه یې را سره دي.

والله علی ما نقول وکیل

والسلام علیکم ورحمة الله و برکاته

۱۱/ دلو/ ۱۳۸۲ش کابل – افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

# یو لسمه اعلامیه

د سنبلی د میاشتی مهمی پیښی:

- د چهار شنبی په شپه امریکایي جنایکارانو یو ځل بیا په یوه کلی د وحشیانه بمبارۍ په نتیجه کي خپله کرغیړنه توره څېره څرگنده کړه او گڼ شمیر بې گناه افغانان ئې پداسی حال کي په وینو کي لت پت کړل چي په خوب بیده وو، جانی امریکایانو د نوبهار په ولسوالۍ کي د کوچیانو له یوې کېږدۍ نه د ستلایټ ټلفون رابطه کشف کړی وه او هغه ئې د مخالفینو له خوا گڼلی وه او په همدی خاطر ئې د هغی سیمی په ټولو کېږدیو د بمبارد امر ورکړی وو، دوی ته دا مهمه نه وه چي پدې بمبارۍ کي به څومره بې گناه خلك، ښځی او ماشومان وژل کېږی، مهمه دا وه چي دا ټلفون کوونکی ووژلی شی، یا کلیوالو ته وښودلی شی چي مخالفینو ته د پناه ورکولو په صورت کي به امریکایان لدوی سره څنگه چلند کوی!! که څه هم افغاني امریکایانو وویل چي پدې بمبارۍ کي لس کسان وژل شوی خو له سیمی راغلی راپورونه وایي چي د مړو او ژوبلو شمیر له ۳۵ کسانو نه هم زیات دی. دوی د دهراود عام وژنی په هکله هم ویلی وو چي یوازې دیرش کسان وژل شوی، خو وروسته ټولي نړۍ ته څرگنده شوه چي ۱۱۷ کسان شهیدان او ۲۸ ژوبل شوی وو!! هلته ئې هم د ملا برادر د وژلو لپاره په اوو کلیو بمباری وکړه او دلته ئې هم د ملا محمد گل د وژلو په

هدف ټول کلي بمبارد کړ!! دا ځل به هم وګورئ چي د کابل د مزدور حکومت خرڅ شوی چارواکی د سابق په څېر د دې ستر جنایت د غندلو په ځای هغه په لسهاوو ماتو ګوډو دلائلو توجیه کوی!! او د امریکایانو په ځای به کلیوال ملامتوی چي ولې ئې مخالفینو ته پناه ورکړی وه!!

- فرانسوی ورځپاڼی لوموند د ۲۰۰۳۱۸۱۲۲ ګڼی په سرمقالی کي ولیکل چي د امریکایانو له لوری پیل شوی د تروریزم ضد جګړه نه یوازې څه بریا نه لرله بلکي معکوس نتائج ئې ورکړل، د دې په ځای چي القاعده ختمه کړی، عراق ئې د سخت دریځو ډلو په اډې بدل کړ!! دوی نه اسامه ونیولو او نه ئې په افغانستان کي جګړه پای ته ورسوله، د منځنی ختیځ وضعیت هم د افغانستان په څېر دی، امریکایانو ادعا کوله چي په عراق د برید په ترڅ کي به تروریزم ته سخت ګذار ورکړی شی خو عملاً ګورو چي داسی ونشول برعکس اسلامی بنسټپالان ئې په اعتدال خوښونکو برلاسی کړل، پال بریمر اعتراف وکړ چي بهرنی جنګیالی عراق ته ننوتلی او په امریکایي ځواکونو بریدونه کوی، دوی د یمن، سودان، سوریې او حتی سعودی د تابعیت اسناد لری! د امریکا مخکنی خارجه وزیری هم ویلی چي له جګړی وروسته عراق د القاعدی په څېر ځواکونو ته په اډې بدل شو.
- نوای وقت په ۲۰۰۳۱۹۱۲۲ ولیکل: د باخبره سرچینو د مؤثقو راپورونو له مخې په تیرو دریو میاشتو کي ۴۵ امریکایانو په افغانستان کي په ځان وژنی لاس پورې کړی، اکثر امریکایي عسکر له وضعیت نه سخت تنګ شوی، مسلسلو بریدونو او په جګړو کي د پرله پسی ماتو او ناکامیو په وجه مضطرب دی، له چارواکو مکرر غواړی چي له افغانستان نه ئې وباسی. د امریکا د دفاع وزیر رامز فیلډ د دوی د تسلی لپاره څلورم ځل د کابل دوره وکړه، او په خپل مطبوعاتی کنفرانس کي ئې وویل چي په

افغانستان کې د امنیت تأمین په خپله د افغانانو په غاړه دی. ډېر مبصرین د ده دا وینا له یوې خوا دغو پریشانه او مضطرب عسکرو ته د ډاډینې لپاره گڼي او له بلې خوا هغې ته له افغانستان نه د دوی د ایستلو د څرگندې اشارې په سترگه ورته گوري.

• ځینې ساده لوح یا گمارل شوي افغانان داسې گڼي چې امریکا د پیرزوینې او انساني انگیزو له مخې له افغانانو سره د مرستو وعدې کوي!! دوی دا خبره نکوي چې امریکا نه د خدای لپاره له افغانستان سره مرسته کوي او نه د کرزي په څېر د څو غرب پلوه افغاني امریکایانو لپاره، بلکه د خپلو استعماري پلانونو مطابق او د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره ئې کوي، د افغانستان اوسني چارواکي دې د امریکا د مخالفینو د سر دعا وکړي، دا مرستې د دوی په خاطر کېږي، د دوی د ځپلو لپاره مرسته کوي، مرستې ئې د دې لپاره دي چې افغانان د افغانانو په لاس ووژني، د دې لپاره چې د ملي اردو او پولیسو تر نامه لاندې ځینې ځان او ایمان خرڅوونکي واخلي، د خپلو گټو لپاره ئې وجنگوي، رباني دې د حکمتیار د سر دعا وکړي چې روسانو او امریکایانو د ده په خلاف استخدام کړ، اوسني واکداران دې د امریکا د مخالفینو د سر دعا وکړي، که دا مخالفین نه وی نو نه به دوی په قدرت کې وو او نه به د امریکا مرستې!

• ځینې له مړه یزید سره په دوامداري جگړې ټینگار کوي او هر کال د هغه د جنایت توره ورځ په تورو جامو لمانځي، خو له ژوندي فرعون سره ملگرتیا کوي، دیته هم ځینې کسان مذهبي تگلاره وایي!! په عراق او افغانستان کې شیعه ډلې له امریکایي یرغلگرو سره ملگرې شوې او دیته د تقیې نوم ورکوي، ځینې نور بیا له امریکایانو سره لاس یو کول، د کفري ځواکونو په څنگ کې او د دوی تر قومندې لاندې له مسلمانانو سره

جنگیدل نه یوازې جائز عمل ګڼی بلکه هغه د اسلام او مسلمانانو په ګټه ثابتوی او په همدی حالت کې ځانته مسلمان او مجاهد وایي!! پداسی حال کې چې په اسلامی هېواد د بهرنی تیری په صورت کې اسلامی شریعت په هر مسلمان دفاع کول فرض کړی، او د تیری په وړاندی رضاء، سکوت، کسالت، ناسته او عدم جهاد حرام ګڼی، د دښمن مقابله او له هېواد نه د هغه د ایستلو په لار کې جهاد د هر مسلمان فریضه ګڼی، او هر هغه څوک چې د دې فریضی په ادا کولو کې پاتی راشی، دین او وطن ته ئې خائن شمیری، مخصوصاً هغه چې د دښمن مرسته او ملګرتیا وکړې! په ټولو معتبرو کتابونو کې د منل شوو علماوو متفقه فتوی دا ده:

فإذا وقع اعتداء من حكومة أجنبية على أي وطن إسلامي بقصد احتلاله، أو احتلال جزء منه أو بأي سبب آخر، ففرض على مسلمي هذه البلد فرضاً عينياً أن يجاهدوا ويقاتلوا لدفع هذا العدوان، وعلى أهالي البلاد الإسلامية الأخرى مشاركتهم في دفع هذا العدوان، ولا يجوز مطلقاً الرضاء إلا بجلاء المعتدي عن جميع الأراضي. أوجبت الشريعة الإسلامية على كل مسلم أن يشارك إخوانه في دفع أي اعتداء يقع على وطنه، أو على أي وطن إسلامي آخر، لأن الأمة الإسلامية أمة واحدة. وكل من قصر في أداء هذا الواجب يعتبر خائناً لدينه ولوطنه وبالأولى كل من أيد عدو المسلمين في عدوانه بأي طريق من طرق التأييد يكون خائناً لدينه، فإن الاعتداء الذي يقع على أي بلد من البلاد الإسلامية

اعتداء في الواقع على جميع المسلمين، والخيانة للوطن من الجرائم البشعة التي لا تقرها الشريعة الإسلامية، وقد نهى القرآن عن اتخاذ أعداء المسلمين أولياء. قال الله تعالى:" يا أيها الذين آمنوا لا تتخذوا عدوي وعدوكم أولياء تلقون إليهم بالمودة وقد كفروا بما جاءكم من الحق يخرجون الرسول وإياكم أن تؤمنوا بالله ربكم إن كنتم خرجتم جهادا في سبيلي وابتغاء مرضاتي تسرون إليهم بالمودة وأنا أعلم بما أخفيتم وما أعلنتم ومن يفعله منكم فقد ضل سواء السبيل (١) إن يثقفوكم يكونوا لكم أعداء ويبسطوا إليكم أيديهم وألسنتهم بالسوء وودوا لو تكفرون" (الممتحنة).

- متأسفانه د ایران حکومت له عراق نه د امریکایي ځواکونو د وتلو خبره کوی خو له افغانستان څخه نه یوازې د دوی د وتلو خبره نکوی بلکه مسلسل وایي چي که ایران له امریکا سره مرسته نه وی کړې نو د تروریزم په ضد خپلې جګړې کي داسی ژر او په آسانی سره نشوی کامیابه کېدی، دا ځکه چي له یوې خوا د دې ځواکونو شته والی د ځان او د ایران تر حمایې لاندي شیعه ډلو او شمالی ټلوالی په ګټه ګڼی له بلي خوا ایرانی چارواکو په افغانستان د امریکایانو د برید تائید او ملا تړ کړی، د طالبانو په ضد د جنګ په دوران کي ایرانی افسرانو د امریکایي او بریتانیائی افسرانو سره اوږه په اوږه د شمالی ټلوالی لاربښودنه او مرسته کوله، دا د حیرانتیا خبره ده چي څو کاله د مخه ایران امریکا ته شیطان بزرګ ویل خو نن د افغان مسلمان ولس په ضد د دې شیطان بزرګ

ملگرتیا او ملا تړ کوی، خمینی به امریکا ته شیطان بزرگ ویل خو د ده لمسی عراق ته تښتی او هلته په مطبوعاتی کنفرانس کي وایي چي ایران ته باید آزادی او دیموکراسی راشی که څه هم د امریکایانو په لاس وی، هغه له امریکایانو نه غواړی چي له عراق نه وروسته ایران ته مخه کړی او هلته هم ورته آزادی او دیموکراسی راولی!!

• مونږ پدې ډېر خوښ شوی یو چي بلآخره د طالبانو مشر هم د ائتلافی ځواکونو په ضد د جهاد اعلان وکړ، که څه هم طالبانو ډېر وروسته د یرغلگرو ځواکونو خلاف د جهاد لپاره ملا وتړله، خو سره لدې دا یو په زړه پوری انکشاف دی، دوی لدې نه د مخه یوازې له حکومتی ځواکونو سره په جگړو تېنگار کولو او خپلو مجاهدینو ته ئې ویل چي په بهرنیو قواوو له برید نه ډډه کوی!! حال دا چي دا یوه لویه اشتباه وه، د اصلی دښمن په ځای له هغه چا سره ځان په جگړه کي مصروفول چي هیڅ حیثیت او اهمیت نلری او د اجیر جنگیالی په څېر استخدام شوی او د څو پیسو لپاره جنگېږی، یوه لویه غلطی ده. همدا راز طالبانو د چریکی جگړو په ځای د جبهه ئې جگړو لار غوره کړه چي دا هم یوه بله اشتباه وه، اوس نه د جبهه ئې جگړو وخت دی او نه دا څه ضروری او مفید کار دی او نه د داسی جگړو ضروری شرایط او امکانات برابر شوی، لدې نه د مخه پدې شلو میاشتو کي چي د دښمن په ضد د عملیاتو کوم اسلوب غوره شوی وو دا تر ټولو غوره او د موجوده شرائطو له غوښتنو سره سم اسلوب وو. طالبانو ته په کار وه چي په سیاسی او نظامی برخو کي ئې په هغه چا پسی اقتداء کړی وی چي د امریکایانو په ضد دا روان جهاد ئې پیل کړ.

• امریکایان بلآخره دیته اړ شول چي د خپلو ملگرو له چور تالان نه پرده اوچته کړی، او پدې اعتراف وکړی چي دوی په افغانستان باندي د غلو او خائنانو ډله مسلط کړی، د شیرپور د دولتی ځمکو د غصب بهیر او

پدې کې د مؤقتی اداری د وزیرانو، رئیسانو، قومندانانو، او لوړ رتبه چارواکو ککړتیا، دا ټولو ته بربنډه کړه چې امریکایانو کوم افغانان استخدام او په افغان ولس مسلط کړی!! دوی فهیم، قانونی، انور جکدلك، حضرت علی، تورن اسمعیل او د کابینی اکثر وزیران او لوړ پوړی چارواکی پدې تورن کوی چې د ملی شتمنیو او د بې وزلو خلکو د مال جایداد په غصب او تالان کې ککړ دی. د کابل په شیر پورکی د ګڼ شمیر بې وزلو افغانانو کورونه د دې لپاره په بیلدوزرو وران کړی شول چې دلته جګ پوړی چارواکی ځان ته لوړی لوړی بنګلی جوړی کړی، بصیر سالنګی وویل چې ۲۵۰ نور کورونه به هم ورانېږی. د ملګرو ملتونو ځانګړی اداری پدې کار کلکی نیوکی وکړی او په خپل راپور کې ئې وویل چې د کابل اداری جګپوړی چارواکی د فهیم، قانونی، انورجکدلك، بصیر سالنګی، شیرزی، حضرت علی په شمول د بې وزلو خلکو د ځمکو په غصبولو کې ښکېل دی. لدې نه معلومېږی چې امریکایي یرغلګرو د غلو یو ټولګی په افغانانو مسلط کړی، دوی شریف، ایمانداره، وطن پالونکی، او د ولس په درد دردمند کسان شړی، رټی، نیسی او وژنی، خو غله، وطن خرڅوونکی، داړه ماران، او لوټ ماران په خپل غېږ کې نیسی، پیسی او وسلی ورکوی او د افغان ولس په ضد ئې جنګوی!!

- د افغانستان د منځمهالې ادارې مشر حامد کرزی وروسته له دې چې په یو شمېر مرستیالانو ئې تور ولګېد چې په شیرپور او نورو سیمو کې ئې د بې وزلو خلکو ځمکې په زور غصب کړې او هلته ئې د ځانونو لپاره کورونه آباد کړي، اوس یې د خپلو مرستیالانو واکونه کم کړي دي. کرزي وویل چې یوازې یو مرستیال یې کریم خلیلي اوس د دې واک لري چې د ځمکو د خبرو سره چلن وکړي. ده همدا ډول خپلو مرستیالانو ته

خبرداری ورکړی دی چې د ده په نشتوالي کې دې ټاکنې نه کوي، مالیې دې نه معافوي او په قضایي چارو کې دې گوتې نه وهي!! ویل کېږی چې دا گوانښ په اصل کې جنرال فهیم ته متوجه دی او د ده په تصرفاتو د اعتراض لپاره شوی.

- د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د سرمنشي ځانگړې استازي اخضر ابراهیمي وایي، د استوگنې د حق په برخه کې د دغه سازمان د یوې پلټونکي، میلن کاتوری له هغه څرگندونو سره په اصولو کې موافق دی چې د کابل د شیر پور په سیمه کې په زور سره د خلکو د استوگنو د کورونو د نړولو او جگ پوړو چارواکو ته هلته د ځمکې د ویش په اړه کړی دي. خو له بشری حقوقو څخه د سرغړولو په اړه د ځیني جگ پوړو حکومتي چارواکو د نومولو او له کاره د هغوې د گوښه کولو د غوښتنې په اړه د ښاغلي کاتوری څرگندولو ته د پړی گوته هم ونیوله.
- افغانستان کې د بشري حقونو ځایي کمیسیون پر منځمهالي حکومت غږ کړی چې د عامو خلکو د کورونو او جایدادونو د په زور نیولو، د ښځو پر حقونو د تیریو او له بشري حقونو څخه د نورو سرغړونو د مخنیوي لپاره لاس په کار شي. د کمیسیون یوه غړي محمد نادر نادري دا څرگندونې یوه ورځ وروسته له هغه کړې چې ملگرو ملتونو د افغان حکومت د ځینو لوړ پوړو غړو نومونه یاد کړي چې د خلکو د مالونو او کورنو په نیولو کې لاس لري.
- بی بې سی خبر ورکړ چې د کابل د پولیسو مشر بصیر سالنگي له دندې گوښه شو. دا گام وروسته له هغه پورته شو چې نوموړي د څه باندې لس گونو له ختیو څخه جوړ کورونو د ورانولو امرور کړی وو. دا کورونه د بې وزلو خلکو وو او د ورانولو هدف دا وو چې د عصري کورونو د جوړولو لپاره لار هواره شي. داسې راپورونه دي چې د ورانولو د بهیر د

څارلو پر مهال ځيني د کور څښتنان د پوليسو له لوري ډبول شوي وو. ملګرو ملتونو او د بشري حقونو ډلو دا کار د بې وزلو خلکو له بشري حقونو څخه لويه سرغړونه بللي ده. په کابل کې ملګرو ملتونو پر افغان پولسو نيوکې کړې چې په وزير اکبر خان کې ئې د بې وزلو کورنيو په ايستلو کې له ډېر زوره کار اخيستی او کورونه يې په بولدوزرو نړولي دي. د ملګرو ملتونو يوه وياند وويل چې د دوی د کورونو نړولو بشري ستونزه رامنځ ته کړې ده. داسې ويل کېږی چې په راتلونکی کي به څه د پاسه دوه سوه نورې کورنۍ هم په زوره وايستل شی.

- د بصير سالنګی په ځای د جنرال بابه جان ټاکنی يو ځل بيا وښوده چي پرچميان امريکايانو ته همدومره په زړه پوری عناصر دی لکه روسانو ته. دا ټولګی د پرديو په غلامی کي هومره وړتياوی لری چې په بلي ډلی کي ئې نشی موندلی.
- د افغانستان کمونستانو د امريکايانو په خوښه، ډاډينی او وينا نوی ګوند اعلان کړ. د ګوند مشر نورالحق علومي مقرر شوی دی. له بي بي سي سره په مرکه کې علومي وويل چې ګوند د پخوانې وطن ګوند د وارثانو دی او د هېواد په سياست کې به پوره ونډه ولري. ښاغلي علومي ادعا وکړه چي ګوند د افغانستان د ټولو سيمو استازيتوب لري. د ربانی د حکومت په وخت کي هم د وطن کمونست ګوند د کارمل له مړينی نه وروسته په کابل کي د حزب د کانګری په نامه غونډه جوړه کړه او په هغی کي ئې محمود بريالی د حزب د منشی په حيث غوره کړ، هغه وخت د کابل ټول حساس سياسی او نظامی موقعيتونه د دوی په واك کي وو او ربانی او مسعود لدوی سره ائتلاف کړی وو. اوس هم په شمالی ټلوالی کي د دوی ائتلافی ملګرو د نوی حزب د اعلان په اړه نه کوم اعتراض وکړ او نه مخالفت. امريکايانو پدې خاطر د دې حزب د جوړلو پريکړه وکړه چي پدې

سره د کرزی مټ پیاوړی کړی، او د شمالی ټلوالی د هغی برخی په ضد ئې مضبوط کړی چې امریکایان ئې "نمك حرام" گڼی او جهادی سابقه لری!!

- د افغانستان دسترې محکمې عالي شورا د خلق دموکراتیک گوند یا وطن گوند د پخوانیو غړیو څخه جوړ شوی نوی گوند غندلی او وایي چې غړي یې باید ونیول شي. څو ورځې وړاندې د وطن گوند ځینو مخکینیو غړیو د نورالحق علومي په مشری اعلان وکړ چې د ملي متحد گوند په نامه نوی گوند جوړ شوي دي. د افغانستان د عدلیې وزیر دوه ورځې وړاندې ویلي وو چې کمونستي گوند د دې وړ نه دې چې په هېواد کې سیاسي فعالیت ته پرېښودل شي. د سترې محکمې مشر وایي هغه ډلې چې له اسلام سره دښمني کوي د سیاسي فعالیت حق نلري. دا پداسی حال کي چې د عدلیی وزیر د جنرال دوستم له لوری په مؤقت حکومت کي شامل کړی شوی، او جنرال دوستم او ډله ئې د پرچم ډلی غړیتوب لری!
- د رامز فیلډ د سفر په ورځ په کابل کي امریکا ضد تظاهرات وشوو، مظاهره چیانو د امریکا په ضد شعارونه ورکول، او ویل ئې چې دوی د دیموکراسی راوستو تر نامه لاندي زمونږ هېواد اشغال کړی، خپلې گټی لټوی، خپل فرهنگ په مونږ مسلط کوی، نه ئې امنیت راوستی شو، نه ئې د افغانانو مشکلات حل کړی شو، دوی دی زمونږ له هېواد نه ووځی، او افغانان دی پرېږدی چې خپلې ستونزی په خپله حل کړی.
- فرانسیس ویندرل ویلی چې **۱۹۳** غیر دولتی مؤسسو په افغانستان کي خپل کارونه پدې خاطر ودرولی چې د امنیت نشتوالی په وجه له یوه ځایه بل ته نشی تلی. هغه وایي چې ستونځه لدې نه راولاړه شوی چې د هېواد په سلو کي ۲۰ پښتانه په حکومت کي له نظره لویدلی او ټول قدرت د تاجك اقلیت په لاس کي ورکړی شوی، ده وویل چې د دفاع وزارت له دیرشو مهمو مناصبو نه **۲۵** د تاجکانو په واك کي دی.

• د اروپائی پارلمان د سیاسی او خارجی چارو رئیس یلمار بروك آلمان ته خبرداری ورکړ چي کندز ته د خپلو ځواکونو له لېږلو نه ډډه وکړي، ځکه د دې ولایت اکثر اوسېدونکی پښتانه دی، د اوسنی رژیم له مخالفینو سره خواخوږی لری، او دی ځواکونو ته به په هغه سیمی کي د کار اجازه ورنکړي.

• د یرغلگرو په ضد د مقاومت له زیاتیدو او پراخیدو سره سم له سرحد نه د مجاهدینو د تیریدو خبری زور اخیستی، د لاس پوڅی اداری چارواکی دا خبره پداسی حال کي زمزمه کوی چي پدې نه پوهېږی امریکایان ولې دا خبره کوی او مقصد ئې څه دی؟ دا خبره په اصل کي د دې لپاره عنوان کېږی چي پاکستان خپل ځواکونه د ډیورنډ خط په اوږدو کي ځای په ځای کړی، دا د امریکایانو له لوری پاکستان ته د ملگرتیا معاوضه گڼل کېږی، پاکستان د لومړی ځل لپاره دا چانس ترلاسه کړی شو چي د خط په اوږدو کي ځواکونه ځای په ځای کړی، او د قبایلو آزادی سیمی تر خپل واك لاندي راولی.

• د افغانستان د اساسي قانون د تدقیق دارالانشا دا وړاندیز کړی دی چي بایدد اساسي قانون د تصویب لویه جرگه وځنډولی شی او له ځلوېښت ورځني ځنډ څخه وروسته دی راوبللی شی! دوی ویلي چي جرگه باید د ډېسمبر پر لسمه نېټه جوړه شي. د افغانستان د اساسي قانون غونډه وځنډول شوه، حامد کرزي یو فرمان لاسلیک کړی چي په ترڅ کې به یې د اساسي قانون د تصویب په هکله د لویې جرگې رابلل دوه میاشتې وځنډېږي. کرزي له هغې وروسته دا فرمان صادر کړ چي د اساسي قانون د مسودې د جوړولو کمېسیون د لویې جرگې د رابللو لپاره د لازیات وخت غوښتنه وکړه. لویه جرگه به اوس د اکتوبر د میاشتې پر ځای په ډسمبر کې راوبلل شي. خبریالان وایي دا په ډاگه نه ده چي دغه ځنډونه به د راتلونکي

کال د جون د میاشتې د عمومي انتخاباتو په پلان اغیز وکړي او که نه. اصلی خبره دا ده چې امریکایان لا تراوسه پدې ندی توانیدلی چې د افغانستان شرائط د خپلې خوښې مطابق جوړ او په راتلونکو انتخاباتو کې د خپلې لاس پوڅی ډلی بریا تضمین کړی.

• بی بې سی او امریکا غږ دا خبر په ډېر شور او ځوږ خپور کړ چې یوه افغانۍ پیغله د منډو نړیوالې اتلولۍ کې شریکه شوه. دوی د فرانسې په پلازمېنې، پاریس کې د منډو په نړیواله اتلولۍ کې د دې افغانې پیغلی برخه اخیستل د دیموکراسی او انسانی حقوقو په لوری د افغاني ټولنی د چټك پرمختګ نښه وګڼله، او وئی ویل: پدې لوبی کې برخه والو په لومړي ځل د یوې افغان پېغلې د برخې اخیستو ډېره ستاینه کړې ده. نوموړې چې دوه ویشت کلنه ده، که څه هم دی په منډې کې کوم مقام ونه شو ګټلی خو دا هغه لوی کار دی چې لدې نه مخکی چا د هغه تصور هم نشو کولی!!

• د امریکا د جنګ وزیر دونالد رمسفیلد په کابل کې له حامد کرزي سره له خبرو وروسته په ۲۰۰۳۱۹۱۲ وویل چې افغانستان کې د امنیت ټینګول په خپله د افغانانو مسئولیت دی. دا خبره اوس تر ډېره حده ښکاره شوی چې امریکایان تر راتلونکی پسرلی له افغانستان څخه وځی، د رامز فیلډ دا وینا چې افغانان باید په خپله امنیت تأمین کړی، د همدی خبری څرګندونه کوی.

• د پاکستان د پلازمېنې نه ۲۵۰کیلومتره شمال ختیځ لورته دبنو په هوای ډګر توغندي توغول شوي دي. د پاکستان فوځي چارواکو هم د دې برید تائید کړی دی، خو ویلي یې دي چې دې برید هیڅ ځاني تاوان نه درلود. دا توغندي په داسې وخت کې ویشتل شوي دي چې په سیمه کې دخلکو په وینا د پاکستان فوځ د ګڼو هلیکاپټرو په ملاتړ د مخالفینو پر

ضد عملیات کړي دي، خو حکومت دا خبره نه مني او وايي د هغوي سرتیري بنو کې عادي فوځي تمرینونه کول چي اوس پای ته رسېدلي دي.

- د بشری حقوقو نړیوال کمیسیون په خپل راپور کي ویلی چي د کابل یو شمیر وزیرانو د خلکو ملکیتونه غصب کړی. فهیم، قانونی، بصیر سالنگی، انور جکدلك او یو شمیر نور چارواکی ئې پدې کار کي ښکېل وګڼل، دی کمیسیون اداری فساد د حکومت لویه او اساسی ستونزه ګڼلی ده.

- بی بې سی د افغانستان په شمال کې د ټولنیز ژوند یوه بیلګه داسی وړاندی کړه: دافغانستان په شمال کی دمنځمهالی اداری له رامنځ ته کیدو نه وروسته خلکو نسبی آزادی ترلاسه کړی چي لیری کلیوالو سیمو ته هم سندرغاړی بیايي او په ودونو کي سندری بولی . د دې هېواد د شمال په کلیوالو سیمو کی د تیرو څه د پاسه شلو کلونو په ترڅ کی خلکو په ودونو کی ساز آواز نه کاوو. اوس خلک وايي چي د منځمهالی اداری په راتګ سره دوی ته دا هیله پیدا شوی چي ودونه په سندرو او نغمو لمانځی. د بي بي سي له نظره دا د ترقی او آزادی په لوری د پرمختګ لویه نښه ده، دوی د دې پروا نلری چي بې وزلی او مظلوم افغانان چي تحمیلی جګړو هرڅه ورنه اخیستی څه ته اړ دی، ډوډۍ او جامو ته که بربنډو فیلمونو، نایټ کلپونو او ویډیو ګیمونو ته؟ دوا او درمل ته که سندرو او نڅا ته؟

- بوش د امریکی خلکو ته د وینا په مهال وویل: عراق اوس د تروریزم سره د مبارزي اصلی ډګر دی. هو په عراق د امریکا له تیری نه وروسته او د یرغلګرو په ضد د مجاهدو عراقیانو له تاریخی مقاومت نه وروسته عراق له تروریزم سره د مبارزی په ډګر بدل شوی، امریکا چي چیرته ځی هلته به د ترویزم په ضد د مبارزی ډګر جوړېږی، تروریستان امریکایان دی

چي په خپلواکو هېوادونو تیری کوی نه افغانان او عراقیان چي له خپل هېواد نه دفاع کوی.

- د افغانستان د بشر د حقونو او چاپېریال ساتنی په نوم سازمان ویلی چي د کندهار په ولایت کی د زندانیانو وضعه ډېره خرابه ده او له هغوی سره سم چلند نه کېږی . د دې سازمان مشر عبدالرحمن هوتک ویلی چي د کندهار په زندانونو کی نه یوازي دا چي خواړه نشته بلکه د بندیان د پوښتنو گروېږنو پر مهال له ځورونو سره هم مخامخ دی.
- د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د دغه هېواد له چارواکو څخه د ناقانونه نیونو او ځورونو د مخنیوي او د زندانونو د حالت د ژر ښه کولو غوښتنه کړې ده. کمیسیون تور لگوي چي یو شمېر حکومتي چارواکي د وگړو په ناقانونه نیونو او ځورونو کې لاس لري . په دې اړه یو شمېر داسې عکسونه د دغه کمیسیون له خوا په کابل کې خبریالانو ته وښودل شول چي د وگړو د بشري حقونو په ځپلو او ناقانونه نیونو کې د حکومتي چارواکو ښکېلتیا ښیي.
- حاجی حیات الله گوانتانامو ته ولېږدولی شو ، کرزی، فهیم او نور افغاني امریکایان پدې ونتوانیدل چي هغه له امریکایانو نه راخلاص یا ئې گوانتانامو ته له انتقال څخه مخنیوی وکړی، دی د شمالی ټلوالی ملگری او د طالبانو مخالف وو ، په لومړی سر کي امریکایانو ده ته په کنړ کي کافی امکانات ورکړل، خو وروسته ئې له مخالفینو سره د پټو اړیکو په تور ونیولو ، د ده په نیولو کي حضرت علی لاس درلود ، ننگرهار ته ئې د خبرو لپاره بللی وو او هملته ئې امریکایانو ته په لاس ورکړ!
- د کنړ د امنیتی اداری مخکنی مسئول نجم الدین د امریکایانو له غلچکی برید نه روغ رمټ ووتو ، دی حضرت علی خپلې خوا ته غوښتی وو ، امریکایانو ته ئې د ده په اړه معلومات ورکړی وو ، او د ده د نیولو

مرسته ئې ورسره کړی وه، خو د ده د اوسېدو ځای ته د امریکایانو او حضرت علی د د وسله والو له ورتلو د مخه دی له خپل کور نه وتلی وو!! حضرت علی لداسی ډېرو کسانو سره غدر کړی او امریکایانو ته ئې تسلیم کړی، قومندان خورشید هم د ده لخوا د دوستی په جامه کې نیولی شوی چې تر اوسه ئې برخه لیك ندی معلوم، ویل کېږی چې هغه ئې وژلی دی، د حاجی حیات الله په نیولو کې هم ده همداسی غدر وکړ، حاجی کشمیر خان ته ئې هم احوال لېږلی وو چې د یوې ډېری مهمی خبری لپاره غواړم عاجل درسره وگورم، غوښتل ئې لدې لاری د هغه د اوسېدو ځای معلوم کړی او امریکایانو ته خبر ورکړی، خو موفق نشو.

- تورن اسمعیل پدې ناراضه شوی چې د امارت لقب ورنه اخیستی شوی، او د قول اردو د قومندانی منصب ئې د شورای نظار بل غړی احمدی ته سپارل شوی، دی چې د تروریزم په ضد د امریکایي جنگ ملاتړ کوی او د امریکایانو تر قومندی لاندې د طالبانو په ضد وجنگیدو، او ښې ډېری پیسی ئې ترلاسه کړی، او د "خانه جهاد" په نامه جوړه شوی مانۍ ئې امریکایانو ته سپارلی، چې د عملیاتو د اداری مرکز ئې پکی پرانستی، د کرزی اجراءات د خپلې توقع خلاف گوری او شکایت کوی، امریکایان پدې خاطر د ده شکایتونو ته خاصه توجه نکوی چې له ایران سره د ده په خاصو اړیکو شك لری. ده وړاندیز وکړ چې د بهرنیو ځواکونو په ځای دی له افغاني فوځ نه د تروریزم په ضد جنگ کې کار واخیستلی شی ځکه دوی د تروریزم په ضد جگړی کې کافی تجربه لری!!
- ثریا د پرچم ډلی غړی او د نجیب د حکومت د بهرنیو چارو د وزیر خور ادعا وکړه چې د دې په دفتر نامعلومو کسانو د شپې لخوا برید کړی، او ټول اسناد ئې له ځان سره وړی.
- د کابل د لاس پوڅی اداری د کورنیو چارو وزارت وایي: د لویو لارو

د امنیت لپاره یې خپل گامونه چټک کړي دي . ټاکل شوې چې د لارو او ډگرونو د ساتنې مخکینۍ لوا به په نوي مسلکي پرسونل پیاوړې شي . د کورنیو چارو وزارت وایي دغه لوا به د سیمه اییزو چارواکو پر ځای شپه او ورځ د دغو لارو د ساتنې چاره په غاړه اخلي . دا په داسې حال کې چې اکثر افغانان او د خیریه مؤسسو کارکوونکی د لویو لارو له بې امنیتی څخه سر ټکوي .

• د ایران یوه مخور ډیپلومات په افغانستان کې د نشه یي توکو په اړه د ائتلافي ځواکونو پر تگلارې انتقاد کړی دی. د ایران د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال محسن امین زاده د نشه یي توکو او جرمونو د مخنیوي له پاره د ملگرو ملتونو د ادارې د مشر انتونیو ماریا کوستا سره په کابل کې د خبرو پر مهال دا خبرې کړي دي. نوموړي ویلي دي چې ایران په افغانستان کې دکوکنارو د کر د زیاتوالي له امله خواشینی دی او د نشه یي توکو د مخنیوي په کار کې یې د ملگرو ملتونو سره د خپل هېواد د مرستې ژمنه وکړه. د ملگرو ملتونو یو راپور وایي چې دوه کاله وړاندې له واکه د طالبانو په لېرې کېدو پسې د حکومت له بندیز سره سره په افغانستان کې د کوکنارو تولید ډېر شوی دی.

• د امریکا د سفارت یوه چارواکی وویل: له مسلسلو بریدونو سره سره د کابل کندهار په سړك كار روان دی، په دوشنبه په ناڅاپي برید کې څلور ساتونکی مړه، څلور ژوبل او څلور لادرکه شوی، دوه نور په بل برید کې ووژل شوو. دوه نور بریدونه په ارزگان او زابل کې ترسره شوو، او د مړو شمیر ئې ۱۱ ته اوچت کړ.

• افغان حکومت هغه راپورونه رد کړي چې په زابل ولایت کې یې له طالبانو سره خبرې اترې پیل کړي دي. د حامد کرزی د ویاند جاوید لودین له قوله ویل شوي چې داسې هیڅ خبرې اترې نه دي شوي. وړاندې د

امریکې په مشرۍ کې د شکمنو طالبانو پر ضد عملیاتو دوام درلود. یوه امریکایي فوځي ویاند وویل چې دا عملیات وړمه ورځ د زابل له هوایي برید سره پیل شوي دي.

## د سنبلې د میاشتې نظامی پیښې:

## پکتیکا، پکتیا، خوست او غزنی

- د دې سیمې زړه ورو او با ایمانه مجاهدینو د ټولو افغانانو شمله اوچته کړی، په دښمن ئې بده ورځ راوستې، یوه ورځ داسې نه تیرېږی چې د دوی له لوری دی یو په بل پسې په دښمن بریدونه ونشی. د روسانو په ضد جګړی کې چې د دې سیمې د مجاهدینو کومه ونډه وه، د امریکایي یرغلګرو په ضد روان مقاومت کې د دوی ونډه تر هغې هم زیاته ځلانده او له ویاړونو ډکه ده، د دوی ځینې عملیات دا دی:
- په ۸۲۱۲۱۸ په شکین کې د امریکایي یرغلګرو په ګزمې ناڅاپی برید وشو، دښمن په دریو ژوبلو اعتراف وکړ، چې دوه ئې بګرام ته له رسېدو وروسته مړه شول، رارسېدلې خبرونه وايي چې د دښمن د مړو او ژوبلو شمیر تر لسو زیات وو.
- په شنبه ۲۰۰۳۱۸۱۳۱ شکین ته نږدې په ناڅاپی برید کې دوه امریکایان ووژلی او دریم ژوبل شو ، ویاند پدې اعتراف وکړ
- بی بې سی وویل: افغانستان کې د متحده ایالتونو فوځ وایي د پاکستان پولې ته څېرمه ئې له شکمنو طالب جنګیالو سره په یوه نښته کې دوه سرتیري وژل شوي او یو تن بل بې ټپي شوی دی. د فوځ مرکزي قوماندانې وایي د پکتیا ولایت د شکین سیمې ته نږدې په جګړه کې څلور طالبان هم وژل شوي دي. ۱۳۸۲ لمریز کال د وږي (سنبلې)۹
- په سه شنبه ۸۲۱۲۱۱۱ په شکین کې د دښمن په اډې برید وشو چې پنځه امریکایان او دوه د دوی افغاني مزدوران ووژل شوو.

- په چهار شنبه ۸۲۱۲۱۱۲ په گردیز کي د امریکایانو په اډې پنځه توغندی پریوتل.
- په ۸۲۱۲۱۱۲ په شکین کي د امریکایانو په اډې د برید په ترخ کي دوه امریکایان او دوه د دوی افغاني مزدوران ووژل شوو.
- په ۸۲۱۲۱۱۳ په گردیز کي د امریکایانو په اډې دری توغندی پریوتل.
- په پنجشنبه ۸۲۱۲۱۱۳ په خوست کي د امریکایانو په اډې دری توغندی پریوتل.
- په یکشنبه ۸۲۱۲۱۲۲ د شپې په ۱۱ بجو د خوست په نوی میدان کي د امریکایانو په اډې دری توغندی پریوتل چي دښمن ورباندي اعتراف وکړ خو تلفات ئې ونښودل.
- په یکشنبه ۸۲۱۲۱۲۳ په شکین کي په اشغالگرو ځواکونو برید وشو.
- په ۸۲۱۲۱۱۲ په زیړوك او شکین کي د یرغلگرو امریکایانو په اډو اوه توغندی پریوتل.
- په ۸۲۱۲۱۱۲ په گردیز کي د امریکایانو د اډې په لوری پنځه توغندی وتوغولی شوو.
- په یکشنبه د جانی خیلو په ولسوالۍ برید وشو، ولسوالۍ د مجاهدینو په لاس کي پریوته، حکومتی ځواکونو ته زیاته مرگ ژوبله واوښته او له سیمی نه وتښتیدل. د پولیسو د مرکز ټول تأسیات وسوزول شو.
- د امریکایي یرغلگرو ویاند په ۲۰۰۳۱۸۱۸ اعتراف وکړ چي په شرق او جنوب شرق کي د بریدونو په نتیجه کي پرون پنځه افغانان وژل شوی او دوه امریکایان ژوبل شوی.

- په چهار شنبه ۲۰۰۳۱۸۱۲۷ د امریکا د خاصو ځواکونو گزمه په شکین کي د ناپیژاندو مجاهدینو تر ناڅاپی برید لاندي راغله، د امریکایانو په اعتراف نښته ځو گنټې روانه وه، له هوايي ځواکونو نه ئې مرسته وغوښته، او پدې سره جگړه پای ته ورسېده، روډنی ډیویس د امریکایي یرغلگرو ویاند د خپلو تلفاتو په هکله څه ونه ویل خو مجاهدین او د سیمی اوسېدونکی وایي چي دښمن ته کافی مرگ ژوبله اوښتی ده. د یرغلگرو ځواکونو ویاند روډنی ډیویس خبریالانو ته وویل چي پرون په شکین کي زمونږ په ځواکونو د لسو په شمیر کي وسله والو برید وکړ، نښته ځو گنټې روانه وه او د هوايي ځواکونو په رارسېدو سره پای ته ورسېده، مونږ ته تلفات ندی رسېدلی!
- په یکشنبه په غزنی کي د یوې هلیکوپټری د نسکوریدو په وجه د هلیکوپټری ټولي سورلی سخت ژوبل شوی.
- شکین ته نږدی په سورکمر کي د امریکایانو په گزمی د برید په ترځ کي پنځه کسه وژل شوی.
- په افغانستان کې د امریکایي فوځونو ویاند وویل: له پاکستاني پولې سره نږدې نښتو کې یې د مخالفینو څلور جنگیالي وژلي دي. په نښتی کي درې امریکایي فوځیان هم ټپیان شوي دي. په افغانستان کې د امریکایي فوځونو ویاند وایي چي دا نښتې د پکتیکا ولایت په شکین ولسوالۍ کې رامنځ ته شوې دي. دوی وایي چي ځواکونو یې په سیمه کې عملیات پیل کړي دي.
- په سه شنبه ۸۲۱۲۱۱۹ د مقر په ولسوالۍ کي ناپیژاندو وسله والو د سړك جوړولو د ډنمارکی مؤسسی په مامورینو برید وکړ، څلور مړه او یو سخت ټپی شو. د کابل- کندهار د لویی لاری د جوړلو کار یوې امریکایي مؤسسی ته سپارل شوی او ورته ویل شوی چي د میلادی کال

تر پایه به ئې جوړوی، تر څو امریکایان نړۍ والو ته وښیې چې دوی د جګړې ترڅنګ د بیاودانولو کار هم کوی. پاتې دی نه وی چې د دې سړك د ترمیم د پانګې لویه برخه سعودی او جاپان په غاړه اخیستې ده. څو ورځې د مخه هم پدې ولایت کې د یوې خیریه مؤسسې دوه نور کارکوونکی وژل شوی وو.

- د ډنمارک مرستندویه ادارې د غزني په ولایت کې دخپلو څلورو کارکوونکو د وژل کېدو نه وروسته پدې ولایت کې خپل کارونه ځنډولي دي. د ادارې مشر بي بي سي ته وویل چې دوی پدې غور کوي چې په هغو سیمو کې به د اوښو رسولو کار پوخ ودروي چې امنیت یې له ګډوډۍ سره مخامخ دي.
- د نوای وقت ورځپاڼې په ۲۰۰۳۱۹۱۱۵ ولیکل: د پکتیکا په سور کمر کي د امریکایانو په ګزمې د برید په ترڅ کي ۲ امریکایي کماندو ووژل شوو او ګڼ شمیر نور ژوبل شوو، ائتلافی ځواکونو په ځواب کي په سیمې بمونه وورول، دوه بمونه د پاکستان په خاوره راپرېوتل خو تلفات ئې نه درلودل. په همدې ورځ د جانی خیلو په ولسوالۍ ۱۵ وسله والو برید وکړ او د امنیتی ځواکونو مرکز ئې ونیولو.
- د دوشنبې په ورځ ۸۲۱۲۱۲۴ په شکین کي د یرغلګرو امریکایانو په اډې په رڼا ورځ توغندویی برید وشو، څلور توغندی په اډې پرېوتل، چې د زیاتو تلفاتو او مرګ ژوبلی باعث شوو، دښمن په برید اعتراف وکړ خو د تلفاتو شمیر ئې څرګند نکړ.
- په ۸۲۱۲۱۲۵ ګردیز ته څېرمه د ملګرو ملتونو په یوه کاروان برید وشو، پنځه خارجی ژورنالستان ټپیان او د کاروان ټول ګاډی کم زیات تخریب شول.
- په خوست او ارګون کي د یرغلګرو امریکایانو مراکز تر توغندوئی

بریدونو لاندي راغلل، دوه توغندی د خوست په اډې او څلور د ارگون په اډې پریوتل، دښمن په بریدونو اعتراف وکړ خو د مړو او ژوبلو شمیر ئې ونښود.

- په چهار شنبه ۸۲۱۲۱۱۹ په گردیز کي د امریکایانو په اډې پنځه توغندی پریوتل.
- په ۸۲۱۲۱۲۰ د جنرال خیال باز په کور ناپیژاندو وسله والو برید وکړ، یو راکټ د ده په کور ولگیدو.
- په پکتیا کي د ډم غره په سر د منگلو او طوطاخیلو ترمنځ د نښتو په نتیجه کي ۲۲ کسان مړه او تر څلویښتو زیات ژوبل شوی.
- د سنبلی په ۲۳ د خوست په نوی میدان کي د امریکایانو په اډې پنځه توغندی پریوتل، له برید نه وروسته هلیکوپترو په سیمی باندي گزمی پیل کړی خو برید کوونکی ئې ونشو موندلی.
- د سنبلی په شلمه په خوست کي د اشغالگرو ځواکونو په اډې پنځه توغندی پریوتل.
- د خوست په زاړه میدان کي د امریکایانو په اډې د سه شنبی په ۸۲۱۲۱۳۱ شپه توغندوئی برید وشو.
- په۲۰۰۳۱۹۱۲۱ د شاهی کوټ د نښتو په دوران کي ۱۵ ائتلافی ځواکونه وژل شوی او گڼ شمیر نور ژوبل شوی، امریکایي طیارو په مجاهدینو بمباری وکړی خو څه نتیجه ئې نده ترلاسه کړی.
- په ۸۲۱۲۱۳۰ د خوست یو امنیتی چارواکی مړ او بل ژوبل شو. دوی غوښتل هغه توغندی شنډ کړی چې د یرغلگرو ځواکونو په ضد ځای په ځای شوی وو خو د توغندی خوا ته تعبیه شوی ماین وچاودو او دا پیښه ئې رامنځته کړه.
- په ۸۲۱۲۱۱۴ په وازه خوا کي نښتی وشوی.

- په ۸۲۱۲۱۲۷ په خوست کې د ائتلافي ځواکونو په یوه ګاډي برید وشو، دوه افغاني امریکایان مړه او پنځه سخت ژوبل شوو.
- په ۸۲۱۲۱۲۷ د وزی په ولسوالۍ ناپېژاندو وسله والو برید وکړ، د پکتیکا امنیتي مشر ویلي چي د شکمنو طالبانو یوه ډله یې تر هغه وروسته د وازې خوا په یوه مدرسه کې راایساره کړې چي پر موټر سایکلو یې پر حکومتي عسکرو برید وکړ.
- په ۸۲۱۲۱۲۷ په غزني کې په یوه موټر کې د چاودنې په وجه څلور تنه مړه او پنځه ژوبل شوي.

## کندهار، زابل، هلمند او ارزګان

- په تازې رباط کې د ائتلافي ځواکونو په هغې ډلې برید وشو چي د لارې امنیت ورسپارلې شوی وو، اوه ئې مړه، درې ژوبل او دوه په اسارت بیولې شوي.
- په ارزګان کې د دیزك کوتل کې د ائتلافي ځواکونو په پوستې د برید په ترڅ کې درې افغاني امریکایان وژل شوي.
- په یکشنبه ۸۲۱۲۱۱۵ د زیړې دشتې په ولسوالۍ نامعلومو مجاهدینو برید وکړ.
- په یکشنبه ۸۲۱۲۱۱۵ د هیلمند د والي کور خوا ته چاودنه وشوه، د والي دوه ساتونکي ژوبل شوو.
- په دوشنبه ۸۲۱۲۱۱۷ په شاه ولي کوټ کې په افغاني امریکایانو د برید په ترڅ کې د دوی پنځه تنه مړه او ګڼ شمیر نور د دوو امریکایانو په شمول ژوبل شوو.
- په ۸۲۱۲۱۲۸ د زیړې دشتې ولسوالۍ د امنیې قومندان مړ او د ده دوه ساتونکي د یوه ناڅاپي برید په ترڅ کې ټپیان شوو.
- افغاني امریکایانو ادعا وکړه چي په ارزګان کې ئې د مخالفینو

بیرغونه لری او دولتی بیرغونه ئې په هغې سیمې کې بیا ودرول چې څو ورځې د مخه مخالفینو نیولی وه.

- افغان چارواکي وايي چې د دوشنبې په شپه یې په زابل ولایت کې ۱۳ مخالف جنګیالي وژلي دي.
- د افغانستان په مرکزي ولایت ارزګان کې د جمعې په ورځ د وسله والې نښتې وروسته چې طالبان په کې ښکیل بلل شوي، نویو ناندرو سر راپورته کړی دی، ځینې سیمه ایز مشران ادعا کوي چې یو شمېر محلي واکمن د خپلو سیاسي مخالفینو د ځپلو لپاره د طالب او القاعدې نومونه د هغوي پر ضد کاروي او په دې جګړې کې نه طالب او نه هم القاعده ښکیل وه، خو د ارزګان والي دا خبره نه مني او وايي په جګړه کې طالبان ښکیل وو ، چې څلور یې ورڅخه وژلي او دیارلس یې ژوندي نیولي دي.
- په ۸۲۱۲۱۲ په دای چوپان کې په افغاني امریکایانو د ناڅاپی برید په ترڅ کې د دوی پنځه تنه ووژل شوو. دوی وویل چې پدې سیمی کې له ۲۵۰ نه تر ۳۰۰ مسلح مخالفین راغونډ شوی او په ائتلافی ځواکونو بریدونه کوی.
- په ۸۲۱۲۱۱۲ په دهراود کې په افغاني امریکایانو د حملې په نتیجه کې دوه مړه او اوه ژوبل شوو.
- د چهار شنبه په شپه په ارزګان کې په امریکایانو د برید په ترڅ کې یو امریکایي ژوبل شو.
- په ۸۲۱۲۱۲۳ په معروف کې نښته وشوه، افغاني امریکایانو پدې نښتی کې کافی تلفات وګالل، دوی دعوی وکړه چې د طالبانو مجاهد قوماندان حافظ عبدالرحیم ئې پدې نښتی کې وژلی دی، خو طالبانو دا خبره تکذیب کړه.
- په ۸۲۱۲۱۱۲ د لشکرګاه د امنیی قوماندان محمد اکبر په ګاډی د

یوه توغندی په لگیدو سره د ده دوه ساتونکی ژوبل او گاډی تخریب شو.

- په شنبه د دای چوپان په لوری د ائتلافی ځواکونو لوی برید پیل شو، امریکایانو له خپل هوایی ځواك سره پدې عملیاتو کي برخه درلوده، افغاني امریکایان د دوی تر قومندی لاندي په لومړی خط کي جنگیدل، د انگریزانو په لاس روزل شوی ۲۰۰ اجیر ټوپکیان له افغانانو سره د جنگ لپاره زابل ته ولیږل شوو. امریکایي یرغلگر سیمی ته د خبریالانو له تلو مخنیوی کوی، ترڅو نړیوال نه د امریکایانو له جنایاتو نه خبر شی او نه د دوی له تلفاتو. امریکایي یرغلگرو ځواکونو د دای چوپان په لوری پداسی حال کي لوی برید پیل کړ چي څو سوه افغاني امریکایان ئې په مخکی روان کړی وو، په سیمی ئې پرله پسی بمونه ورول، هره ورځ ئې د گڼ شمیر مخالفینو د وژلو راپورونه ورکول، خبریالانو ته ئې اجازه نه ورکوله چي سیمی ته ننوځی او د وضعیت په هکله حقیقی راپورونه ورکړی او نړۍ لدې خبر کړی چي امریکایانو په سیمی کي څه کړی، څومره کورونه ئې وران او څومره بې گناه خلك ئې وژلی، ۱۲ ورځی وروسته په سه شنبه ۲۰۰۳۱۸۱۲۲ دوی د جگړی پای اعلان کړ او د ۱۲۴ مخالفینو د وژلو راپور ئې ورکړ، دا ټول د سیمی بې گناه اوسېدونکی وو چي د طالب په تور وژل شوی. خو دوی لا له سیمی نه وو وتلی چي نه یوازې په همدی سیمی کي پدوی مسلسل بریدونه وشوو بلکی په ارزگان او شاه ولی کوټ کي هم پدوی حملې وشوی، د سیمی یوه مجاهد قومندان عبدالجبار وویل چي له مجاهدینو نه یوازې څلور کسان په شهادت رسېدلی، پاتی وژل شوی کسان ټول د سیمی بې گناه خلك وو، د ائتلافی ځواکونو **۲۵** کسان وژل شوی. امریکایانو له ایف ۱۲، **A-۱۰, AV-۸B H** طیارو نه د سیمی د بمباری لپاره په پراخه پیمانه استفاده وکړه. په ۲۰۰۳۱۹۱۳ د ائتلافی ځواکونو چارواکو اعلان وکړ چي د دای چوپان عملیات پای ته

ورسېدل او سیمه له مخالفینو نه ونیولی شوه. خو "رالف مونیرو" د امریکایي یرغلگرو ویاند وویل چي "د غرنی افعی" عملیات پای ته ندی رسېدلی، دا عملیات یوازې د زابل لپاره نه وو ، نورو سیمو ته به هم غزول کېږی! دا عملیات د اگست په **۲۵** پیل شوی وو. بي بي سي وویل: د افغانستان د سوېل لوېدیځ ولایت، زابل څخه راپورونه د جگړو د دوام خبره کوي چي افغان حکومتي او امریکایي سرتیری او الوتکی د نهمې ورځې لپاره دبیا راپورته شوو مخالفینو پرضد په عملیاتو بوخت دي. د امرېکا فوځ وایي چي په تېرې اونۍ کې یې لږ تر لږه **۳۷** شکمن طالبان وژلي دي. افغان چارواکو ویلي دي چي پنځه افغان حکومتي او یو امریکایی سرتیري هم وژل شوي دی. د امریکا فوځ وایي لږترلږه **۳۳** مخالفین د افغانستان په جنوب ختیځ کې په داسې حال کې وژل شوي چي د زابل ولایت له غرنیو سیمو نه د هغو د شړلو جگړې لا روانې دي. یوه امریکایي ویاند وویل دا وگړي له دوشنبې نه تر چهارشنبې پورې په شویو نښتو کې وژل شوي خو تر هغې وروسته یې د نورو مړینو خبر تایید نکړ. هغه همداراز وویل چي یو امریکایي عسکر د جمعې په ورځ په هغه څه کې چي ده یو تصادف وباله، مړشوی دی. د طالبانو یوه ویاند وویل چي دوی په شنبه **۲۰۰۳۱۸۱۲۳** په دای چوپان کي په دولتی کاروان برید وکړ او دولس عسکر ئې ووژل او اولس کلشنکوف ئې غنیمت کړل.

- بی بې سی وویل: د افغانستان په زابل ولایت کې شکمنو طالب جنگیالو د حکومتي ځواکونو پر یوه گاډي برید کړی او لږ تر لږه پنځه تنه یې ترې وژلي دي. د ولایت یوه ویاند ویلي د دوی ځواکونه هغه مهال تر ناڅاپي برید لاندې راغلل چي د دایچوپان ولسوالۍ ته روان وو. نوموړي وویل چي د دواړو خواوو ډزو کې یې دوه برید کوونکي وژلي دي. همداراز ئې وویل: افغان سرتېرو **۱۵** مخالف جنگیالي وژلي، د

افغانستان په سهېل لويديځ کې سيمه ييز چارواکي وايي چي نژدې **۱۵** جنګيالي يې وژلي دي. د زابل د والي وياند وايي چي په سلګونو افغان سرتېرو او امريکايي ځواکونو په دغه عملياتو کې ګډون درلود. د راپورونو له مخې امريکايي الوتکو د مخالفينو پر سنګرونو بمباری کړي دي. دتېرې شنبې په ورځ د زابل په ولايت کې پنځه سرتېري د نامعلومه کسانو لخوا ووژل شول خو افغان چارواکي د طالبانو پر پاتې کسانو ددغه بريد شک لري.

- په ۸۲۱۲۱۱۸ په شاجوی کې د افغاني امريکايانو يو ګاډی د بريد په ترڅ کې تخريب او څلور سورلی ئې ټپيان شوو.
- په ۸۲۱۲۱۱۷ په شاولی کوټ کې د ائتلافی ځواکونو پنځه تنه مړه او د دوو امريکايانو په شمول اته تنه ژوبل شوو.
- امريکايانو وويل چي په پکتيا او زابل کې ئې د عملياتو په ترڅ کې تر سلو زيات مخالفين نيولی دی، وروسته معلومه شوه چي دا ټول د سيمی بې ګناه خلك وو چي امريکايانو په سيمی کې د ويری راولاړولو لپاره دوی نيولی وو.
- په پنجشنبه ۲۰۰۳۱۸۱۲۸ د دای چوپان په نښتو کې يو امريکايي ووژل شو، دی ټپی شوی وو خو بګرام ته له رسولو وروسته له خپلو ژورو ټپونو مړ شو.
- د دای چوپان د عملياتو په دوران کې په ۲۰۰۳۱۸۱۲۸د سپين بولدلك د شيرو اوبه، او بامبو په پوستو د مجاهدينو لخوا بريدونه وشوو چي په ترڅ کې ئې پنځلس افغاني امريکايان ووژل شوو.
- په ۲۰۰۳۱۷۱۲۲ په ارزګان کې يو امريکايي په يوه بريد کې ژوبل شو.
- په ۲۰۰۳۱۹۱۱ د زابل ولايت د تازی په سيمی کې د ائتلافی

ځواکونو په قطار د برید په نتیجه کي شپږ افغاني امریکایان مړه او ګڼ شمیر نور سخت ژوبل شوو.

- په شاه ولی کوټ کي په ۲۰۰۳۱۸۱۸ د یوه ناڅاپی برید په ترڅ کي پنځه افغاني امریکایان مړه او پنځه نور ژوبل شوو.
- په شنبه ۲۰۰۳۱۸۱۸ په لشکر ګاه کي د استخباراتو د مسئول په ګاډی د راکټی برید په نتیجه کي دی او ډریور ئې ژوبل شوو.
- په چهار شنبه ۲۰۰۳۱۹۱۱۰ د امریکایي یرغلګرو ویاند وویل: په دهراود کي زمونږ په اډې د وسله والو لخوا برید وشو.
- بی بې سی وویل: لږ تر لږه ۱۵ مخالف جنګیالی د خبرونو له مخې له افغان فوځ سره په نښتوکې دافغانستان په جنوب کې وژل شوي دي. یوه افغان قوماندان وویل دا جګړې د کندهار په معروف ولسوالۍ کې هله پېښې شوې چې دغې ډلې د فوځ پر مورچلو برید وکړ. ده وویل په وژل شویو کې د جنوب لپاره د طالبانو قوماندان ملا عبدالرحیم هم راځي چې مړي یې کندهار ته وړل شوی دی. خو د طالبانو د مخکني رژیم یوه وتلي کس د دغه قوماندان د وژل کېدو خبره رد کړه. په کابل کې د بي بي سي خبریال وایي له افغان ځواکونو سره امریکایي عسکر چي په سیمه کې بوخت دي، لوژستیکي مرستې کوي. د کندهار ولایت چارواکی وایي چي د دې ولایت د معروف په ولسوالۍ کې د دوی په ساتونکو د برید په ځواب کې ۱۴ تنه طالبان وژل شوی او نه تنه تېپیان شوي دي . د کندهار د ولایت ویاند خالد پښتون له بي بي سي سره د یوې مرکې په ترڅ کې ویلي چي د حافظ عبدالرحیم په نوم د طالبانو یو قوماندان هم وژل شوی .
- په چهار شنبه ۸۲۱۲۱۲۲ په شاه ولی کوټ کي د افغاني امریکایانو په ګزمی برید وشو ، نښته تېوله ورځ روانه وه.
- په چهار شنبه ۸۲۱۲۱۱۹ د خاص ارزګان ولسوال عبدالقدوس د

ناپیژاندو وسله والو په برید کي ووژل شو. په همدی ورځ په ارزگان کي د امریکایانو په اډې هم توغندوئی برید وشو.

- په ۲۰۰۳۱۹۱۱۰ په شاه ولی کوټ باندې د ائتلافي ځواکونو عملیات پیل شو.
- په ۸۲۱۶۱۲۹ په یوه ناڅاپی برید کي د زیړی دشتی د امنیی قومندان ووژل شو او د ده دوه ساتونکی ژوبل شوو.
- په چهار شنبه ۸۲۱۶۱۲۲ د نوبهار په ولسوالۍ کي د کوچیانو په څو کېږدیو د وحشیانه بمباری په نتیجه کي تر پنځه ویشتو زیات کسان مړه او ژوبل شوی، امریکایي چارواکی وایي چي دا بمباری ئې د طالبانو په قومندان محمد گل نیازی کړی. بی بې سی پدې هکله وویل: د طالبانو د یوه قوماندان په گډون لږ تر لږه لس تنه د چارواکو په وینا په هغو بمباریو کې وژل شوي چي امریکایي چورلکو پر زابل ولایت کړي دي. د زابل والي حفیظ الله هاشم وایي بمبارۍ هغه مهال رامنځ ته شوه چي گزمه چورلکو د کوچیانو په کېږدیو کې د طالبانو د شته والي څرک ولگاوو. یو شمېر خبرونه وایي چي اته ولسي وگړي چي ډېری یې ښځې او کوچنیان دي په دې بمبارۍ کې وژل شوي دي. د زابل ولایت په دې وروستیو کې له مخالفینو سره د حکومتي او نړیوالو ځواکونو د نښتو ډگر وو. خو په افغانستان کې د امریکا فوځي قوماندانان وایي ډاډه دي چي په زابل ولایت کې یې د پرونیو عملیاتو په ترځ کې یو بېگناه ولسي وگړی هم ندی وژلی. امریکائیان وایي دوی د طالبانو په یوه قوماندان او یوه جنگیالي پسې گرځېدل او دواړه یې ووژل. پرون د زابل والي ویلي وو چي اته کوچیان د یوه امریکایي هیلیکوپټر په بمبارۍ کې وژل شوي چي گواکې د طالبانو په قوماندان پسې گرځېدل. آزادو خبری سرچینو په نوبهار او شینکی کي د درنی بمبارۍ په ترځ کي د لسو مړو او اتلسو ژوبلو خبر

ورکړي، خو له سیمې راغلې خبرونه د مړو او ژوبلو شمیر تر دې زیات ښیي.

- په ۲۰۰۳۱۹۱۱۲ د کندهار په ښار کې دوو ناپیژاندو وسله والو په دوو امریکایي ګاډو د وړو وسلو برید وکړ، او له سیمې روغ رمټ ووتل، د مړو او ژوبلو په هکله څه ندي ویل شوي.

## کنړ، ننګرهار، لغمان

- په کنړ کې په بهرنیو ځواکونو د پرله پسې بریالي بریدونو په نتیجه کې یرغلګر ځواکونه دیته اړ شوي چې پدې ولایت کې خپل تحرکات، تګ راتګ او ګزمې محدود کړي، له یوه ځایه بل ته په هلیکوپټرو کې ولاړ شي، خو سره لدې په دښمن باندې د بریدونو لړۍ جاري ده.
- په ۸۲۱۲۱۴ په سرکانو کې د یوه برید په ترڅ کې د امریکایانو یو ګاډی تخریب شو، دوه مړه او دري ژوبل شوو.
- په چهار شنبه په بریکوټ کې د امریکایانو د خاصو ځواکونو په اډې برید وشو، دښمن په برید اعتراف وکړ او وئی ویل چې لسو وسله والو پدې اډې برید وکړ، ښښته څو ګنټې روانه وه خو تلفات ئې نه درلودل.
- په ۲۰۰۳۱۸۱۲۹ په جلال آباد کې د هند په کنسلګرۍ د لاسي بم برید وشو.
- په چهار شنبه ۸۲۱۲۱۲۲ په جلال آباد کې د امریکایانو د اډې په لوري شپږ توغندي وتوغولی شوو.
- په ۸۲۱۲۱۲۰ په چاغان کې د افغاني امریکایانو په مرکز د برید په ترڅ کې دوه کسه ژوبل شوو.

## کابل

- د یولسم سپتمبر د رارسېدو په مناسبت د بګرام په هوایي اډې دری توغندي وتوغولی شوو چې له امله ئې یرغلګرو ځواکونو ته ډېره مرګ

ژوبله اوښتی ده، خو دوی فقط په برید اعتراف وکړ او خپل تلفات ئې ونښودل.

- په پنجشنبه ٨٢١٢١٢١ په کابل کي د سوله ساتو ځواکونو په دوو مرکزونو توعندوئی بریدونه وشول.
- په کابل کي مستقر کاناډائی ځواکونو ته وویل شو چي د دوی په ضد دوه لويې چاودنې پلان شوی چي د مخنیوی لپاره ئې باید جدی امنیتی تدابیر ونیولی شی، د همدی لپاره دا ځواکونه څو ورځی د تیار سی په حالت کي وو.
- د چهار شنبی په شپه ٢٠٠٣١٩١٣ دری توغندی د بگرام په هوايي اډې چي د امریکایانو مرکزی اډه ده يو په بل پسی پریوتل او زیات تلفات ئې واړول. عینی شاهدان وايي چي د اډې په منځ کي د لويو چاودنو غږونه واوریدی شو.
- په ٨٢١٢١٢١ د برغلگرو ځواکونو وياند وويل چي د بگرام د اډې په يوې پوستی برید وشو، ده د تلفاتو په اړه له څه ویلو ډډه وکړه.
- د سنبلی په ٢١ او د ١١ سپتمبر د ورځی په مناسبت په کابل کي د ایساف د ځواکونو په دوو مرکزونو دوه توغندی وتوغولی شوو. دواړه توغندی د جرمنی او کاناډائی ځواکونو په اډو پریوتل. د ایساف د ځواکونو قومندان جنرال گوتس گلیمیروث وویل چي زمونږ په دوو مرکزونو وروستی برید به زمونږ اراده تضعیف نکړی. په کابل کي نړیوال سوله ساتی ځواک، ایساف، وايي د پنج شنبې په ورځ د دوی په مرکزونو راکټي بریدونه به دوی له خپل ماموریت څخه په شا نه کړي. د ایساف ویاند وویل افغان چارواکو سره به خپلې مرستې ته دوام ورکوي چي په کابل او شا او خوا کي خوندي فضا رامنځ ته شي.
- د جمعی په ورځ ٨٢١٢١٢١ د بگرام په امریکایي اډې ناپيژاندو

وسله والو برید وکړ. د دې اډې ویاند پدې برید اعتراف وکړ خو تلفات ئې ونښودل. فرانس پرس خبر ورکړ چې له ١١ سپتمبر نه وروسته بریدونه زیات شوی او لړۍ ئې تر بګرام پوری غزیدلی. د سنبلی په څوارلسمه هم پدې اډې دری توغندی پریوتل.

• د کابل پولیسو د ایساف د ځواکونو په مرسته د سنبلی په ٢٣ د محصلینو د مظاهری مخنیوی وکړ، د طب د پوهنځی محصلینو د چارواکو له کړو وړو نه شکایت درلود، خو مؤقته اداره او بهرنی حامیان ئې د ځوانانو له هر خوځښت نه ویره لری. دا خبره د یادولو ده چې تر اوسه لا د هغو دیرشو محصلیو برخه لیك ندی معلوم شوی چې د کابل امنیتی چارواکو د امریکایانو په وینا نیولی وو.

• په کاپیسا کې د څلورو دولتی قومندانانو تر منځ خونړۍ نښتی چې په لسهاوو مړی او ټپیان لری د څلورو ورځو پوری په شدت روانه وه، په دی نښتو کې تر دیرشو نه زیات کسان مړه او ژوبل شوی، د اسدالله او ناظم ترمنځ دا نښته په کوه بند کې شوی.

## هرات

• د هرات په ښار کې د تورن اسمعیل مسلح پلویانو د پولیسو په هغې حوزی برید وکړ چې د کورنیو چارو د وزارت له خوا حمایه کېدله، جلالی دا برید وغندلو خو تورن اسمعیل دا کسان په پردیو پوری تړلی وګڼل!! دراپوروونو له مخې جګړه د یادې شوې پوستې د قوماندان د بې وسلې کېدو پر مهال رامنځ ته شوې. په دې پېښې کې زیاته مرګ ژوبله نه ده رامنځ ته شوې یوازې یو کس ژوبل شوی، دا نښته د تورن اسمعیل او د هرات د ښار د پنځمی امنیتی حوزی قومندان خواجه عیسی ترمنځ شوی ده. د افغانستان دکورنیو چارو وزیر علی احمد جلالی د هرات په ولایت کې د پولیسو د یوې حوزې او د اسمعیل خان د پلویانو ترمنځ شوې نښته

سخته غندلې او داسې نښتې یې د افغانستان امنیت ته ګواښ بللې دي.
د مسلمانو مجاهدینو سرې فوځ
افغانستان
۱۳۸۲۱۷۱۱

بسم الله الرحمن الرحیم

# دولسمه اعلامیه

د میزان د میاشتی مهمی سیاسی او نظامی پیښی په لاندې ډول وی:

- پدې میاشت کې په افغانستان د امریکایي یرغلگرو د وحشیانه برید کلیزی یو ځل بیا د نړۍ والو پام د برید ابعادو او پایلو ته واړاوو. دوه کاله وړاندې د اکتوبر په اوومه، امریکایي یرغلگرو په افغانستان برید وکړ، پدې ورځ وحشی امریکایانو له خپلو مځکی تلو وژونکو وسلو، آخرین ماډل جنگی طیارو، تر ټولو زیاتو درنو بمونو، د لیزر په وړانگو کنترول شوو راکټونو او بمونو نه د یوه مظلوم، جنگ ځپلی، تش لاسی او بې دفاع ولس د ځپلو او وژلو لپاره پدې خاطر کار واخیست او په زرگونو بې وزلی افغانان ئې په خپلو وینو کې لت پت او د خپلو ویجاړو او وران شوو کورونو تر چتونو لاندې کړل چې د نیویارك د پیښې غچ واخلې او خپل بایللی حیثیت په ځای کړی، د دوی لپاره دا ورځ د شرم، ننگ او پیغور ورځ ده، نه د دوی پیلوټان د دې ورځی په کومی کارنامی افتخار کولی شی، او نه د دوی پلی فوځونه او کماندو خپلو ښځو او ماشومانو ته د دې ورځی کومه داسې قصه کولی شی چې له ننگ او پیغور نه ډکه نه وی، د همدی لپاره دوی دا ورځ ونه لمانځله.
- د افغانستان ټولو گاونډیو د ایران او پاکستان په شمول پدې برید

کي د دوی مرسته وکړه، روسانو هم لدوی سره ملګرتیا وکړه او شمالی ټلوالی ته ئې وویل چي د امریکایانو د ځمکنیو فوځونو رول ترسره کړی، د طالبانو حکومت ئې نسکور کړ او په ځای ئې د کابل اوسنۍ لاس پوڅی اداره نصب کړه، دی بریا د امریکایانو غرور هغه ځای ته ورساوو چي په نورو اسلامی هېوادونو مخصوصاً عراق کي هم دا تجربه تکرار کړی، دوی ګمان کولو چي افغانان جګړو هومره ځپلی چي د بیا پاڅون شیمه پکی پاتی نده، په ګاونډیو کي هم داسې څوك نشته چي د امریکا په ضد د دوی مرسته وکړی، خو ډېر ژر د دوی دا اټکلونه ناسم وختل، مقاومت پیل شو، په مدار مدار ئې لمن خوره شوه، هره ورځ د دوی په اډو او ګزمو د بریدونو خبرونه خپریدل، امریکایان پدې نه توانیدل چي برید کوونکی وپیژنی او یا ئې د مخ په زیاتیدو بریدونو مخنیوی وکړی، دا دی له هغی ورځی نه دوه کاله تیر شوی، خو امریکایانو نه جګړه پای ته ورسولی شوه، نه ئې افغاني اردو جوړ کړی شو، د امنیت په تأمینولو موفق نشول، دوه کاله وروسته هم د کرزی د شخصی امنیت ساتلو پیتی د امریکایي کماندوګانو له اوږو سپك نشو، د غلام چارواکو ترمنځ داخلی جګړی پای ته ونه رسېدی، د تجاوز د دوهم کلین په ورځ ترټولو ستره ښنته وشوه. په شمال کي درنی داخلی ښنتی، د امریکایانو د دوو ملګرو او د کابل د امریکایي اداری د د دوو قول اردوګانو تر منځ، او هغه هم د افغانستان د اشغال د دوهمی کلیزی په ورځ، چي تر اویا نه زیات کسان پکی ووژل شوو، هغه پیښه وه چي د امریکایانو لپاره د شرم او پیغور باعث او د دوی د سختی ناکامی څرګنده بیلګه وه. په ۷ اکتوبر د امریکایي یرغلګرو د وحشیانه یرغل دوه کاله پوره شول، خو راشئ وګورو چي پدې اوږدې مودې کي دوی د افغانانو د وژلو او ځورولو او د طالبانو د حکومت له نسکورولو نه پرته څه ترلاسه کړی! نه ئې امنیت راوستی شو، نه ئې د وینو

توئیدو مخه ونیولی شوه، نه ئې د مخدره موادو د کر او تجارت مخنیوی وکړی شو، نه ئې مضبوطه اداره جوړه کړی شوه، له یوې خوا امریکایي فوځیان د طالب او القاعده تر نامه لاندې بې وزلی او بې گناه افغانان وژني، له بلې خوا د دوی ملگری افغاني امریکایان د خپل منځی جگړو په ترځ کې د افغانانو وینی تویوی او د دوی په سر، مال او عزت تیری کوی. امریکایان خپل هر مخالف ته د طالب او القاعده نوم ورکوی، روسانو به هم هر مخالف مرتجع او د امپریالیزم پلوی گڼلو، او د هغه د وژلو حق به ئې ځانته ورکاوو، بش د بریژنف په پل گام ږدی، د هغه سیاستونه، کړه وړه او وینا تکراروی، په افغانستان کې اوس نه د طالب حکومت شته او نه د القاعدی اډه او مرکز، د امریکایي ځواکونو په بې رحمانه بریدونو کې نه د طالب مری او نه د القاعدی غړی، برعکس بې وزلی او مظلوم افغانان مری، امریکایانو مونږ ته له مرگ، وینی، ورانی، اخلاقی فساد، بې امنیتی، د خلکو په سر، مال او عزت له تیری نه پرته بل څه ندی راوړی، غله، خائنان، جگړه ماران، او جاسوسان ئې په مونږ مسلط کړی، د جگړی د دوام باعث شوو.

- د امریکایانو په اعتراف په عراق کې هره ورځ پدوی تر ۲۰ نه زیات او په افغانستان کې حد اوسط شپږ بریدونه تر سره کېږی، وجه ئې دا ده چې دلته د امریکایانو شمیر کم دی او تحرکات ئې محدود دی، که د دوی شمیر زیات او په ښارونو او لارو کوڅو کې د دوی گرځیدل زیات شی نو افغانان به هم له خپلو عراقي مجاهدو ورونو نه په هیڅ صورت کې شا ته پاتی نشی. مونږ ټولو بهرنیو ځواکونو ته وایو: څوك چې تاسو له کابل نه بهر په نورو ولایاتو کې د فوځونو ځای په ځای کولو ته هڅوی په اصل کې تاسو په جگړو کې ښکېل کېدو ته رابلی، دوی غواړي په نورو سیمو د تسلط لپاره ستاسو عسکر د قربانۍ لپاره وړاندې کړی. تاسو نباید د

امریکایانو د استعماری موخو لپاه خپل عسکر د مرگ کومی ته ولېږي.

• بش وايي چي امريکايي ځواکونه افغانستان او عراق ته آزادي، ديموکراسي او ترقی راولی!! مونږ نړی والو او د امريکا ولس ته وايو: د بش دا خبره تر هغی هم زياته د خندا وړ، مسخره او دروغجنه ده چي ده په عراق د حملې د موخی په اړه کړی وه او د عراق اتمی، کيمياوی او گڼ وژونکی وسلی ئې نړی او امريکا ته داسې خطر گڼلو چي د مخنيوی لپاره ئې بايد په عراق بريد شوی وی، خو ټولي نړی ته معلومه شوه چي ده او بلير جگړی ته د ولس د تيارولو لپاره دا دروغ جوړ کړی وو، افغانان او عراقيان په يوه غږ وايي چي مونږ د بش او بلير دا د توپ او ټانك تر ميل لاندي ديموکراسی نه غواړو، دوی مونږ ته نه آزادی او ديموکراسی راوړی او نه ترقی او خوشحالی، برعکس زمونږ هېواد ئې اشغال کړی، زمونږ آزادی او خپلواکی ئې سلب کړی، په مونږ ئې ملی خائنان او غداران مسلط کړی، زمونږ ځامن وژنی، زمونږ کورونه ورانوی، د جگړو اور ئې زمونږ په هېواد کي بل کړی، د دوی د واکمنی تر سيوری لاندي نه د چا سر خوندی دی، نه مال، او نه عزت او ناموس، زمونږ د هېواد وضعيت تر هغه ډېر ډېر بد دی چي روسانو اشغال کړی وو، د امريکايي عسکرو چلند تر روسی عسکرو په څو څو ځله بد او وحشيانه دی، دوی بد معاشان او کاوبايان دی، نه اخلاق لری، نه رحم او عاطفه، لدې هم ډاډه کړی شوی چي د جنگی جناياتو په وجه به ئې څوك نه محاکمه کوی، دوی هغه قتلونه کړی چي روسانو نه وو کړی. مونږ له اشغالگرو نه کرکه لرو، په خپل هېواد د پرديو سلطه نه منو، آزادی غواړو، د خپلې خوښې نظام او حکومت غواړو، مونږ د برچي په زور تپل شوی ديموکراسی نه غواړو، پداسې ديموکراسی لعنت وايو، مونږ د امريکايانو په لاس مسلط شوی حکومت او غلام چارواکی نه منو، امريکايان د اخلاقی ضوابطو تر پښو لاندې

کول، د ولس په مقدساتو تیری، د خلکو د دیني او اجتماعي دود دستور سپکاوی ته د دیموکراسی او آزادی نوم ورکوی، زمونږ بې عقله ځوانان په رقص، نڅا، سندرو، اخلاق ضد فیلمونو، شراب او قمار مصروفوی، د دوی په راتلو سره په افغانستان کي د مخدره موادو د استعمال لړۍ پیل شوه، د امریکایانو له ځان سره د ایډز بیماری راوړه.

• مونږ نړۍ والو ته وایو: امریکایان د افغانستان او عراق په دلدل کي نښتی، له ورځ په ورځ زیاتیدونکی مقاومت سره مخامخ دی، په اډو، قطارونو او گزمو ئې بریدونه کېږی، نړۍ وال ورنه د فوری وتلو غوښنه کوی، د بش له جنگ غوښتونکو سیاستونو سره د امریکا د ولس مخالفت په زیاتیدو دی، نن اکثر امریکایان د دې جگړی خاتمه او د امریکایي عسکرو وتل غواړي. له هغو ملکونو څخه چي مخکی ئې پدې یرغلونو کي د امریکا ملاتړ کولو ځینی په شا شوی او نور هم د په شا کېدو په حالت کي دی. ایران په افغانستان د امریکا د یرغل مرسته او ملا تړ وکړ، رفسنجانی وویل چي ایران له امریکا سره دا وړ ملگرتیا ته په هر ځای کي تیار دی!! دوی د عراق شیعه ډلو ته هم وویل چي له امریکا سره ملگری شی، آیت الله حکیم ئې دیته اړ کړ چي بغداد ته لاړ شی، چي هغه په بغداد کي ترور شو، اوس رفسنجانی وایي چي امریکایان د افغانستان او عراق په دلدل کي نښتی دی او افغانانو او عراقیانو دوی ته هیریدونکی درس ورکړ!!

• د کابل په امریکایي اداری کي د شاملو ډلو ترمنځ خپلمنځی اختلافات خپلي لوړی پوړی ته ورسېدل، د امریکایانو هغو هڅو ځینی ویرولی چي غواړي د کرزی ډله په اوضاع مسلط کړی او په هغو سیمو د ده منگولی ټینگی کړی چي اوس د شمالی ټلوالی د روس او ایران پلوه ډلو په واك کي دی. امریکا او امریکا پلوه ډلې دوی ته ټوپك سالاران

وايي، د شير پور رسوايي او پدې هکله د غربي کړيو پراخ تبليغات او بيا د کرزی له لوری د خپلو معاونينو صلاحيتونه محدودول او هغه هم د شيرپور د دوسيي په وجه، دا اختلافات نوی پړاو ته ورسول، د کرزی په اصطلاح ټوپك سالاران مجبور شول چې په کابل کي راغونډ شي او په ګډه څه چاره ولټوی، دوی خپل ټول مخکني شديد اختلافات مؤقتاً هير کړل، "مرتد" او "موحد" ئې، "مليشه" او "مجاهد" ئې سره يو ځای شول، د ګډې جبهې په جوړولو باندې ئې خبری وکړې، سبا ته يوه په خپلې مرکې کي وويل چي په راتلونکو انتخاباتو کي زمونږ کانديد رباني دی، د دې ډلې اخبار وليکل چي په ائتلاف کي شامل ډلې له کرزی نه د ده د وروستيو اجراءاتو په وجه خفه دی، نو ځکه په راتلونکو انتخاباتو کي د ده ملاتړ نه کوی او بيل کانديد ئې غوره کړی، ګيلانی او دوستم د دې اعلان مخالفت وکړ او وئی ويل چي مونږ رباني د کانديد په حيث ندی غوره کړی او د کرزی د حکومت ملاتړ کوو!! د کرزي عکس العمل دا وو چي وئی ويل: زه په راتلونکو انتخاباتو کي د جمهوری رياست لپاره کانديد يم، بيله سياسی ډله جوړوم، نور په ائتلافی حکومت زما باور ختم شوی، ائتلافی حکومتونه ناکام دی. له ائتلافی حکومت نه د بيزاری په اعلانولو سره ده غوښتل دا وښيي چي د مؤقت حکومت د ناکامی اصلی وجه دا وه چي دا يو ائتلافی حکومت وو، او په ائتلاف کي شاملو ډلو له ده سره صادقانه مرسته او ملګرتيا نده کړی. فهيم چي د جمعيت د نورو ټولګيو په نسبت موجوده وضعه د ځان په ګټه ګڼی وويل: مونږ د کابل په غونډی کي د چا د کانديدولو خبره نده کړی، د موجوده حکومت ملاتړ ته دوام ورکوو، د چکړی وينا د ده شخصی نظر وو. امريکايانو فيصله وکړه چي د ملګرو ملتونو تر پوشش لاندې يو پنځلس کسيز هيئت افغانستان ته ولېږی او دغو ډلو ته ووايي چي خپل حد وپيژنی، د بن په معاهدی ټينګ پاتی

شی، د مؤقت حکومت له مخالفت نه ډډه وکړی که نه نو خیر به مو نه وی!!
معلوم شی د دې اخطار او گواښ اثرات به څه وی!!

• د بې وسلی کولو لړۍ له کندز نه پیل شوه، خلك تپوس کوی چې له کندز نه د دې کار د پیل کولو وجه څه ده، ولې له کابل نه پیل نشوه، او یا د ننگرها، کندهار، هرات او کوم بل ستر او مهم ولایت نه پیل نشوه، خبره دا ده چې د کندز په اړه دوه خبری داسې دی چې ائتلافی ځواکونه ئې په پام کې لری، یوه دا چې دا د حزب اسلامی لویه اډه وه او په زرگونو مجاهدین او پلویان ئې پکی درلودل، بله دا چې دی ولایت په یوائی سر د ټولي ټلوالی د گډو بریدونو په وړاندې تر پایه مقاومت کړی وو، د طالبانو د اقتدار په وخت کې هم د دې ولایت باایمانه ولس او مجاهدینو د ائتلافی ځواکونو په وړاندې سخت مقاومت وکړ، د دې لپاره باید تر ټولو د مخه خلع سلاح شی او وسله فهیم ته وسپارلی شی. د خندا وړ خبره خو دا ده چې د غونډو شوو وسلو د سلاح کوټ کلی فهیم ته سپارل کېږی، هغه فهیم ته چې څو کاله ئې د دې ولایت له ولس سره جگړې کړی، او د سلهاوو خلکو د مرگ ژوبلی مسئولیت په غاړه لری!!

• د کابل د امریکایي حکومت سفیر په واشنگتن کې له یوې افغاني پیغلی ویدا صمدزۍ نه وغوښتل چې د حسن نړۍ والی مسابقی کې د افغاني پیغلو په استائیتوب برخه واخلی. صمدزۍ چې په امریکایي پښتو ئې خبری کولی، پدې مسابقی کې برخه واخیسته، بربنډ عکسونه ئې د نړۍ په ډېرو تلویزیونونو او اخبارونو کې خپاره شول، امریکایانو دا بربنډ عکسونه افغانستان ته د دیموکراسی او ترقی راتلو بله نښه وگڼله، افغاني امریکایانو خبلو بادارانو ته وښوده چې په ټوله معنی او په هر څه کې د دوی تقلید ته چمتو دی، دین، اخلاق، ملی کلتور او د هرڅه قربانی کولو ته تیار دی. امریکایان مونږ ته همدا آزادی او دیموکراسی غواړې، د

دوی راډیوگانی، بي بي سي، امریکا غږ او رادیو آزادی هره ورځ په پراخه پیمانه او په ډېر ترکیز او تأکید سره د همداسې سندرغاړو، هنرمندانو او شاعرانو مرکی خپروی چي د اخلاقی فساد لوری ته بلنه ورکوی، شعر او هنر ئې د فجور او فساد خورولو په خدمت کي دی، شراب، ساقی، می او میخانه، د معشوقی سرې شونډی، توری سترګی، توری زلفی او سپین مړوند ستایی، نه هغه چي خپلواکی ستایی او د آزاد او سرلوړی ژوند ترلاسه کولو لپاره قربانی ته بلنه ورکوی، د توری، میړانی، شجاعت، همت، صبر او استقامت ستاینه کوی، داسې شاعران، لیکوالان او هنرمندان بنسټپال ګڼی، او بنسټپالنه لوی جرم ګڼی، دوی لیبرالیزم او د ټولنی له ټولو اجتماعی ضوابطو او مذهبی اصولو نه زمونږ وتل او سرغړاوی خوښوی، دوی غواړې چي مونږ په عشقی سندرو، شعر، هنر، عکاسی، فیلم، ... مصروف شو، د فابریکو په ځای نایټ کلپونه، سینماګانی، د ویډیو ګیمونو دوکانونه پرانیزو او دا د ټوپك، توری، جهاد او مبارزی خبری د تل لپاره هیری کړو، اوس چي امریکایان زمونږ هېواد ته راغلی، د ټولو افغانانو حتی د جمهور رئیس امنیت د دوی په غاړه دی، نو افغانان ټوپك ته څه ضرورت لری، د هېواد د بیاودانولو کار هم امریکایان ورته کوی، که تر اوسه ئې ندی کړی په مدار مدار به ئې کوی، هیڅوك دا حق نلری چي ووایي: امریکایانو خو په تیرو دوو کلونو کي نه امنیت راوستی شو، نه ئې جګړه پای ته ورسولی شوه، نه ئې د بیاودانولو کار پیل کړ، نه ئې د مظلومو او جنګ ځپلو افغانانو هغه ستونزی حل کړی چي دوی په خپله ورته راولاړی کړی، فقط څو کارونه ئې وکړل: نوی نوټونه ئې چاپ کړل چي مقصد ئې د روسانو ځای ناستی کېدل وو، خو امریکایان دا هم د مخکی تګ نښه ګڼی!! په عراق کي ئې هم همدا کار وکړ، هرڅوك پوهېږی چي دا د خپلواکۍ د سلبولو یو بل ګام دی،

مونږ او عراقیان باید د پیسو د چاپ په اړه هم په امریکایانو پوری تړلی وو، زمونږ تعلیمی نصاب ئې بدل کړ، د اسلام، جهاد، شهادت، قربانی، خپلواکی ... توری ئې ورنه حذف کړل، زمونږ د اردو روزنه ئې هم په خپل لاس کي واخیسته، تر څو افغاني افسران د خپلې خوښې مطابق وروزی، هماغه کار چي روسانو وکړ، افسران ئې وروزل او بیا ئې په همدی کمونستو افسرانو د ثور کودتا ترسره کړه!! د امریکایانو ټول کارونه همغسی دی چي روسانو وکړل!!په عراق او افغانستان کي د نوی اساسی قانون د جوړولو ورته لوبه ئې روانه کړی، امریکایان غواړي چي د خپلې خوښې اساسی قانون جوړ کړی، د دې په ځای چي د هېواد اساسی قانون له آزادی نه وروسته او د ملت د منتخبی شوری له لوری جوړ شی، هم ئې د تسوید او هم ئې د تصویب پړاوونه د ملت د منتخبو استاځو په لاس ترسره شی، برعکس اشغالگران په خپله د خپلې خوښې کسان د اساسی قانون د جوړلو لپاره غوره کوی، د تصویب لپاره ئې هم همغه لار نیسی چي د دوی خوښه وی، خو د خلکو د غولولو لپاره پوښتنلیکونه ویشی او داسې ښیی چي د دوی رأی او نظر ته به د اساسی قانون د تسوید په جریان کي اعتناء کېږی!! خو هر څوك پوهېږی چي دا هسی غولونکی او خندونکی ډرامی دی.

- تاسو به د راډیو آزادی یا امریکا غږ خپرونو ته حتماً توجه کړی وی چي اکثراً د یوه مهم خبر عنوان یاد کړی خو بیا وواییي چي لومړی یوه خوندوره سندره واوری، بیا به د دې خبر تفصیل واوری!! دا ولې دوی په سندرو دومره ترکیز کوی؟ ولې باید له سندرغاړو سره مکرر مرکی خپری کړی، ولې ئې عبدالله مقری په لویه جرگه کي د محسنی، سیاف او ربانی په څنگ کي کښینولی وو، ولې ئې په کابل کي دومره نایټ کلپونه، کاباری، د ویډیوگیم کافی گانی،

پرانستی؟ ولې دی کار وبار ته وده ورکوی او داسې کارونو ته خلك هڅوی؟ دوی مسیحیان دی، او د عیسی علیه السلام په دین کې هم ظلم، اخلاقی فساد، زنا، شراب، د خوگ غوښه، قمار، احتکار، بربنډتوب، رقص، نڅا، گډا، او ټول هغه څه حرام دی چې اسلام حرام کړی، دا ولې دوی د مسیحیت تر نامه لاندې زمونږ په هېواد کې دغو حرامو ته بلنه ورکوی؟ قرآن وايي چې د اسلام دښمنان به له دغو وسائلو نه د اسلام د مخنیوی په لار کې کار اخلی، دوی به یا د جگړو اور بلوی، ایمان راوړونکی به تعذیبوی، وژنی او له خپل کور کلی به ئې شړی، خو که پدې سره ئې د اسلامی دعوت مخه ونشوی نیولی نو د اخلاقی فساد د خورولو له لاری به د اسلامی دعوت د مخنیوی هڅه کوی.

- کرزی یو ځل بیا له ناټو نه وغوښتل چې نړیوال ځواکونه دی له کابل نه علاوه نورو سیمو ته هم ولېږل شی. دی د بریتانیا د صدراعظم له لوری بلل شوی وو تر څو د کارگر گوند په غونډی کې له بریتانیا نه د افغانستان د ژغورونکو په حیث مننه وکړی او پدې سره ټونی بلیر خپل مخالفین ساکت کړی او هغوی ته وښیی چې افغانان انگریزانو ته د ژغورونکو په سترگه گوری نه د نیواکگرو په سترگه!! کرزی هم د شرم او حیاء له احساس نه پرته له انگریزانو نه مننه وکړه چې افغانستان ته د ځواکونو په لېږلو سره ئې افغانان د طالبانو له سلطی وژغورل!! پداسې حال کې چې د بریتانیا د کارگر گوند په کلنی غونډی کې د عراق او افغانستان په جنگ کې د بریتانیا گډون په کلکه غندل شوی، کرزی نه یوائې انگریزان د افغانانو ژغورونکی او آزادی بخښونکی وگڼل بلکه په عراق د امریکایانو د وحشیانه برید ملا تړ ئې وکړ، د بریتانیا د پارلمان ډېر شمیر غړی وايي

چي په عراق کي د گڼ وژنی وسلو نه موندلو دا ثابته کړه چي د بریتانیا ولس ته دروغ ویلی شوی. بلیر لدې مخمصی نه د وتلو په خاطر کرزی استخدام او غونډی ته دعوت کړ او هغه خپل مأموریت ترسره کړ خو بې نتیجی وو.

• د دولت په ضد د فوځی افسرانو بله ستره مظاهره د دې میاشتی بله پیښه وه، د فهیم وزارت دفاع څلور لکه فوځیانو ته اعاشه او حقوق ترلاسه کول، د دې فوځ قطعات اکثراً فقط د کاغذ پر مخ موجود وو، لویه برخه ئې پنجشیر، پروان، تخار او بدخشان ته ورکړی شوی، هر قومندان ته د قول اردو، فرقی، لوا، غنډ، او کنډك په نامه یوه قطعه منظور شوی، د هغی اعاشه او حقوق ترلاسه کوی، او همدی ته ئې ملي اردو ویلی، اوس چي په مسکو کي د بې اعتباره پیسو د چاپولو لړی بنده شوی، او څو میاشتی دغو قومندانانو ته پیسی ورنکړی شوی، او امریکایانو له دوی وغوښتل د فوځ شمیر باید محدود کړی، ناچار ځینی افسران ئې ځواب کړل، ایستل شوو افسرانوپه اعتراض لاس پوری کړ او د دوامدارو مظاهراتو په ترځ کي ئې وویل چي د پنجشیر او پروان غیر مستحق کسان په فوځ کي ځای په ځای او مونږ د ژبنی تعصب په بنا له فوځ نه ایستل شوی یو.

• په ارزگان، زابل، پکتیکا او کنړ کي له امریکایي یرغلگرو سره د مجاهدینو مخامخ درنی نښتی د دې میاشتی له ځانگړتیاوو څخه وی، که څه هم اوس لا له دښمن سره د داسې نښتو وخت ندی رارسېدلی او د دې په ځای چریکی جنگ گټه ور او مؤثر دی، خو دغو نښتو دښمن سخت وارخطا کړ او نړی والو ته ئې وښوده چي د افغانستان په اوضاع د امریکایانو د تسلط دعوی بې بنیاده ده، له دوه کاله تیریدو وروسته هم پدې نده توانیدلی چي د داسې نښتو مخه ونیسی، د ملگرو ملتونو د

امنیت شوری ته په وړاندې شوی راپور کې خو وویلی شو چې د کابل حکومت مخ په زوړ روان دی او په ځینو سیمو مخالفینو خپل تسلط ټینگ کړی.

- د میزان په ۱۳د هرات په ښار کې په مشهور مجاهد عالم مولوی خدایداد د تورن اسمعیل تروریستانو برید وکړ او هغه ئې سخت ټپی کړ، مولوی خدایداد په هرات کې په روان فساد، ظلم، استبداد او اختناق نیوکی کولی.
- د کارپوهانو یوې ډلې چې د بوش حکومت غوره کړې په اسلامې او عربې نړۍ کې د امریکا په ضد د کرکی او تربگنی کچه حیرانوونکې گڼلې ده. د دې ډلې مشر « ادوارد جرجیان » وویل چې په نړی مخصوصاً اسلامی هېوادونو کې د امریکا ضد احساسات حیرانوونکی کچې ته لوړ شوی.
- پوتین ویلی چې ده ته په افغانستان کې د امریکا په ضد جگړی کې د برخی اخیستو بلنه ورکړی شوی وه، که دا کار ئې کړی وی نو معلومه ده چې نتیجه به ئې څه وه، ده امریکایانو ته دا خبره کړی، او دا ئې په امریکایانو باندې د ده د پیرزوینی بیلگه گڼلی. خو ده ونه ویل چې دا بلنه د چا له خوا وه!!
- په ۸۲۱۷۱۱۰ پاکستانی ځواکونو د ایف بې آی تر قومندی لاندې په وانه کې گرندی عملیات ترسره کړل او لس تنه ئې مړه او دولس ئې ژوندی ونیول، راپورونه وایې چې د مړو او نیول شوو اکثریت هغه افغان مهاجرین دی چې له اوږدی مودی رادیخوا دلته میشت وو، دا عملیات پس له هغه ترسره شوو چې د امریکا د خارجه وزارت معاون ارمیتاج په یوې مرکی کې وویل چې د پاکستانی فوځ ځینی برخی له پرویز مشرف سره په زړه پوری ملگرتیا نه کوی، خو لدې عملیاتو نه وروسته هغه وویل

چي اوس معلومه شوه چي د پاکستان فوځ ۲۰۰ په سلو کي له پرويز مشرف سره دی، د کابل امريکايي حکومت هم د دغو عملياتو ستاينه وکړه!! دا ورته مهمه نه وه چي پدې عملياتو کي خو مظلوم افغانان وژل شوی.

• د اسلامی هېوادونو کنفرانس له عراق نه د خارجی ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه، د پاکستان خارجه وزير وويل چي د امريکايي ځواکونو د وتلو مطالبه پدې خاطر معقوله نده چي د دې ځواکونو خلا بل څوك نشی ډکولی.

• د يونيسيف اداری د افغانستان په شمال کي د ماشومانو د اختطاف مسئله پراخه او جدی وګڼله، دا ستر جنايت هم په هغی سيمی کي ترسره کېږی چي څو کاله د شمالی ټلوالی خاصتاً د شورای نظار اډه وه، ويل کېږی چي د همدی ډلې قومندانان د هيروئينو د تجارت ترڅنګ اوس پدې ناولی او کرکجن عمل کي هم ککړ شوی. د ماشوانو تښتونه هم د امريکايانو د يرغل بل سوغات دی چي افغانانو ته ئې له ځان سره راوړی.

• راپورونه وايي چي ظاهر خان بيرته روم ته د ستنيدو اراده لری، دی چي امريکايانو د کوم غرض لپاره راوستی وو او ده ته ئې د بيا پاچا کولو طمع ورکړی وه، اوس پوه شوی چي دی ئې غولولی، د کاذبی طمعی قربانی شوی، په افغانستان کي د پاچاهی دور ختم شوی، امريکايان او انګريزان ده ته بيا تخت او تاج نشی ورکولی، نو ځکه بې هيلی شوی او بيرته د روم په لور د کډه کېدو لپاره تياری نيسی، خو معلومه نده چي روم به بيا هم دی ومنی که نه!!

• د هرات والي تورن اسماعيل د هغه ولايت په يوې ولسوالۍ کې د جمعې د لمانځۀ پر مهال خپلو خبرو کي غوښتنه کړې ده چي لوړ پوړي چارواکي بايد يوازې او يوازې د افغنستان تابعيت ولري. ده د چا نوم نه

دی اخيستی خو داسې ښکاري چې په اوسنۍ کابينه کې ئې ځينو کسانو ته اشاره کوله.

• په کابل کې د خبرو پر وخت اسحاق ګيلاني ويلي چې حامد کرزی د بون د پريکړو له مخې دا حق نه لري چې په راتلونکو انتخاباتو کې د هېواد د مشرتابه لپاره ځان کانديد کړي. خو د کرزي يوه وياند دا خبره رد کړه او ويې ويل چې د بون په پريکړه کې په دې باب څه ندي ويل شوي. ګيلاني استدلال کوي چې د بون پريکړې د اوسنۍ کابينې غړيو او مشر ته د بيا کانديديدو اجازه نه ورکوي.

• د افغانستان د فوځ څو سوه پخوانيو افسرانو په کابل کې بله احتجاجي غونډه وکړه. په تيره مياشت کې دا دريم ځل دی چې پخواني افسران له کاره د ګوښه کيدو پر ضد احتجاج کوي. دوی غوښتنه کوي چې پر خپلو دندو دې بيرته وګمارل شی او پاته معاشونه دې ورکړی شي. د بي بي سي خبريال چې دغه غونډه يې ليدلې وايي دا ځل په مظاهره کې د پخوا پر پرتله غصه زياته وه. دوی داسې شعارونه له ځان سره درلودل چې پکې د دفاع وزارت او د افغان حکومت غندنه شوې وه. خبريالان وايي په تيره مياشت کې تقريباً شل زره فوځيان له خپلو دندو لير ي کړی شوي دي. دا بدلون د دفاع په وزارت کې د اصلاحاتو برخه ده.

• د روسيې مشر ولاديمير پوتين امريکا ته په ګواښنې يادونه کړې چې ښايي دغه هېواد په عراق کې پر يوې اوږدې، ترخې او په پای کې بې ګټې جګړې کي ښکېل شی، لکه هغسې چې شوروي اتحاد يی په افغانستان کې ښکېل کړی وو. په يوه مرکه کې چې د نيويارک ټايمز ورځپاڼې خپره کړې، پوتين وويل: د بوش اداري ته په کار ده چې په بيړې عراقيانو ته د واک سپارنې لور ته ګام واخلي او د دغه هېواد د راتلونکې په اړه د م.م. يوه نوې پرېکړه تر ګوتو کړي.

- ملا تره خیل چې اوس د کابل د امریکایي اداری مفتی او مبلغ جوړ شوی، له راډیو آزادی سره په مرکی کې وویل: چیرته چې امریکایان دی هلته جنت دی، او که دوی ووتل بیا دوزخ دی!! وایي چې د چا اوله خرابه وی آخره ئې سمه شی، او د چا اوله سمه وی آخره ئې خرابه شی، خو ملا تره خیل هغه څوك دی چې هم ئې اوله خرابه وه او هم آخره، په اوله کې ئې د مفسد ظاهر د سر دعا کوله او ویل به ئې: خلد الله ملکه و سلطانه!! اوس د کرزی او امریکایانو د سر دعا کوی او په افغانستان کې د بهرنیو فوځونو شته والی فرض گڼی، دی د کارمل او نجیب ملا عبدالولی او ملا عبدالعزیز په څېر دی، لکه چې د کارمل او کرزی تر منځ څه فرق نشته، د ملا تره خیل او ملا عبدالولی ترمنځ هم هیڅ فرق نشته. افغانان اوس دومره زیرکتیا لری چې دین خرڅوونکی له دین پالونکو نه بیل کړی شی، پدې پوهېږی چې د یرغلگرو او د دوی د لاس پوڅی حکومت حامیان او ملگری د خدای او دین په وړاندې څومره سپك، ذلیل او بې حیثیته دی!! د امریکایانو ملگری به د قیامت په ورځ د بش او شارون په څنگ کې حشر کېږی.
- آفرین په مولوی صاحب محمد یونس خالص چې په ډېری میړانی او همت سره ئې د جهاد اعلان وکړ او له جلال آباد نه د جهاد په نیت ووت، پداسې حال کې چې د زیات عمر په وجه ضعیف شوی. په رښتیا چې ایمان نه ضعیف او زوړ آرام ته پرېږدی او نه ځوان او پیاوړی. مجاهدین د دریو مشرانو ستاینه کوی: د حکمتیار صاحب چې ترټولو د مخه ئې په ډېرو سختو شرائطو کې جهاد اعلان کړ او له ایران نه د هېواد په لور وخوځید ، له ملا محمد عمر آخوند نه چې امریکایانو ته تسلیم نشو او اوس ئې د جهاد اعلان کړی، او له جناب مولوی صاحب خالص نه چې دا دی د جهاد لاره ئې غوره کړه، پداسې حال کې چې د ده ډېر بې همته قومندانان له

امریکایانو سره ملګری شوی خو ده د هغوی پروا ونکړه.

• مولوی متوکل د طالبانو خارجه وزیر خوشی شو، ویل کېږی چې امریکایان غواړې د ده له لاری معتدل او لیبرال طالبان راغونډ او له کرزی سره ملګری کړی او د طالبانو تر منځ اختلافات تشدید کړی، متوکل په خپله امریکایانو ته تسلیم شوی وو، دی یو له هغو کسانو څخه وو چې له امریکا سره د نږدی او دوستانه اړیکو پلوی ئې کوله او حتی پدې ئې ټینګار کاوو چې اسامه امریکایانو ته تسلیم کړی شی، همداراز دی له جهادی ډلو سره د هر راز تفاهم او یووالی مخالف وو، امریکایانو د دغه دوو ځانګړتیاوو په وجه خوښولو!! اوس ئې په کندهار کې ده ته کور، محافظین او سټلایټ ټلفون ورکړی. د ده په تسلیمېدو هم خلکو نفرین وایو او په خوشی کېدو ئې هم. دا خبره هم د یادولو وړ ده چې متوکل امریکایانو پداسې حال کې خوشی کړی وو چې کرزی ورنه خبر نه وو، ده د متوکل د خوشی کېدو خبر تکذیب کړ، وروسته ورته معلومه شوه چې هغه ئې لا څو ورځې د مخه خوشی کړی!! دیته هم وایې: یو ډول جمهوری ریاست!!

• بی بې سی وویل: د امریکا د مخکنیو قاضیانو، ډیپلوماټانو او فوځې افسرانو یوې ډلې د امریکا له سترې محکمې نه غوښتې چې د کیوبا په ګوانتانامو خلیج کې د هغو سلګونو بندیانو د ساتنې قانونې والی وڅېړي چې له محاکمې، تور او یا د وکیل له درلودو پرته بندیان دي او پر ډېرو یې دا دی دوه کاله اوړي. دا ډله د هغو شپاړلسو تنو له خوا له محکمې نه د استیناف غوښتنې ملاتړ کوي چې د القاعدې او د افغانې طالبانو په تور نیول شوي دي. امریکا دوی ته د دښمنو جنګیالیو په سترګه ګوري چې باید جنګي بندیانو ته له ټاکل شویو حقونو نه ګټه پورته نکړي، او دا هغه دریځ دی چې لا دمخه یې د هغوی د برخلیک په اړه

نړیوال شکایت ته لاره پرانستې ده. د امریکا فوځ په ګوانتانامو کې فوځي واعظ او امام محرمو معلوماتو سر ه په ناسم چلن تورن کړی دی. واعظ کپتان جیمز ییي چې په یوسف ییي هم پیژندل کېږي د هغه درېو کسانو څخه یو دی چې څه موده وړاندې په ګوانتانامو کې د جاسوسۍ په تور نیول شوي دي. بل لوري ته د بوش اداري په ګوانتانامو کې بندیانو سره د دوې په رویې انتقادونو ته سخت غبرګون ښودلی دی. د سپینې ماڼۍ ویاند ویلي دي دا بندیان تروریستان دي، خو په ښۀ توګه او د جنیوا کنوانسون سره سم چلن ورسره کېږي.

- بی بې سی همداراز وویل: په افغانستان کې سوله ساتو ځواکونو یو کس د ترهګرو بریدونو د تکل درلودو په شک کې نیولی دی. د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو یو ویاند وایي چې نیولی شوی کس د حکمتیار یو جګپوړی قومندان دی. له کابل څخه د بي بي سي خبریال وایي چې د ښاغلي حکمتیار سازمان له طالب جنګیالیو او القاعده سره یو کمزوری ائتلاف هم لري. دا پداسې حال کې چې حزب اسلامی د ائتلاف دا تور مکرر رد کړی دی.
- د کابل د امریکایي حکومت قاضی القضاة له چارواکو نه وغوښتل چې د شرابو په خرڅولو دې بندیز ولګوی!!
- د حامد کرزي ځانګړي ویاند هغه خبرې رد کړې چې ګواکې افغان حکومت له طالبانو سره خبرې اترې پیل کړي دي . جاوید لودین وویل ځینو طالبانو چې لوړ پوړي چارواکي هم پکې دي افغان حکومت ته لیکونه لیکلي او د خبرو وړاندیز یې کړی دی خو تر دې دمه کابل دغه وړاندیز ته ځواب نه دی ویلی.

د میزان د میاشتی ځینی نظامی عملیات دا دی:

## پکتیکا، پکتیا، غزنی او خوست

- په ۱۳۸۲۱۷۱۲ د خوست د مرافعي په دفتر کي چاودنه وشوه.
- په ۱۳۸۲۱۷۱۲ د خوست په هوایي میدان کي د امریکایانو په اډې څلور توغندی پریوتل.
- په یکشنبه په شکین کي د امریکایانو په اډې ۲ توغندی وریدلی، د دښمن له لوری د توپونو ځوابی ډزی وشوی، دښمن په نښتی اعتراف وکړ خو تلفات ئې ونه ښودل.
- په ۸۲۱۷۱۴ د خوست په زاړه میدان کي د امریکاییاو په اډې شپږ توغندی وورول شوو.
- په ۸۲۱۷۱۴ د پکتیکا په شکین کي د امریکایانو په اډې څلور توغندی پریوتل.
- په ۸۲۱۷۱۴ د یرغلګرو ځواکونو ویاند په بګرام کي وویل چي تیره شپه په ګردیز کي زمونږ په اډې اته توغندی ولګیدل، ده د تلفاتو په اړه له څه ویلو ډډه وکړه.
- ارنا خبر ورکړ چي په ۸۲۱۷۱۵ په غزنی کي ناپیژاندو وسله والو په دوو بیلابیلو بریدونو کي پنځه امریکایي او پنځلس افغاني عسکر ووژل. دا بریدونه په کټواز او سروبی کي ترسره شوی.
- په ۸۲۱۷۱۷ په غزنی کي د دولت یو قومندان د شیرمحمد په نامه د ناپیژاندو وسله والو په برید کي ووژل شو.
- په سه شنبه ۸۲۱۷۱۸ د امریکایي یرغلګرو ځواکونو ویاند وویل چي پرون په شکین کي د یوې نښتی په ترڅ کي یو امریکایي ووژلی او دوه نور ژوبل شوو، له سیمی نه راغلی خبرونه وایي چي د مړو او ژوبلو شمیر لدې نه ډېر زیات دی.
- ائتلافی ځواکونو په ۸۲۱۷۱۸ اعتراف وکړ چي د برمل ولسوالۍ د مخالفینو په واک کي ده.

- په ۸۲۱۷۱۸ په خوست کي د دښمن په اډې توغندوئی برید وشو.
- په ۸۲۱۷۱۸ په شکین کي په ناڅاپی برید کي څلور امریکایان مړه او یو ژوبل شو، دا ښنته تر ټولو اوږده ښنته وه. طیارو بمباری کوله، په ځینو کورونو بمونه وورېدل او د بې گناه خلکو د مرگ ژوبلی باعث شوو.
- په ۸۲۱۷۱۹ په شکین کي په امریکایي گزمی ناڅاپی برید وشو چي د دوی څلور کسه مړه او نامعلوم شمیر ژوبل شول.
- د برمل له ولسوالۍ نه ائتلافی ځواکونه ووتل او سیمه آزاده شوه.
- په شنبه ۸۲۱۷۱۱۲ د خوست د امنیت په مسئول برید وشو او په قتل ورسېدو.
- په ارگون کي په شنبه ۸۲۱۷۱۱۲ یوې ډلې مجاهدینو په امریکایي گزمی برید وکړ، امریکایانو وویل چي ۱۵ وسله والو برید کړی چي د دوی په ضد له هوایي ځواك نه مرسته وغوښتی شوه.
- په ۸۲۱۷۱۹ ناپیژاندو مجاهدینو د خوست په هوایي میدان کي د یرغلگرو په اډې څلور توغندی وورول.
- په شنبه ۸۲۱۷۱۱۲ په شینکی کي د اشغالگرو ځواکونو په مرکز برید وشو، ښنته تر هغه وخته روانه وه چي د دښمن طیاری ئې مرستی ته راورسېدی.
- په۸۲۱۷۱۱۲ په خوست او پکتیکا کي د نیواکگرو په اډو توغندوئی بریدونه وشوو، دښمن پدې بریدونو اعتراف وکړ خو وئی ویل چي زمونږ ځواکونو ته د سر زیان ندی رسېدلی، خو له سیمی راغلی راپورونه وایي چي توغندی په ښنبه لگېدلی او دښمن ته ئې دسر او مال کافی زیان رسولی.
- د دښمن د اعتراف له مخی په ۸۲۱۷۱۱۳ په ارگون کي د امریکایانو په گزمی ناپیژاندو وسله والو برید وکړ، د تلفاتو شمیر ئې

ندی ښودلی خو راپورونه وايي چي پدې ناڅاپی برید او اوږدی ښښتی کي د ائتلافی ځواکونو دوه مړه او پنځه ژوبل شوی

- په ۸۲۱۷۱۲۲ د خوست په هوايي میدان کي د اشغالگرو ځواکونو په اډې توغندوئی برید وشو.
- په ۸۲۱۷۱۲۷ د خوست ښار ختيځ ته له اشغالگرو ځواکونوسره درنه ښښته وشوه.
- په يکشنبه ۲۰۰۳۱۹۱۲۸ په بگرام کي د امریکايي يرغلگرو وياند اعتراف وکړ چي د دوی پر گزمی په پکتيکا کي برید وشو، په مقابل کي زمونږ ځواکونو د برید په سیمی ډزی وکړی، خو دی ښښتی تلفات نه درلودل، دری په ښښه شوی توغندی هم پدې ځای کي په لاس راغلل.
- په ۸۲۱۷۱۱۳ د امریکایي یرغلگرو وياند وویل چي په خوست او پکتيکا کي د دوی په اډو توغندوئی بریدونه شوی خو تلفات ئې نه درلودل.
- په يکشنبه ۸۲۱۷۱۲۰ په خوست، پکتیا او په پکتيکا کي د امريکايانو په اډو او قطارونو بريدونه وشول.
- په سه شنبه د منديزيو سیمی کي د ائتلاف ځواکونو د قطار منځ کي چادودنه وشوه، دښمن په چاودنی اعتراف وکړ خو تلفات ئې څرگند نکړل
- په ۸۲۱۷۱۱۲ د اسمعیل خیلو په ولسوالۍ توغندوئی برید وشو چي لږ ترلږه نه توغندی د ولسوالۍ په تعمیر لگيدلی.
- په ۸۲۱۷۱۱۹ په ستږو کنډو کي د ائتلافی ځواکونو په قطار د برید په ترځ کي يو امریکايي او څلور د دوی افغاني عسکر ووژل شوو. ښښته تر دريو گنټو روانه وه.
- د میزان په ۲۴ د خوست په ژوری کي د امريکايانو په فوځی اډې پنځه توغندی ووريدل.

- په برمل کي په ۲۰۰۳۱۹۱۲۸ د امریکایانو په اډې برید وشو، دوه ګاډي تخریب، څلور امریکایي یرغلګر مړه، پنځه کسه ژوبل شوو، د شنبی په ورځ ۲۷-۹-۲۰۰۳ په شکین کي د امریکایانو یوه هلیکوپټر د ډزو په نتیجه کي رانسکوره شوه چي ټولي سورلۍ ئې ووژل شوی.
- په غلام خان کي په یکشنبه ۲۸-۹-۲۰۰۳ د ائتلافی ځواکونو په مرکز توغندوئی برید وشو
- په ۲۰۰۳۱۹۱۲۹ افغاني چارواکو وویل چي په ګردیز کي ئې هغه اوه توغندی کشف او شنډ کړل چي د امریکایانو د اډې په لوری په نښه شوی وو.
- په شنبه ۲۷-۹-۲۰۰۳ په نادرشاه کوټ کي د افغاني امریکایانو په مرکز برید وشو چي دوه ګنټې ئې دوام وکړ، دوه کسان پکی مړه او بل برید کوونکو له ځان سره بوت.
- په سه شنبه ۳۰ سپتامبر ۲۰۰۳ بي بي سي وویل چي د پکتیکا په شکین کي په امریکایي یرغلګرو د برید په ترځ کي یو امریکایي مړ او دوه ژوبل شوو.
- په ۲۰۰۳۱۱۰۱۸ د امریکایانو ویاند وویل چي په چهارشنبه د خوست او ګردیز په لویه لار د دوی قطار له کمین سره مخامخ شو، له وسله والو برید کوونکو سره اوږده نښته وشوه، زمونږ څو ګاډي تخریب شول، خو نښتی ځانی تلفات نه درلودل. په همدی ورځ په ارګون کي هم زمونږ په ګزمی برید وشو او زمونږ ځواکونو برید کوونکی تر اور لاندې ونیول، نښتی زمونږ لوری ته تلفات نه درلودل!
- دښمن په یوه مطبوعاتی بیان کي اعتراف وکړ چي د یکشنبی په ماښام د دوی د خاصو ځواکونو یوه ډله له ناپیژاندو وسله والو سره د خوست ښار ته نږدی ونښته خو مونږ ته څه زیان ندی اوښتی. همداراز

ارگون ته نږدې زمونږ په یوې گزمې یوې پنځلس کسیزې ډلې برید وکړ، نښتې نیمه گنټه دوام وکړ

**کندهار، هلمند، زابل او ارزگان**

- دښمن په ۸۲۱۷۱۲ د هلمند د والی په ساتونکو برید او د اته کسانو په مړینې اعتراف وکړ.
- په ۸۲۱۷۱۳ په هلمند کې ناپیژاندو وسله والو د یوې غیردولتی مؤسسی په گاډی د برید په ترځ کې د مؤسسی انجنیر مړ او ډریور ئې ژوبل کړ.
- د کندهار په ښار کې د امریکایانو په گاډو د دوو وسله والو لخوا برید وشو.
- په ۲۰۰۳۱۱۰۱۳ په ژیړی دشتی کې د یوې بهرنی مؤسسی په موټر د برید په نتیجه کې د مؤسسی یو مأمور ټپی شو.
- په ۸۲۱۷۱۵ په کندهار کې د یوه ماین د چاودنی په نتیجه کې یو امریکایي عسکر ژوبل شو.
- د ائتلاف چارواکو په ۸۲۱۷۱۹ اعتراف وکړ چې د کندهار په هوایي میدان کې د امریکایانو د اډې په لوری دری توغندی د توغولو لپاره تیار ځای په ځای شوی کشف او شنډ کړی شول خو د شنډونکو له جملې نه یو کس ژوبل شو.
- په ۸۲۱۷۱۱۰ په کندهار کې اته عسکر د یوه ناڅاپی برید په نتیجه کې ووژل شوو، دوی په دوو ټانکونو سپاره او د نیش په سیمی کې ئې گزمه کوله چې تر برید لاندې راغلل.
- په ۸۲۱۷۱۱۰ د ویش ولسوالۍ ته نږدې د داله په سیمی کې ائتلافی ځواکونه د ناپیژاندو وسله والو له کمین سره مخامخ شوو او د برید په ترځ کې د دوی لس تنه ووژل شوو، دوی د امریکایي ځواکونو نه د

مرستی غوښتنه وکړه.

- په یکشنبه ۲۰۰۳۱۱۰۱۱۲ د ارغنداب په ولسوالۍ برید وشو، اته ساتونکی ووژل شوو، ځلور گاډی تخریب او د ولسوالۍ تعمیر وسوزولی شو.
- په شنبه ۸۲۱۷۱۱۲ د بولان د ولسوالۍ د پولیسو په مرکز د ناڅاپی برید په نتیجه کي دوه مړه او دری ژوبل شوو
- په ۸۲۱۷۱۱۳ په کندهار کي د امریکایانو په اډې شپږ توغندی پریوتل، چي دښمن ورباندې اعتراف وکړ.
- په ۸۲۱۷۱۱۳ د خاك افغان په ولسوالۍ برید وشو.
- په ۸۲۱۷۱۱۳ د کندهار د ژیړی په ولسوالۍ کي د ماین پاکی مؤسسی په یوه گاډی د برید په نتیجه کي یو کس ژوبل او موټر ئې تخریب شو.
- د میزان په ۱۳ په لشکرگاه کي په دولتی ځواکونو برید وشو چي دوه عسکر په برید کي مړه او ۳ ټپیان شوو.
- په ۸۲۱۷۱۱۸ په لشکرگاه کي د امنیتی مرکز خوا ته یوې چاودنی دوه امنیتی عسکر ژوبل کړل او مرکز ته ئې کافی تاوان ورساوو.
- په ۸۲۱۷۱۱۹ یوځلویښت بندیان د کندهار له محبس نه په وتلو موفق شول، دوی له یوه اطاق نه د تونل په ایستلو له زندان نه په وتلو موفق شوو. د کندهار والي یوسف پښتون وویل: دا تښتیدلي زندانیان د هغو ۵۴ زندانیانو په ډله کې وو چي له طالبانو سره د تړاو په شک نیول شوي وو.
- په یکشنبه ۸۲۱۷۱۲۰ د ارغنداب د پولیسو په مرکز برید وشو، اته دولتی ساتونکی مړه او گڼ شمیر ټپیان شول او ځلور گاډی او مرکز وسوزولی شو.

- په شنبه ۸۲۱۷۱۲۰ په گیزاب کي د افغاني امریکایانو په گزمی برید وشو، څلور کسان مړه او گاډی ئې وسوزولی شو.
- په چهار شنبه د امریکایي ځواکونو ویاند اعتراف وکړ چي پرون په زابل کي د هغو امریکایانو په گاډی برید وشو چي د کندهار – کابل سړك په جوړولو کار کوی.
- په چهار شنبه ئې وویل چي په ارغنداب او ارزگان کي نښتی روانی دی، دا په داسې حال کي چي د دای چوپان له نښتو وروسته دوی د سیمی د تصفیی او د مخالفینو د ځپلو دعوا کړی وه.
- په ۸۲۱۷۱۲۱ د ارغنداب په ولسوالۍ برید وشو، اته افغاني امریکایان ووژل شوو او گڼ شمیر نور ژوبل شوو، نښتی څو گنټی دوام وکړ.
- په ۸۲۱۷۱۲۲ د ارزگان په چارچینو کي دره نښته پیل شوه، ائتلافی ځواکونو له هوا او ځمکی نه په سیمی برید وکړ، د ائتلافی ځواکونود مړو او ژوبلو شمیر تر شلو زیات وو، دلته څو ورځی د مخه په ائتلافی ځواکونو د برید په نتیجه کي اوه تنه مړه او ژوبل شوی وو. بي بي سي پدې هکله وویل: افغان ځواکونه وایي چي د افغانستان په جنوب کې په یوه یرغل کې یې ۷ طالب جنگیالي وژلي دي او دولس نور یې نیولي دي. په دغو فوځي عملیاتو کې امریکایې سرتېرو او چورلکو هم برخه اخیستې ده. د پولیسو یو ویاند وایي چي د غرنۍ سیمې چار چینو په دغه دوه ورځنیو نښتو کې درې افغان سرتېري هم وژل شوي ،او پنځه نور ټپیان شوي دي. ویاند زیاتوي چي تېره ورځ د جنگیالیو لخوا له ډېر کلک مقاومت سره مخامخ وو، خو ده د پاتې جنگیالیو د برخه لیک په اړه څه ونه ویل. په دغه یرغل کې نږدې ۵۰۰ افغان سرتېري برخه اخلي چي په ماشین دارو، توپکو او توغندیو بار دي.

- په چهار شنبه ۸۲۱۷۱۲۳ د امریکایي یرغلگرو ویاند وویل چي د کندهار په چهار چینو کي د یوې نښتې په ترڅ کي دوه امریکایان ژوبل شوی.
- په ۸۲۱۷۱۲۲ په گرشك کي د یوه ماین په چاودلو سره دوه افغاني امریکایان مړه او دوه ژوبل شوو.
- په ۲۰۰۳۱۹۱۲۷ په هلمند کي د والی په خاصو ساتونکو د برید په نتیجه کي اوه ساتونکی ووژل شوو، برید په سنگین کي ترسره شوی.
- په شنبه ۲۷-۹-۲۰۰۳ په دای کندی کي د ائتلافی ځواکونو په قطار برید وشو، څلور عسکر ژوبل او دری گاډی تخریب شول. ټوله وسله د مجاهدینو لاس ته ورغله.

## کابل

- په ۸۲۱۷۱۳ د کابل اداری امنیتی چارواکو وویل چي دوی د کابل په لوری توجیه شوی ۴۷ توغندی کشف او ضبط کړل.
- په ۸۲۱۷۱۲۰ د اشغالگرو ځواکونو ویاند وویل چي پرون په کابل کي د یوې وسله والی ډلې سره د نښتې په ترڅ کي د دوی یو کس ژوبل شو.
- په ۸۲۱۷۱۲۱ په کابل کي د امریکایي فوځ د روزنی مرکز خوا ته په امریکایانو د یوه ناڅاپی برید په نتیجه کي د دوی یو تن سخت ژوبل شو.
- د جنرال بابه جان لومړی فعالیت دا وو چي په ۲۷-۹-۲۰۰۳ ئې د پل خشتی جومات خوا ته په خپل لاس ایښی ماینونه کشف کړل او د تلویزیون له لاری ئې دا خپله شهکاری او د مجاهدینو د هڅو شنډول وښودو.
- په شنبه ۲۷-۹-۲۰۰۳ په میدان شهر کي د ائتلافی ځواکونو د قطار خوا ته چاودنه وشوه چي د تلفاتو دقیق راپور ئې ترلاسه نشو.

• په ۸۲۱۷۱۱۱ د ایساف د ځواکونو دوه کانادائی عسکر مړه او دری هغه وخت ژوبل شوو چې یو ماین د دوی د ګاډی لاندې وچاودو.

## کنړ، ننګرهار

په کنړ کې د دښمن په اډې د توغندوئی بریدونو او ګزمو ته ئې د کمینونو لړی روانه ده او داسې معلومېږی چې د کنړ ټول ولس یوه ستر پاڅون ته تیارېږی. په ننګرهار کې هم د عملیاتو لړی توده شوی.

• په ۲۰۰۳۱۱۰۱۱۲ په بریکوټ کې د امریکایانو په مرکز یوې ډلې مجاهدینو برید وکړ، دښمن له هوایي ځواك نه مرسته وغوښته، خو د طیارو تر رارسېدو برید دوام وکړ، ډېره مرګ ژوبله ئې ورواړله.

• په ۸۲۱۷۱۷ امریکایي خاصو ځواکونو د بریکوټ اډه د پرله پسې بریدونو په وجه پرېښوده، د وتلو په جریان کې یوې وسله والی ډلې ورباندې برید وکړ، د راپورونو له مخې دښمن ته زیاته مرګ ژوبله وراوښتی. ارنا خبر ورکړ چې لږترلږ ۱۲ امریکایان پدې برید کې مړه یا ژوبل شوی. د راپورونو له مخې پدې برید کې د دوی دولس کسان مړه او ژوبل شوی. د امریکایانو ویاند د مرکز په تخلیې اعتراف وکړ خو د مړو او ژوبلو خبر ئې ونه مانو.

• په ۸۲۱۷۱۱۱ په بریکوټ کې د ائتلافی ځواکونو په مرکز د یوه لوی برید په ترڅ کې اته تنه مړه او اوه نور ژوبل شوو، دلته لدې د مخه د امریکایانو اډه وه او د دوی د خاصو ځواکونو یو ټولی پکی ځای په ځای وو، خو هغه د مسلسل بریدونو په وجه له سیمی وتلو ته اړ شو.

• په شنبه ۸۲۱۷۱۱۲ په کندهار، ننګرهار او پکتیکا کې عملیات وشو چې دښمن ورباندې اعتراف وکړ.

• د میزان په دوهمه په اسعدآباد کې د امریکایانو په اډې دری توغندی وورول شوو.

- په شنبه ۸۲۱۷۱۲۰ په کنړ کې د امريکايانو په يوې پوستی برید وشو چې دښمن له هوايي ځواك نه مرسته وغوښته، جګړه تر دوو ګنټو روانه وه.
- په ۸۲۱۷۱۱۳ په جلال آباد کې د امريکايانو په اډې څلور توغندی پريوتل، دښمن وربانديې اعتراف وکړ.
- په ۲۰۰۳۱۱۰۱۵ د امريکايي فوځ ویاند اعتراف وکړ چې پرون دوه توغندی په جلال آباد او څلور په کندهار کې د دوی په اډو ورول شوی خو تلفات ئې نه درلودل.

د مجاهدينو سري فوځ
افغانستان
۱۳۸۲۱۸۱۱

بسم الله الرحمن الرحیم

# دیارلسمه اعلامیه

د روژی مبارکه میاشت د تل په څېر له برکتونو ډکه میاشت وه، پدې مبارکی میاشت کې د افغانستان او عراق مجاهدینو د اسلام او انسانیت دښمنانو ته نه هیریدونکی گوزارونه ورکړل او د امریکا مغرورو واکدارانو ته ئې وښودله چې د اسلامی هېوادونو نیول آسان کار ندی، داسې نده چې د حکومتونو په نسکورولو او یا د حکامو په اخیستلو سره تاسو له اسلامی امت سره هره لوبه کولی شی، اوس مسلمانان راویښ شوی، د جهاد لار ئې غوره کړی، پدې پوهیدلی چې له ذلت او اسارت نه د نجات لار د الله په لار کې جهاد دی، دوی شوروی اتحاد ته ماتی ورکړه، اوس به انشاء الله د نړۍ دې بل ظالم او کفری ځواک ته هم ماتی ورکوی. د دې مبارکی میاشتی ځینی مهمی سیاسی او نظامی پیښی داسې وی:

o پاول وویل چې په عراق کې به نوی حکومت جوړوو خو په افغانستان کې د کرزی لپاره بل بدیل نشته، که انتخابات وځنډیږی، یا ونشی او یا ترسره شی په هرصورت کې به ځوان کرزی جمهور رئیس وی، ځکه ترده مناسب بدیل اوس نلرو!! پدې بې شرمانه او صریح وینا کې پاول دا خبره څرگنده کړه چې د افغانستان په هکله پریکړی نه په کابل کې

کېږي، نه د ملگرو ملتونو په دفتر کي، نه په بون کي، بلکې په واشنگټن کي کېږي، پاول او رامز فيلډ به وايي چي د افغانستان لپاره مناسب بديل څوك دی، انتخابات، لوئی جرگی هسې غولونکی ډرامی دی، دا امريکايي ديموکراسی ده چي امريکايي جنرالان، جنرال پاول، جنرال رامز فيلد او جنرال ډيك چينی ئې په افغانستان او عراق مسلطه کوی!! او تور زړی روشنفکران ئې ستاينه کوی، څوك چي له خپل ولس نه پردی شوی، په پرديو خرڅ شوی، په پټو سترگو ئې د پرديو تقليد پيل کړی، د پرديو غلامی ته تيار شوی، نو يا ئې ځان ته روشنفکر ويلی يا اصلاح طلب، مونږ په افغانستان کي کمونست روشنفکران وليدل چي له خپل ولس او ملك سره ئې څه وکړل، اوس غرب پاله ديموکراتان هم گورئ چي څه کوی، د امريکايانو تر قومندی لاندي له خپل ولس سره جنگېږی، نن پرويز مشرف هم ځان ته "روشن خيال" وايي، امريکايانو ته ئې نظامی اډې ورکړی، د افغانانو په وژلو کي ئې د دوی د جانی قاتلانو ملگرتيا وکړه، په خپل ملك کي ئې CIA او FBI ته دا واك ورکړی چي هر څوك په هر وخت او هر ځای کي نيولی او وژلی شی، د پاکستان تلويزيون ئې داسې حالت ته رسولی چي د غرب چټلو چينلونو DURTY CHINEL ته نږدی شوی، دا ټول د دې لپاره چي امريکايان راضی کړی. د ايران کمونستو روشنفکرانو چي له اسلام او ايرانی ولس سره څه وکړل له چا پټ ندی، خو اوس چي په اصطلاح مذهبی روشنفکران "اصلاح طلبان" څه کوی هرچا ته څرگند دی، همدا ډله ده چي د خمينی لمسی ئې دی ځای ته راورسولو چي عراق ته ولاړ شی او له امريکا نه وغواړی چي د عراق په څېر ايران ته هم ديموکراسی راولی!! دا د هغه خمينی لمسی دی چي امريکا ته به ئې شيطان بزرگ ويل، خو اوس ايرانی اصلاح طلبانو له همدی شيطان بزرگ سره هم د افغانستان په نيولو کي مرسته وکړه او هم د عراق په نيولو کي،

دوی شمالی ټلواله او شیعه ډلې دیته وهڅولې چې له امریکایانو سره د طالبانو او صدام حسین په ضد ملګری شي!!

o د امریکایي اساسي قانون مسوده، د امریکا د سفیر او نظامي حاکم له منظورۍ او د کرزي له امضاء وروسته نشر ته وسپارلی شوه، دا قانون هغه کمیسیون جوړ کړ چې امریکایانو غوره کړ، څو ذلیل د ژیرو او پګړیو خاوندان ئې هم پکی نیولی وو چې خلك پری وغولوي، مصارف ئې امریکایانو ورکول، دوی نه یوازې داسی مسوده جوړه کړه چې د اسلام او افغاني دود دستور خلاف ګڼ شمیر مادې پکی لیکل شوي، بلکی د نړۍ د ډېرو ارتجاعي هېوادونو تر اساسي قانون نه هم بې محتوی او د ټیټې مستوی دی، افغانانو د اسلام لپاره یو نیم ملیون شهیدان ورکړل خو اوس قانون ورته امریکایان جوړوي، پدې مسوده کې دا ندي لیکل شوي چې اسلامي شریعت به د ټولو قوانینو مأخذ او مرجع وي، د محاکمو پریکړې به د حنفي فقه سره سم ترسره کېږي، پښتو به ملي ژبه وي، د افغانستان د خاورې په هیڅ برخی کې تر هیڅ نامه لاندې بهرنی فوځونه نشي ځای په ځای کېدی، نظامي اډې او زندانونه نشي جوړولی، هیڅ افغان د محاکمې لپاره بل هېواد ته نشي سپارل کېدی، هیڅ بهرني هېواد ته دا حق نشي ورکول کېدی چې په افغانستان کې د راډیو او ټلویزیون په څېر نشراتي وسائل نصب کړي او د افغانانو د دین، مذهب او ملي کلتور خلاف نشرات وکړي، د شرابو تولید، تجارت او استعمال همغسی ممنوع دی لکه د هیروئینو، په افغانستان کې هیڅ حرامه او د اسلامي شریعت له مخې ناجائز تجارتي او اقتصادي راکړه ورکړه او معامله او د سود، احتکار، قمار، غدر، غلول، غصب، او نورو حرامو لارو نه تر لاسه شوې ملکیت او سرمایه مشروعیت نلري، افغانستان به د هیڅ داسی بین المللي اعلامیې، منشور، او قرارداد په وړاندې تعهد نکوي چې د اسلام خلاف او د

افغانانو د خپلواکی او ملی حاکمیت مغایر وی، مونږ د اسلامی امت جزء یو او په ټولو بین المللی پیښو او جریاناتو کي به د نورو اسلامی هېوادونو په څنګ کي ولاړ وو، ... دیته ورته نور هغه اساسی ټکی چي د یوه اسلامی هېواد په اساسی قانون کي باید مراعات شوی وی، یو هم پدې مسودی کي نشو موندلی. دا د امریکایانو په خوښه او امر جوړه شوی مسوده ده، هغه چي بي بي سي، امریکا غږ او راډیو آزادی ئې ستاینه کوی او ټول با ایمانه افغانان ئې په کلکه غندی او وایي: څوك چي د اسلام ضد کوم قانون ته رأی ورکړی، امضاء ئې کړی، او د هغه په اړه د التزام تعهد وکړی له شکه پرته د اسلام له دائری وتلی!! دا د سرلوړی او آزاد افغانستان اساسی قانون نه بلکی د امریکایانو د غلامی سند دی، په افغانستان د امریکایانو د واکمنی سند!! دا مسوده، زمونږ د ګاونډی هېواد ایران له اساسی قانون سره مقایسه کړی، هلته فارسی یواځنی رسمی ژبه او جعفری مذهب یواځنی رسمی مذهب ګڼل شوی، د ایران د اساسی قانون له مخې هیڅ غیر شیعه د دې هېواد جمهور رئیس نشی کېدی!!

o دروغجن جورج بش په یوې بلې خندوونکی وینا کي د عراق اوسنۍ امریکایي دیموکراسی په منځنی ختیځ کي د دیموکراتیك انقلاب پیلامه وګڼله!! ده وویل: مونږ شپیته کاله په منځنی ختیځ کي په استبداد سترګی پټی کړی!! دا سمه نده چي استقرار او ثبات د آزادۍ په بیه غوره وګڼو!! ده د سوریی او ایران نومونه یاد کړل، او دا هیله ئې څرګنده کړه چي ډېر ژر به دلته آزادی او دیموکراسی د اخبارونو سرخط وګرځی!! داسې معلومېږی چي بش د تهدید او تخویف سیاست د ایران او نورو هېوادونو په اړه مفید موندلی او د مطلوب او په زړه پورو نتائجو طمع ورنه لری، له دغو هېوادونو نه ئې د افغانستان او عراق په اړه او د اتمی وسائلو د عدم

تولید په ارتباط د گواښلو له سیاست نه هغه څه ترلاسه کړي چي غوښتل ئې! د ده د وینا ځینی برخی سعودی ته هم متوجه وی، که څه هم بش د دې وینا په سبا د سعودی ولی عهد ته د ارمیتاج په لاس دا پیغام ولېږو چي امریکا د سعودی د شاهی نظام ملاتړ کوی، خو داسی معلومېږی چي هغه له دی هېواد نه هم مزید غوښتنی لری، په هغه څه اکتفاء نکوی چي تر اوسه ئې کړی. که د امریکایانو دا دریځ د شمالی کوریا په وړاندی د دوی د دریځ په رڼا کي وڅېړو دی نتیجی ته رسېږو چي: د امریکایانو غوښتنی له هغو هېوادونو نه ورځ په ورځ زیاتېږی چي گواښونه ئې وویروی او د دې ویری په وجه تنازل وکړی او د امریکا شرائطو ته غاړه کېږدی، خو د هغو هېوادونو په وړاندی لـه غوښتنو نه په شا کېږی چي گواښونه ئې د ویرولو په ځای لا په خپل دریځ ټینگ کړی.

o امریکایان د عراق له لاس پوڅی حاکمی شوری ناراضه شوی، هغه ناکاره گڼی او وایي چي د کابل په څېر اداره جوړوی!! آیا د دې خبری په معنا پوهېږی؟ امریکایانو د عراق لـه شیعه ډلو نه دا طمع درلوده چي د افغانستان د شورای نظار او شیعه ډلو په څېر به د دوی تر قومندی لاندي لـه مخالفینو سره جنگېږی، لکه چي شورای نظار او افغاني شیعه ډلی په کندهار، کنړ، پکتیا، پکتیکا، زابل او ارزگان کي د پښتنو په ضد جنگوی، او په جگړو کي د دوی د برخی اخیستو په وجه د امریکایانو د مرگ ژوبلی مخه نیول کېږی، همدا کار باید د عراق شیعه ډلو کړی وی، د همدی لپاره دوی ته په زړه پوری برخه ورکړی شوه، خو دوی هوشیاری وکړه او دا کار ئې ونکړ، نو امریکایان به خود اوس په اقتدار کي د دوی برخه راکموی او هغه څوك به راوړاندی کوی چي د امریکایانو لپاره د عراقیانو په ضد په اخلاص وجنگېږی.

o امریکایانو وویل چي مونږ له افغانستان څخه نه وځو، کرزی او

عبدالله له مونږ نه غواړی چي دلته پاتی شو، افغان مجاهدين ورته وايي: کرزی او عبدالله خو تاسو له بون نه په خپلو طيارو کي راوستی، د همدی خبری د کولو لپاره مو راوستی، افغان ولس خو تاسو نه غواړی، له اشغالگرانو نه کرکه لری، آزادی او خپلواکی غواړی، که تاسو نه وئی نو مونږ خو دلته پيدا شوی يو او دلته به مرو، نه خپل هېواد پرديو ته پرېښودی شو، نه ايران او پاکستان ته تلی شو، مجبور ستاسو د ايستلو لاری به لټوو او هغه څه به کوو چي په وس کي مو وی، وبه گورو چي ستاسو خبره به رښتيا شی که زمونږ، تاسو به په افغانستان کي پاتی کېږی که مونږ!

o په افغانستان کي د هغو سيمو بې وسلی کول پيل شوی چي د ائتلافی ځواکونو په ضد ئې جهاد کړی، اشغالگران وايي چي له افغانانو سره اوس او د امريکايانو له راتلو وروسته وسله نه ښايي، وسله بايد د امريکايانو په لاس کي وی، وسله له غلامانو سره نه ښايي، وسله بايد د فاتحانو په واك کي وی!! امريکايانو نه يوازې خپل زلمی مسلح کړی او زمونږ هېواد ته ئې رالېږی بلکی پيغلی ئې هم مسلح کړی او د خپلو زلمو په څنگ کي ئې زمونږ په هېواد کي جنگوی، خو د افغانانو له زلمو بايد وسلی راغونډی شی او پيغلی ئې بربنډی شی، له زلمو سره وسله نه ښايي او له پيغلو سره ئې پړونی، دواړه بايد بې وسلی شی، يو د خپل عزت ساتلو له وسلی نه او بل د خپل عفت ساتلو له وسلی نه!! هغه څوك چي خپله وسله د دښمن په وړاندی ږدی هغه نه د آزادۍ او خپلواکۍ پروا کوی او نه د عزت او ناموس، ښځی ئې د ويدا صمدزۍ په څېر او نارينه ئې د داکتر عبدالله په څېر!! نردکه او نرښځوکی!!

o ملگرو ملتونو د افغانستان له شمال ختيځ ښار کندز څخه د بې وسلې کولو آزمېښتي چاره په داسې مهال کې پيل کړې چې د همدې

اداري چارواکي مني چي ښايي دغه کسان بيا وسلې واخلي . د ملګرو ملتونو يوه وياند د بي بي سي سيمه ايېز خبريال ته ويلي چي دا يو آزمېښتي پروګرام دی چي په شپږو ولايتونو کې به له ۲۰۰۰ کسانو وسلې ټولوي . د افغانستان له نژدې ۱۰۰ زرو وسله والو کسانو به په راتلونکو دريو کلونو کې وسلې ټولېږي.

o په کنړ کي د مولوی فقيرالله او د ده په ځېر د مجاهدو علماوو او شخصيتونو د نيولو او وژلو لپاره امريکايانو يو ځل بيا لوی عمليات پيل کړل، خو په همدی کنړ کي د مولوی غلام ربانی په کور او جومات ئې بمباری وکړه، اته کسان ئې ووژل، خو نه امريکايانو پدې بريد اعتراف وکړ او نه د مولوی غلام ربانی ډلی پدې وحشيانه بريد او وژنی اعتراض وکړ!! امريکا به خپل دا راز ملګری همداسی په پټه وژنی او د خپلو ځرګندو مخالفينو په ضد به همداسی ځرګند بريدونه کوی، دا به هم په خپل ټاکلی وخت مری او هغه بل هم، خو يو به د خدای د لاری شهيد وی او بل له دښمن سره د ناروا ملګرتيا قربانی!!

o امريکا د فساد مور ده، چي هرځای د دوی په ناولو ګامونو ککړه شی هلته به فساد، بې دينی، بداخلاقی، بې عدالتی، د ټولو انسانی ضوابطو ترپښو لاندي کول، د مفسدينو واکمنی، بې امنيتی، د بې وزلو په سر، مال او عزت تيری، د نايټ کلپونو، کابارو، فاحشه خانو پرانسته او ټول هغه څه چي شيطان ئې غواړی، له امريکايانو سره يو ځای دی هېواد ته لار پرانيزی. دا دی په افغانستان کي د دغو مفسدينو له راتلو وروسته، په تيرو دوو کلونو کي له همدغو شيطان خوښونکو کارونو نه پرته دوی بل هيڅ کار ندی کړی. څومره بې عقله او ناپوه دی هغه کسان چي له امريکايانو د خير طمع کوی!! له داسی يوه قوم نه به يو مسلمان څنګه د خير انتظار لری چي همجنس بازی "دا د فطرت ضد کرغيړن عمل"

جائز گڼی، د نړۍ تر بل هر هېواد نه زیاتی رسمی فاحشه خانی لری، د خپل مذهب خلاف سود، قمار، زنا، شراب روا گڼی، د انسان د وژلو د هر راز وسلو له تولید او استعمال نه دریغ نه کوی، له فلپین نه تر فلسطین پوری د مسلمانانو په ضد ټولو جگړو کي ملوث دی، هر ځای کي یا په خپل لاس مسلمانان وژنی یا ئې په خپلو وسلو.

o د بش د سفر په ضد په بریتانیا کي د دې هېواد په تاریخ کي ترټولو ستره مظاهره وشوه، مظاهره کوونکو بش قاتل او د جگړو عامل گڼلو، د ده په شکل کي لویه نانځکه ئې له جگ پوړی بنگلو نه لاندي واچوله، په امریکا کي هم په لکونو خلکو د بش د جنگ غوښتونکو سیاستونو په ضد مظاهری وکړی او له عراق او افغانستان نه د امریکایې فوځونو د ایستلو غوښتنه ئې کوله. پدې مظاهری کي د امریکا مخکنی لوی څارنوال رمزی کلارك وویل چي جورج بش په افغانستان او عراق یرغل سره ترټولو ستر بشری جنایت وکړ، د صلحی ضد جنایت، د صلحی په ضد جنایت تر هر جنایت ستر دی ځکه چي د نورو جنایتونو باعث گرځی، ده وویل چي ټول امریکایان باید د ده د لری کولو لپاره متحد شی، د ده د غلطو سیاستونو په وجه د نړۍ اکثر خلك حتی د استرالیا په څېر زمونږ متحدین هم له امریکایانو کرکه کوی.

o د امریکایې ځواکونو ویاند اعتراف وکړ چي په افغانستان کي د مجاهدینو لخوا په امریکایی ځواکونو باندي د بریدونو لړۍ دوام لری. د بگرام په هوایی اډه کي د امریکایی ځواکونو ویاند وویل: د روانی اونۍ د دوشنبی له ورځی راهیسی په پکتیا او ارزگان ولایتونو کي په امریکایی ځواکونو باندي توغندوئی بریدونو زیاتوالی موندلی او د مجاهدینو لخوا ورباندي درنی حملې ترسره کېږی چي له امله یې څلور امریکایی او یو شمیر حکومتی عسکر

ټپیان شویدی. نومورې ویاند په ډاگه اعتراف وکړ چي د هېواد په شرقی، جنوب شرقی او جنوب غربی ولایتونو کي په پرله پسی توگه امریکایی ځواکونه تر بریدونو لاندي راغلی. ویاند زیاته کړه په امریکایی ځواکونو باندي د بریدونو زیاتوالی د امریکایی ځواکونو د اندیښنی سبب گرځیدلی دی.

o د عقرب په دولسمه د آزادی امریکایي راډیو وویل چي د روان عیسوی کال د اگست میاشتی راپدیخوا د بیلابیلو بریدونو، نښتو او چاودنو په لړ کي څه ناڅه ۴۰۰ تنه فوځی کسان وژل شویدی، د آزادی راډیو د یوه رپوټ په اساس د هغی سروی له مخې چي د افغانستان په بیلابیلو سیمو کي ترسره شوی ۴۰۰ تنه بهرنی او کورنی فوځیان وژل شوی، په وژل شوو کي امریکایی عسکر، افغاني عسکر، افغاني پولیس، د بهرنیو مرستندویه ټولنو داخلی او خارجی کارکوونکی او مخالف جنگیالی شامل دی. په رپوټ کي ویل شوی چي په سلگونو نظامی او ملکی کسان ټپیان شوی هم دی چي د دقیق شمیر په هکله یی کوم رپوټ نه دی خپور شوی . دا مرگ ژوبله د امریکایی او اتحادی ځواکونو او شکمنو مجاهدینو او طالبانو ترمنځ د نښتو په ترڅ کي او همدا راز د بمی چاودنو او نورو حملو په لړ کي شوی دی. د آزادی راډیو رپوټ له مخې امریکایی او افغاني چارواکو د دغو وژنو په اړه هیڅ ندی ویلی او کومه رسمی اعلامیه ئې نه ده خپره کړې.

o د عقرب په اوله په هرات کي د انجنیری پوهنځی محصلینو د سی ایچ ای مؤسسی د تصرفاتو او د پوهنځی له وسائلو نه په شخصی چارو کي د استفادی په ضد مظاهره وکړه، د هرات امنیتی چارواکو د دغو محصلینو تر څلویښتو زیات ونیول او څلور ئې

سخت ژوبل کړل. د افغاني امریکایانو لدغو وحشیانه تصرفاتو نه پدې پوهیدی شو چې امریکا مونږ ته څه ډول دیموکراسی غواړی!

o مولوی صاحب خالص وویل: په افغانستان کې جهاد فرض عین گرځیدلی دی او هېواد عملاً اجنبی او کفری ځواکونو اشغال کړیدی، دا صلیبی جنگ دی چې په افغانستان کې پیل شویدی. دا هغه فتوا او څرګندونی دی چې د افغانستان د حزب اسلامی مشر، جهادی شخصیت او نامتو دینی عالم مولوی محمدیونس خالص الجزیره شبکی ته پخپل غږ یو استول شوی‌کیسټ کې کړی دی. د مولوی محمدیونس خالص خبری په کیسټ کې د هغه د ځوی لخوا په جگ اواز تکرارېږی، نوموړی په خپله فتوا کې ویلی‌چې زه د خدای په نزد خپل دینی مسئوولیت تر سره کوم او په ډاگه وایم چې په افغانستان باندې بهرنی‌ځواکونه مسلط شویدی او د هغوی په وړاندی جهاد فرض دی، په هر افغان او مسلمان باندې جهاد فرض عین گرځیدلی دی او په دی اړه زه خپله غاړه خلاصوم. مولوی خالص د افغانستان له نورو علماوو څخه هم غوښتی چې په دی برخه کې خپل دینی مسئولیتونه رفع او د جهاد فتوا صادره کړی.

o په یوې اونی‌ کې دری امریکایان په قتل ورسېدل، دوه د CIA غړی چې په پکتیکا کې ووژل شوو او دریم ئې د خاصو ځواکونو یو عسکر چې په هلمند کې د مجاهدینو په برید کې ژوبل او وروسته له خپلو ټپونو مړ شو، د امریکایانو د مړو او ژوبلو شمیر ډېر زیات دی خو امریکایان ورباندې اعتراف نه کوی، دوی یوازې په هغو تلفاتو اعتراف کوی چې پټول ئې ورته ممکن نه وی.

o د امریکایي حکومت مشر د امریکا فوځي قوماندانانو ته وویل چې له امریکایي ځواکونو سره ملگری افغاني ځواکونه د افغانستان

کلیوال ځوروي۰ د ده ویندوی جاوید لودین وویل ; دغو ځواکونو د زابل ولایت د دای چوپان په ولسوالۍ کې هم دا ډول اعمال ترسره کړي دي.

o افغانستان ته د ملګرو ملتونو د امنیت شورې له لوري لېږل شوی پلاوی وویل: په دغه هېواد کې امنیت د یوې سترې ستونزې په توګه پاتې دی.

o په ملګرو ملتو کې د سوله ساتنې تر ټولو جګپوړي چارواکي، ژان ماري ګوینو، ګواښنه کړې چې په افغانستان کې امنیت لګیا دی خرابېږي. ګوینو د ملګرو ملتو امنیت شورا ته وویل چې د نا امنۍ لویه سرچینه هغه بریدونه دي چې القاعده، طالبان او نور افغان جنګیالي یې تر سره کوي.

o امریکایانو نوی ځواکونه افغانستان ته راولېږل، ۲۵۰ نوی عسکر لېږل شوی، وجه ئې دا ده چې مقاومت ورځ په ورځ تشدید او لمن ئې له یوې سیمې بلې ته خورېږي، راتلونکی انتخابات او لویه جرګه هم له هغو مسایلو څخه دی چې امریکا ئې د نورو فوځونو لېږلو ته اړ کړی، خو د نورو فوځونو لېږل به د دوی تلفات لا زیات کړي

o په افغانستان کې د امریکایانو جنګی مصارف هره میاشت یو ملیاره ډالره دی، د یرغل په لومړیو شپږو میاشتو کې دوی ۳۷ ملیارد ډالره مصرف کړل، په عراق کې د دوی جنګی مصارف هره میاشت ۴،۴ ملیارده ده، دا په داسی حال کې چې په افغانستان کې د دوی د فوځ شمیر ۱۲۰۰۰ او په عراق کې ۱۳۲۰۰۰ یعنی د افغانستان په پرتله ۹ چنده زیات، باید مصارف هم ۹ برابره وی، خو اوس فقط څلور برابره دی، وجه ئې د افغانستان سخت جغرافیائی شرائط، غرونه او د لارو نشتوالی دی، دوی ته د افغانستان جګړه په ګرانه بیه تمامېږی، مخصوصاً که شمیر زیات کړی او جګړه طولانی شی، وروستیو څېړنو ښودلی چې په عراق کې

د امریکایانو هره میاشت مرگ ژوبله په ویتنام کي د دوی د مرگ ژوبلی حد ته رسېدلی.دا حالت د اوږدی مودی لپاره نشی زغملی.

o ملگرو ملتو نو د افغانستان د جنوب غرب په ولایتونو کي خپل فعالیتونه درولی دی. د فعالیتونو د درولو او د هېواد له جنوب غربی سیمو څخه د خپلوکارکوونکو د ایستلو لامل د مجاهدینو د مخ په زیاتی بریدونه دی.

د عقرب د میاشتی ځینی نظامی عملیات

## پکتیکا، خوست، پکتیا او غزنی:

• د عقرب په اوله د خوست په ولایت کي د امریکایی عسکرو په فوځی اډه یو توغندی ولگیدو. د رویتر د خبری آژانس د رپوټ په اساس دغه توغندی د مستربل سیمی له سمت څخه په اډه باندي داغل شویدی، په دی برید کي د امریکایی عسکرو د ځانی تاوان په اړه څه ندی ویل شوی خو د امریکایانو د دوو فوځی موټرو له منځه تلل تائید شوی.

• د زرمت د ولسوالۍ په مرکزی دفتر کي د هغی چاودنی له امله چي د عقرب په لومړی شپه رامنځ ته شوه د ولسوالۍ دفترونه ډېر سخت زیانمن شوي. چارواکو د اوښتی مرگ ژوبلی په اړه له څه ویلو انکار وکړ. چارواکو د چاودنی په اړه له زیاتو جزئیاتو ویلونه ډډه وکړه خو زیاته کړی یی ده چي برید کوونکی په پټه ولسوالۍ ته ننوتی او دغه کار ئې ترسره کړی دی.

• د عفرب په دوهمه د خوست هوایی اډه چي اوس د امریکایی ځواکونو په مرکز بدله شویده تر توغندویی بریدونو لاندي راغله. نامعلومو وسله والو په همدی شپی په ۲ بجو، شیبه په شیبه د خوست په هوایی ډگر ۴ توغندی وورول چي په اډه کي دننه ولگیدل،

د دغه برید له امله د احتمالی مرگ ژوبلی په اړه اطلاعات نه دی تر لاسه شوی، چارواکو د دغه برید پړه په مجاهدینو اچولی ده. همداراز د خوست نوی اډې ته مخامخ په قبائیلی سیمه کي ناپیژاندو وسله والو د ډبکی په پوستی برید وکړ چې په نتیجه کي د دواړو خواوو ترمنځ سخته نښته وشوه، په دی نښتی کي ۷ حکومتی عسکر مړه او ۱۱ نور سخت ټپیان شول. حمله کوونکی د شپی له تیاری نه په استفادی سره د پیښی له ځایه روغ رمټ خپلو مورچو ته په ستنیدو بریالی شوی. بریدکوونکو ته کومه مرگ ژوبله نه ده اوښتی.

• د عقرب په ۳ په غلگی کي د ائتلافی ځواکونو گاډی په ماین وچاودو، پدې چاودنی کي گاډی تخریب او د امریکایانو یو افغان عسکر مړ او دری ژوبل شوو.

• د عقرب په پنځمه یو ځل بیا د امریکایانو فوځی اډه او د خوست هوایي ډگر دناپیژاندو وسله والو تر راکټی برید لاندې راغی. که څه هم د دغه فوځی مرکز ویاند د برید له امله د هر ډول مرگ ژوبلی له رامنځ ته کېدو څخه انکار وکړ خو عینی شاهدان وایی چي له برید وروسته د امبولانسونو اوازونه واوریدل شول او یو شمیر امریکایی او اتحادی فوځیان په سخت ټپی حالت کي روغتون ته د لېږدولو په حال کي ولیدل شول.

• د عقرب په ۲ د خوست په نوی هوایی ډگر کي د امریکایی فوځ په مرکز ۴ توغندی وورېدل. د دغه توغندویی برید له امله د احتمالی مرگ ژوبلی په اړه رپوټونه نه دی خپاره شوی. همدا راز په ژوره کي د امریکایانو په راډیو ستیشن چي د افغاني امریکایانو لخوا ساتل کېږی د راکټونو حمله وشوه، نښته تر نیم ساعت پوری روانه او د دواړو خواوو ترمنځ درنی ډزی تبادله کېدی، د احتمالی مرگ ژوبلی اطلاعات نه دی

ترلاسه شوی.

• د عقرب په اتمه په خوست کې د امریکایي فوځیانو اډه د ناپیژاندو وسله والو تر بریدلاندې راغله. وسله والو د سپکو او درنو وسلو ډزی وکړې، د دغو ډزو له امله دوه امریکایی عسکر سخت ژوبل او یو فوځی ټانك تخریب او له منځه یووړل شو.

• د عقرب په لسمه په غلام خان کې د امریکایانو په فوځی مرکز د برید په ترځ کې دغه مرکز ته کافی تاوان اوښتی خو د مرگ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دی تر لاسه شوی.

• د عقرب په یولسمه په خوست کې د امریکایی ځواکونو په مرکز باندې راکټی حمله وشوه،او دوه ځله ځلور راکټونه وربانديې ووړول شول. دښمن په برید اعتراف کړی خو د مرگ ژوبلې په اړه ئې څه ندی ویلی.

• د عقرب په څوارلسمه د خوست په هوایي ډگر ۳ توغندی وورېدل، یو توغندی اډې ته نږدی او ۲ نور د هوایي ډگر په دننه کې ولگېدل.

• د عقرب په ۲۰ په خوست کې د امریکایی عسکرو په اډه باندې توغندویی بریدونه ترسره شول. د فرانسپرس خبری آژانس هم خبر ورکړ چې ناپیژاندو وسله والو د خوست په زاړه هوایی ډگر باندې ۸ توغندی وورول. د برید سره سم د اډې په دننه کې د امبولانسونو غږونه واورېدل شول او د خوست فوځی روغتون ته یې حرکت پیل کړ.

• د عقرب په ۲۱ د خوست پر زاړه هوایی ډگر چیرته چې د امریکایی ځواکونو اډه ده، راکټی برید وشو.

• د عقرب په یولسمه ناپیژاندو وسله والو په گردیز کې د امریکایی ځواکونو په اډه باندې ۵ راکټونه وداغل، ځائی او

امریکایی چارواکو د دغه راکټي برید له امله د وژل شوو او ټپي شوو کسانو په اړه له څه ویلو انکار وکړ خو په برید ئې اعتراف وکړ.

• د آلمان راډیو د عقرب په دولسمه وویل: د هغې نښتې له امله چې د پکیتا په ولایت کې د بغاوت کوونکو حکومتي عسکرو او امریکایي عسکرو ترمنځ رامنځ ته شوه ۴ تنه حکومتي عسکر سخت ټپیان شول. د آلمان راډیو د رپوټ په اساس د بگرام په هوایي اډه کې د امریکایي ځواکونو ویاند وویل دغې نښتې یو ساعت دوام درلود ، د رپوټ له مخې دغه نښته د تیرې شنبې په ورځ رامنځ ته شوه، کله چې د امریکایي ځواکونو له ویاند څخه پوښتنه وشوه چې دغه خبر په خپل وخت ولې خپور نشو ویاند د جزئیاتو له څرگندولو څخه انکار وکړ.

• د عقرب په څوارلسمه د پکتیکا د سرحوزي په ولسوالۍ کې د یوه برید په ترځ کې د تیلو دوه ټانکرې تخریب شوې. کاروان ائتلافي ځواکونو ته د سون مواد انتقالول. وسلوالو ډریوران له دوو گاډو څخه کوز کړل او وروسته یې دغه موټرې په توغندیو وویشتلې. د مرگ ژوبلې په اړه کوم رپوټ ندی ورکړ شوی.

• د عقرب په اولسمه په نادرشاه کوټ کښې د ائتلافي ځواکونو په قافلې نامعلومو حمله کوونکو د وړو وسلو ډزې وکړې، د ځاني یا مالي نقصان تفصیل معلوم نه شو. بله خوا د خوست په هوایي ډگر هم گڼ میزائیلونه وداغل شوو، اتحادي فوځیانو په سیمې کې د مجاهدینو په ضد عملیات شروع کړې وو، خو د حمله کوونکو په موندلو ندي کامیاب شوي. بله خوا عیني شاهدانو ویلې دي چې په ارگون کې په موجود اتحادي فوځي اډې نامعلومو کسانو د نږدې غرونو نه د میزائیلونو او راکټو حمله وکړه چې ورسره د اډې دننه

زوروری چاودنی وشوی، په اډې کې ولاړو دریو هیلیکوپټرو ته هم تاوان رسېدلی، د میزائیلونو لګیدو سره په اډې کې دوه پخی مورچې هم تباه شوی. کېدی شی چې دی مورچو کښې امریکایی فوځیان هم مړه او ټپیان شوی وی

• د عقرب په اولسمه ناپیژاندو ووسله والو د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ کې په یوه فوځی کاروان بریدوکړ چې له امله یی ۲ تنه حکومتی عسکر مړه او ۴ نور سخت ټپیان شول. له پیښی سمدستی وروسته امریکایی الوتکو الوتنی وکړې او روښنایی لرونکی ګولی یی خوشی کړې تر څو په بریدکوونکو بمباری وکړی خو بریالی نشول.

• د روژی په دوهمه د امریکا د استخباراتو مرکزی اداری په ډاګه کړه هغه دوه تنه چې د دغی اداری لپاره په کار ګمارل شوی وو، په افغانستان کې وژل شوی دی. د اسوشیتدپرس د رپوټ په اساس په یوه خپری شوی وینا کې دغی اداری ویلی دی دا دواړه جاسوسان د پکتیکا په ولایت کې د ترهګرو په موندلو بوخت وو. سی آی ای ویلی دغه دوه تنه د تیری شنبی په ورځ په یوه کمین کې وژل شویدی. دوی د سی آی ای د اوپراسیون د لوی ریاست لپاره کار کاوو چې پټ عملیات او د استخباراتی معلوماتو ټولول یی دنده ده. سی آی ای وایی دا دوه کسان د شکین په سیمه کې په کار بوخت وو. د سی آی ای عمومی مشر جارج تنت دغه دواړه وژل شوی کسان وستایل، هغه زیاته کړه چې د دوی سرښندنه به امریکایان هیڅکله هیره نکړی. خو مجاهدین ورته وایي: لږ نور هم صبر وکړی انشاءالله د داسی جاسوسو سرښیندونکو ډېر نور تابوتونه به درشی، د هغوی د ستاینی لپاره هم څه الفاظ پر ېږدی!!

• د عقرب په ۲ په پکتیکا کې د مجاهدینو او امریکایی عسکرو تر

منځ په نښته کې لږ تر لږه د ۲ امریکایی عسکرو په شمول ۱۱ تنه حکومتی عسکر ووژل شول. د ارنا خبری آژانس هم په خپل رپوټ کې وویل چې دا نښته پرون د پکتیکا ولایت په گومل کې هغه مهال وشوه چې د افغان حکومتی او امریکایی گډو ځواکونو چې د امریکا د جنگی الوتکو او فوځی ټانکونو په ملاتړ سره په دی سیمه کې د گزمی په حال کې وو د جنگیالیو لخوا ورباندي ناڅاپی برید وشو، په رپوټ کې ویل شوی چې په دی نښته کې د وژل شوو امریکایی عسکرو شمیر تر ښودل شوی شمیرډېر زیات دی.

• د عقرب په اتمه د پکتیکا په ولایت کې وسله والو کسانو د امریکایانو پر کاروان برید وکړ چې په نتیجه کې ۳۴ تنه ووژل شول، په دغه حمله کې یو شمیر ټپیان شوی هم دی، همدا رنگه دغلته دامریکایانو پر یوه اډه چې په شکین کې واقع ده په یوه حمله کې هم ۷ کسه مړه او ټپیان شوی دی.

• د عقرب په ۲۳ په بگرام کې د امریکایی قواوو ویاند وویل چې په پکتیکا ولایت کې د دوی د ځواکونو مرکز ته نږدی دوه توغندی لگیدلی دی خو د سر او مال کوم زیان یی نه دی اړولی!!

• د روژی په لومړۍ ورځ د پکتیکا په خنډ کې په امریکایي کاروان برید وشو، د راپورونو له مخی پدې برید کې دولس افغاني امریکایان مړه او اته عسکری گاډی تخریب شوو، په ځواب کې د دښمن طیارو په سیمی باندي بمباری وکړی، دښمن یوازې په دریو مړو اعتراف وکړ.

• د روژی په دریمه امریکایي چارواکو اعتراف وکړ چې په پکتیکا کې د دوی په کاروان د برید په نتیجه کې د دوی دري عسکر ژوبل شوو، نښته دوه گنټی روانه وه، په پای کې هوایي ځواکونه مرستی ته وروړسېدل او برید کونکی له صحنی ولاړل.

• د عقرب په **۲۵** په خوست کې د صحرا باغ امریکایي اډې سره د مجاهدینو او ائتلافی ځواکونو درنه نښته وشوه، نښته یو ساعت روانه وه، دواړو خواوو له سپکو او درنو وسلو استفاده وکړه، له نښتی وروسته څو هلیکوپتر په اډې کې کښېنستی او ویل کېږی چې د مړو او ټپیانو د انتقال لپاره راغلی وی

کنړ او ننګرهار

• په کنړ کې په دښمن پرله پسی او مؤثر عملیات ترسره شوی، او دښمن ته ئې درانه تلفات اړولی، د دغو عملیاتو د مخنیوی لپاره، په **۲۰۰۳۱۱۱۱۷**ائتلافی ځواکونو د امریکایانو تر قومندی لاندي او د افغاني امریکایانو په ګډون د کنړ په لوری عملیات پیل کړل، نږدی څلور سوه ګاډو کي دا ځواکونه کنړ ته داخل شول، او د هوايي ځواکونو تر چتر لاندي ئې عملیات پیل کړل، د اسعدآباد شا او خوا، پیچ او د نورستان ډېرو برخو کي ئې په شکمنو ځایونو بمباری وکړی، په نیشه ګام کي د دوی په قطار د شپی لخوا ناڅاپی برید وشو چي ډېره مرګ ژوبله ورواوښته، په اسمار کي د دوی د غونډېدو په ځای توغندوئی برید وشو، په **۲۰۰۳۱۱۱۱۴** د پیچ په کنډه ګل کي د دوی یو ګاډی په ریموټ کنټرول بم والوت چي اته کسان پکی مړه او ژوبل شوو، په ماڼوګی کي په **۲۰۰۳۱۱۱۱۵** د دوی بل ګاډی په ریموټ کنټرول منفجر شو چي اوه کسان پکی مړه شوو، په پیچ کي د افغاني امریکایانو ګاډی په ریموټ کنټرول تخریب او څلور پکی ووژل شوو، په دانګام کي د امریکایانو یو ګاډی په ریموټ کنټرول بم تخریب او دوه امریکایان پکی ژوبل شوو. دا قوه تر کانتیوا او برګمټال پورې رسېدلی خو ځای ځای وربانديي عملیات کېږی، او ګاډی ئې په بمونو الوزول کېږی، د شیګل د غرونو په سر د دوی یوه

هلیکوپتر نسکور او ټولي سورلی ئې ووژل شوی. د دې اعلامیې د لیکلو په ورځ ۱۳۸۲۱۹۱۲ د دوی په یوې هلیکوپتري ډزی وشوی چې مرمی وربانديې ولگیدی او بگرام ته له رسېدو مخکې نسکوره شوه، پنځه امریکایان پکی مړه او اوه نور سخت ژوبل شوو.

• د عقرب په لومړۍ ورځ ورځپاڼو د جلال آباد په ښار کې د هغو پرله پسی دوو چاودنو خبر خپور کړ چې یوه ورځ د مخه ئې د جلال آباد ښار ولړزاوو، دغه چاودنی د دولتی ودانیو مخی ته په رڼا ورځ ترسره شویدی خوکومه مرگ ژوبله یې له ځانه سره نه درلوده. دغه چاودنی پرون ترغرمی د مخه د ۱۱ بجو او ۳۰ دقیقو په شاوخوا کې د مخابراتو د ریاست او د بریښنا ریاست ترڅنگ شویدی، د عینی شاهدانو په وینا د چاودنو غړونه ډېر درانه وو خو کوم ځانی تاوان یې نه دی رامنځ ته کړی.

• د عقرب په دریمه ناپېژاندو وسله والو د ننگرهار ولایت د چپرهار په ولسوالۍ توغندویی برید ترسره کړ. د انتقالی حکومت د دفاع وزارت یوې منبع وویل: تیره شپه ناپېژانده وسله والو د چپرهار ولسوالۍ په مرکز ۲ توغندی وداغل چې له امله یې ولسوالۍ ته مالی زیان واوښت خو مرگ ژوبله یې نه ده لرلی. منبع د برید په اړه د زیاتو جزئیاتو له ورکولو څخه ډډه وکړه.

• د عقرب په اومه په جلال آباد کې د ملگروملتونو د ځایی اداری میلمستون ته څېرمه بمی چاودنه وشوه، د رویټر د رپوټ په اساس دغی چاودنی که څه هم زیات مالی تاوان اړولی، خو کوم ځانی تاوان یې له ځان سره نه درلود. د دغه رپوت په اساس د چاودنی ځای ته څېرمه د ماین پاکونی یوې مؤسسې ودانی هم پرته ده. د اونۍ په پیل کې په دغه ښار کې ورته دوه نوری چاودنی هم شوی وی خو ځانی

تلفات یې نه دلودو او د ننگرهار ولایت چارواکو ویلی چې تر اوسه د دغو چاودنو په تور څوك نیولی شوی نه دی.

• د عقرب په لسمه د جلال آباد په ښار کې د ملگروملتو د کارکوونکو د هستوگنی په ودانی راکټی حمله وشوه او په همدی ورځ د جلال آباد په هوایي ډگر کې د امریکایانو په اډې څلور توغندی پریوتل.

• د عقرب په یولسمه د حصار شاهی پر ولسوالۍ ناپیژاندو مجاهدینو حمله وکړه، ډزی دوه ساعته روانی وی، د مرگ ژوبلی په اړه معلومات ندی ترلاسه شوی.

• د عقرب په ۱۳ د جلال آباد په هوایی ډگر کې د امریکایي یرغلگرو په مرکز یو توغندی ولگیدو، راډیو آزادی وویل چې د توغندی د لگیدو له امله چاته مرگ ژوبله نده اوښتی او معلومه نده چې توغندی له کوم استقامت څخه او د چا لخوا توغول شوی دی، وړمه ورځ هم په ننگرهار کې څو توغندی لگیدلی وو چې تلفات یی نه درلودل.

• د عقرب په ۱۷د ډکی په فوځی قرارگاه میزائلی برید وشو، د کابل د امریکایي حکومت د سرحدی قواوو دغه قرارگاه د نامعلومو مجاهدینو لخوا تر راکټی برید لاندې راغله. د جلال آباد چارواکو ویلی چې دوه میزائیلونه زمونږ په فوځی قرارگاه لگیدلی دی خو د سرا و مال کوم زیان ئې نه دی رسولی.

• د عقرب په ۱۱ د کنړ ولایت د وټه پور مجاهدینو له ولسوالۍ نه د امریکایانو ملگری چارواکی وشړل، او ولسوالۍ د حکومت د مخالفو وسله والو لخوا ونیول شوه. د رپوټونو په اساس د حکومت مخالفو وسله والو د کنړ ولایت مرکز اسعدآباد ته نږدی په وټه پور

ولسوالۍ برید وکړ او دغه ولسوالۍ یی پرته لـه کوم مقاومت څخه ونیوله او شپاړس ساعته یی په خپل واك کي ساتلی وه چي وروسته یی په خپله بیرته پرېښوده.

• د عقرب په ۱۷په اسعدآباد کي په امریکایي یرغلګرو برید وشو، د امریکایی ځواکونو ویاند وویل چي د امریکا په مشری ائتلافی ځواکونه د افغانستان په ختیځ سرحدی ولایت کنړ کي لـه ناپیژاندو وسله والو سره په نښته کي ښکېل شول، ائتلافی ځواکونو د هوایي ځواکونو د مرستی غوښتنه وکړه. په بګرام کي د ائتلافی ځواکونو په مرکز کي د خپری شوی اعلامیی له مخی ویل شوی چي تیره شپه ناوخته مهال د کنړ ولایت مرکز اسعدآباد کي د امریکایی عسکرو اډې ته نږدی ۳ توغندی ولګیدل او وروسته د سپکو وسلو ډزی پیل شوی، جګړن رولف مارینا وویل: امریکایی عسکرو د توپونو اوسپکو وسلو په متقابله ډزو جواب ووایه او بریدکوونکی یی په شاتمبولی دی، په دغی نښته کي دواړو خوا و ته د اوښتی احتمالی مرګ ژوبلی په اړه څه نه دی ویل شوی. امریکایی او حکومتی چارواکو د دغه برید پړه د تل په څېرپه طالبانو او د حزب اسلامی په جنګیالیو اچولی ده

• د عقرب په ۲۴د کنړ والی سیدفضل اکبر خبریالانو سره په خپلو خبرو کي وویل چي په دغه ولایت کي په ماین باندي د امریکایی ګاډی د ورختلو لـه امله ۱۰ تنه اتحادی او امریکایی عسکر وژل شویدی، د سیدفضل اکبر په وینا دغه پیښه د کنړ ولایت په فامیلیو سیمه کي د امریکا فوځی اډې ته نږدی رامنځ ته شوه او زیاته یی کړه چي د امریکایانو موټر په یوې نوی ښخ شوی ماین باندي ورختلی دی، فضل اکبر یوې خبری غونډی ته د وینا په مهال وویل چي په دی

پیښنه کي ۳ امریکایي عسکر وژل شوي او د سپرلی موټر يې په بشپړه توګه تباه شوی دی. د کنړ والي د دغی حملې تور په مجاهدینو اچولی دی. امریکایانو یوازې د یوه امریکایي عسکر په وژل کېدو اعتراف وکړ، د دوی له دغو درواغو نه په څرګنده معلومېږی چي هغوی تل د خپلو مړو شمیر یا کم ښیی، یا اصلاً وربانديي پټه خوله پاتي کېږي. دوی یوازې په هغه مرګ ژوبلې ناچار اعتراف کوی چي پټولی ئې نشی!!

• په نورستان کې د پولیسو یوه چارواکی وویل چي په یوه کلي کې د هوایي برید په لړ کي اته غیر فوځي کسان وژل شوي دي، امریکایانو تر اوسه د دې برید په هکله هیڅ ندی ویلی، دا پداسې حال کي چي مولوی رباني له برید نه وروسته وویل چي زمونږ ډله خو د انتقالی حکومت او ائتلافی ځوکونو ملاتړ کوی دا ولې دوی زما په کور او جومات بمباری وکړه او اته کسان ئې ووژل؟!

• په ۲۰۰۳۱۱۱۱۷ د کنړ په ولایت کي د امریکایي عسکرو په اډو باندې درې توغندي پریوتل.

• د امریکایي یرغلګرو ځواکونو ویاند وویل چي د روژی په ۲۴ په اسعد آباد کي د امریکایانو په اډې پنځه توغندی پریوتل، ده وویل چي زیان ئې ندی اړولی، او زمونږ عملیات روان دی.

• د روژی په ۱۷ په اسعد آباد کي د امریکایانو اډې خوا ته د دوی د یوه کاروان په څنګ کي ریموټ کنټرول چاودنه وشوه، څلور مړه او دری ژوبل شوو. دا چاودنه له اډې نه یوازې یو کیلومتر لیري وشوه.

• د روژی په ۱۹ د امریکایي یرغلګرو ځواکونو ویاند وویل چي د دوی د کاروان په څنګ کي د یوې چاودنی په ترځ کي د دوی د خاصو ځواکونو یو عسکر ووژل شو، خو د کنړ والی وویل چي پدې چاودنی کي

لس کسان وژل شوی چي دری ئې امریکایان وو.
کندهار، هلمند، زابل او ارزگان

• د عقرب په لسمه د زابل په ولایت کي ۴ تنه حکومتی کارکوونکی د ناپیژاندو وسله والو لخوا وتښتول شول، د آزادی امریکایي راډیو ته د زابل ولایت یوه نظامی افسر وویل چي تیره شپه وسله والو مجاهدینو په دی ولایت باندي د برید په ترځ کي د دې ولایت ۴ تنه حکومتی کارکوونکی اختطاف اوله ځانه سره بوتلل.

• د عقرب په ۱۲ د زابل ولایت په خاك افغان ولسوالۍ کي د ښتو له امله نږدی ۹ کسان ژوبل او وژل شوی. حکومتی چارواکو ویلی چي بریدکوونکو د ولسوالۍ مقر ته اور اچولی، خو د ولسوالۍ چارواکو یوازې د یوه حکومتی عسکر د وژل کېدو او د یوه بل په ټپی کېدو اعتراف کړی دی. دا حمله د شپی په یوه بجه پیل او تر سهاره یی دوام درلود، رپوټونه وایی چي د برید کوونکو د لاسی بمونو له امله د ولسوالۍ دفتر اور واخیست او یو موټر په کي وسوځید، د رپوټونو له مخی په سیمه کي وضعه بحرانی ده او تازه دم حکومتی ځواکونه د خاك افغان ولسوالۍ ته رسېدلی دی.

• د عقرب په ۲۰ د قلات چارواکو په خپلو راډیوئی مرکو کي ومنله چي د زابل ولایت اوه ولسوالۍ د سرکاری واکمنو له لاسه وتلی دی او اوس په دغو ولسوالیو کي د امریکایي حکومت هیڅ کنترول نشته او د مخالفینو په واك کي دی. دا خبره د زابل ولایت نائب والی مولوی محمدعمر کړې ده. ده په خپلې مرکی کي و ویل چي په شاه جوی، دای چوپان، خاك افغان، ادی غره، نوبهار، شینکی او شملزو د افغان حکومت کنټرول نشته، مجاهدین پدې ولسوالیو کي گرځی راگرځی او سرکاری فوځ سره دومره وسایل نشته چي دی ولسوالیو

ته لاړ شی .

• د عقرب په ١١د ارزگان په ولایت کې مجاهدینو په دوه فوځی گاډو ناڅاپی حمله وکړه، دوه حکومتی عسکرئی ووژل او یوشمیر نور یی ټپیان کړل. د فرانسپرس خبری آژانس د رپوټ په اساس له پیښی وروسته تازه دم فوځونه د پیښی ځای ته ورسېدل او د حمله کوونکو مجاهدینو د نیولوهڅه یی وکړه خو دغه هڅی له ناکامی سره مخ شوی.

• د عقرب په ٢٠ مازیگر ناوخته قندهار کښی د یونما د دفتر مخې ته یوه درنه موټری چاودنه وشوه. دغه موټر د افغانستان لپاره د ملگروملتو د مرستو د دفتر مخی ته په سیمه ایز وخت مازیگر ناوخته څلور بجی او اووه دقیقی وچاودو او د یو نما دفتر ته ئې کافی نقصان ورسولو.

• د کندهار او سپین بولدك تر منځ په لویه لاره هغه وخت یو رومانیایی عسکر ووژل شو کله چې د رومانیی د عسکرو د فوځی موټرو کاروان د ناپیژاند وسله وال تر ډزو لاندې راغی، د رومانیایی ائتلافی ځواکونو پنځه زغره وال موټرونه له سپین بولدك څخه د کندهار په لور روان وو، د څه ستونزو له امله دغه کاروان په تور کوتل کې توقف وکړ چې یو یونیفارم لرونکی شخص په هغوی ډزی وکړی او له دغو عسکرو څخه یی یو وواژه او بل یی ټپی کړ، د متقابلو ډزو په نتیجه کې بریدکوونکی هم ووژل شو، د بریدکوونکی هویت نه دی پیژندل شوی.

• په ٢٠٠٣١١٠١٢٢ د اټغر په ولسوالۍ کې ځمکنی او هوایې عملیات او نښتی وشوی، محلی چارواکو وویل چې پدې عملیاتو کې ١٠٠ افغاني او ١٠٠٠ ائتلافی ځواکونو برخه درلوده، خو هیڅ

ئې ترلاسه نکړی شو ، سیمه اوس هم د مجاهدینو په واك کې ده

• په اورزګان کې د څو تنه وسله والو کسانو سره په یوه نښته کې د امریکې د ځانګړو ځواکونو یو عسکر ووژل شو. ارزګان د هغو څلورو ولایتونو څخه یو دی چې ملګرو ملتونو ورته د خپلو مامورینو د سړک د لارې لیږل ځنډولي دي.

• د روژی په **۵** په هلمند کې د دوو دولتی قومندانانو تر منځ د نښتی په ترڅ کې **۴۵** کسان وژل شوی، په همدغه ورځ په شمال کې هم د دوو امریکا پلوه قومندانانو ترمنځ په تازه نښتو کې پنځوس کسان ووژل شوو، داسی معلومیږی چې اوس د افغاني امریکایانو ترمنځ نښتی له شمال نه د جنوب او نورو سیمو ته هم په خوریدو دی.

• په شنبه ۲۰۰۳۱۱۱۱۸ په زابل کې د یوې نښتی په ترڅ کې اته افغاني امریکایان ووژل شوو. د روژی په ۱۹ په کندهار کې د امریکایانو په اډې کې دوی چاودنی وشوی.

• د عقرب په ۲۹ په سنګین کې له ائتلافی ځواکونو سره په نښتی کې پنځه مړه او ګڼ شمیر ژوبل شوو. په همدی ورځ د ګرشك ښار یوې درنی چاودنی ولړزاوو.

## کابل، پروان او غزنی

• د عقرب په اوله د افغانستان د ملی دفاع وزارت، څه د پاسه زرو تنو هغو روزل شوو کارکوونکو چې په جبری توګه له خپلو دندو ګوښه کړای شوی دی په کابل کې مظاهره وکړه، مظاهره کوونکو په ټینګه دخپلو حقوقو غوښتنه کوله، دوی د ملی دفاع وزارت له چارواکو څخه وغوښتل چې بیرته یې ژر تر ژره په خپلو دندو وګماری، مظاهره کوونکو په داسی حال کې چې د حکومت د دغه اقدام په خلاف ئې شعارونه ورکول ګوابښ وکړ که حکومت بیرته د دوی په خپلو دندو د ګمارلو په اړه جدی اقدامات

و نه کړی نو دوی به خپلو مظاهرو ته دوام ورکړی.

- د عقرب په دیارلسمه په کابل کې یوه زوروره چاودنه وشوه. چاودنه د سوداگری وزارت او د امریکا د ماشومانو د ساتنی دفتر ترځنگ شوی ده، د اکسفام د مؤسسی یوه مسئول وویل چې چاودنی د دارالامان سرك او د حبیبیې لیسی تر څنگ وشوه، چا ته یی زیان ندی اړولی خو د شاوخوا د ودانیو د کړکیو ښیښې یی ماتی کړی دی.
- فرانسپرس د عقرب په ۲۰ په یوه راپور کې وویل چې د کابل ښار د غلا، ډاکو، قتل او یو شمیرنورو ناامنیو او خواشینوونکو پیښو شاهد دی. د فرانسپرس خبری آژانس د رپوټ په اساس د کابل د امنیی قوماندان بابه جان خبریالانو ته ویلی دی چې د غلا، قتل او ټولو نا امنیو اصلی عوامل په کابل ښار کې د وسله والوکسانو موجودیت دی، تر څو چې د کابل ښار د غیر مسئولو وسله والو څخه پاك نه شی دغه ډول پیښې به رامنځ ته کېږی . بابه جان د قوماندان آغاشرین سالنگی چې تیره اونۍ د خپل هستوگنځی په مخکی د خاد وسله والو لخوا ووژل شو اشاره وکړه، د همدی پیښې په بله شپه په شهزاده مارکیټ کې د یوه صراف دوکان لوټ او دوه سوه زره امریکایی ډالره ورنه غلا شول. د دوکان مالك د دغې پیښې مسئولیت د امنیتی ځواکونو په غاړه اچولی او ویلی یی دی چې پولیس له غلو او شوکمارانو سره لاس لری او دوی په خپله شوکی کوی.
- د کابل چارواکو وویل چې په کابل کې یو هندي وگړی ووژل شو. وژل شوی کس د هندي شرکت ،استر، کارکونکی وو، چې حمله کونکو د هغه په کور کې ورباندي ډزې کړي دی. پولیس د وژنې پلټنه کوي.
- په ۲۰۰۳۱۱۱۷ ائتلافی ځواکونو ادعا وکړه چې له باروتو ډك

یوه ټانکر په نیولو سره ئې د یوې لوئی چاودنی مخه ونیوله.

• له سیمی ترلاسه شوی راپورونه وایي چي د پروان په ولایت کې جنائي جرمونه او پیښې زیاتې شوي دي. د سیمې اوسېدونکي د جرمونو د زیاتیدو اصلي علت دلته د شورای نظار ډلګۍ موجودیت ګڼي.

• د یکشنبی په ورځ ۲۰۰۳۱۱۱۱۷ په غزنی کي په موټر سایکل سپرو دوو کسانو د ملګرو ملتونو په یوه موټر ډزې وکړې چي په نتیجه‌کی یوه فرانسوی ښځه چي افغانستان کې بې کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو اداري ته کار کاوو، ووژل شوه. د راپورونو تر مخه، په پېښه کې افغان ډرایور هم ژوبل شوی دی.

• د ملګرو ملتو د مهاجرو عالي کمیشنري، تیره اونۍ په غزني کې د خپلې فرانسوي کارکونکي بیتینا د وژل کیدو وروسته په ځینو ولایتونو کې خپل فعالیتونه بند کړل او د ځینو سیمو څخه یې خپل کارکونکي وایستل. دغی اداري په خپل ۱۵ ورځني ریوټ کې د افغانستان د امنیتي وضعیت په هکله اندیښنه ښودلې ده٠

• د کابل د امریکایي اداری چارواکو په ۲۰۰۳۱۱۱۷ وویل چي له باروتو ډك یو ټانکر ئې نیولی او پدې سره ئې د بګرام په اډې کي د یوې لوئی چاودنی مخه نیولی.

• د عقرب په ۲۵ مجاهدینو د خوست په ولایت کي د امریکایی یرغلګرو پر اډې باندي حمله وکړه. دغه برید د خوست د شمال ختیځ په پنځه کیلو متری کې د صحرا باغ په هوایی اډې باندي ترسره شو چي نښتي څه کم یو ساعت دوام درلود او دواړو خواوو په دی جګړه کي د سپکو او درنو وسلو څخه کار اخیستی دی. تر اوسه د دغی حملې د مرګ ژوبلی په اړه کوم ریوټ نه دی ورکړی شوی، خو عینی شاهدانو ویلی دی چي د جګړې په ځای کي څو هلیکوپترونه کښیناستل چي

احتمالاً د پیښې د قربانیانو د انتقال لپاره ورغلي وي.

• د عقرب په ۲۷ د خوست د یعقوبیو په سیمه کې په یوې پوستې توغندویې برید وشو، ناپیژاندو کسانو په دغه اولسولۍ کې پر یوه دولتي پوستې څلور توغندي وتوغول چې پوستې ته ئې دروند نقصان رسولی. یوه ورځ وروسته بیا پر دغه ولسوالۍ باندې برید وشو، په برید کې د ولسوالۍ یو کارکوونکی ژوبل او د ولسوالۍ ودانۍ زیانمنه شوه.

• د عقرب په ۲۸ په کابل کې دا خبره په ډاګه شوه چې د افغانستان په جنوب مشرق کې د امریکایي جنګي الوتکو په بمباریو کې شپږ تنه ولسي وګړي په شهادت ورسېدل. د فرانسپرس د خبري آژانس د رپوټ په اساس پولیسو د شهیدانو مړي د دغه کلي اوسېدونکو ته سپارلي دي. دغه بمباري د تیرې جمعې په ورځ تر سره شوه، په کابل کې امریکایي پوځي چارواکو د دغې پیښې په اړه هیڅ ډول څرګندونې نه دي کړي.

• د عقرب په ۲۹ په دارالامان کې دوه توغندي چې د کاناډائي قواوو په لور په نښه شوي وو د کابل امنیتي چارواکو لاس ته ورغلل.

د مجاهدینو سري فوځ

افغانستان

۱۳۸۲۱۹۱۱

بسم الله الرحمن الرحیم

# ۱۴ اعلامیه

د قوس د میاشتی ځینې سیاسي او نظامی پیښې دا سې دي:

- امریکایان چي د ملی فوځ په نامه څوك تربیه کوی؛ د دې لپاره ئې تربیه کوی چي د افغانانو په ضد ئې وجنگوی. دوی دیته اړ دی چي د خپلو فوځیانو د مرگ ژوبلی مخه ونیسی، افغانان د افغانانو په لاس ووژنی. لا د کومی قطعی د روزنی کار نه وی تکمیل شوی چي کنړ، پکتیکا، زابل او د جنوب نورو سیمو ته ئې د جگړو لپاره ولېږی!! او هلته په جنگ کي دوی مخی ته کړی او په خپله تر شا دوی ته قومنده ورکوی!! دا دی گورئ چي دا د انگریزانو او امریکایانو په لاس روزل شوی کسان حتی د وزارت دفاع په ماڼی کي هم په افغانانو گولی وروی او هغه افغانان وژنی چي د خپلو حقوقو ترلاسه کولو لپاره دی وزارت ته رجوع کوی!! تر دی د مخه دا وزارت د روسانو وزارت وو ځکه افسران ئې مسکو روزلی وو او لدې وروسته به د انگریزانو او امریکایان وزارت وی!
- په یوې میاشت کي امریکایانو دریو ولایاتو کي د **۲۴** بې وزلو افغانانو په وژلو اعتراف وکړ، لس په غزنی د نهو ماشوانو په شمول، اته په سید کرم کي د شپږو ماشومانو په شمول، او شپږ په جلال آباد کي د یوه دولتی قومندان د نیولو په ترڅ کي، په همدی میاشت کي دوی په

نورستان، کنړ، خوست او پکتیکا کي هم ډېر بې گناه افغانان وژلي خو دوی وربانديې اعتراف ندی کړی او خبریالانو د دې وژنو راپورونه ورکړی. په نورستان کي د مولوی غلام رباني په کور او جومات بمباری او د اته کسانو وژل یو له هغوی څخه دی.

- د کلنټن میرمنې په افغانستان د شوروی اتحاد یرغل وستایو او وئی ویل چي روسانو د افغانستان په بنسټپاله هېواد یرغل سره د افغاني ښځو د حقوقو د اعادی لپاره ډېر څه وکړل او ښځو ته ئې د فعالی ونډې لپاره لار آواره کړه!! لدې نه په څرگنده معلومېږی چي دواړه ډلې د اسلام په ضد هر راز تیری تائیدوی، هلری کلنټن څو اونۍ د مخه له امریکایي عسکرو سره د لیدو لپاره افغانستان ته راغلی وه.
- انگریزانو د هند په نیمی وچي د حکمرانۍ په دوران کي د سړکونو او د ریل پټلیو د غزولو په اړه هومره کار وکړ چي له بمبئی نه تر چمن او تورخم پوری دا ټوله پراخه سیمه ئې سره وصل کړه، خو دا ټول ئې د خپلو استعماری موخو لپاره وکړل نه د دې سیمې د ولسونو لپاره، د هری کلداری مصرف په مقابل کي ئې د سرو زرو سکی تر لاسه کړی. امریکایانو په دوو کلونو کي کابل له کندهار سره وصل کړ او یو وران شوی سړك ئې ترمیم کړ، هغه هم د سعودی او جاپان په پیسو او د یوې امریکایي کمپنی په لاس او د تبلیغاتو په غرض. غوښتل ئې د لوئی جرگی د افتتاح په ورځ دا سړك پرانیزی او لدې نه د خپل اشغال او د لاس پوڅی حکومت لپاره گټه واخلی.
- د لوئی جرگی له شرمه ډك بهیر امریکایان لاډېر رسوا کړل او ټولي نړۍ ته ئې وښوده چي پدې غولوونکی ډرامی سره ئې خپل لاس پوڅی نظام ته د وړو او ختو قانونی پوزه جوړوی، جرگی ته پنځوس انتصابی غړی د یوه شخص په فرمان داخل شول، له همدی انتصابی غړو نه یو کس

د کرزی له خوا نامزد او د جرگی رئیس وټاکل شو. د جرگی امریکا پلوه دیموکراتو غړو د مجاهدینو په ضد همغه څه ویل چي هره ورځ ئې بي بي سي، امریکا غږ او راډیو آزادی وایي او په بین المللی محاکمی کي ئې د دوی د محاکمی غوښتنه کوله!! د دوی له نظره ټول آزادی غوښتونکی مجاهدین مجرمان دی، مهمه نده چي د روسانو په ضد ئې پرون جهاد کړی وی او که اوس د امریکایانو په ضد جهاد کوی!! د لوئی جرگی له انتصابی رئیس نه تپوس وشو چي آیا یو کس دا حق لری چي پنځوس انتصابی غړی جرگی ته معرفی کړی؟ په ځواب کي ئې وویل: اسلام، خلیفه ته دا حق ورکړی دی!! دا ځکه چي دغه امریکایي خلیفه دی جرگی ته راووست او د ریاست لپاره ئې کاندید کړ!! ده ته ورته یوه بل وویل: پارلمانی نظام غوره دی او د اسلام مطابق!! دا پدې خاطر چي دی د شمال جهادی- کمونستی ائتلاف غړی دی او دا ائتلاف د صدارت مقام ځانته غواړي!! د دفاع، خارجه، تعلیم او تربیی او ګڼ شمیر نورو وزارتونو باندې قانع ندی، مزید غواړی!! د دې ټلوالی هغه غړی چي اوس په کابینی کي مهم وزارتونه په لاس کي لری، هغوې ریاستی نظام او د موجوده ترکیب دوام غواړي!! ټول پوهېږو چي پارلمانی نظام د انگریزانو او ریاستی نظام د امریکایانو غوښتنه ده، انگریزانو غوښتل چي ظاهرخان د دوی د ملکی په څېر تشریفاتی پاچا وی او کرزی ئې باصلاحیته صدراعظم، خو د افغانستان په جریاناتو کي د دوی د دوهمی کچي رول د دې باعث شو چي دا نظام مسلط نکړی شی او د امریکایانو خوښې ته تسلیم او له ریاستی نظام سره توافق وکړی. پارلمانی نظام د انگلستان د ملکی په څېر یوې ملکی یا پاچا ته ضرورت لدې، پرته نشی چلیدی.

- امریکایانو د صدام حسین نیونه د ځان لپاره لوی بری وګڼلو، او دا طمع ئې څرگنده کړه چي پدې سره به د عراقیانو مقاومت پای ته ورسېږی!!

امریکایي چارواکی پدې نه پوهېږی چي د شخصیتونو په نیولو او وژلو سره دا آزادی غوښتونکی مقاومتونه نشی ځپلی. د افغانستان او عراق مجاهدین د اسلام او خپل هېواد د آزادی لپاره جنګېږی نه د کوم شخص لپاره، هیڅوك خپل ژوندد بل د اقتدار لپاره په خطر کي نه اچوی، ولسونه یا د ظلم په ضد جنګېږی یا د آزادۍ په شان د سترو او مقدسو آرمانونو لپاره، تر څو چي ظلم او اسارت وی او ظالمان په مظلومانو حکومت کوی جنګ به وی او مقهور ولسونه به د اشغالګرانو په ضد جنګېږی او پدې لار کي به قربانی ته چمتو کېږی. د صدام نیونه به نه یوائی د عراقي ولس مقاومت تضعیف نکړی بلکه برعکس اوس به هغه عراقیان هم وسلی ته لاس کوی او په مقاومت کي به فعاله برخه اخلی چي لدې د مخه ئې پدې خاطر له مقاومت نه ډډه کوله چي نه ئې غوښتل مخکنی نظام یو ځل بیا په عراق مسلط شی. اوس به ټول آزادی غوښتونکی عراقیان په یوه مجاهد قیادت راغونډېږی او په یوه صف کي به د اشغالګرانو په ضد مقاومت کوی. لده سره د نیونی نه وروسته له تحقیر او سپکاوی نه ډك چلند نه یوائی عراقیان او د ده پلویان تحریك کړل بلکه د ټولي نړۍ شریف انسانان ئې وهڅول او هر چا ته ئې دا خبره جوته کړه چي امریکایي چارواکی څومره ذلیل او کم ظرفه دی او څومره د مسلمانانو په نسبت په زړه کي عداوت او دښمنی لری!! همدومره چي د ګوانتانامو له اسیرانو سره د دوی وحشیانه او بې رحمانه چلند د دوی کرغېړنه څېره ټولي نړۍ ته بربنډه کړه، له صدام سره د دوی چلند هم وښوده چي امریکایي چارواکی څومره کم ظرفه، بدمعاش او بداخلاقه دی!!

- د غولوونکی لوئی جرګی یوې ښځینه غړی ملالی جویا د جرګی مجاهد ډوله غړی جنګی جنایتکاران وګڼل او د دوی لپاره ئې د بین المللی محاکمی غوښتنه وکړه. دا پداسې حال کي چي د جرګی رئیس

ویلی وو: زه تیار یم چي خپله د ریاست چوکۍ هم کومی ښځی وکیلی ته پرېږدم، د جرگی په رئیسه هیئت کي هم ځو ښځینه غړي د معاون او منشی په حیث ومنلی شوی، ملالی جویا پدې قناعت ونکړ او د اعتراض غږ ئې اوچت کړ، دی دا همت وکړ چي خپله عقیده پدې غونډی کي ځرگنده کړی، خو د جرگی یوه غړي دا همت ونکړ چي ووایي: اشغالگر ځواکونه دی له افغانستان نه ووځی، کرزی دی د امریکایي کماندویانو په حفاظت کي لوئی جرگی ته نه راځی، که دا جرگه افغاني جرگه وی نو امنیت ئې باید په خپله افغانان وساتی نه اشغالگر ځواکونه، دا جرگه به ځوك د افغانانو ممثله جرگه وگنی چي په سر باندې ئې د انگریزانو او امریکایانو طیاری گرځی او شا او خوا ئې د بهرنیو ځواکونو امنیتی کمربندونه راتاو شوی!!

- امریکایانو په تیری لوئی جرگی کي د هغو ډلو د مشرانو په څنك کي د عبدالله مقری په څېر سندرغاړی کښېنول او د دوی گډ عکسونه ئې په ورځپاڼو او تلویزیونونو کي نشر کړل، چي له امریکایانو سره د خپل ولس په ضد ملگری شول، دا ځل ئې د یوې ښځینه استاځی په ژبه جنگی جنایتکاران وگڼل!! وبه گورو چي امریکایان لدې وروسته له خپلو دغو ملگرو سره څه کوی او دوی به ترکومه دا تذلیل او سپکاوی همداسې زغمی؟!!

- امریکایي چارواکو بلآخره د قلابی لوئی جرگی د غونډو په دوران کي په غوڅو الفاظو دا خبره اعلان کړه چي نه له کرزی نه پرته بل جمهور رئیس منی او نه له ریاستی نظام نه پرته بل نظام!! خلیلزاد په ډېر وقیحانه طور د لوئی جرگی غړو ته وویل: که د امریکا مرستی غواړې نو د ریاستی نظام او د کرزی مرسته وکړی!! د کرزی د کابینی غړو د خپلو پارټیو مشرانو ته وویل چي د امریکایانو د پریکړو له منلو نه پرته بله چاره نشته! مونږ منلی ستاسو ئې خوښه، د دې خبری په اوریدو سره د هغوی غوړگی

هم سستی شوی، له خپلو مطالباتو په شا شول، او د امریکایانو له دواړو غوښتنو سره ئې توافق وکړ.

- مونږ لا د مخه ویل چې دا جرګه به د تیری جرګې په څېر وی، فیصلې به د امریکایي ځواکونو قومندان او د امریکا سفیر کوی خو لاسونه به د لوئی جرګې په غړو پورته کوی!! جرګه به همغه له مخکې جوړ شوی اساسی قانون ته رأی ورکوی، امریکایانو خوشی تشی هره ورځ پنځوس زره ډالر پدې جرګې نه مصرفول، څوك چې د دوی په دسترخوان کښېنستل، د دوی په مصرف کابل ته راتلل، د دوی په مصرف په کابل کې اوسېدل، د دوی د طیارو تر وزر لاندې او د دوی د کماندوګانو په حفاظت کې په جرګو بوخت وو، آیا د امریکایانو د خوښې خلاف ئې څه ویلی یا کولی شوی؟! د هغه چا په عقل او ایمان ژړا په کار ده چې یا ئې دا ګمان کولو یا ئې خلکو ته ښودله چې کېدی شی پدې جرګې کې د اسلام او هېواد په ګټه کوم کار وکړی او ګواکې ده د همدی لپاره پدې جرګې کې برخه اخیستی ده!! خو هرڅوك پوهېږی چې امریکایانو داسې کسان د دې لپاره دی جرګې ته ندی رابللی چې د اسلام او افغانستان په ګټه څه کار وکړی، د دې لپاره ئې راغوښتی چې د دوی په ربړی او پګړی او د اسلام، اسلام په خبرو افغانان وغولوی، اوس او د اساسی قانون له تصویب نه وروسته به افغان ولس وګوری چې په عمل کې هیڅ تغییر او بدلون ندی راغلی، همدا کابینه به له شکلی او غولوونکی تغییر سره په خپل حال پاتې وی، اداری فساد، رشوت، خیانت، د ملی شتمنیو تالان، بې امنیتی، داخلی جګړی او په نظام کې د شاملو ډلو ترمنځ خونړی نښتی، د خلکو په سر، مال او عزت تیری، دا هر څه به د سابق په څېر دوام لری، امریکایان به په هېواد حکومت کوی، په هرځای، هروخت او هر چا به برید کولی شی، هرڅوك به نیولی او وژلی شی، افغاني امریکایان به بیا هم له

هر برید نه او د امریکایانو په ناولو لاسونو د بې ګناه افغانانو له وژلو نه وروسته د سابق په څېر دوی ته وایي: امید دی بیا په اشتباه سره بې ګناه افغانان ونه وژلی شی، امید دی له عملیاتو نه مخکی مونږ خبرکړی او له محلی چارواکو سره له مشوری وروسته عملیات ترسره کړی!! خو د افغانستان امریکایي واکمنان به بیا هم دوی ته همغه ځواب ورکوی چي تراوسه ئې ورکړی!! اوس به د امریکایانو هر کار د اساسی قانون مطابق وی!! نظامی اډې ئې، د افغانانو په ضد جنګ ئې، په افغانستان حکومت ئې، او هر څه ئې، قانونی، مشروع او د لوئی جرګی د پریکړو مطابق!! دوی دا قانون د همدی لپاره جوړ کړی او دومره مصرف ئې ورباندې کړی!!

- د کابل امریکایي حکومت د لوئی جرګی په غونډې کي د سټېج شا ته دا سې نشان لګولی وو چي د غنمو د وږو په منځ کي ئې شپږ تصویرونه رسم شوی وو، په سطحی نظر دا دری شین، سور او تور بیرغونه معلومېږی خو په اصل کي شپږ عکسونه دی: پدې عکسونو کي تر ټولو مخکی شی لاس ته سرلوڅی ښځه په شنه رنګ کي ښودل شوی، خوا ته ئې بې ږیری سړی په سپین رنګ کي، ورپسې د ږیری او پګړی خاوند په سور رنګ کي، بیا یو بې ږیری ځوان په سپین رنګ کي، څنګ کي ئې د پړونی خاونده ښځه په تور رنګ کي، او په پای کي یوه سرلوڅی پیغله په سپین رنګ کي!! ټول پوهېږو چي دا رنګونه او تصویرونه کوم مطلب افاده کوی او لدې نه د امریکایانو او د دوی د افغاني مزدورانو هدف څه دی!! سور رنګ معمولاً د خطر، وینو او جګړو نښه ګڼل کېږی، تور رنګ تیاره، جهالت او د کمونستانو په اصطلاح ارتجاع تمثیلوی، دا دواړه رنګونه دوی د ږیری او پګړی خاوند او د پړونی په سر کوونکی افغاني میرمنی ته غوره کړی، شین او سپین رنګ د رڼا، ترقی، او سمسورتیا نښه ګڼل کېږی، امریکایي افغانانو دا رنګونه د سرلوڅی ښځی، پیغلی او بې ږیری

سرلوخ ځوان لپاره غوره کړی!! د جرگی له غړو نه هیچا پدې اعتراض ونه کړ، حتی هغو هم چې ږیری ئې درلودی، پگړی ئې په سر وی، او د اسلام او اسلامی نظام خبره ئې کوله او ویل ئې چې په اساسی قانون کې باید په ځرگندو الفاظو د اسلام یادونه وشی!! پدې سره ئې غوښتل افغانانو ته داسې وښیی چې لدوی سره د اسلام غم دی، او غواړې د اسلام خدمت وکړی، خو ټول پوهېږو چې نه امریکایان دومره کودن دی او نه دا کسان هومره زرنگ چې د امریکایانو په مصرف جوړی شوی جرگی کې به د امریکا د گټو په ضد او د اسلام په گټه کومه پریکړه وکړی شی، ځوك چې پدې نه پوهېږی چې په مخکی ئې د ځوړند نشان معنی څه ده او تر پایه ورباندې اعتراض ونکړی، هغه به پدې څنگه پوه شی چې شا ته ئې څه روان دی، ځوك چې د دښمن په ځرگند شیطانت نه پوهېږی او مقابله ئې نشی کولی هغه به د دښمن په پټ مکر او شطارت څنگه پوه شی او څنگه به د هغه مقابله وکړی شی!! که د ښمن د دوی د بریت او ږیری لاندې اوښان او پیلان هم تیر کړی نه ورباندې خبرېږی. دوی په دی نه پوهېږی چې امریکایی نظام ته اسلامی او شرعی پرتوگ وراغوستل د امریکایانو په گټه دی نه د اسلام او مسلمانانو په گټه، پدې نه پوهېږی چې د کفری ځواکونو تر نظامی او سیاسی سلطی لاندې الهی او اسلامی نظام نشی قائمیدی، د دې دواړو اختلاط ممکن ندی، یا به "طاغوت" ته د تحاکم لپاره درومی او یا به هغه نفی کوی او "الله" ته به مخه کوی او د هغه دین به د "تحاکم" یواځنۍ مرجع گڼی. دوی پدې هم نه پوهېږی چې د قرآن د دې آیت مقصد څه دی چې د ایمان خاوندان ئې "طاغوت" ته د تحاکم لپاره له تلو منع کړی، گمان کوی چې له طاغوت نه مراد یا "بت" دی یا "شیطان"، حال دا چې معنی ئې نه بت دی او نه شیطان، ځکه چې نه ځوك بت ته د تحاکم لپاره رجوع کوی او نه شیطان ته، "طاغوت" هغه سرکش او عاصی

حاکم دی چي د الله د دين په اساس حکم نه کوی.

- په کابل کي محصلینو په مظاهرو لاس پوري کړ. څه د پاسه دری سوه محصلین سره له دی چي د پولیسو لخوا یی سخته څارنه او مخنیوی کېدو سړکونو ته راووتل او مظاهره یی وکړه. مظاهره کوونکو د افغانستان په نوی اساسی قانون نیوکی کولی او ویل یی: باید د دغه اساسی قانون په ۴۳ ماده کي تغییرات رامنځ ته شی، په دغی ماده کي ویل شوی چي زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چي تر ثانوی دوری وړیا د دولت لخوا تأمینېږی. محصلینو غوښتنه کوله چي د افغانستان د لوړو زده کړو په مؤسسو کي هم باید زده کړه په وړیاتوګه وی. مظاهره کوونکو محصلینو په افغانستان کي د پارلمانی حکومت د رامنځ ته کېدو او د دغه هېواد د بیلو بیلو ملیتونو د مساوی حقونو غوښتنه کوله.

په افغانستان کي د بهرنیو ځواکونو په خلاف یوه بل نوی جهادی تحریك په فعالیت لاس پوري کړي. دغه نوی تحریك چي ځان یې د نهضت جهاد اسلامي افغانستان په نوم نوملی په پیښور کي خپریدونکو ورځپاڼو ته یو لیك استولی دی. په لیك کي د افغانستان له مسلمان ولس نه د امریکایانو او د هغوی د متحدینو په خلاف د جهاد کولو غوښتنه شویده. په اعلامیه کي ویل شویدی چي زمونږ مسلمان امت، منافق، ظالم او دروغجن شخصیتونه ښه پیژندلی دی، همدا راز په لیك کي ویل شوي چي جهاد فرض ګنو او خپل اتل او مجاهد ملت ته لارښوونه کوو چي امریکایان، د هغوی متحدین، د انتقالی اداري ګوډاګي غړي او د وطن پلورونکو کمونیستي ډلو مشران اعدام او د خپلو اعمالو په سزا ورسوي، ترڅو په نږدي راتلونکی کي د یوه آزاد، خپلواك او سرلوړی افغانستان او د یوه داسي منتخب اسلامی حکومت

د رامنځ ته کېدو شاهد اوسو چې په سر کې ئې خواخوږي، وطن دوست او مسلمان مشران وي.

د قوس میاشتې ځینې نظامي پیښې دا دي:

## کابل- پروان او غزنی

- په کابل کې د ملګروملتو دفتر په غزني کې د دغې اداری د یوې فرانسوی کارکوونکی تر وژل کېدو وروسته خپلو ټولو کارکوونکو ته امر وکړ چې له کندهار، جلال آباد او ګردیز څخه په کابل کې خپلو مرکزی دفترونو ته راستانه شی. دغې اداری همدا راز خپلو ځایی کارکوونکو ته هم ویلی‌دی چې د امنیتی وضعی د ښیرلو تر مهاله په خپلو هستوګنځایونو کې واوسېږی او خپلو دندو ته حاضر نه شی. د رویټر د رپوت له مخی له هغه وخته راپدیخوا چې د سره صلیب یو کارکوونکی چې د سلوادور تبعه وو او د مارچ په میاشت کې د ناپیژاندو کسانو په ډزو وژل شوی وو تر اوسه دا د ملګرو ملتو د ټولنی دوهم کار کوونکی دی چې په افغانستان کې وژل کېږی.
- د کابل په بګرام هوایی اډه باندې ۳ توغندی ولګګیدل، د رپوټونو په اساس ناپیژاندو وسله والو تیره شپه دکابل د بګرام په هوایی اډه چې د امریکایی او ائتلافی ځواکونوستره پوځی اډه ده، حمله وکړه او ۳ توغندی یې ورباندې وورول. د عینی شاهدانو په وینا دغه برید د شپې په ۱۲ بجو درسره شو، چې ورپسې درنی چاودنې واوریدل شوی. له برید سمدستی وروسته جنګی الوتکو په فضاء کې پروازونه وکړل او د بګرام د هوایی اډې برق قطع شو، یوه عینی شاهد وویل د شپې ناوخته یې د امبولانسونو اوازونه تر غوږو شوو، تر اوسه د دغه توغندویی برید په نتیجه کې د رامنځ ته شوی احتمالی ځانی او مالی تاوان په اړه کوم رپوټ نه دی خپور شوی، خو داسې اټکل کېږی چې امریکایی عسکرو ته درنه مرګ ژوبله اوښتی ده.

• د قوس په دریمه د کابل په انټرکانټېننټال هوټل کې چاودنه وشوه، د کابل امریکایي د حکومت امنیتی چارواکو وویل چې د دغه هوټل په خوا کې تیره شپه چاودنه شوی، د چاودنه پړه په هغو کسانو اچول شوی چې د چارواکو په وینا نه غواړی د اساسی قانون د تصویب لپاره لویه جرگه جوړه شی، د دې چاودنې په وجه د کانټېننټال د ودانی یوې برخی ته زیان اوښتی دی، د ودانی شیشی ماتی شویدی، یوه څنډه یې ویجاړه شوی، خو چا ته په کې مرگ ژوبله نه ده اوښتی.

• پرون هغه مهال د انتقالی اداری د دفاع وزارت امنیتی کسانو او هغو مظاهره کوونکو ترمنځ تاو تریخوالی زیات شو کله چې یو شمیر مظاهره کوونکو د دفاع وزارت ودانی ته د ننوتو هڅه وکړه، د دفاع وزارت د امنیت ساتونکو په مظاهره کوونکو ډزی وکړی، په دغو ډزو کې لږ تر لږه څلور مظاهره کوونکی ووژل شول، د رپوټونو له مخې پرون د زرو تنو په شاوخوا کې هغو پوځی افسرانو او کارکوونکو چې څه موده وړاندی په جبری توگه له خپلو دندو گوښه شوی وو د ملی دفاع وزارت د ودانی په لور مارش وکړ، نوموړو مظاهره کوونکو د خپلو معاشاتو غوښتنه کوله، ویل کېږی چې په ۴ تنو وژل شوو کسانو برسیره په لسگونو نور مظاهره کوونکی ټپول شوی، حکومت دوی ته د شپږو میاشتو معاشونه نه دی ورکړی.

• کابل کې قهرجنو معیوبینو د مظاهری په کولو سره غوښتنه کوله چې د دوی ستونزې دې حل شي او د دوی حقوق دې ورکړی شی، دوی همدا راز ویل چې د لنډ مهاله مرستو پر ځای دی د پایښت لرونکی کار او ډوډۍ گټلو شرائط ورته برابر کړای شی. دغو معیوبینو د الله اکبر، مړه دی وی یرغلگر، ژوندی دی وی زمونږ ملی وحدت... د شعارونو په ورکولو سره د دی غوښتنه هم کوله چې د اساسی قانون په متن کې باید داسی

مادو ته ځای ورکړل شي چې له مخې یې په حقوقي ډول د معلولینو ژوند او راتلونکی تامین کړی شي.

• د قوس په ۱۰ د بخښنې نړیوال سازمان یا ایمنستي انټرنیشنل د امریکا په پوځ نیوکې کړې او وئیلي یې دي چې د دوی د نظامي اډو په زندانونو کې د دوه افغانانو د مړینې د جنایي تحقیقاتو د نتایجو اعلانولو کې پاتې راغلي دي. دغه دوه بندیان یو کال پخوا د بګرام په هوایي ډګر کې د امریکایانو په زندان کې مړه شوي وو، د عدلي طب د مسئولینو د رپوټ له مخې د مړینې په دغو دواړو پیښو کې له شکنجې څخه پیدا شوي ټپونه لیدل شویدي. د بخښنې نړیوال سازمان ویلي دي چې د امریکا پوځ له پیښې وروسته یوازې د جنایي تحقیقاتو اعلان کړی وْ. خو تر اوسه پوري ئې په دوسیو کې د پرمختګ او یا د نتایجو په هکله څه نه دي ویلي. د ایمنستي انټرنیشنل اداری په لیکل شوی اعلامیه کې چې پرون خپره شوه؛ د دغه سازمان د امریکا د چارو اجرائیوي رئیس ویلییم شولډ د امریکا پر پوځ نیوکه وکړه او هغه ئې د انساني ژوند د ارزښتونو په وړاندې بې تفاوته وباله. د امریکا د پوځ ویاند ډګرمن برائم کیل د دغه رپوټ په هکله اعتراف وکړ چې په زندان کې دغه کسان مړه شوي دي.

• د قوس په ۱۳ د کابل په ښار کې د ایساف د ځواکونو په مرکز چې په وزیراکبرخان مینه کې موقعیت لري یو توغندی ولګید، دغه توغندی د امریکا سفارت ته نږدې لګیدلی دی، د توغندي له لګیدلو وروسته یوه چاودنه وشوه چې د شاوخوا کورونو شیشې او کړکې یې ماتې کړې، د انتقالي اداری چارواکو وویل دغه توغندی د کابل ښار له جنوب لوري توغول شوی خو وژنه یې نه ده رامنځ ته کړې، خو عیني شاهدان وایي چې په ګړ شمیر امبولاسونه یې لیدلي چې ټپیان یې روغتون ته لېږدول.

- د قوس په ۱۲دوه تنه ترکی انجنیران وتښتول شول. د آلمان رادیو د رپوټ په اساس نامعلومه وسله والو د کابل ولایت د خاك جبار په ولسوالی کي د ترکی انجنیرانو پر دفتر باندي حمله وکړه او په داسی حال کي چي هغوی په خوب ویده وو، وئي نیولل او له ځان سره یې بوتلل.
- د قوس په ۱۷ په بګرام کي د امریکایی یرغلګرو مرکزی پوځی اډې ته نږدی یوه امریکایی پوځی چورلکه رانسکوره شوه، په دی پیښه کي ۵ تنه امریکایی عسکر وژل شوی او ۷ تنه نور سخت ټپیان شوی، په واشنګټن کي امریکایی منابع وایي د امریکایی پوځی چورلکی د رانسکوریدو پیښه د یکشنبی په ورځ منځ ته راغله، امریکایی پوځی چارواکو د پیښی د جزئیاتو په اړه یوازي دومره ویلی دی چي الوتکه په سیمه کي د مجاهدینو پر ضد عملیاتو کي په فعالیت بوخته وه، په دی اړه د امریکا مرکزی پوځی کمان یوه لنډه اعلامیه خپره کړیده او ویلی یی دی چي د چورلکی د رانسکوریدو په اړه تحقیقات پیل شویدی.
- د قوس په ۲۴ په کابل کي د نړیوال سوله ساتی ځواکونو په مرکزی پوځی مرکز توغندویی برید وشو، دا معلومه نه شوه چي برید له کومه لوری او د چا له طرفه شوی دی.
- د قوس په ۲۵ په کابل کې د بهرنیو ځواکونو په ضد توغندوئي برید ترسره شو، د فرانسپرس او بي بي سي د رپوټ په اساس بیګاه د شپی د یوې بجی نه وروسته په ټول کابل کي د چاودنو غږ واوریدل شو، لومړی راکت د کابل ښار د نړیوال هوایي ډګر سره نږدی، دوهم راکت څلویښت دقیقی وروسته د ښار په کوزی برخی کي ولوید، ورپسی دریم راکت د کابل د ښار په سیمه کي ولوید، وروسته سمد ستی پوځی الوتکو د ښار په فضا کي الوتنی پیل کړی، دا په داسی حال کي چي د کابل په ښار کي سخت امنیتی تدابیر نیول شویدی او دری کمربندونه اچول شویدی او د ایساف زیات شمیر پوځیان هم د ښار په

دننه کي تګ راتګ کوي.

- د قوس په ۱۸ وروسته له هغې چي د غزني ولايت د ګیلان ولسوالی د پیتاو کلی د امریکایی یرغلګرو الوتکو بمباری کړ او ۹ بېګناه معصوم ماشومان او یو سړی ئي په شهادت ورساوو، د ملګرو ملتونو نړیوالی اداری دغه عمل وغاندو او د دغی پیښی د ژر تر ژره پلټنی غوښتنه یی وکړه، امریکایی یرغلګرو ویلی دی چي دغه بمباری د دوی په وینا د یوې ترهګری ا حتمالی حملې د مخنیوی په موخه ترسره شویده. خو په هغی اعلامیه کي چي د ملګرو ملتو د عمومی دفتر له خوا خپره شویده د دغی اداری عمومی سرمنشی کوفی‌عنان ویلی دی چي د پیښی په اړه د پلټنی په نتیجه کي هر څه چي موندل کېږی، باید په ډاګه شی او دا یقینی کړی شی چي وروسته له دی په داسی اقداماتو لاس پوری شی چي دا ډول غموونکی پیښی بیا رامنځ ته نه شی.

د امریکایی یرغلګرو جنګی الوتکو او چورلکو په غزني ولايت کي د ګیلان ولسوالی د پیتاو په کلی بمباری وکړه چي لـه امله یی لږ تر لږه لس کسان شهیدان او یو شمیر نور بې ګناه کسان ټپیان شول، دغه بمباری تیره ورځ لـه غرمی مخکی په ۱۱ بجو تر سره شوه، په شهید شوو کسانو کي ۲ کم عمره هلکان، ۲ نجونی او ۲ تنه سړی شامل دی. امریکایی یرغلګرو د دغی بمباری دلیل دا وړاندی کړی چي د یوه شکمن کس د له منځه وړلو لپاره یی ترسره کړی ده. د ګیلان ولسوالی د امنیی قوماندان محمدشفیع خبریالانو ته وویل چي امریکایانو پدي سیمي کي د یوه شکمن کس د ستلایټ ټلفون رابطه کشف کړي وه خو پر دي کس باندي د بمباری پر ځای ئي په خطا سره د پیتاو کلی بمباری کړی دی.

## خوست، پکتیا، پکتیکا، لوګر

- د قوس په ۱ د خوست په جنوب ختیځ کي د امریکایي ځواکونو په

مرکز حمله وکړه. د ارنا د خبری اژانس د رپوټ په اساس وسله والو مجاهدینو د خوست ښار په ډولیه سیمه کي د امریکا یی عسکرو او د هغوی ترحکم لاندي د افغان ځواکونو په مرکز تیره شپه ستره حمله وکړه، د عینی شاهدانو په وینا په دغه برید کي مجاهدینو له ډول ډول درنو او سپکو وسلو څخه کار واخیست، تر اوسه په دغه برید کي د احتمالی مرګ ژوبلی او تاوان په اړه کوم رپوټ نه دی ترلاسه شوی، خو عینی شاهدان وایی چي امریکا یی عسکرو ته دروند تاوان اوښتی دی.

- د قوس په ۷ د وړوکی اختر په موقع په افغانستان کي د بیلابیلو ښتو په ترڅ کي دری اتحادی پوځیان ژوبل شول چي پکی یو افغاني او دوه امریکایی پوځیان شامل دی . د امریکایی فوځ ترجمان میجر برائن هلفرتی د بګرام په هوايي ډګر کي خبریالانو ته وویل چي ژوبل امریکایی پوځیان بیرته خپلو دندو ته تللی دی.
- د قوس په ۱۰ په خوست کي د امریکایی یرغلګرو پر مرکز توغندویی برید وشو، د ارنا د رپوټ په اساس د خوست په زاړه هوایي ډګر، چیرته چي د امریکایی یرغلګرو اډه ده، څلور توغندی وویشتل شول، تر اوسه پوری د امریکایی یرغلګرو په اډه د لګیدلو توغندیو له امله د مړو او ټپیانو په اړه کوم رپوټ نه دی ورکړ شوی.
- د قوس په ۱۱په خوست کي یوه چاودنه وشوه چي له امله یی دوه تنه ټپیان شول. چاودنه د یعقوبیو ولسوالی کي دولتی پوستی ته نژدی شوی ده. تر دی مخکی یوه دولتی پوسته د نامعلومو کسانو لخوا په برید کي سوځول شوی وه چي دوه تنه په دی تور نیول شوی هم دی. د خوست چارواکی د دی کار عاملین مجاهدین بولی.
- د قوس په ۱۳ په خوست کي په یوه ماین د ورختلو له امله دوه موټری له منځه ولاړی او شپږ ائتلافی او افغاني پوځیان ووژل شول او نامعلوم شمیر نور

ټپیان شول. دا پیښه هغه وخت مینځ ته راغله چي د ائتلافی او افغاني پوځیانو د موټرو کاروان د خوست په اسماعیل خیلو او مندوزیو سیمه کي روان وو او سیمه ئي تلاشی کوله.

- د قوس په ۱۴ په خوست کي د امریکایی یرغلگرو او مجاهدینو ترمنځ سخته نښته وشوه. نښته هغه مهال رامنځ ته شوه چي وسله والو مجاهدینو په امریکایی عسکرو برید وکړ چي له امله یی ۲ امریکایی او ۳ حکومتی عسکر سخت ټپیان شول. بریدکوونکی له برید وروسته د پیښی له ځایه په تیښته بریالی شول. په خوست کي میشتو امریکایی یرغلگرو وویل چي په دی برید کي افغاني او امریکایی عسکرو ته د سر تاوان نه دی اوښتی.
- د قوس په ۱۵ د خوست د باك په ولسوالی توغندویی برید وشو.
- د قوس په ۲۰ په خوست کي امریکایی ځواکونه د مجاهدینو تر برید لاندي راغلل چي په نتیجه کي ئې یوه عراده نظامی نقلیه وسیله له مینځه ولاړه، دا په داسی حال کې چي د امریکایی یرغلگرو لخوا د مجاهدینو په ضد د پلټنی پراخ عملیات پیل شوي او کور په کور تلاشي روانه ده خو هیڅ نتیجه ئي نده ورکړی.
- د قوس په ۲۴ په خوست کي د حبیب نور په نامه یو قوماندان چي د امریکایانو تر قوماندی لاندي ئي کار کاوو او هره میاشت د امریکایانو له خوا ورته تنخواه ورکول کېدله، د ناپیژاندو افرادو له خوا تر برید لاندي راغی. د ارنا د رپوټ په اساس په دی برید کي حبیب نور ژوبل شوی ده. په دې پیښه کې چي د ډنډ پټان په سیمه کي شوی دی د حبیب نور څلور بادیگاردان هم ژوبل شویدی.
- د قوس په ۱۴ گردیز ته نژدی پر امریکایی پوځونو لویه حمله وشوه، خبری سرچینی وایی چي د واړو لوریو ته د زیاتي مرگ ژوبلی

امکان شته، دا ځکه چي امریکایي قواوو له هوایي ځوك نه مرسته وغوښته او سیمه ئي تر اور لاندي ونیوله.

• د قوس په ۱۱ د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز کي د امریکایي یرغلګرو پوځي اډه د ناپیژاندو وسله والو تر برید لاندي راغله. په اډه باندي ۵ توغندي پریوتل، امریکایي چارواکو د دغه برید په نتیجه کي د احتمالي مرګ ژوبلي په اړه له څه ویلو نه ډډه وکړه.

• د هغو عملیاتو په لړ کي چي امریکایي او ائتلافي ځواکونو د پکتیا د سید کرم په ولسوالي کي پیل کړي دي، د قوس په ۱۹ امریکایي الوتکو د دغي ولسوالي په کلیو او کورونو سخته بمباري وکړه چي په ترڅ کي یي د ۲ بې ګناه ماشومانو په ګډون ۸ تنه شهیدان او یو شمیر نور ټپیان شول، په شهیدانو کي ۲ ښځي هم شاملي دي، د عیني شاهدانو په وینا ائتلافي او امریکایي یرغلګرو سیمه کلابنده کړي او دغه ځای ته په تګ راتګ یي سخت بندیز لګولي، حتی د دغه ځای او سېدونکي هم خپلو کورونو ته نه پریښودل کېږي ، د دغو شاهدانو په وینا ډېره مرګ ژوبله رامنځ ته شوي. په داسي حال کي چي امریکایي او حکومتي سرچینو د شهیدانو شمیر ۸ ښودلي دي، تیره ورځ په غزني ولایت کي هم د امریکایي بمباریو له امله ۹ معصوم ماشومان او یو سړی شهیدان شوي وو.

• د قوس په ۲۰ د امریکا پوځي ویاند اعلان وکړ چي د افغانستان په جنوب ختیځ کي د دوی د ځواکونو په یوې اډې باندي د لسګونو راکټونو لګیدلي چکې یوازې یو امریکایي او یو افغاني پوځي ئې کړي، ډګرمن هلفرتي د بګرام په هوایي ډګر کي وویل دا دوه کسان د پکتیکا په ولایت کي د امریکایي یرغلګرو پراډی باندي د راکټي حملې په نتیجه کي ټپیان شول. په رپوټ کي ویل شویدي چي د دغو راکټونو د چاودیدو له امله د

امریکایي یرغلگرو اډې ته هم زیات مالي تاوان رسېدلی.

- د قوس په ۲۴ د پکتیکا ولایت په شکین کې پر امریکایي پوځي اډه توغندویي برید وشو. پنځه توغندي پر نوموړي مرکز وتوغول شول چې د درنو چاودنو سبب شول، خو د مرگ ژوبلې په اړه معلومات نشته دي. وروسته سیمه د ائتلافي ځواکونو لخوا وپلټل شوه خو حمله کوونکي له سیمې څخه وتلي وو.
- د قوس په اوله د لوگر په محمد آغه کې د امریکایي او افغاني ځواکونو گډ کاروان د ناپیژاندو وسله والو کسانو تربرید لاندې راغی، د دغه برید په نتیجه کې پوځي کاروان ته کافي ځاني او مالي زیان اړول شوي، د افغاني او امریکایي ځواکونو دغه گډ پوځي کاروان له لوگر څخه پکتیا ته روان وو، او د لوگر پکتیا په لویه لار د ناپیژاند ووسله والو کسانو تربرید لاندې راغی، چې وروسته بیا د دواړو خواوو ترمنځ په اوږدې نښتې بدل شو، پدغه ناڅاپي برید کې یو شمیر امریکایي او افغاني عسکر مړه او ژوبل شوي چې د شمیر په اړه یې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي، له پېښې سمدستي وروسته امریکایي جنگي الوتکو او اپاچي چورلکو په فضا کې لوړې او ټیټې اکتشافي اولوتنې تر سره کړې، د دغو پوځي عملیاتو په ترڅ کې برید کوونکو ته کوم تاوان نه دی اوښتی، هغوی د پېښې له ځایه روغ رمټ وتلو بریالي شوي دي.
- په همدې میاشت کې د لوگر ولایت په تنگي واغجان کې د امریکایانو یو لنډکروز د ریموټ کنترول په واسطه له مینځه لاړ او د هغه سورلي ټول ژوبل شول. له پېښې نیم ساعت وروسته د دښمن الوتکې سیمې ته را ورسېدلې او سخته بمباري یې وکړه چې چاته زیان و انه وښت.

فارياب، جوزجان

- د عقرب په ۲۲ د فارياب په ولايت کي د ائتلافی ځواکونو پر یوه مرکز يرغل وشو، د ارنا د رپوټ په اساس په فارياب کي د مجاهدينو وياند ويلی چي د دوی ځواکونو پرون د فارياب ولايت د ميمنی په هوايي ډګر حمله وکړه، دغه وياند وويل چي په دی حملې کي څو تنه امريکايی سرتيری مړه او ژوبل شويدی. هغه دا هم وويل چي د دوی ځواکونو پرون د قيصار په ولسوالی کي هم پر يوه دولتی موټر حمله وکړه چي د فتح الله په ګډون اوه کسان په کي سپاره وو. په دې حمله کي پنځه کسان مړه او دوه نور ټپيان شول. د يادونی وړ ده چي فتح الله د امريکايی يرغلګرو سره ملګرتيا کوله.

## کنړ، لغمان، جلال آباد، نورستان

- د قوس په لومړی نيتی خبری رسنيو وويل چي د کنړ په مرکز اسعدآباد کښی د امريکايی پوځ اډه د درندو راکټو تر ګوزار لاندي راغله. د کنړ ولايت چاروا کو په دی اړوند ووئيل چي ورمه ورځ پنځه راکټونه د توپچی په امريکايي مرکز باندي پريوتل. په کنړ کي دا راکټی برید په داسی حال کي کيږی چي دلته د مجاهدينو پر خلاف د ائتلافی يرغلګرو لخوا عمليات روان دی.
- د قوس په ۱۷ ارنا خبر ورکړ چي په کنړ کي د مجاهدينو په خلاف د امريکايی يرغلګرو په وروستيو عملياتو کي له ۱۰۰ څخه زيات امريکايی عسکر ژوبل يا وژل شويدی. د ارنا د خبری آژانس د رپوټ په اساس په کنړ کي يوې خبری سرچينی چي نه ئې غوښتل نوم يی افشا شی دغه آژانس ته وويل په تيرو شلو ورځو کي د مجاهدينو او امريکايی يرغلګرو ترمنځ په نښتو کي له ۱۰۰ څخه زيات امريکايی عسکر ژوبل يا وژل شوی، سرچينی ويلی دی چي درنی مرګ ژوبلی د امريکايی يرغلګرو روحيات او مورال کمزوری کړی دی. امريکايی يرغلګرو دا مهال خپل درانه عمليات تم کړيدی. دغه عمليات چي د ماونټين ايزولور نوم ورکړل

شوی وو د نومبر په اوومه نیټه په کونړ او نورستان کې شروع شوی وو، هدف ئې د حزب اسلامی د مشر او څو مهمو قوماندانانو نیول وو، خو د حزب اسلامی د مجاهدینو د مقاومت په نتیجه کې امریکایانو ته درانه تلفات واوشتل او له سیمي وتلو ته اړ شول. د امریکایی پوځیانو د وژل کېدو تصدیق هغو افغان ترجمانانو کړی دی چې د امریکایی پوځیانو سره ګرځی، په دغو عملیاتو کې د امریکا دوه هلیکوپټری هم راغورځول شوی دی او همدا رنګه د شلو په شاوخوا کې ګاډی، ټانکونه او زرهپوشونه له منځه وړل شوی دی، ددغو عملیاتو لپاره دوه زره امریکایی عسکر سیمی ته رسېدلی وو. هغوی په لسمی غرنی فرقی پوری اړوند ځواکونه وو چې د امریکا هوایی ځواکونویی مرسته کوله، په دی عملیاتو کې تر دری زرو زیاتو افغاني عسکرو هم برخه درلوده، امریکایی الوتکو په زرګونو داسی کاغذونه وپاشل چې د حکمتیار، کشمیرخان، او حاجی غفور تصویرونه پری چاپ شوی وو او بلې خواته یی د حامدکرزی او د هغه د یوې وینا اقتباس. د عملیاتو پر وخت پیچ دره، اسمار، دانګام، شیګل، ناړی او څو نوری سیمی تلاشی کړی شوی، په دی عملیاتو کې تر **۵۰۰** نه زیات عسکری وسائطو نه کار اخیستی شوی وو، د عملیاتو قومانده د امریکایی جنرال ډان مك نیل کوله، هغه څو ځلي له بګرام نه اسعدآباد ته راغی او هلته یی د حالاتو تفصیلات معلوم کړل، د عملیاتو پر وخت د اف بې ای دوه تیمونه باجوړ ته هم رسېدلی وو، یوه هلیکوپټر ئې واېل ته نږدی په اګوك کې نسکوره او ټولې سورلی ئې ووژلی شوی، بلې هلیکوپټری د اګوك په سر باندې کماندویان کوزول خو لدوی نه دیارلس کسان ووژل شول, بله طیاره ئې د واما غره په سر ولویده او **۲۷** امریکایان سره له یوه بندی افغان په پیښی کې ووژل شول. د ونز په سر باندې د مخامخ نښتی په ترخ کې دوه مجاهدین په شهادت ورسېدل، خو د دښمن

اوه کسان مړه او یولس ئې ژوبل شول. همداراز په مناګی کي د مخامخ ننبتی په ترڅ کي دوه امریکایان او یو د دوی افغان مزدور ووژل شوو. د اسمار په سیمی کي د غونډ په مورچی کي د یوه ناڅاپی برید په نتیجه کي دوه امریکایان مړه او یو ژوبل شو. د دې عملیاتو په دوران کي په زورمنډې، شمون، سندرۍ، مانګی، ټانټیپل، کرمول او وتز سره نږدی په بیاله کي ماینونه منفجر شوی چي په ټولو کي د امریکایانو د خاصو ځواکونو ګاډی تخریب شوی او سورلی ئې مړی او ژوبلي شوی. د ناړۍ په ولسوالۍ کي د امریکایانو یو موټر په ماین منفجر او ځلور امریکایان پکی ژوبل شول. د اختر په دریمه بریکوټ ته نږدی د خرولو خوړګی کي یو ګاډی د ماین په چاودنی کي تخریب او ټولي سورلی ئې په قتل ورسېدی. د کامدیش په نیست ګل کي د مخامخ ننبتی په ترڅ کي د دښمن دری کسه مړه او دوه ژوبل شول. پدی عملیاتو کي اته ځلویښت امریکایان او نه افغاني امریکایان وژل شوی او ۹۳ ژوبل شوی. د امریکایانو د زیاتو تلفاتو په وجه د فوځیانو د پریوتی روحیی راپورته کولو لپاره په سیمی کي د امریکایي یرغلګرو عمومی قومندان جنرال جان ابی زید د کنړ دوره وکړه.

- د قوس په ۱۸ په کنړ کې د توپچی امریکایي اډه په میزائیلونو وویشتل شوه چي په نتیجه کي اوه کسان زخمیان او ۴ کسان له مینځه لاړل.
- د قوس په ۲۳ په کنړ کي د یوې بمي چاودنی له امله دوه امریکایی عسکر زخمیان شول، امریکایی نطاق هیلفرتی بګګرام کښی خبریالانو ته وویل چي دواړه ژوبل عسکر د علاج لپاره بګرام ته انتقال شوي، ده وویل چي اسعدآباد ته څېرمه موټر ته بم د مجاهدینو غړو ایښی وو چي د چاودنی له امله یی دوه عسکر ژوبل شول.

- د قوس د میاشتی د وروستۍ جمعی په ورځ په څاگی کي د دښمن یو گاډی د ماین په چاودنی کي تخریب او ټولي سورلۍ ئې له منځه تللی. پدی دوران کي د دوی په اډو په اسمار او توپچی کي پرله پسی توغندوئی بریدونه شوی.
- د ولایت او امنیه قومندانی په دفترونو کي هم دوه چاودنی وشوی
- د قوس په اتلسمه په توپچی کي د امریکایانو په اډې توغندویی برید وشو او دوه توغندی په اډې ووریدل، چې د مړثق راپور له مخی دوه امریکایان مړه او څلور ژوبل شوی
- د قوس په شلمه د گنجگل په دوسرکه کي د ماین د چاودنی په نتیجه کي دری امریکایان مړه او اوه ژوبل شوی.
- د قوس په ۲ په نورستان کي د بم د چاودنی له امله دوه امریکایی عسکر او یو د دوی افغان ترجمان سخت ټپیان شول. بگرام کښی د امریکایی عسکروویاند خبریالانو ته وویل چي د ا مریکا ځواکونو نورستان کښی عملیات کول چي په موتر یی بم وچاودیدو چي په نتیجه کښی موټر تخریب شو، او بم ایښودونکی په تیښته بریالی شوی.
- د لغمان ولایت د سلمی فرقی قوماندان جنرال عصمت الله محبت په جلال آباد کي د بهرنیو ځواکونو له خوا ونیول شو، د ده د نیولو په وخت کې جگړه هم وشوه چي د ده ۵ کسان پکې ووژل شوو. د ننگرهار والی وویل د څه مودی راهیسی د امریکایانو سره د عصمت الله محبت په باب شکونه پیدا شوی وو. جنرال عصمت الله محبت د جمعیت اسلامی غړی او د دفاع وزیر له اعتمادی کسانو نه وو. امریکایانو چې څومره خپل افغاني ملگري نیولي مخالفین ئې هومره ندی نیولی.

- د قوس په ۲۰ په جلال آباد کي د هند قونسلگرى ته نږدى د بم يوه چاودنه وشوه چي په نتيجه کښى يى قونسلگگرى ته زيات نقصان ورسېدو.
- د قوس په **۲۵** د جلال آباد ښار يوې چاودنى ولړزاوو، نامعلومو کسانو د سيمه ايز ټيلى ويزيون دفتر شاته او د پوليس د دفتر په وړاندى قوى انفجاريه مواد ځاى په ځاى کړى وو چي د چاودني له امله ئي زيات مالى تاوان اوښتي، په روانه اونى کي دا دريمه چاودنه ده چي جلال آباد کي کېږى.

## هلمند، ارزگان، قندهار

- د عقرب په ۲۷ د هلمند په ولايت کي د ائتلافى ځواکونو په يوه کاروان بريد وشو چي په نيتجه کي ئې يو رومانيايى عسکر مړ او دوه نور سخت ټپيان شول.
- د عقرب په ۲۸ د هلمند د امنيت مسئول امرداد محمد وويل: وروسته له دى چي پرون سهار د مجاهدينو په يوه بريد کښى د هلمند د سنگين په سيمه کې درى دولتى عسکر مړه او درى تنه ژوبل شول، دولتى عسکرو په سيمه کښى د مجاهدينو په ضد عمليات پيل کړل چي اوس هم د چاه بابر په غرونو کښى جگړه روانه ده.
- د قوس په ۱۱ د ارزگان د دائى کندى اوسېدونکو د آزادى له راډيو سره په يوې مرکي کې وويل: مونږ له سختو امنيتى ستونزو سره مخامخ يو، هيڅ ډول امنيت نشته، وسله وال کسان په خپل سر او د قومندانانو په امر خلك وژنى، پيغلى نجونى په زور بيايى او پس له څو شپو تيرولويى حتى وژنى، د ځمکو ماليى د وسله والو قومندانانو لخوا د ټوپك په زور له خلکو څخه اخيستل کېږى. دا هغه څرگندونى دى چي د ارزگان ولايت له دائى کندى ولسوالى څخه مرکزى حکومت ته د شکايت

په موخه راغلو کسانو د آزادی راډیو خبریال ته کړی دی، د غو کسانو ویلی چي په هره اونی کي د خپل سرو وسله والو لخوا لږ تر لږه ۳ تنه وژل کېږی او په اونی کي یوه او یا دوه پیغلی نجونی تښتول کېږی، د سیمی یو تن اوسېدونکی خدایداد مبارز چي له شکایت لرونکی پلاوی سره کابل ته راغلی دی وویل: زما یو ځوان زوی چي له واده څخه یی دری ورځی تیری شوی وی، د جبار صداقت وسله وال قوماندان له لاسه ووژل شو، د هغه ګناه دا وه چي ما خلکو ته ویلی وو چي د مالیی ټولولو حق یوائی حکومت لری نه تنظمیی وسله وال کسان، بله مسئله دا وه چي زما زوی غوښتل چي یوې ځوانی نجلی ته د ظالمانو له پنجو نه نجات ورکړی خو هغه په خپله ښکار شو، جبار صداقت د طالبانو له وخته په وژلو او لوټماریو کي لاس لری، جبار صداقت د تجارت د وزیرکاظمی په ډلی پوری تړلی دی، د سیمی اوسېدونکو وویل چي د بې وسلی کسانو وهل ټکول، وژل ، غلا او لوټماری یو عام کار دی چي له تیرو دوه کلونو راهیسی دوام لری، یوه بل شکایت کوونکی شیر حسین وویل چي په سیمه کي هیڅ ډول ثبات نشته او خپلسري ټوپکوال د خلکو پیغلی لورګانی په زور بیایی، لکه چي تیرکال د صداقت قوماندان ورور یوه پیغله وتښتوله او له څو شپو وروسته یی بیا ووژله، دغو اوسېدونکو وویل دغه وسله والی ډلی د کرزی مرستیال خلیلی، تجارت وزیر کاظمی او د کرنی وزیر انوری پوری تړلی دی او پخپلو کیهم یوله بله مخالفتونه لری او ټول شیعه ډلی دی، د دائی کندی خلکو له حکومت څخه غوښتنه وکړه چي په سیمه کي حکومتی اداره جوړه کړی اوسېدونکی د وسله والو له زور زیاتی څخه وژغوری. دا هغه امنیت، آزادی او دیموکراسي ده چي امریکایانو له ځان سره افغانانو ته راوړي!!

- د قوس په ۱۲ په ارزګان کي مجاهدینو د ا ئتلافی ځواکونو پر

گزمي حمله وکړه چې په کې یو حکومتی عسکر ووژل شو. د بگگرام په هوایي اډه کې د امریکایی یرغلگرو ویاند خبریالانو ته وویل پیښنه هغه وخت رامنځ ته شوه چې کله امریکایی او افغان حکومتی عسکر په ارزگان کې امریکایی اډې ته نږدی په گزمه بوخت وو.

- د قوس په ۱۷ دری تنه افغاني او دوه تنه هندی انجنیران د ناپیژاندو وسله والو کسانو لخوا وتښتول شول، دا پیښنه د زابل ولایت د شاه جوی په سیمه کې په هغه ځای کې چې تیره موده یو ترکی انجنیر هم پکی تښتول شوی وو رامنځ ته شوه، تښتول شوو انجنیرانو د هغې هندی کمپنی لپاره کار کاوو چې امریکایانو استخدام کړي.
- د قوس په ۲۰ د زابل د والی مرستیال مولوی محمدعمر په خپلی مرکې کې وویل چې د زابل ولایت په زیاترو برخو د مجاهدینو واکمنی ده، یوازې د شاه جوی او شهر صفا ولسوالی او د ولایت مرکزکلات له دولتی ځواکونو سره دی، تراوسه د نوموړی له خولی څو ځلي دغلته د دولت د کمزورتیا خبرونه خپاره شوی دی.
- د رویتر د خبری آژانس د رپوټ په اساس د کندهار یوه پوځی چاروا کی په وینا پرون سهار وختی د امریکایی عسکرو په گزمه باندې یوه نامعلوم سړی په لاسی بم سره حمله وکړه چیله امله یی دوه امریکایی عسکر سخت ټپیان شول، د یوه ټپی حالت وخیم ښودل شوی. بریدکوونکی نه دی پیژندل شوی.
- د قوس په ۱۴ په کندهار کې د مجاهدینو او د امریکایي یرغلگرو ترمنځه سختی نښتی وشوی چې په کې دوه امریکایان ژوبل شوو. کابل کې د امریکی د پوځ مطابق قندهار کې د امریکی د فوځ په قافله حمله وشوه او دوه امریکایی پوځیان پکی ژوبل شول، ژوبل شوی د بگرام د هوایی ډگر روغتون ته یوړل شول. دا حمله هغه وخت وشوه کله چې د

امریکی فوځیان د مجاهدینو په خلاف د عملیاتو نه روان وو.

• د قوس په ۱۵ د کندهار په ښار کې د یوې درنې چاودنې له امله مرګ ژوبله رامنځ ته شوی ده. دغه چاودنه د کندهار یو سوداګریز مرکز ته نږدې وشوه چې لږ تر لږه په کې ۲۷ تنه ټپیان شول. د کندهار پولیسو وویل چې تر اوسه پورې په پېښه کې د وژل شوو کسانو په اړه اطلاعات نه دي تر لاسه شوي، د کندهار د پولیسو قوماندان محمد هاشم خبریالانو ته وویل چې بم په یوه بایسکل کې ایښودل شوی وو او بایسکل د یوه دولتي ګاډي په څنګ کې درول شوی وو، دغه موټر هم په چاودنه کې الوزول شوی دی. د کندهار د امنیې قوماندان د دغې چاودنې پړه په طالب جنګیالیو اچولې ده.

• په همدغه اونۍ کې د بدخشان ولایت د پولیسو قوماندان د ناپېژاندو وسله والو په برید کې سره له یوه ساتونکي ووژل او دوه تنه نور ټپیان شول، تر اوسه پورې د دې پېښې مسئوولیت چا په غاړه نه دی اخیستی.

• همدا راز په فراه کې ناپېژاندو وسلووالو د ملګروملتونو د سازمان یو کارکوونکی وواژه او ۱۱ نور ئې ټپیان کړل. د فراه والی وویل د ملګروملتو د سازمان ۲۰ تنه کارکوونکي چې د سرشمیرنې دنده یې ترسره کوله، په ۸ موټرونو کې سپاره د کندهار په لور روان وو چې د چکاو په سیمه کې وربانديې برید وشو، په نتیجه کې یو کارکونکی مړ او ۱۱ نور ټپیان شول، د ۷ تنو کارکوونکو روغتیایي وضعه وخیمه ښودل شوې ده.

• د قوس په ۲۸ مجاهدینو د پکتیکا په ولایت کې په یوه نظامي مرکز برید وکړ چې په نتیجه کې پوسته له مینځه لاړه. په همدې شپه پنځه توغندي د خوست په زاړه هوایي ډګر وتوغول شول چې د درنو چاودنو

سبب شول، خو د مرګ ژوبلی په اړه ئي معلومات ندی ترلاسه شوی. له برید نه ورسته سیمه د ائتلافی ځواکونو لخوا وپلټل شوه خو حمله کوونکی له سیمی څخه وتلی وو.

- د قوس په ۲۸ ناپیژاندو مجاهدینو د بګرام په هوایی اډه چي د امریکایی او ائتلافی ځواکونو په ستری اډي بدله شوید توغندویي برید وکړ او ۳ توغندی یی وراندي وورول چي د پوځی اډي په رنوی ولګیدل. تر اوسه د دغه توغندویی برید په نتیجه کي د رامنځ ته شوی ځانی او مالی تاوان په اړه کوم رپوټ نه دی خپور شوی.

د مجاهدینو سري پوځ
افغانستان
۱۳۸۲/۱۰/۱

بسم الله الرحمن الرحیم

# ۱۵ اعلامیه

د جدی د میاشتی ځیني پیښي دا وي:

• د امریکا د جنگ وزارت اعتراف وکړ چې تر اوسه په افغانستان کي د دوی ۱۰۰ عسکر وژل شوي!! خو په افغانستان کي د دوی فوځي ویاند وویل چي نه، په فلیپین، عراق، افغانستان او نورو سیمو کي په جگړو کي زمونږ بوخت فوځیانو نه یوازي ۵۸کسان وژل شوي!! دا پداسې حال کي چي پنتاگون ویلي چي یوازې په عراق کي تراوسه زمونږ د وژل شوو فوځیانو شمیر له ۵۰۰ نه واووښت!! لدې متناقضو څرگندونو نه په ډاگه معلومیږي چي امریکایان په افغانستان کي د خپلو تلفاتو له څرگندولو نه ډډه کوي!! حقیقت دا دي چي تر اوسه په افغانستان کي د وژل شوو بهرنی یرغلگرو شمیر له ۳۸۷ نه اوښتی دي، او د ژوبلو شمیر ئې له ۱۳۳۰ نه زیات دي.

• د امریکایي یرغلگرو نوي قوماندان ویلي چي مونږ د عملیاتو لپاره افغانستان په دریو حوزو ویشلي، شرقي حوزه، جنوب شرقي حوزه او جنوبي حوزه. د دغو حوزو په اړه ئي وویل: په جنوب شرقي حوزي کي د القاعده غړي فعالیت کوي او مونږ فیصله کړي چي دلته به د مخالفینو د

ځپلو لپاره شدید عملیات ترسره کوو، په شرقي حوزي کنړ، نورستان او ننګرهار کي د حکمتیار پلویان فعالیت کوي، د دوی د ځپلو او منزوي کولو لپاره به زمونږ عملیات ادامه لري، په جنوب کي د طالبانو پاتي شوونی فعالیت کوي، لدوي سره د تماسونو له لاري غواړو معتدل کسان ئې د کرزي له حکومت سره ملګرتیا ته تیار کړو!! داسې معلومېږي چي امریکایانو د همدي لپاره وکیل احمد خوشي کړ او په کندهار کي ئې کور او دفتر ورکړ، د معتدلو طالبانو هیئتونه ئې کابل او کندهار ته د مذاکراتو لپاره وغوښتل، ارمیتاج د امریکا د خارجه وزارت معین له دي هیئتونو سره د مذاکراتو لپاره د کندهار دوره وکړه، شاید امریکایانو دا فیصله کړي وي چي لدغی ډلي نه یو ځل بیا د مجاهدینو او د مخلصو طالبانو په ضد استفاده وکړي.

- امریکایانو په افغانستان او عراق کي د نویو حکومتونو د جوړلو لپاره یو وخت، د راتلونکي کال د جون میاشت غوره کړي؟! دا د جون راتلونکي میاشت ولې هم په افغانستان کي د انتخاباتو لپاره غوره شوي او هم په عراق کي مؤقت حکومت ته د اقتدار د لېږدولو لپاره؟ پدي هکله څو خبري د پام وړ دي: د دغو دواړو هېوادونو په هکله فیصلي په واشنګټن کي کېږي، نه په کابل او بغداد کي، د کابل لویه جرګه او د بغداد تش په نامه حاکمه شوری هسي غولوونکي مسخره ډرامي دي. امریکایان په عراق کي غواړي لومړي د افغانستان د موقت حکومت په څېر د خپلي خوښي حکومت د داسې غونډي له لاري جوړ کړي چي د کابل لوئي جرګي ته به ورته وي؛ غړي به ئې د لوئي جرګي د غړو په څېر د محلي انتصابي غړو له لاري غوره کېږي!! د دي معني دا ده چي د عراق موجوده تش په نامه حاکمی شوری ته به یو شمیر نور د دوی په څېر کسان راولي او دیته به د عراق د ولس د ممثلی شوری نوم ورکوي او د همدي شوری له

لاري به امریکایان خپلو پریکړو ته قانوني بڼه ورکوي، همغه کار چي دوی په بن کي د افغانستان په اړه وکړ، خو د عراق ولس انتخابات غواړي، امریکایان دا انتخابات د ځان په ګټه نه ګڼي او مخالفت ئې کوي. همداراز د بش اداره غواړي د امریکا له راتلونکو انتخاباتو نه مخکي تبلیغاتی مواد ترلاسه کړي، او د امریکا ولس ته وښیي چي دا دي په کابل او عراق کي د دوی د خوښي دیموکراتیك حکومتونه جوړ شول!!

• په عراق او افغانستان کې په جګړو کي ښکېل امریکایي فوځیانو خپله روحیه له لاسه ورکړي، ستړي، ستومانه او ناامیده دی، د امریکا فوځ دا هڅه کوي چي دوی دې ته تیار کړي چي د اضافي پېسو په مقابل کي دلته پاتی شي او خپل کار ته دوام ورکړي. هغه کسان چي د کار موده یې پای ته رسېدلې او لدي هېوادونو نه د فوري وتلو تلوسه لري ورته وړاندیز شوی دی چي تر دریوو کالو پاتې کېدو په بدل کې به ۱۰۰۰۰ ډالرو ورکول کېږي، خو داسې معلومېږي چي هیڅ څوك دیته تیار ندي، د همدي لپاره امریکایي چارواکي دیته اړ شول چي له عراق نه ۲۵۰۰۰ فوځیان وباسي.

• د امریکایانو، انګریزانو او فرانسویانو په لاس د روزل شوو افغانانو اجیر فوځیانو نیمائي وتښتیدل، د کابل علاقه داري چارواکو اعتراف کړي چي د شپږو زرو روزل شوو اجیرانو له ډلي نه نږدي دري زره تښتیدلي دي!! دوی د امریکایي، انګریزي او فرانسوي افسرانو په لاس د دي لپاره روزل شوي وو چي د افغانانو په ضد ئې وجنګوي. اجیر شوو افغانانو دا ګمان نه کولو چي له روزني سره سم به د جنګ لومړی خط ته لېږل کېږي، خو کله چي پدي پوه شول نو دا ئې ونه غوښتل چي د څو ډالرو په خاطر د پردیو تر قومندی لاندي د خپل ولس په ضد وجنګېږی!! ویل کېږي چي یواځی پنجشیریان او هزاره پدي روزل شوو ټولګیو کي پاتی

کېږي، د نورو سيمو عسکر تښتي. دا بې ايمانه او بې غيرته اجير فوځيان ديته هم نه ګوري چي د هغو انګريزانو، امريکايانو او فرانسوي دين دښمنه افسرانو په لاس روزل کېږي چي د افغانانو د پلرونو او ورونو په وينو ئې لاسونه سره دي، د افغانانو غازی نيکونه دری ځله له انګريزانو سره وجنګيدل، فرانسويانو د الجزاير يو مليون مسلمانان ووژل، دا اوس د فرانسي له مدرسو نه مسلمانی نجونی پدې خاطر له مدرسو ايستل کېږي چي ولې اسلامي جامه اغوندی او سر په پړونی پټوي، امريکايان په فلسطين کي هره ورځ په لسهاوو مظلوم او بې وسلی فلسطينيان په خپلو وينو کي لت پت کوي، دا د اسلام دښمنان خو تا د دې لپاره روزي، پيسی او وسلی درکوي چي د اسلام او مسلمانانو په ضد دی وجنګوي!!

• امريکايي لويه جرګه ختمه شوه، د امريکايانو له خوا جوړه شوي مسوده ئې له خاص تغيير نه پرته تصويب کړه، د يوي ملي ژبی په ځای ئې پنځه رسمی ژبی ومنلي!! د اساسي قانون د تطبيق لومړی نښه: په تلويزيون کي د ښځينه سندرغاړي د سندري د فيلم ښودل وو!! په تلويزيون کي د سلما نومی سندرغاړی د سندري په خپريدو د کابل ستري محکمي اعتراض وکړ او هغه ئې د اساسي قانون خلاف عمل وګاڼو، خو د اطلاعات او کلتور د وزارت معين په ځواب کي وويل چي دا کار د اساسی قانون مطابق دی ځکه چي په اساسی قانون کي ښځو او سړو ته برابر حقوق منل شوي!! د کابل امريکايي حکومت دا د ديموکراسی په لور بل ګام ګڼي، او خپلو غربی بادارانو ته د خپل اخلاص د ثابتولو لپاره ئې د کابل په تلويزيون کي ښځينه سندرغاړو ته اجازه ورکړه چي خپل ديموکراتيك هنر او په غربي لباس کي عشقي سندره وړاندي کړي، دا په داسې حال کي چي څو ورځي د مخه په امريکايي لويي جرګي کي تصويب شوي اساسي قانون وايي چي اسلام زمونږ دين دي!!

- د کابل د امریکایي حکومتستره محکمه په هندی فیلمونو او د هندي ښځینه سندرغاړو او رقاصو په سندرو او نڅا چي د کابل په تلویزیون کي ښودل کېږی اعتراض نه کوي، د نارینه وو په ساز او سرود، په نایټ کلپونو، د ویډیو گیم په مرکزونو، د شرابو په پلورنځیو، د هندي فیلمونو او سندرو په کیسټو چي په پراخه پیمانه د کابل ښار په لر او بر کي خرڅېږي، د غربي خیریه مؤسسو او د بهرنیو ځواکونو په اډو او د اډو ښا او خوا سیمو کي چي کوم فساد روان دي، او ... اعتراض نه کوي، خو نه پوهېږو چي د سلما په سندری د دین لپاره اعتراض کوی که د افغان ولس د فشار راکمولو لپاره!! د تلویزیون چارواکو د ستر محکمي له اعتراض سره سره نه یوازي د دغو سندرو نشرولو ته دوام ورکړ، بلکه د ستري محکمي د اعتراض په سبا د کابل تلویزیون د "استاد مهوش" او "استاد پروین" سندری، تصویرونه او فلمونه هم نشر کړل، دا پدي خاطر چي د ستري محکمي رئیس او معاون ئې د دوو داسي تنظیمونو غړي دي چي مشران ئې له "الازهر نه فارغ استادان" دي!! دوی د "استاد" سیاف څو کاله مخکنی هغه وینا هم نشر کړه چي د کابل د ورانولو په هکله ئې خپلو مجاهدینو ته هدایت ورکاوو!! او ویل ئي: مونږ بیل او کلند د دي لپاره راخیستی چي د کفر مرکزونه وران کړو او په ځای ئې مسجد جوړ کړو، شهر غلغله وران او په ځای ئې مدینه جوړه کړو، انشاء الله که کوم دیوال پاتی وي هغه به هم نسکوروو!! ستري محکمي ته باید ووایو چي تر دي ستر ستر حرام کارونه، د اسلام ضد او د دین خلاف کارونه ستا په ملك کي روان دي، ته ئې هم گوري او افغان ولس هم، راشئ پدي هم یو ځل اعتراض وکړي!! ستا په ملك باندي کفري صلیبي ځواکونه حکومت کوي، ستا پر هېواد ئې یو لاس پوڅي حکومت مسلط کړي، ستا په ملك کي ئې نظامي اډي جوړي کړي، په زرهاوو افغانان ئې وژلي او هره ورځ په

لسهاوو نور په خپلو وينو کي لت پت کوي، په جوماتونه، کليو او کورونو بمونه وروي، د هر افغان د نيولو، وژلو او ګوانتانامو ته د لېږدولو واك لري، ستا د ملك ټولي فيصلي په واشنګټن کي کېږي، د کابل چارواکي د امريکايانو مامورين دي، راشه پدې سترو سترو حرامو کارونو هم اعتراض وکړه، ته خو د هغو مجاهدينو په خلاف فتوی ورکوی او هغوي باغيان ګڼي چي د دغو حرامو کارونو په ضد جهاد کوي!! ته چي د کفري ځواکونو په لاس د افغانانو له خلع سلاح کېدو سره موافق يي او پدي اعتراض نه کوي، نو لدي سره به هم موافق يی چي ستا د ولس ځلميانو ته د ټوپك په ځاي دمبوره او رباب په لاس کي ورکړي، او ستا د ولس پيغلی نڅا او سندرو ته تياري کړي، دا خو د ښکېلاکګرو ځواکونو عادت دي چي په خپلو مستعمراتو کي به د ايمان جرړي باسي، اخلاق او معنويات به ختموي، هر هغه څه به له منځه وړي چي په يوه ملت کي د عزت، خپلواکي، استقلال او سرلوړي ژوند احساس او جذبه ژوندي ساتي، د دې په ځای به اخلاقي فساد، شراب، نڅا، سندري... خوروي.

- امريکايانو څو ورځي افغانان په اساسي قانون او لوئي جرګي مصروف کړل، اوس ئې په امريکايي نظام کي برخه والي ډلي د ښځينه سندر غاړو په لوبه کي مصروف کړي، يو په جګ غږ او ډېر جسارت او سپين سترګتوب سره وايي چي اساسي قانون ښځو ته له نارينه وو سره برابر حقوق منظور کړي، که نارينه سندري ويلی شی او د تلويزيون له لاري د دوی د سندرو په نشرولو اعتراض نه کېږي نو د ښځو په سندرو ولې اعتراض وشي، بل په دپ او ويريدلي غږ وايي: دا د اساسي قانون خلاف عمل دي، بايد متوقف شي!! د دي فيصله به هم امريکايان کوي چي د تلويزيون نشرات به څنګه وي، تلويزيون د دوی په واك کي دي، د افغانستان ټوله فضاء ئې د راډيوئي نشراتو له څپو مشحون کړي، بي بي

سي ، امريکا غږ، د آزادی راډيو، په مرکز او ولاياتو کي، د دوی له نظامی اډو نه، په ايف ام څپو کي ، شپه ورځ، څلورويشت ساعته، په پښتو او فارسي کي نشرات کوي، دوه لکه راډيوگانی ئې په افغانانو وويشلی ترڅو دا نشرات واوری، له هر خبر نه وروسته يوه عشقي سندره خوروي. له اساسي قانون څخه د دوی هدف دا وو چي خپل هر کار ته قوانوني بڼه ورکړي.

- متأسفانه ځيني بې خبره پښتانه دا گمان کوي چي د کرزی په ملاتړ سره به دوی د پښتنو له حقوقو نه دفاع وکړي شي، حال دا چي کرزی له دي ډېر ډېر عاجز دي چي د يوه باتور او سرلوړي ولس استاځي وي او د دوی له پت او عزت نه دفاع وکړي شي، کرزي ته په لومړۍ ورځ دوستم چپن په اوږه ورواچوله او قره قلی ئې ورپه سر کړه، تراوسه هغه دا چپن له اوږي نشی لری کولی، هغه به څنگه د شمال د روسي – امريکايي ائتلاف مخی ته ودرېږي، او څنگه به د پښتنو هويت وساتی او د پښتنو له حقوقو به دفاع وکړی.
- د ايران د جمهور رئيس معاون ابطحی په متحده اماراتو کي د يوه کنفرانس په ترڅ کي وويل: که د ايران مرسته نه وی نو نه کابل دومره ژر نيول کېدی شوي او نه بغداد!! لدې نه مخکي به ايرانی چارواکو يوازي د افغانستان په اړه ويل چي که زمونږ مرسته نه وي نو امريکايانو د افغانستان په جنگ کي په دومره آسانی او په دومره لنډی موده کي دا بريا نشوي ترلاسه کولي!! خو د عربانو د نه ناراضه کولو لپاره ئې د عراق په اړه له امريکايانو سره خپله پټه مرسته او ملگرتيا نه په ډاگه کوله!! دا لومړی ځل دی چي دوی د عراق په ارتباط له امريکايانو سره له خپلې پټې ملگرتيا پرده پورته کوي!! ابطحی دا هم وويل چي مونږ د دې مرستو په بدل کي د "پاداش" انتظار درلود خو برعکس گواښل کېږو!! د پاداش خبره

له ابطحی نه مخکی خاتمی او خرازی هم کړی وه. مونږ دیته حیران یو چي ایرانیان څنګه د اسلام او مسلمانانو په ضد د اسلام له دښمنانو سره پدې شرمناك او ننګين سازش نه یوازي نه شرمېږی بلکه په هغه فخر او مباهات کوي، نه پوهېږو پدې تاريخی خيانت له اعتراف نه دوی څه ترلاسه کول غواړي؟؟ آیا دا ګمان کوي چي امريکایان به پدې راضي کړي او دوی ته به په اقتدار کي د پاتی کېدو مزيد مجال په لاس ورشي!! د ایرانی چارواکو دا دريځ کاملاً هغه دريځ ته ورته دی چي د مصر د فاطميانو حکومت په مخکنی صليبی جنګ کي غوره کړی وو، له صليبی ځواکونو سره د اسلامی خلافت په ضد ملګرتيا، خو صليبی ځواکونو د فاطميانو د ټولو مخلصانه خدمتونو او ملګرتيا سره سره د دوی حکومت نسکور کړ، له ایران سره به همدا کېږی. خو هم به الله ورنه ناراض وی، هم به ئې تاريخی سپکاوی او ذلت په برخه شوی وی او هم به ئې حکومت د همدی دښمن په لاس نسکوره کېږی. دا دي ګورو چي لدې خدمت سره سره امريکایانو ایران دیته اړ کړ چي خپله اتمی بټۍ پرچاو کړي، او د هغو ساينس پوهانو فهرست ورکړي چي د اتمي تکنالوژي په اړه ئې له ایران سره مرسته کړي، ایران له ځنډ نه پرته د پاکستانيانو نومونه ورکړل!! څوك څه خبر دی چي شاید د ایران وروستی زلزله هم د دغی ملګرتيا الهی "پاداش" وي، د زلزلي په ترڅ کي دومره کسان مړه شول چي په افغانستان او عراق کي د امريکایانو د تيري په نتيجه کي په شهادت رسېدلي وو!!

- د امريکا سی آی ای د هغو قومندانانو نومونه اعلان کړل چي په افغانستان باندې د امريکایانو له برید نه مخکی ئې هغوی ته ډالر ورکړي وو. پدې لست کي د دوستم، فهيم، کريم خليلی، محقق، عارف، عبدالله، تورن اسمعيل، عبدالحق، کرزي، شيرزی، حضرت علی، حاجی زمان، حاجی قدير، او ګڼ شمير نورو نومونه ذکر شوي.

- په ارغنداب کې د امریکایي یرغلګرو ستر عملیات د اساسي قانون د پلي کولو په لار کې دوهم ستر ګام وو. دوی د ارغنداب پراخه دره محاصره کړه، ټوله ساحه د ارغنداب د سیند دواړه غاړو ته ټول کلي ئې کور په کور تلاشي کړل، پداسې حال کې چې د کندهار تش په نامه چارواکي له عملیاتو نه کاملاً بې خبره وو او چې کله د آزادی راډیو خبریال د دې عملیاتو په هکله ورنه تپوس وکړ وئې ویل: د راپورونو له مخې ویل کېږي چې په ارغنداب کې عملیات روان دې خو مونږ ورنه خبر نه یو!!
- همدا راز د ارزګان د چار چینې په کلی د امریکایانو بمباری او د ۱۱ ښځو او ماشومانو بې رحمانه وژنه او د ګڼ شمیر نورو ټپي کول د اساسي قانون د پلي کولو بله بیلګه ده، د ارزګان والي د دې وحشیانه بمبارۍ په هکله وایي چې مونږ له امریکایانو نه "غوښتي" چې په کلیو بمباري ونکړي او بې ګناه کلیوال ونه وژني!! په ارزګان کې د امریکایي حکومت چارواکي وایي چې یوولس تنه د ارزګان په ولایت کې د امریکا په هوایي بمبارۍ کې وژل شوي دي. د ارزګان والي جان محمد بي بي سي ته وویل چې امریکایي الوتکو دا برید د یکشنبې په شپه د چارچینو پر سیمه کړی چې د وژل شویو تر نیمایي ډېر ئې ښځې او کوچنیان دي. هغه وویل امریکایانو دا برید وروسته تر هغه وکړ چې یوه ورځ د مخه یې دغه کلی پلټلی او فوځي مهمات یې پکې موندلي وو. د امریکا یوه فوځي ویاند ډګرمن براین هېلفرتي ومنله چې د یادې شوې سیمې په شاوخوا کې برید شوی دی، خو ویې ویل چې یوازې پنځه تنه وژل شوي دي. نوموړي د معمول په څېر وژل شوي کسان د فوځي ملېشې غړي وبلل!! خو ده په ډېره بې شرمي په کلي بمباري او د ۱۱ بې وزلو افغانانو وژل کېدل تکذیب کړل، او وئې ویل: په تیرو پنځو ورځو کې زمونږ طیارو دلته هیڅ بمباري نده کړې!! امریکایانو په درواغ ویلو کې د خپلو روسي ملګرو مخ هم

سپین کړ، دومره پاتی ده چي ووایي: دا بمباري د القاعدي له خوا شوي!! دا باید ووایو چي د طالبانو د حکومت له نسکورولو نه وروسته تراوسه امریکایانو په مختلفو ولایاتو کي په کلیو او کورونو باندي په دولسو بمباریو اعتراف کړي چي په نتیجه کي ئې په سلهاوو بې ګناه افغانان مړه او ژوبل شوي، د کابل بې ننګه چارواکو هرځل همدا خبره کړي چي مونږ له امریکایانو غواړو په کلیوالو بمونه ونه وروي!! لدغو بمباریو څخه ځیني دا دي: له خوست نه د ګردیز په لور تلونکي کاروان باندي بمباری او د ۶۵ کسانو وژل، د ګردیز د نیازیو په کلي بمباري او تر ۱۰۰نه زیات کلیوال وژل، د دهراود په اوو کلیو د واده په شپه بمباري او د ۱۸۵ کلیوالو مرګ ژوبله، د بغران په کلیو بمونه ورول او د ۱۷ کلیوالو وژنه او بیا همدلته په بلي بمباری کي د اته کسانو وژنه، د شکین په یوه کلي بمونه ورول او ۱۱ افغانان وژل او ۷ ټپي کول، د نوبهار په یوه کلي بمباری او اته کلیوال وژل، د نورستان په یوه کلي بمونه ورول او اته کسان وژل، په برمل کي په یوه کور د بمباري په نتیجه کي شپږ ښځی او ماشومان وژل، په غزنی کي په یوه کور باندې د بمباري په ترځ کي ۹ ماشومان وژل، ګردیز ته نږدې په یوه کور د بمباري په نتیجه کي دوه ښځي او شپږ ماشومان وژل. د کابل د امریکایي حکومت چارواکو پدې ټولو پیښو کي نه په بمباریو اعتراض کړي او نه ئې د بې وزلو افغانانو په مرګ ژوبلي، هر ځل ئې دا ویلي چي مونږ به له خپلو امریکایي دوستانو نه وغواړو چي په کلیو بمباری ونکړي او له عملیاتو نه مخکي مونږ خبر کړي!! امریکایانو د دي ټولو وحشیانه بمباریو او مرګ ژوبلي په اړه له افغانانو نه د بخښني له غوښتلو نه هم ډډه کړي، دا پداسې حال کي چي دوی د هغو څلورو کانادائي عسکرو د وژل کېدو په اړه د کانادا له حکومت نه رسماً بخښنه وغوښته چي د دوی د یوه مست پیلوټ د بمباری په ترځ کي وژل شوي وو!! لدي نه معلومېږي چي

امریکایان د کابل بې ننګه چارواکو ته په کومه سترګه ګوري!!

- امریکایانو اوس د اسلام او مسلمانانو په ضد کمونستان او نشنلستان استخدام کړی؟ په کابل کې د پرچم ډلې په څنګ کې د افغان ملت ډله او د احدي او حبیب الله رفیع په څېر مشران ئې او په پېښاور کې افرآسیاب خټك، دغه نشنلستان مخکې د روسانو په خدمت کې وو او اوس د امریکایانو په خدمت کې!! د تاریخ په اوږدو کې ټولو استعماری ځواکونو هغه ډلې استخدام کړی چې یا ئې ځان ته روشنفکر او اصلاح طلب ویلی او یا قوم پرست. قرآن وایي چې منافقینو ځان ته اصلاح طلب او روشنفکر ویل. په مخکنیو صلیبی جنګونو کې او د اسلامي خلافت د ختمولو په جنګ کې هم د عربو، ایرانیانو او ترکانو نشنلستان د اسلام په ضد استخدام شول.
- د ا فغانستان د اسلامی حزب د ا میر مولوی محمدیونس خالص لخوا یوه اعلامیه خپره شوه، په اعلامیه کې ویل شوي چې څو کاله وړاندې د روسي استعمار مقابله کې مونږ په ملیونونو شهیدان او معیوبین ورکړي او د هېواد نیمی نه زیاته آبادی مو په کنډواله بدله شوېده، دا قرباني مو د اسلام د حاکمیت او د یوه خپلواك او آزاد افغانستان د تحقق په خاطر ورکړېدی. اعلامیه کې ویل شویدی چې د شهیدانو وینی او د یتمیانو اوښکې مو وچی شوی نه وی چې امریکایی استعمار هم لکه د روسانو هغه وحشت او بربریت ته ادامه ورکړه، خو یو مجاهد ملت دا هر څه نه شی زغملی. اعلامیه کې زیاته شویده چې افغانستان خپلواکه اداره او حکومت نه لری او هره فیصله د امریکی په زور او خوښه کېږی ځکه د جرګو، اساسی قانون او انتخاباتو هڅې بې بنیاده او د امریکایانو په ګټه دی او غواړی چې د دی لاری تجاوز ته قانونی بڼه ورکړی او هم افغان ولس مصروف وساتی. اعلامیه کې راغلی

چي د بون جرگه، لویه جرگه او اوس اساسی قانون د افغانستان د خپلواکی ضامن نه دی او هغه خلق چي د ولس په وینو ئې لاسونه سره دي د امریکی په همکاری په ولس مسلط شوی دی. اعلامیه کي راغلی چي دلته کومه اداره یا حکومت وجود نه لری چي امریکی نه دا پوښتنه وکړی چي بې گناه افغانان مو ولی نیولی یا مو ولی شهیدان کړی دی؟ اعلامیه کي په امریکی او د دی په متحدینو غږ شوی دی چي خپلی هر راز مداخلی ته د پای ټکی کېږدی او پرېږدی چي دا ځوریدلی ولس د آرام ساه واخلی او خپل سرنوشت پخپله وټاکی. او باید د افغانستان مسلمان او مجاهد اولس هم خپلی پښې لاسونه پخپله ونه تړی او په داسی جرگو او انتخاباتو کي د گډون کولو نه ډډه وکړی او یو ځل بیا دی د اسلام د کامیابی په هیله میدان ته راودانگی.

• د حزب اسلامی افغانستان مشر ورور حکمتیار د صدام حسین د نیول کېدو په اړه په یوه بیان کي وویل: "د شخصیتونو په وژلو او نیولو سره آزادی غوشگتونکی مقاومتونه نشی ختمیدی. امریکایانو د صدام حسین نیونه لوی بری وگڼلو، لده سره په چلند کي ئې د کم ظرفو بدمعاشانو په څېر د بداخلاقۍ کرکجنه مظاهره وکړه، خو د ده نیونه به نه یوائی د عراقي ولس په مقاومت هیڅ منفی اغیز نه کوی بلکه برعکس اوس به هغه عراقیان هم په مقاومت کي برخه اخلی چي لدې د مخه ئې د دې واهمی په وجه له مقاومت نه ډډه کوله چي شاید د مقاومت د بری په صورت کي یو ځل بیا مخکنی نظام په عراق مسلط شی. اوس به ټول آزادی غوښتونکي عراقیان په یوه مجاهد قیادت راغونډ ېږی.

د افغانستان او عراق مجاهدین د اسلام او خپل هېواد د آزادی لپاره جنگېږی، هیڅوك د کوم شخص لپاره خپل ژوند په خطر کي نه اچوی، د ظلم په ضد او د آزادۍ په شان د سترو او مقدسو آرمانونو لپاره قربانی ته

چمتو کېږي. امریکايي چارواکی پدی نه پوهېږي چي د شخصيتونو په وژلو سره دا آزادی غوښتونکی مقاومتونه نشی ځپلی.

د عراق په نیولو سره امریکا د عربی هېوادونو تر ټولو لوی او ځواکمن هېواد اشغال کړ، نور ضعیف او ناتوانه او واړه واړه عربی هېوادونه د دوی د کاملی سلطی په وړاندی نشی خنډ کېدی، دا هېوادونه اکثراً په سیاسی، اقتصادی او نظامی لحاظ د دوی د مستعمراتو حيثيت لری، او له کلونو کلونو رادیخوا هلته نظامی اډې لری. که لدې د مخه د دغو هېوادونو کوم چارواکی د امریکا او اسرائیلو په وړاندی څه حيثيت درلود نو دا هم د عراق او صدام حسین په وجه وو، لدې وروسته به دغو چارواکو ته هیڅ اهمیت نه ورکوی، برخه لیك به ئې په واشنگټن کې ټاکل کېږي او هر څه به د جان ابی زید په امر تر سره کوی، هغه به د ټول خلیج وای سرا وی!!

د اسلامی هېوادونو واکمنان دی مخکی لدې چي د صدام حسین په څېر معامله ورسره وشی، باید خدای ته مخه کړی، د خپلو ولسونو اعتماد دی ترلاسه کړی، او لدې حالت نه دی ځان وباسی چي خپل ولس ته فرعونان او پردیو ته غلامان وی. د عربو چارواکی دی واشنگټن ته د صدام د نیولو مبارکی نه ورکوی، دا کار به امریکايي یرغلگر دیته هڅوی چي له تاسو سره هم همدا کار وکړی، ستاسو په لری کولو سره به د همداسی مبارکی پیغامونو طمع کوی!! بش لا د مخه اعلان کړی چي د عراق دیموکراسی به په ټول خلیج کي د دیموکراتیك انقلاب پیلامه وی.

د صدام له نیولو نه وروسته به یو ځل بیا ټولي نړۍ ته څرگنده شی چي د امریکايي جنگ غوښتونو چارواکو د دوهمی بهانی ختمیدو سره سره دا دی دوی د عراق له اشغال نه لاس نه اخلی، بیا به هم د دیموکراسی د پلی کولو په پلمه د عراق اشغال ته دوام ورکوی. د عراق او ټولي نړۍ

مسلمانانو ته به هم ثرگنده شی چي دا د عراق د اتمی او کیماوی وسائلو ختمولو او د صدام حسین د نیولو جنگ نه وو، بلکه بل صلیبی جنگ دی چي له افغانستان او عراق نه پیل شوی. د عراق او افغانستان پیښو وښوده چي نه د اسلامی نړی حکومتونه او فوځونه د امریکایي یرغلگرو مقابله کولی شی او نه ئې حکام او چارواکی، فقط د ملت له غېږ نه راپورته شوی مجاهدین کولی شی د اشغالگرانو مخی ته ودرېږی او د خپل هېواد له اشغال نه ئې مأیوس کړی"

د جدی میاشتی حگینی نظامی پیشگی دا وی:

## کابل، پروان، غزنی او لوگر

• د جدی په لومړی شپه په کابل کې د یرغلگرو د مرکزونو په لوری دری توغندی وتوغولی شوو چې له امله یی زوروری چاودنی وشوی. له دغو راکټونو ځخه دوه راکټونه د لویی جرگی د ځای په څو سوه متری کي لگیدلی دی. تر اوسه دانه ده معلومه چي دا برید د چالخوا شوی او د تلفاتو اندازه یی څومره ده خو ویل کېږی چي دغو چاودنو زیات مالی زیانونه اړولی دی. د امریکایی یرغلگرو قوماندان ویلی چي دا کار د مجاهدینو او یا د هغوی د پلویانو لخوا تر سره شویدی.

• د جدی په ۲ د کابل هوایی ډگر ته نژدی په عمومی سرك هغه وخت یوه چاودنه وشوه چي امنیتی مسئولینو یو کس ونیو او غوښتل یی موټر ته یی وخیژوی کله چي هغه پوه شوه چي ونیول شو، په دیگ بخار کي ایښی بم یی وچاوه چي په نتیجه کي ئې د ۲۱امنیتی مدیریت مدیر جلال او د هغه ۵ ملگری او پخپله د بم خاوند ووژل شوو.

• د جدی په ۲ کله چي د ننگرهار نه د لویی جرگی یو وکیل نورالدین د لویی جرگی په تالار کي د جرگی له رئیس صبغت الله مجددی نه وغوښتل چي د جدی د شپږمی نیټی په مناسبت غبرگون

وښيي، د روسانو تجاوز په دی لویه جرګه کي وغندی او له روسانو نه د دی تجاوز تاوان وغواړی، نو هغه دا خبره په ټوکو او ملنډو تیره کړه او ویی ویل: دغه دی اساسی قانون تصویبیږی، وطن آزاد دی، هېواد ته سوله راغلی او دی ته ورته خبری. همدا رنګه سرکال په لویدیزه میډیا کي هم پر افغانستان د روسانو د تجاوز په باب غبرګون د تیروکلونو په پرتله ډېر سوړ وو، داسی معلومېږی چي نړیوالو نور دغه ستر تاریخی جنایت هیر کړی،خو افغان ولس به یی کله هم هیر نکړی.

• د جدی په ۱۲ په کابل ښار کي یو شمیر معلولینو تر دی نامه لاندي پر مظاهری لاس پوری کړ چي د خپلو حقوقو غوښتونکی دی، د هغوی مظاهره په اخ و ډب بدله شوه. معلولینو د شهداوو او معلولینو د وزیر پر خلاف شعارونه ورکول او د خپلو حقوقو په ضائع کولو مهتم کاوو.

• د جدی په ۱۴ د لویي جرګی د تدویر ځای ته نژدی یوه درنه چاودنه وشوه. د ایساف د قواوو چارواکو وویل چي چاودنه د لویی جرګی جنوبی خواته د شپی په ۱۱ بجو وشوه چي تر اوسه د دی انفجار علت او تلفات ندی معلوم شوی.

• په لوګر کي د دښمن دوه ګاډی په چاودنو کي تخریب شول.

## پکتیا، خوست، پکتیکا

• د جدی په اوله د پکتیا ولایت د وزی په ولسوالی کي د یوې چاودنی له کبله دوه افغان عسکر وژل شوی او یو بل ژوبل شوی. د پکتیا ولایت امنیتی چارواکو د دی چاودنی پړه برمجاهدینو اچولی ده.

• د جدی په ۱۱ د پکتیکا په شکین کي د مجاهدینو او امریکایی یرغلګرو ترمنځ جګړه وشوه. جګګړه هغه و خت رامنځ ته شوه چي د

مجاهدینو یوې وسله والی ډلی پر امریکایی ګزمی حمله وکړه چي په نتیجه کي دری تنه امریکایی عسکر ټپیان شو.

- د جدی په ۱۱ د خوست زوړ هوایی ډګر د ناپیژاندو وسله والو تر برید لاندي راغی او ۴ توغندی ورباندي ووریدل. د رپوټونو له مخی یو توغندی د اډې دننه ولګید او وچاودید، د عینی شاهدانو په وینا د دغو توغندیو د لګیدلو اوازونه اوریدل شوی دی، تر اوسه پوری د ا حتمالی مرګ ژوبلی په اړه رپوټونه نه دی خپاره شوی د خوست ښار د امنیتی قوماندان خبریالانو ته ویلی دی چي دغه توغندویی حمله مجاهدینو ترسره کړی ده.
- د جدی په ۱۴ د خوست په مندوزو کي د مجاهدینو او دولتی قواوو ترمنځ جګړه وشوه چي په نتیجه کي پنځه دولتی عسکر ژوبل شول. په دی اونۍ کي دا دوهم ځل دی چي دلته مجاهدین پر دولتی قواوو حمله کوی.
- د جدی په ۱۲نامعلومو وسلوالو د خوست په نادرشاه کوټ ولسوالی حمله وکړه چي ولسوالی ته کافی زیان ورسېدو.
- د جدی په ۲۱ د خوست په هوایی اډه راکټی حمله وشوه. تر اوسه ئي دقیق تلفات ندی معلوم شوی.
- د جدی په ۲۵ د خوست هوایی ډګر یو ځل بیا تر سخت توغندویی برید لاندي راغی، په دغه برید کي څه د پاسه ۱۲ توغندی پر نوموړی ډګر لګیدلی دی. د دغه توغندویی برید په ترڅ کي هوایی ډګر کي پرتو ځواکونو ته سخت مالی او ځانی تاوان رسېدلی دی.
- د جدی په ۱۹ د پکتیکا ولایت په شکین کي پر امریکایی پوځی اډه توغندویی برید وشو. پنځه توغندی پر نوموړی مرکز وتوغول شول چي د درنو چاودنو سبب شول، د مرګ ژوبلی په اړه معلومات ندی ترلاسه

شوی. وروسته سيمه د ائتلافی ځواکونو لخوا وپلټل شوه خو حمله کوونکی له سيمی څخه وتلی وو.

## کنړ، لغمان، جلال آباد

- د کنړ يوې ډلي مجاهدينو د نيوز ورځپاڼی مدير ښاغلی رحيم الله يوسفزی ته د کنړ ولايت پر وټه پور ولسوالی باندي ترسره شوو عملياتو ويديويی فلم استولی چي د پاکستان جيو تلويزيونی شبکی وښود، په فيلم کي د ولسوالی ودانۍ ته اور اچول او د مجاهدينو د بريدونو نوری صحنی وښودل شوی.
- د جدي په شپږمه د گنجگل- سرکاڼو په دوه سرکه باندي د يرغلگرو ځواکونو په گزمي بريد وشو، چي د دښمن دوه تنه مړه او دری ژوبل شول.
- د جدي په اتمه د توپچی په امريکايي اډې توغندويی بريد وشو.
- د جدي په ۱۴ د قلا په سر کي په يرغگرو ځواکونو د بريد په ترڅ کي د دښمن دري تنه مړه او ځلور سخت ژوبل شول.
- جدی ۱۵: په امريکايي خاصو ځواکونو باندي د بريد په نتيجه کي د دښمن څلور کسان مړه او دري ژوبل شول.
- په داڼام کي په يرغلگرو ځواکونو بريد وشو.
- په توپچي باندي اوه توغندی پريوتل.
- په سرکاڼو کي د دښمن يو گاډي په ريموټ کنټرول چاودنی تخريب او سورلۍ ئې مړه او ژوبل شول.
- د جلال آباد ښار پرون يوي چاودنی ولړزاوو چي په نتيجه کي څلور کسان ژوبل شول. دغه چاودنه د ننگرهار د گمرگ رياست ته مخامخ وشوه.
- د جدی په نهمه د طورخم - جلال آباد په لويه لار د تيلو يو ټانکر په بم والوزول شو. د تيلو ټانکر له کراچی څخه د کابل بگرام هوايی اډې ته تيل وړل چي د طور خم په لاره د بريکاو په سيمه کي ناپيژاندو

کسانو د ریموټ بم پواسطه والوزاوو، د ټانکر چلوونکی ځای په ځای مړ شو او په موټر کي ناست نور دوه کسان سخت ټپیان شول. د ننګرهار د استخباراتو یوه چارواکی بختیار ملنګ سیمه ایز خبریال ته د تلیفون په لیکه وویل چي په ټانکر کي ۲۰۰۰۰ شپیته زره لیتره تیل بار وو چي د چاودنی له امله یی اور واخیست، ده وویل د پیښی له امله دواړو خواوو ته سرك وتړل شو او د ولسی خلکو په مرسته بل شوی اور په خاورو مړ کړای شو.

- د جدی په ۲۱ د جلال آباد ښار په داسی حال کښی د توغندیو چاودنو ولزاوو چي د دی ښار د قصر ودانی کښی د ولایتی واکمنو ترمنځه مهمه غونډه روانه وه، راکټی برید د امریکایي ځواکونو په ضد ترسره شوی. ورپسې یو ځل بیا د جلال آباد په هوایي میدان کي د امریکایانو په اډي توغندوئي برید وشو.

## زابل، ارزګان، قندهار، هلمند

- د جدی په اوله امریکایی قواوو د زابل د والی کور تلاشی کړ او د هغه له ساتونکو څخه یی وسلی واخیستلی. دوی د قلات شمال ته په شپږ کیلو متری کي د اومکی په کلی کي د والی حفیظ الله کور تالاشی کړ. د والی مرستیال مولوی محمدعمر وویل امریکایی قواو د والی صاحب کور تالاشی کړ، درنی وسلی یی و نه موندلی خو د هغه د ساتونکو په شمول ئي له میلمنو څخه هم سپکی وسلی واخیستلی. باید وویل شی چي ښاغلی حفیظ الله د کرزی له خپلوانو څخه دی او څو میاشتی د مخه د حمیدالله توخی په ځای د زابل د والی په توګه وټاکل شو، خو د ده د راتګ سره په زابل کښی دولتی واکمنی هره ورځ د کمزوری کېدو په لور روانه ده، لکه چي سیمه ایز چارواکی پخپله په دی خبره اعتراف کوی چي د زابل په اتیا فیصده ځمکه د دوی کنترول نشته. د ترکی او هندی انجنیرانو د تښتول کېدو پیښی هم په همدی ولایت کښی رامنځ ته شوی

دی.

- د جدی په نهمه ناپيژاندو مجاهدينو د قندهار د سپين بولدك د ولسوالی په يوي پوځی پوستی باندي په راكتونو او مشين ګنو سره بريد وكړ چي له امله يی ۵ حكومتی عسكر ووژل شول او ۳ نور سخت ټپيان شول. په داسی حال كي چي د بريدكوونكو په ډزو د سپكو وسلو يو پوځی زيرمتون هم والوزول شو. د يادونی وړ ده چي پنځه ورځی وړاندی هم د ناپيژاندو وسله والو سره په يوه ناڅاپی نښته كي پنځه تنه حكومتی عسكر وژل شوی او ۲ تنه نور ټپيان شوی وو.
- د جدی په ۱۵ ناپيژاندو كسانو د كابل كندهار په لويه لار د يوې امريكايی موسسی يو ډريور د هغه لـه موټر سره وتښتاوو.
- د جدی په ۱۲ په كندهار ښار كي د يوې چاودنی له امله ډېره مرګ ژوبله رامنځته شوه، پدغه پيښه كې چې د كندهار په پنځمه ناحيه كي شوی ده، لومړی يوه كوچنی چاودنه وشوه او د دغی چاودنی له امله د ګازو څو ډبو اور واخيست او يو په بل پسی وچاويدی او دغه پيښه رامنځته شوه. لـه بلي خوا په كندهار ښار كي د ملګرو ملتو د مهاجرينو پر يوه دفتر بمونه وغورځول شول.
- د جدی په ۱۲ د زابل ولايت د فرقی قوماندان جنرال شاه عالم ووژل شو. نوموړی هغه مهال ووژل شو چي د والی او امنيه قوماندان د افرادو ترمنځ د نښتی پر وخت يی سوله كوله.
- د جدی په ۱۸ په كندهار كي يوه نظامی مركز ته نژدی چاودنه وشوه چي دوه افغاني عسكر يی ټپيان كړل.
- د جدی په ۲۱ په قندهار كي نامعلومو مجاهدينو د پوځ په سرحدی چوكی حمله وكړه او پنځه فوځيان يی مړه ا و دری ئې ژوبل كړل چي پدوی كي د دوو حالت نازك دی.

- د جدی په ۲۳ د کندهار ولایت یو شمیر اوسېدونکو له بي بي سي سره په مرکی کي وویل چي په کندهار کي بې امنیتی ورځ په ورځ زیاتېږی، په ښار کي چاودنی کېږی او خلك پکی شهیدان کېږی. یو بل تن اوسېدونکي وویل چي د کندهار په کلیو او بانډو کي د مجاهدینو حملې زیاتی شوی دی او دغه پخپله د زیاتی بې امنیتی ښودنه کوی.
- د جدی په ۲۵ په زابل کي د مجــاهــدینــو او دولتی ځواکونو ترمنځ درنی نښتی وشوی، د مجاهدینو یوې ډلی د شاه جوی په ولسوالی کي پر دولتی قواوو حمله وکړه چي په نتیجه کي دری تنه دولتی سرتیری ټپیان شوو او په یو بله نښته کي چي د زابل په تاجر آباد سیمه کي وشوه دولتی ځواکونو ته ډېر زیان ورسېدو، دا نښته هغه وخت وشوه چي مجاهدینو پر دولتی ګزمی برید وکړ.
- د جدی په ۲۸ په ارزګان کي د مجاهدینو د یوه ناڅاپی برید په وجه ۳ امریکایی عسکر ووژل او اووه نور ټپیان شول. دا برید هغه مهال وشو چي امریکایان د مجاهدینو پر خلاف په تصفیوی عملیاتو بوخت وو. مجاهدین تر برید وروسته له سصیمی نه په وتو بریالی‌شول، تر پیښی وروسته سمدلاسه ائګتلافی او افغاني عسکرو سیمه کلابند کړه او په تلاشی یی لاس پوری کړ. مجاهدینو د پیښی پړه منلی ده او ویلی یی دی چي زموږ مجاهدین په خیر او خیریت سره خپلو مرکزونو ته ستانه شوی دی.
- د جدی په ۲۹ د ارزګان په دهراوود ولسوالی کي مجاهدینو پرامریکایی عسکرو برید وکړ چي په نتیجه کي دری امریکایی عسکر ټپیان شول.
- د جدی په ۲۹ د خوست په دوه منده کي د امریکایی عسکرو یو موټر چي له ګزمی نه راستون شوی وو او د خپل مرکز په لور روان وو پر

ماین وخوت چي له امله ئې ګاډی تخریب او ټولي سورلۍ ئې مړه یا ژوبل شول، د مړو او ژوبلو دقیق شمیر تر اوسه ندی معلوم شوی.

• په پکتیا کي ائګتلافی قواوو د یوې اعلامیې په خپرولو سره له کورنیو څخه غوښتنه کړی ده چي خپلو ماشومانو ته د لوبو وسلې ورنکړي. په دی اعلامیه کي شکایت شوی دی چي ماشومان زموږ پر سر تیرو د لوبو وسلې رااړوی او هغوی ویروی. په اعلامیه کي زیاته شوی که ماشومان بیا هم دغه کارونه تکرار کړی د پایلو ذمه وار به یې موږ نه وو. دلته به دا پر ځای پرېږدو چي د پکتیا د ماشومانو د لوبو وسلو په مقابل کي به د نړیوال ائتلاف ځواکونه خپلې اصلي وسلې وکاروی او که نه خو د ماشومانو د دغه عمل څخه د نړیوال ائتلاف د قواوو په باب زموږ د ولس روحیه ډېره ښه څرګندېږی. د بهرنیو پوځیانو په مقابل کي د ماشومانو غبرګون او پر هغوی د لوبو د وسلو وراړول او یا هغوی ته مورچل نیول، دا د ولس د عام ذهنیت طبیعی ترجمانی کوی. لومړی ځل چي په ۱۳۵۸ لمریز کال د پخوانی شوروی اتحاد پوځونه افغانستان ته راغلل د افغان اولس د لویو او وړو له دغسی غبرګون سره مخ شول، روسی پوځونو فکر کاوو چي د ګلونو په شیندلو به یې هر کلی کېږی خو بر عکس له مقابلی او کرکی سره مخ شول، تر دی پوری چي روسی پوځونو به غوښتل پر ماشومانو چاکلیټونه وویشی خو بیا به هم دوی ته د کاڼو په ویشتولو ځواب ورکړ شو. د امریکایي یرغلګرو په ضد د افغان ولس غبرګون پدغه اعلامیه کي هم له ورایه ښکاری چي د دوی سرتیری د افغاني ماشومانو د لوبو د پلاستیکی وسلو پر لیدو ویرېږی او دا ورته یوه ستونزه ده، افغان ولس به ولی د بې ۵۲ الوتکو او اپاچی هلیکوپټرو د بمباریو او توغندویی بریدونو سره سره ولې د دی وسلو او د دوی د خاوندانو څخه کرکه ونکړی؟ عجیبه ده چي یرغلګران له افغانانو نه غواړی چي

زرکیلویی بمونه دې وربېږي او کروز توغندی دی چلېږی خو پلاستیکی ټوپکونه دی بګند وی؟

بسم الله الرحمن الرحیم

# ۱۶اعلامیه

د دلوي میاشت، سره له ډېرو واورو او یخني، هم له نظامي لحاظه بختوره میاشت وه چي په افغانستان او عراق کي په یرغلگرو ځواکونو د پرله پسي بریدونو او د صلیبي ځواکونو د زیاتي مرگ ژوبلي پیغامونه ئې له ځان سره درلودل او هم ئې له سیاسي لحاظه د واشنگټن چارواکو ته خواشینونکي خبرونه له ځان سره راوړل، پدي میاشت کي له جورج بش سره په خپله د امریکایانو د مخالفت کچه هومره اوچته ولاړه چي په راتلونکو انتخاباتو کي ئې د ده ماتي یقیني کړه. دا هغه میاشت ده چي د شوروي اتحاد اشغالگر ځواکونه د باایمانو مجاهدینو په لاس له ماتي نه وروسته د همدي میاشتي په ۲۶له افغانستان نه ووتل، او پدي سره د سري امپراطوري زوال پیل شو. داسې معلومېږي چي د جورج بش ماتي هم لدغي میاشتي نه پیل شوي، په انتخاباتو کي د ده له ماتي نه وروسته به امریکایي بدمعاشان زمونږ له هېواد نه وځي او انشاء الله دا به له نورو سیمو نه د امریکایانو د وتلو مقدمه وي. د دي میاشتي ځیني مهمي سیاسي پیښې دا دي:

• په عراق کي د ګڼ وژنو وسلو د پلټني امریکایي هیئت دا خبره اعلان کړه چي پدي هېواد کي له جګړي نه مخکي داسې وسایل نه وو!! ستر انګریز بلیر به ویل چي عراق نه یوازي داسې ګڼ وژونکي وسلي لري چي ټوله نړۍ تهدیدوي، بلکه کولی شي چي په پنځه څلویښت دقیقو کي دا وسایل د کارولو لپاره چمتو کړي!! جورج بش تر تیري میاشتی پوري مکرر ویل چي عراق خطرناکي ګڼ وژونکي وسلي لري، دا وسلي د امریکا د امنیت لپاره ګواښ وو، مونږ به حتماً هغه راپیدا کوو!! اوس هر چا ته دا خبره جوته شوي چي امریکایي او انګریزي چارواکو خپلو ولسونو او ټولي نړۍ ته پدي هکله دروغ ویلي وو!! دا د غربي دیموکراسۍ د فساد بله بیلګه ده، قرآن د کافرانو یو خصلت همدا ښیي چي هغوي دروغ وایي، د دوی عقیده او عمل په درواغو ولاړ وي، د خداي په اړه دروغ وایي، له خلکو سره دهوکه کوي، له خپل عقل او د خپل انساني وجدان سره چل ول کوي او خپل ځان غولوي!! چي یو کس، هغه هم د یو لوي ملك مشر؛ د ټولي نړۍ په وړاندي په ځرګنده دروغ وایي؛ هغه به په خفا کي څه کوي!! چي یو مشر په جګړي کي د خپل ولس د ښکېل کولو په اړه دروغ وایي؛ هغه به د نورو قضایاوو په هکله څه کوي!! قرآن د هغه چا مشري خو پرېږده حتي شهادت ئې د منلو وړ نه ګڼي چي په خپلي افتراء سره ئې د چا عزت ته تاوان رسولي وي، خو په غرب کي هغه څوك هم مشر کېدي شي چي د جګړو اور بلوي، د جګړو لپاره دروغجني پلمې برابروي، او په جګړي کي د خپل ولس د ښکېلولو لپاره دروغ وایي او د لسهاوو زرو بې وزلو او بې ګناه خلکو د مرګ ژوبلي باعث کېږي!!

• اروپایي اتحادیي له ملګرو ملتونو نه وغوښتل چي د راتلونکي مارچ په میاشت کي د بون په څېر یوه بله غونډه راوبلي، هدف ئې دا دی چي راتلونکي انتخابات وځنډولي شي او یو ځل بیا د مسکو، واشنګټن

او د دوی داروپائي او منطقوي مؤتلفینو په خوښه د افغانستان لپاره بل حکومت جوړ او وزارتونه ئې په خپلو پلوي ډلو وویشي. دوی د انتخاباتو له پایلو ډاډه نده، گمان کوي چې لا پدې ندي توانیدلي چې غرب پلوه ډلو ته په افغان ولس کي کافي ملاتړ ترلاسه او په انتخاباتو کي ئې بریا تضمین کړي. نه د دوی پراخو تبلیغاتو په زړه پوري نتایج ورکړي او نه هم د مخالفینو په ضد د دوی مسلسلو نظامي عملیاتو، وژنو او نیونو؛ مخالفین منزوي کړي او د دوی ولسي ملاتړ ئې له منځه وړی.

- امریکایان په ټول توان طاقت هڅه کوي چې په افغانستان او عراق کي مذهبي او قومي اختلافات تشدید کړي، یو د بل په خلاف وجنگوي، په دواړو هېوادونو کي ئې شیعه په خپلې غېږ کي نیولی او د سنیانو د ځپلو لپاره ئې بېي رابروهلي، که په افغانستان کي د دوی نظامي او تبلیغاتي فعالیتونو ته ځیر شو نو څو کارونه په څرگند طور گورو: د پښتنو په ضد جنگ، او پدې جنگ کي غیر پښتانه اسخدامول. د بي بي سي، امریکا غږ، آزادي راډیو، او په کابل کي د دوی په مرستو خپریدونکي مجلې او ورځپاڼې ټول قومي او مذهبي تعصباتو ته لمن وهي، فارسي پروگرامونو ته ئې وظیفه ورکړې چې د هغو فارسي ژبو مرکي خپري کړي چې لیبرال، بې دینه، د پښتنو په ضد شدید متعصب، او کمونستي او ستمي سابقه لري، او د پښتو برخي ئې پدې گمارلي چې د بې دینه لیبرل نشنلستانو نظرات تبلیغ کړي، په دواړو برخو کي به وگورئ چې د اخلاق او عفت ضد سندرو باندي تأکید کېږي، له هر راپور نه وروسته یوه سندره خپروي، په کابل کي ئې په پراخه پیمانه نایټ کلپونه، د شرابو پلورنځي، د ویډیو گیمونو دکانونه، د مبتذلو فیلمونو او سندرو د سی ډي گانو پلورنځي پرانستي.
- له گوانتانامو نه د دریو ماشوانو خوشي کېدلو د امریکایي

دیموکراسي کرغیړنه څېره ټولې نړۍ ته رسوا کړه، د دوی عمر له پنځلسو نه کم، د نیولو په وخت کي یو یولس کلن وو، دوه کاله له محاکمې پرته د ګوانتانامو په اوسپنیزو قفسونو کي تر تعذیب لاندي وساتل شوو.

- د امریکا نظام د نړۍ تر ټولو بد نظام دي، د فیوډالانو، بډایانو، د لویو لویو شرکتونو او سترو فابریکو د خاوندانو، جنګي جنایتکارانو، مفسدینو، بدمعاشانو، دروغجنو، داړه مارانو، او غولوونکو نظام، هلته یوازي هغه څوك جګو مقاماتو ته رسېدی شي چي له حرامو لارو ئې بې حسابه ثروت ترلاسه کړي وي، تاسو ګورئ چي د بش د اداري اکثر مهم غړي د ویتنام، خلیج، کوسوو او نورو جنګونو قومندانان وو، او د دي جګړو په دوران کي ئې بې حسابه ثروت ترلاسه کړي، جنرال پاول خارجه وزیر او ښځه ئې په پاکستان کي د امریکا سفیره!! دا نظام داسې وګڼي لکه د جنرال دوستم د ملیشو نظام، د پهلوانانو نظام، چي هر یو په جګړو کي د تالان له لاري ستر شوي!!
- د ایران موجوده حکومت نه یوازي د امریکا له غوښتني سره سم خپله اټمي بټۍ پرچاو کړه بلکه له پاکستاني ساینس پوهانو نه د اټمي ټکنالوژي ترلاسه کولو په اړه ئې هم امریکایانو ته پوره معلومات ورکړ او پدي سره ئې د دي ملك د اټمي بټۍ په پرچاو کولو کي امریکا ته ښه پلمه په لاس ورکړه، د ملګرو ملتونو له لاري امریکا ته د اټمي ټکنالوژي د انتقال په اړه دا معلومات ورکول چي پاکستاني ساینس پوهانو ورسره مرسته کړي، دا له اسلامي امت سره یوه داسې ستره جفا ده چي له هیڅ مسلمان ملك نه ئې انتظار نه کېدو. متأسفانه د ایران اصلاح طلبانو هم د بغداد او کابل په نیولو کي له امریکایانو سره ملګرتیا وکړه او افغاني او عراقي شیعه ګانو ته ئې وویل چي د امریکایانو یرغل ته ښه راغلاست ووایي او د دوی تر قومندي لاندي د خپلو وطنوالو په ضد وجنګېږي، او

هم ئې د ایران او پاکستان د اټمي بټيو په متوقف کولو کي د امریکایانو ملګرتیا وکړه!!

• د کابل حکومت د بانك له لاري د لاټرۍ اعلان وکړ، دا په داسې حال کي چي اسلام قمار او هره هغه معامله حرامه کړي چي د خلکو د غولولو له لاري او له معاوضي پرته څه ترلاسه کړي شي، سود ئې هم د دې لپاره حرام کړي چي بډاي د بې وزلي له مجبوریت نه په استفادي سره له هغه نه مفته او وړیا ګټه ترلاسه کوي، په لاټري سره له زرهاوو ناپوه او طماع انسانانو نه پیسی ترلاسه کېږي، یوه وړه برخه ئې څو ګټونکو ته سپارل کېږي او پاتي لویه برخه ئې د لاټري د متولی په جیب کي پریوځي، په غربي ټولني کي بډاي له هري لاري کولي شي ګټه ترلاسه کړي، او د بې وزلو او مظلومو او مجبورو انسانانو ویني وځبیښي، خو په افغانستان کي امریکایي حکومت آبله ورځ اساسي قانون تصویب کړ او په هغه کي ئې ولیکل چي اسلام زمونږ مذهب دي!! دا دي پدي قانون لا د کرزي امضاء نده وچه شوي چي له یوې خوا د لاټرۍ اعلان کېږي او له بلي خوا د ټلویزیون له لاري د ښځو سندري خپرېږي، مونږ لا دمخه ویلي وو چي امریکایي حکومت ته اسلامي نوم ورکول او په اساسي قاونون کي ئې د اسلام ذکر په حقیقت کي یوه غیر اسلامي لاس پوڅي حکومت ته د شرعي او اسلامي پرتوګ وراغوستلو معنی لري.

• امریکایان په عراق کي د انتخاباتو په ځاي د کابل د لوئي جرګي په څېر د انتصابي شوری جوړول غواړي، ترڅو لدې لاري د خپلې خوښې شوری او راتلونکی حکومت جوړ کړي، خو عراقیان په انتخاباتو او منتخبي شوری ټینګار کوي، د کابل د لوئي جرګي بنسټ په بن کي کیښودي شو، د بن د غونډي غړي په سل ضرب او له هغه نه د کابل لویه جرګه جوړه شوه، بیا د دغي امریکایي لوئي جرګي غړو همغه حکومت ته

رأي ورکړه چي په بن کي جوړ شوي وو!! همغه کرزي او همغه کابينه!!

• په افغانستان کې د امريکا فوځي چارواکي وايي: دوی په يوه پلان غور کوي چي يو موقتي افغان امنيتي ځواک جوړ کړي چي په هغه کې به د هېواد د شخصي مليشو غړي شامل وي . يوه وياند ډگرمن براين هيلفرتي وويل دا ورانديز د افغانستان په جنوب او ختيز کې د جاري امنيتي ستونزو په غبرگون کي رامنځ ته شوې دې . وياند وويل په دغه ځواک کې به ځو زره کسان وي او روزنه او معاشونه به يې امريکا ورکوي . دا په حقيقت کي د روسانو د هغي تجربې تکرار ده چي د گيلم جم په څېر مليشې ئې د دې لپاره جوړي کړي چي د خپلو عسکرو د زياتي مرگ ژوبلې مخه ونيسي، دا د روسي مليشي په څېر امريکايي مليشه ده، پدي کي به د شمالي ائتلاف مخصوصاً د دوستم ډله استخدام کېږي، هزاره به فعاله ونډه پکي اخلي او د پښتنو په ضد به جنگول کېږي. دوی ويلي چي د مليشو دا ځواك به د موجوده مليشو نه جوړېږي، معلومېږي چي دا به د دوستم، عطاء، خليلي او شوری نظار له مليشو نه جوړېږي.

• په تلويزيون کي د ښځينه سندرغاړو سندري ادامه لري، ليبرال ملحدين دا کار د اساسي قانون مطابق گڼي، په حکومت کي شامل ملايانو دا د اساسي قانون خلاف عمل وگڼلو، خو ژر ئې خاموشي اختيار کړه او اوس وايي: و ما علينا الا البلاغ!!

• د ارزگان د چارچينو د بمبارۍ د څېړني لپاره چي کوم کميسيون ټاکل شوي وو، هغه وويل: لږ تر لږه لس ملکي وگړي د امريکايانو د بمبارۍ په ترڅ کي وژل شوي، خو سره له دي، د امريکايي حکومت افغاني چارواکو پدي جنايت هيڅ اعتراض ونکړ!! که يو امريکايي په کوم بريد کي ژوبل شي، نو له جمهور رئيس، خارجه وزير، د دفاع وزير نه رانيولي د ستري محکمي تر چارواکو ټول پيښه محکوموي، دا يو تروريستي عمل

ګڼي او له امریکایانو سره غم شریکي کوي!! خو د امریکایي تروریستانو او جنایتکارانو په لاس د لسو بې ګناه او بې وزلو افغانانو په وژلو باندي د کابل د امریکایي اداري او په روسي – امریکایي ائتلاف کي د شاملو ډلو مشران داسې ساکت او خاموش دي لکه چي هیڅ نه وي شوي، دا افغانان دوی ته د یوه سیرلي په اندازه هم اهمیت نه لري!!

- پاول د اسلامي هېوادونو د تعلیمی نصاب د بدلولو غوښتنه وکړه، دا همغه کار دي چي دوی په افغانستان کي وکړ او اوس ئې په نورو اسلامي ملکونو کي هم ترسره کول غواړي، د دوی ټوله هڅه دا ده چي له تعلیمي نصاب څخه ټول اسلامي مضامین حذف کړي.
- د راتلونکو انتخاباتو لپاره د نومونو د ثبت سلسله پیل شوه، دا لړۍ ئې داسې تنظیم کړي چي یوازي په ښارونو کي میشت خلك په رأي ورکولو کي فعاله ونډه واخلي او د کلیو او بانډو اوسېدونکي ورنه محروم شي. د دي په ځاي چي هر جامع جومات د نومونو د ثبت حوزه ومنلی شي او ټولو افغانانو ته ورته شرایط برابر کړي شي، یوازې په ښارونو کي دا حوزي جوړي شوي. ښارونو ته له لریو لریو کلیوالو سیمو نه د خلکو راتګ ګران دي، پدي سره دا خلك د رأي له ورکولو محروم کېږي. امریکایان د افغانستان اجتماعي جوړښت داسې ګڼي چي کلیوال د بنسټ پالو پلوي او ښاریان د دوی مخالف دي، که په انتخاباتو کي د کلیوالو ونډه محدود کړي شي نو بنسټ پالي ډلي به کمي رأي ترلاسه کوي.
- د امریکا د جنګ وزارت اعلان کړي چي په راتلونکي پسرلي کي به ستر عملیات ترسره کوي!! د عملیاتو اصلي موخه دا ده چي د چنګاښ د میاشتي انتخابات یقیني کړي . داسې ویل کېږي چي دا به د امریکایانو وروستي عملیات وي. دوی داسې ګمان کوي چي جورج بش په راتلونکو انتخاباتو کي د دیموکراتانو په وړاندي ماتي خوري، دیموکراتان په عراق

او افغانستان د بش له بریدونو سره مخالفت کوي او اقتدار ته د رسېدو په صورت کي لدي هېوادونو نه خپل فوځونه باسي، نو ځکه باید د دیموکراتانو له راتلو د مخه داسې عملیات ترسره کړي چي افغان مجاهدین یو څه په شا وتمبوي او پدي سره د امریکایي فوځ له وتلو سره سم د کابل د امریکایي اداري فوري سقوط وځنډوي.

- په کابل، خوست او کندهار کي استشهادي عملیات د دي میاشتي یوه ځانگړتیا وه، چي دښمن ئې سخت وارخطا کړي. د کابل د امریکایي حکومت ستري محکمي استشهادي د عملیاتو په ضد فتوی ورکړه خو دغي محکمي په چارچینو، غزني، سیدکرم، ارزگان او نورو سیمو کي د وحشي امریکایانو په لاس د مظلومو افغانانو د بې رحمانه وژنو په هکله هیڅ فتوی صادره نکړه!!.
- د غزني په یوي چاودني کي د ۸ امریکایانو مړینه او د ۴ ټپي کېدل، او ورپسي په بلي چاودني کي د یوه مړینه او د نه کسانو ټپي کېدل د دي ماشتي یوه بله ځانگړتیا وه.
- دا خبر په گڼ شمیر بهرنیو ورځپاڼو کي منعکس شو چي اسرائیلیان په افغانستان کي د پولیند د خیریه مؤسسو تر پردي لاندي فعالیت کوي.

همدا راز خبري رسنیو خبر ورکړ چي د کابل د امریکایي اداري د زراعت وزیر معاون محمد شریف په ۲۰۰۴۱۲۱۴په ډهلي کي د یوه کنفرانس په ترخ کي له خپل اسرائیلي سیال میخائیل راتزون نه وغوښتل چي تل ابیب باید له افغانستان سره مرسته وکړي، ده وویل چي غواړو ډېر ژر یو افغاني پلاوي تل ابیب ته سفر وکړي او د اسرائیلو پلاوي د افغانستان دوره وکړي، د اسرائیلو "ما اریو" نومي ورځپاڼي د دي خبر تر څنگ ولیکل چي د کابل د خارجه چارو وزیر هم د اسرائیلو خارجه وزیر سیلوان شالوم ته په خپل لیك کي لده نه د مرستي غوښتنه کړي وه. دي ورځپاڼي دا

هم ولیکل چي تل ابیب له اوږدي مودي راهیسي له شمالي ائتلاف سره په مختلفو برخو کي مرستي کړي دي!! اوس دا خبره هر چا ته څرگنده شوي د اسرائیلو استخبارات موساد د امریکایانو او انگریزانو تر څنگ له روسانو، او هندوانو سره هم د اسلام او اسلامي تحریکونو په ضد نږدې او ژوره مرسته لري، په افغانستان کي له اوږدي مودی رادیخوا ژور او پراخ فعالیتونه لري.

- پدي میاشت کي د کابل اداري د سابق په څېر او د دي لپاره څه اداري تغییرات اعلان کړل چي وښیي حکمونه ئې چلېږي، او خپل مأمورین بدلوي رابدلوي شي، د انجنیر عارف په ځاي ئې امرالله صالح او د بشیرخان په ځاي ئې عزیز الله افضلي وټاکو!! دوارو تغییرات د شورای نظار په مشوره او گټه ترسره شوي، تر اوسه کرزي پدي ندي توانیدلي چي د شورای نظار یو کس له هغي دندي نه گوښه کړي چي د طالبانو د حکومت له نسکوریدو سره سم ئې ترلاسه کړي، په هیڅ منصب او وظیفه ئې د شمالي ائتلاف په ځاي د بلي ډلي غړي ندي ټاکلي، د انوري او کاظمي په څېر کسان چي له خپلو سابقه ډلو ایستل شوي او د یوه وړوکي قوماندان حیثیت او وزن هم نه لري، پدي خاطر په خپلو دندو پاتي دي چي کرزي د دوی د لیري کولو جرأت او توان نلري.
- افغانان له یوه بل نه تپوس کوي: د لاندي کسانو په هکله څه وایاست، کوم یو تر بل نه بد گڼي، او کوم یو تر بل نه غوره؟

۱. د افغانستان هغه سرکاري مفتیان، دین خرڅوونکي ملایان، وطن پلورونکي سیاسي احزاب او جهاد خرڅوونکي تش په نامه جهادي ډلي چي پر افغانستان د ائتلافي ځواکونو تیري ئې جائز او مشروع تیري وگڼلو، د اسلام په ضد د صلیبي ځواکونو جنگ ته ئې د تروریزم په ضد د مشروع جنگ نوم ورکړ، د کفري ځواکونو تر قومندي لاندي د خپل ولس

او خپلو داخلي حريفانو په ضد وجنگيدل، امريکايي حکومت ته ئې د "اسلامي موقت حکومت" نوم ورکړ او امريکايي اساسي قانون ته ئې شرعي او اسلامي پرتوگ ورواغوستو.

۲. د السيستانی په څېر د عراق هغه شيعه آخوندان چې خپلو خلکو ته ئې وويل: د ائتلافي ځواکونو مقابله مه کوي، لدوي سره يو ځاي شي او د صدام حکومت په نسکورولو کې د دوی مرسته وکړي!

۳. هغه ډلي چې د عراق په امريکايي حاکمي شوري کې ئې برخه واخيسته، د امريکايانو واکمني ئې ومنله او پال بريمر ته ئې دا حق ورکړ چې د لاس پوڅي حاکمي شوري هره پريکړه ويتو کولي شي، چې دا دي اوس بريمر وايي: د عراق لپاره به داسې اساسي قانون ونه مني چې اسلام د قوانينو اصلي منبع گڼي!!

۴. هغه چې په خپل هېواد کې د اشغالگرانو ظلمونه، په دين او مذهب د دوی تيري، د بې وزلو انسانانو مرگ ژوبله، پر کليو، کورونو او جوماتونو بمباري، بې دريغه نيوني، د بې ديني او اخلاقي فساد د خورولو پراخي هلي ځلي،... دا ټول په خپلو سترگو گوري، خو نه عکس العمل ښيي، نه اعتراض کوي، نه د مجاهد ملاتړ کوي، او نه د هغه په تائيد کې د يوي خبري جرأت کوي.

۵. هغه اروپائي او امريکايي نجوني چې سر، لاس او پونډي ئې لوڅي دي، خو په افغانستان او عراق د ائتلافي ځواکونو بريد محکوموي، مظاهري کوي، پوليس ئې نيسي، په کوتکو ئې وهي او بندي کوي ئې، خو دوی بيا هم له مخالفت نه لاس نه اخلي او په افغانستان او عراق کې د بې وزلو انسانانو د مرگ ژوبلي فوري توقف او د بهرنيو فوځونو فوري وتل غواړي!!

که رښتيا ووايو، د ايمان په رڼا کې قضاوت وکړو، د خلکو په څېره

او ظاهر و نه غولېږو ، د وینا په ځاي عمل، او د عبا او قبا په ځاي دريځ او کړه وړه معیار وګڼو ، نو دغه اروپائي پیغله په دغو ټولو شرف لري. تر هغو آیت الله ګانو نه هم چې په بغداد کي د پال بریمر امریکایي واکمن تر مشری لاندې اداری کي ئې برخه واخیسته، د هغه واکمنی ئې ومنله، او لدې خبری سره ئې توافق وکړ چې پال بریمر د مؤقتی شوری هره پریکړه لغو او ویتو کولی شی، په حقیقت کي دا د تورو او سپینو پګړیو په سرکوونکی آخوندان د منافقینو تر سردار عبد الله ابن ابی ابن سلول نه هم سخت منافقین دی، تر دوی هغه اروپائی او امریکایي بې حجابه ښځه او ماشوم ډېر شرف لری چې په افغانستان او عراق د امریکا د برید مخالفت کوی، د خپلو حکومتونو په خلاف مظاهری کوی او لدې هېوادونو نه د بهرنیو فوځونو د وتلو مطالبه کوی. دی آخوندانو د لا اله الا الله کلمه په دروغو ویلی، په ژبه ئې د لا اله الا الله ذکر خو په زړه کي ئې له طاغوت نه طمع او ویره او په عمل کي ئې د خدای او مؤمنانو له دښمن سره دوستی او ملګرتیا!! د اسلام له نظره ټول هغه کسان، ډلې او حکومتونه چې په افغانستان او عراق باندې د امریکا د وحشیانه حملې حمایت او ملګرتیا کوی او په دی جنګ کي ئې په یوه او بل ډول د امریکایانو ملګرتیا او مرسته کړی، د اسلام نه وتلی او د الله (ج) د صریح حکم نه ئې بغاوت کړی. پداسې حال کي چې د امریکا د بمباریو په نتیجه کي په زرګونو بېګناه افغانان په شهادت رسېدلی، په لسهاوو زره هجرت ته اړ شوی او په لسهاوو جوماتونو باندې په داسې حال کي بمباری شوی چې خلك د لمانځه لپاره غونډ شوی او جمع ولاړه وه، پدې حالاتو کي چې څوك د امریکا د حملې ملاتړ کوی، له امریکایانو څخه غواړې چې خپلې بمباری تشدید کړی، د خپلو فوځونو شمیر زیات کړی، له کابل نه علاوه په نورو ښارونو کي هم خپل فوځونه ځای په ځای کړی، نه د افغانانو په مرګ ژوبله

خواشيني کېږي او نه د کليو، کورونو او جوماتونو په ورانيدو خفگان ځرگندوي، دا کسان د هيڅ معيار له مخې نه د ايمان خاوندان گڼلی شو، نه د انساني عاطفې خاوندان او نه د افغاني غيرت خاوندان. دوی خدای (ج)، آخرت او ايمان ته شا کړې او خپل افغاني غيرت ئې په ډالرو پلورلی. تر دوی هغه امريکايي عسکر هم ډېر ډېر غوره دي چې عراق ته لېږل شوي وو خو چې د عراقيانو په ضد ئې د امريکايي عسکرو ظلمونه وليدل، له عسکري خدمت نه وتښتيدو، مصر ته ولاړ او له العربي نومي ورځپاڼې سره په خپلې مرکې کې ئې وويل: هغه ماشومه به مې هيڅکله هيره نشي چې د امريکايي عسکرو له ويرې ئې زړه ودريدو او مړه شوه، مونږ تيري کوونکي يو او عراقيان له خپل هېواد نه دفاع کوونکي، لدې دومره جناياتو وروسته دا غوره گڼم چې په جهر سره ووايم: زه امريکايي نه يم!! دا د سيلوان کوانتو گريمس خبري دي، نوموړي د بې وسه او مظلومو عراقيانو په ضد د امريکايي عسکرو د ظلمونو داسې کيسې بيان کړي دي چې د هيڅ انسان ضمير ئې نشي تحمل کولي، ده ويلي چې د امريکايي عسکرو ۷۰% په نشه اخته شوي او تر اوسه ۹۰۰ کسان تښتيدلي!! آيا دا امريکايي عسکر چې د خپل وجدان او ضمير غږ ته ئې لبيك ويلي تر هغه عراقي آخوند او افغاني ملا غوره ندي چې د خپل مظلوم ولس او د خپل دين او مذهب په ضد د امريکايانو جنايات گوري خو مړ ضمير ئې نه تحريك کېږي؟!

- د دې حالت په راوستو کې د الله جل شأنه يو ستر حکمت دا دي چې مخلص مجاهدين تفکيك کړي، دروغجن او کاذب مجاهدين او هغه چې اوس ئې خپل مخکني اخلاص او صداقت له لاسه ورکړی، ايماني شور او شوق ئې ختم شوی، کسالت او وهن ورباندې مسلط شوی، د دنيا مينه، له مرگ نه ويره او دښمن ته طمع ئې په زړه کې راشنه شوی، د دوی حقيقي

ښېره خلکو ته بربنډه کړي، دوی به د جهاد مخالفت او په مختلفو بهانو له جهاد نه ډډه کوی. دوی به نه یوازې د مجاهدینو له ملگرتیا نه ډډه کوی بلکې دښمن ته د ځان سپیناوی او یا د هغه له عقاب او عتاب نه د خوندی پاتې کېدو په طمع به زمونږ په هېواد د امریکا د تیری او د امریکایي نظام د تیل کېدو حمایت کوی، د امریکایانو وحشیانه یرغل به د تروریزم په خلاف روا جگړه گڼي، امریکایي نظام ته به د مشروعیت ورکولو هڅه کوی او د هغه په تندی به د اسلام ټاپه وهی، او د امریکایي افسرانو تر قومندی لاندې د مسلمانانو او مجاهدینو په خلاف جگړه، د هېواد په ښارونو، کلیو او جوماتونو د امریکایي طیارو وحشیانه بمباری او د بېگناه او بې دفاع افغانانو بې رحمانه وژل به په څلورو کتابونو روا او د تروریزم په ضد مشروع جنگ گڼي!!

• د حزب اسلامی ا فغانستان امیر ورور حکمتیار په لاندې صیغه یو بیان خپور کړ:

د الله د لارې سرتیرو مجاهدینو!

د اسلامي امت د ژغورني لپاره قربانۍ ته چمتو سپاهیانو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

تاسو د اسلام د اصلي دښمن په ضد مقدس جهاد ته رابولم. د امریکا په ضد جهاد ته، د دې پېړۍ لوی دجال، هغه چې کابل او بغداد ئې اشغال کړي، د اسرائیلو متولي، د مظلومو فلسطینیانو قاتل، د صلیبي جنگ سر لښکر، د کفر، فساد او الحاد منبع، په اسلامي هېوادونو د تپل شوو ټولو استبدادي، ظالمو او مفسدو حکومتونو حامي او مرستندوی، د امت په ټولو زیرمو قابض او د نړۍ د ټولو شخړو، جگړو او ستونزو عامل.

هر هغه چا ته چې غواړي د جهاد الهي فریضه ادا کړي؛ وایو: اوس

هغه وخت دي چي بايد خپل ټول توان طاقت د ستر دښمن په ضد جنګ ته سوق کړو، په نورو جبهو کي ثانوي او غيرضروري فعاليتونه متوقف کړو، او په بل جنګ او په وړو جبهو کي له مصروف کېدو ډډه وکړو. دا صحيح نده چي په يوه وخت کي په ډېرو جبهو کي مصروف شو، نبايد په ګڼ شمير محاذونو کي خپل محدود ځواك وويشو. دښمنان بايد درجه بندي کړو، لومړی بايد د لوي او اصلي دښمن چاره وکړو، حج مونږ ته همدا درس راکوي چي د جمراتو د رمي په ورځو کي لومړۍ ورځ د جمرة الکبری د رمي ورځ ده، جمرة الاولی او جمرة الوسطی په دوهمه او دريمه ورځ رمي کېږي، په لومړۍ ورځ د دواړو له خوا نه آرام تيرېږو او له رمي نه ئې ډډه کوو، او ځان جمرة الکبری ته رسوو، لوی دښمن ته، د وړو دښمنانو ترشا ولاړ دښمن ته، اصلی کار چي ترسره شی واړه او فرعي کارونه له څه زحمت نه پرته ترسره کېږي، زمونږ تيره تجربه؛ د شوروي اتحاد ماتي؛ په همدی حقيقت شهادت ورکوي.

د فلسطين جهادي تنظيمونو ته می هم مشوره دا ده چي خپل سرتيري د تل ابيب په ځاي بغداد ته ولېږي، د غلام په ځاي د هغه آقا او بادار په ښښه کړي، سل اسرائيليان له يوه امريکايي سره مه برابروي، نن د فلسطين جنګ او د اسلام او کفر تر منځ اصلي جنګ په افغانستان او عراق کي روان دي، د فلسطين په شمول د اسلامي امت د ټولو مسائلو برخه ليك په همدي جنګ پوري تړلي دي. که د اسلام دا لوي او اصلي دښمن دلته له ماتي سره مخامخ او وتلو ته اړ شو نو د شوروي اتحاد په برخه ليك به اخته کېږي او له خپلو ټولو مستعمراتو نه به وځي.

اوس هر مسلمان پدي پوهېږي چي د کمونيزم له ماتي وروسته د جنګ دري جبهي په دوو بدلي شوي، او د کمونيزم خلاف له جنګ نه د امريکايانو له فارغيدو وروسته؛ دوی خپل ټول توان طاقت د اسلام په

ضد جنګ ته متوجه کړ. پر افغانستان او عراق له یرغل نه مخکي، صلیبي ځواکونو د اسلام په ضد د جنګ داسې جبهه پرانستي وه چي په هغې کي امریکایان د پردي تر شا جنګیدل، په فلسطین کي ئې صهیونستان جنګول، په کشمیر او چچین کي ئې د روسانو او هندوانو ملاتړ کاوو، عراق او ایران، عراق او کویټ ئې جنګول، او په اسلامي هېوادونو کي ئې د مفسدو لاس پوڅو حکومتونو په ذریعه اسلامي تحریکونه ځپل، خو اوس په خپله پدي جنګ کي ښکېل شوي، مخکي د دوی فوځیان له مرګ ژوبلي خوندي وو؛ خو اوس هره ورځ کافي شمیر مړي او ټپیان انتقالوي، لدي د مخه به د دوی اجیر فوځیان په قتل رسېدل؛ خو اوس دوی په خپله په قتل رسېږي، مخکي به دوی د جنګ مصارف له شتمنو عربي هېوادونو نه ترلاسه کول او په خپله به ئې د جګړو ډېره محدوده برخه مصرف په غاړه اخیست؛ خو اوس یوازي په افغانستان او عراق کي باید د کال ۱۲۰ ملیارده ډالر مصرف کړي. مخکي د جګړو له منفي پایلو نه دوی تر ډېره خوندي پاتي کېدل؛ خو اوس به په دي جګړو کي د ناکامي پایلي دوی ته کټ مټ هغسي وي لکه شوروي اتحاد ته د افغانستان په جګړي کي د ماتي پایلي.

زما ورونړو! د سرکاری مفتیانو او بې همته دین خرڅوونکو ملایانو غلطو فتواګانو ته اعتناء مه کوي، دوی خو حکومتونو د دي لپاره استخدام کړي او د مفتي او عالم لقب ئې ورکړي چي د حکامو هري پریکړي ته شرعي رنګ ورکړي، د دوی وظیفه خو د واکدارانو په اوامرو باندي په پټو سترګو د تائید مهر لګول دي نه بل څه، د الله تعالی د صریح حکم په موجودیت کي د هیڅ فتوی ته ضرورت نلري، هلته چي فرمائي:

وَ مَا لَكُمْ لا تُقَتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَاءِ وَ الْوِلْدَنِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ

أَهْلُهَا وَ اجْعَل لَنَا من لَدُنك وَلِيًّا وَ اجْعَل لَنَا من لَدُنك نَصيراً * الّذينَ ءَامَنُوا يُقَتلُونَ فى سبيل اللّه وَ الّذينَ كَفَرُوا يُقَتلُونَ فى سبيل الطّغُوت فَقَتلُوا أَولِيَاءَ الشيْطن إنّ كيد الشيْطنِ كانَ ضَعيفاً *

النساء: ۷۵-۷۶

په تاسو څه شوي چي د الله په لار کي او د هغو بې وزلو سړو، ښځو او ماشومانو (د ژغورني لپاره) نه جنگیږي چي وايي: اي زمونږ ربه! مونږ لدغه ملك نه چي واکداران ئې ظالمان دي وباسه، او له خپل لوري مونږ ته کوم ولي وټاکه او له خپلي خوا مونږ ته کوم مرستندوي وټاکه. څوك چي ايمان لري د الله په لار کي جنگيږي، او څوك چي کافر وي د طاغوت په لار کي جنگيږي، نو د شيطان له ملگرو سره وجنگيږي، يقيناً چي د شيطان هر کيد او چل کمزوري دی.

بايد پوره ډاډه او مطمئن وی چي انشاء الله امریکا به په افغانستان او عراق کي له ماتي سره مخامخ کيږي، او پدي ماتي سره به اسلامي امت او ټوله نړی د امريکايي بدمعاشانو له شر نه ژغورل کيږي او د اسلامي امت د تير برم او مجد د اعادي لار به پرانستل کيږي. و ما ذلك على الله بعزيز*

د دلوی میاشتی حگینی نظامی پیشگی دا وی:

## کابل، غزنی

• د دلوی په اوله په کابل کي يوه کانادايی اکتشافی الوتکه رانسکوره شوه، د دغی الوتکی د غورځيدو علت معلوم نه شو او امریکایی یا افغاني چارواکو په دی اړه کوم رپوټ خپور نه کړ.

• د دلو په ۲ یو کانادایی عسکر هغه مهال ووژل شو او ۳ نور سخت ټپيان شول چي د ايساف په ځواکونو کې شامل د کاناډايی عسکرو يو

پوځی موټر تر د شهادت غواړی برید لاندي راغی. دا پیښه په محلی وخت د اتو بجو په شاوخوا کې د دهمزنك او دارالامان په سرك رامنځ ته شوه، یو بایسکل چلوونکی چي بمونه یی ځان پوری تړلی وو د ایساف ځواکونو د موټر مخی ته ځان وغورځاوو. شهادت غواړی بریدکوونکی هم په دی پیښه کې په شهادت ورسېد. د عینی شاهدانو په وینا په دی پیښه کې ۱۵ تنه نور هم سخت ژوبل شول چي یو تن یی روغتون ته له رسېدو وروسته مړ شو، په پیښه د کانادایی عسکرو موټر هم ویجاړ شوی. په دی پیښه کې یو حکومتی عسکر هم وژل شوی دی.

- د دلو په ۸ دوو درنو چاودنو د کابل ښار ختیځ د پل چرخی سیمه ولړزوله، دغه چاودنی د کابل جلال آباد په لویه لار د پلچرخی سیمی ته نږدی د کابل گمرك په سرك ترسره شوی، له چاودنو څخه یوه ئې د ایساف په ځواکونو کي د انگلیسی عسکرو د پوځی اډې مخی ته او بله د جرمنی عسکرو د پوځی دفتر څنگ ته په یو مهال ترسره شوی. لومړی چاودنه له غرمی د مخه د ۱۱ بجو په شاوخوا کي د انگلیسی پوځونو مرکز ته په یو ټیکسی موټر کي د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو موادو د چاودیدو له امله رامنځ ته شوه چي په کي یو انگلیسی عسکر مړ او ۳ نور سخت ټپیان شول. په بله چاودنه کي چي د جرمنی پوځونو د مرکز ترڅنگ وشوه لږ تر لږه پکی د ۵ بهرنیو عسکرو په شمول اووه تنه ټپیان شول. په ټپیانو کي یو افغاني ترجمان هم شامل دی.
- په غزنی کي د یوې درنی چاودنی په ترځ کې لږ تر لږه ۸ امریکایی عسکرو وژل شول. دغه چاودنه د غزنی ښار ته نږدی د وسلو او مهماتو په یوه زیرمتون کي رامنځ ته شوه، د ۸ تنو امریکایی عسکرو په مړینه برسیره یو شمیر نورکسان ټپیان شوی هم دی خو د هغوی د هویت په اړه تر اوسه اطلاعات نه دی ترلاسه شوی. ورپسې د دلو په ۲۵ د غزنی مرکز ته

نږدې یو ماین وچاودید چې له امله یې یو امریکایي عسکر ووژل شو او نهه تنه نور سخت ټپیان شول. ژوبل امریکایي پوځیان له پیښې سمدستي وروسته په یوه پوځي چورلکه کې د درملنې لپاره د بگرام هوایي ډگر ته ورسول شول او د وژل شوي امریکایي عسکر مړی هم کابل ته ولېږدول شو. د دوو ټپیانو روغتیایي حالت مرگوني ښودل شویدی. پیښه په یوه ماین باندي چې د مجا هدینو لخوا ایښودل شوی وو د امریکایي عسکرو د گزمې موټر د ورختلو په نتیجه کې رامنځ ته شوه.

خوست، پکتیا، پکتیکا:

- د دلو په اوله د خوست په ولایت کې امریکایي یرغلگرو د ځینو کورونو تلاشي پیل کړه، د سیمې اوسېدونکو شکایت وکړ چې بهرنی ځواکونه ولې د دوی سپکاوی کوی او کورونو ته ئې خبرتیا او اجازې پرته ورننوځي، ولې د ښځینه عسکرو له لاری کورونه نه تلاشي کوی، د خوست خلکو دا هم ویلي چې دوی نه غواړي خپلې سپکې وسلې چارواکو ته وسپاري. مونږ نه پوهېږو تر کومه به افغانان دا سپکاوی وزغملی شي؟
- د دلو په ۳ په خوست کې د پاکستان پولې ته نږدې ناپېژاندو کسانو د شکور اسماعیل خیل په نوم یو کس امریکایانو ته د جاسوسي په تور ونیوو او اعدام یې کړ. د اعدام شوي سړي مړی د جاسوسي له اسنادو سره یو ځای د خوست ښار ته ولېږدول شو، دغو کسانو د وژل شوي سړي سره یو لیك هم پرېښې چې په کې ویل شوي: هر څوك چې له امریکایي او یا نورو بهرنیو ځواکونو سره مرسته کوي حشر بې همداسې شي.
- په خوست کې د اختطاف او تښتولو د پیښو د زیاتوالي له امله په تیرو دریو میاشتو کې د بیلا بیلو قبیلو گڼ شمیر کسان تښتول شوي دي او تر اوسه یې لا د خلاصون کومه نښه نه ښکاري، په تښتول شوو کسانو کې د حیدرخیلو د قوم نورآغا د څارنوال عزیز الله زوی، د مولوی پاچا

شپېږ کلن ماشوم لمسی او د لکنو د قوم د ډاکتر عبدالوهاب وراره شامل دی. د متون، اسماعیل خیلو، مندوزیو او لکنو د قومونو مشرانو د خپلو قومونو له دولتی کارکوونکو څخه غوښتی چي خپلو دندو ته حاضر نه شی او که چا د حکومت وظیفه اجرا کړه نو شل زره افغاني جریمه به ورڅخه اخیستل کېږی، د قومونو د مشرانو دغه غونډی د خوست په دوسرکه کي ترسره کېږی، نوموړو قومونو د د دغو احتجاجی غونډو د پای ته رسولو لپاره هغوی ته حکومتی پلاوی او امریکایی چارواکی ورغلی دی خو کومه نتیجه یی نه ده ورکړی، همدا راز د غونډی مشرانو د خوست له والی سره له کتنی انکار کړی دی او ویلی دی چي هغوی د خوست والی په رسمیت نه پیژنی او د هغه آمریت نه منی. غونډی لا دوام لری او په سیمه کي د حکومت په خلاف سخت تاوتریخوالی رامنځ ته شوی دی.

- د دلو په ۷ د خوست د ښار په لویدیزه برخه د مقبو په سیمه کي په یو موټر کي چاودنه وشوه، په دی چاودنی کي دولتی ودانیو ته زیان رسېدلی دی.
- د دلو په ۱۱ مجاهدینو د خوست په هوایي ډګر چي دا مهال د امریکایی او ائتلافی ځواکونو په مرکز بدل شوی دی دوه توغندی وورول، توغندی په هوایی ډګر کي دننه لګیدلی چي ځانی او مالی زیان یی اړولی دی، خو د مرګ ژوبلی د دقیق شمیر په اړه کوم رپوټ نه دی ترلاسه شوی، عینی شاهدان وایی چي ګڼ شمیر زخمیان یی روغتون ته د لېږدولو په حال کې لیدلی.
- د دلو په ۱۸ په خوست کي مجاهدینو پر هغه کاروان برید وکړ چي د میرانشاه له لاری یی په افغانستان کي امریکایی یرغلګرو ته خوراکی توکی انتقالول، په دغه برید کي د دریو تنو د وژل کېدو رپوټ ورکړل

شوي دي.

- د دلو په ۱۹ په خوست کي د امریکایي یرغلگرو یوه گزمه چي افغان مزدوران هم ورسره وو د صحرا باغ په سیمه کي تر برید لاندي راغله. د دغه برید په نتیجه کي د دواړو خوا ترمینځ سخته نښته وشوه او امریکایي عسکر دي ته اړ شول چي د هوایي ځواك نه مرسته وغواړي.
- د دلو په اوله امریکایي عسکرو د پکتیکا ولایت د والي مرستیال، د امنیي قوماندان او یو شمیر نور چارواکي سخت وډبول او د امنیي قوماندان یي له ځانه سره بوت. د تفصیلاتو له مخي وسله وال امریکایي عسکر په ناڅاپي توگه د پکتیکا ولایت په مرکز ارگون کي د ولایت مقام ته ورننوتل، دغه مهال د پکتیکا والي حاضر نه وو او د هغه مرستیال سدوخان د ده په ځای په کار بوخت وو، امریکایي عسکرو پرته له کومي پوښتني او سوال ځواب څخه د هغه په وهلو او ډبولو پیل وکړ او په سوکونو او څپیړو یي د هغه خوارکي مخ او څټ وپړسااوو، د نوموړي له وهلو او ډبولو وروسته یي د دغه ولایت د امنیي قوماندان ښه چاپي کړ او پر مخي یي موټر ته ور واچاوو، د پکتیکا والي او مرستیال د شکایت لپاره کابل ته لاړل.

## کندهار، هلمند، ارزگان

- امریکایي یرغلگرو پخپله یوه ړنده بمباري کي یو ځل بیا د ارزگان ولایت په چارچینو ولسوالي کي یوه زړه بوږنونکي پیښه رامنځ ته کړه، د ارزگان والي جان محمد وویل دغه بمباري د یوه امریکایي هلیکوپتر په وسیله پر یوه کور وشوه چي په نتیجه کي یي د یوه کور یوولس تنه شهیدان کړل. په دغو شهیدانو کي ځلورکوچنیان او څو ښځي شاملي دي. د ارزگان والي وویل دغه شهیدان شوي کسان د یوې عادي کورني غړي وو چي په مجاهدینو پوري یي هیڅ اړه نه درلوده. امریکایي مقاماتو یو

ځل بیا په درواغ ویلو لاس پوری کړ او وئې ویل: مونږ په کور بمباری نده کړې!! امریکایانو تر دې د مخه هم پر ارزګان د یوه واده په مراسمو بمباری کړې وه چې تر ۱۸۰ نه زیات کسان پکې شهیدان او ژوبل شوی وو.

- د دلو په اوله د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالی د لاری په اوږدو کې پر یوه موټر د ماین د چاودنی له امله پنځه کسان ووژل شول. دغه ماین د امریکایی یرغلګرو د له منځه وړلو په مقصد ایښودل شوی وو چې په قربانیانو کې ئې دوه افغاني عسکر هم شامل دی.
- د دلو په ۹ د ارزګان ولایت په زرګونو کسانو په دغه ولایت کې د ناامنی او وسله والی زورزیاتی له امله په پراخو مظاهرو لاس پوری کړ. مظاهره کوونکو د امریکایانو او ولایتی چارواکو په ضد شعارونه ورکول او د هغوی له کاره ګوښه کېدو غوښتنه ئې کوله. همدا راز مظاهره کوونکو د مرګ پر امریکا او مرګ پر انګلستان شعارونه ورکول او غوښتنه یې کوله چې هغوی دی زمونږ له خاوری ووځی، انګریزان د افغانانو پخوانی دښمنان دی، مونږ په افغانستان کې د هغوی شتون نه غواړو. د مظاهره کوونکو چې شمیر ئې له پنځه زره تنو څخه هم زیات وو له حکومتی چارواکو څخه وغوښتل چې سوله او امنیت په سیمه کې رامنځ ته کړی او د وسله والو د زور زیاتی مخه ونیسی او د خلکو د ژوند او عزت د خوندی ساتلو په هکله جدی امنیتی اقدامات ترسره کړی. مظاهره کوونکو همدا شان له مرکزی حکومت څخه غوښتنه کوله چې د ارزګان ولایت چارواکی له خپلو دندو ګوښه کړی ځکه چې هغوی په دی ولایت کې د امنیت په راوستلو کې پاتی راغلی دی. په مظاهره کې ویناوالو شکایت درلود چې چارواکی له وسله والو کسانو سره لاس لری او نه یوازې دا چې د هغوی مخه نه نیسی بلکی د هغوی حمایت او مرسته کوی.

- د دلو په ۱۳د هلمند په ولایت کي د پولیسو د دوو ډلو ترمنځ خونړی نښته وشوه، دا نښته د هلمند ولایت د لشکر ګاه په پنځه لس کیلومتری موسی قلعه کي شویده چي له امله ئې څلور تنه پولیس وژل شوی او دری تنه نور ډیر سخت ټپیان شویدی.
- د دلو په ۱۸ ناپیژاندو وسله والو د کجکی پر بریښنا بند برید وکړ.
- د دلو په ۱۷ د کندهار هوایی میدان په راکټونو وویشتل شو. د امریکایی یرغلګرو پدی ستری نظامی اډې د ګڼ شمیر توغندیو وریدو سره ځای ځای اورونه ولګیدل،او دروند ځانی او مالی تاوان ئې امریکایی قواوو ته واړاوو، په بګرام کي د امریکایی قواوو ویاند برائن هیلفرټي دا خبر تائید کړ خو د تلفاتو په هکله ئې څه ونه ویل.

بد خشان، مزار، کندز

- د دلو په ۱۹د بدخشان ولایت د ارګو په ولسوالی کي د ښکېلو لوریو ترمنځ څه د پاسه ۲۴ تنه وژل شوی او ۴۰ تنه نور ټپیان شویدی او په سلهاو خلك د جګړې له امله بې کوره شوی دی. جګړه د ولسوال عبدالجبار مصدق او د امنیی قوماندان ترمنځ شوی وه.
- د دلو په ۲۰ د بلخ ولایت په سلګونو اوسېدونکو د مزار په ښار کي مظاهره وکړه او په دغه ښار کي د ملګرو ملتونو دفتر ته ورغلل او د خپلی سیمی د یوه پوځی قوماندان له زور زیاتی او بدسلوك څخه ئې شکایت وکړ، مظاهره کوونکو وویل چي د حرکت اسلامی د ګوند قوماندان عبدالواحد محسن د خلکو د تګ راتګ لاری تړی او بې ګناه ولسی وګړی وهی ټکوی، او په ناحقه خلك ځوروی.
- د دلو په ۲۱ په کندز کې د یوې خونړی نښتی په ترځ کي ۳ تنه مړه او یو تن ټپی شو. جګړه د کندز په کوبایی سیمه کي د قوماندان شمس الدین او محمدصادق ترمنځ شوی ده چي پکی قوماندان شمس الدین هم

وژل شوي دي، نوموړی د کندز د ۵۴ مي فرقي د مخابري کنډك قوماندان وو.

## کنړ، جلال آباد

• د دلو په ۳ د کنړ په ولایت کې د ۱۵بی درکه شویو امریکایي پوځیانو د موندلو په اړه هڅو څه نتیجه ورنکړه او هیڅ معلومات تر لاسه نه شو، دوی په تیرو ورځو کې له مجاهدینو سره په نښتو کې بې درکه شوي.

• د دلو په ۵ د امریکا جنګي الوتکو د یکشنبې په ورځ د کنړ په یو شمیر سیمو درنه بمباري وکړه. امریکایي جنګي الوتکو وروسته له هغې د کنړ د نرنګ ولسوالي په یوه کلي څو بمونه وغورځول چې په سیمه کې د امریکایي عسکرو په یوه پوځي اډه دوه توغندي ولګیدل. د امریکایي الوتکو د بمبار له امله څو کورونه ړنګ او ویجاړ شول، خو د ځاني زیانونو په اړه تر اوسه موثق اطلاعات نه دي تر لاسه شوي، له بلې خوا د امریکایي عسکرو پوځي اډې ته چې د کنړ سیند ته څېرمه موقعیت لري د توغندیو د لګیدو له امله دروند مالي او ځاني تاوان وراوښتي دي، خو تر اوسه د امریکایي عسکرو د مرګ ژوبلې د شمیر په اړه څه نه دي ویل شوي. امریکایي او حکومتي چارواکو د توغندیو پړه په مجاهدینو اچولې ده.

• د پنجشنبي په ورځ ۱۳۸۲۱۱۱۹د نو آباد پله ته نږدې په امریکایي یرغلګرو د برید په ترڅ کې دري یرغلګر مړه او دوه ژوبل شول.

• د دلو په ۹ د کنړ ولایت په مرکز اسعدآباد کې ۳ تنه امریکایي پوځیان هغه وخت سخت ټپیان شول چې د دوی د سپرلی موټر اسعدآباد ښار ته نږدې په یوه ماین وخوت او والووت. د عیني شاهدانو په وینا د امریکایي یرغلګرو موټر کاملاً ویجاړ شو او ټپیان شوي امریکایي

عسکر په یوه امریکایی پوځی چورلکه کي د درملنی له پاره د بگگرام هوایي ډگر ته رسول شوی دی. خو ویل کېږی چي د اکثرو ژوبلو عسکرو روغتیایی حالت وخیم او مرگونی دی. امریکایی پوځی چارواکو د ۳ تنو امریکایی عسکرو د ټپی کېدو تصدیق کړی او دائی منلی ده چي د هغوی د سپرلی موټر هم ویجاړ شوی دی.

- په ۱۳۸۲۱۱۱۱۱۱ د لوي اختر په شپه په توپچي کي د امریکایانو په اډي څلور توغندي پریوتل.
- د دلو په ۴ د جلال آباد په هوایي ډگر کي د امریکایانو اډه تر توغندوئی برید لاندي راغله. د سهار په دریو بجو دوه توغندی په هوایي ډگر وورول شول. د نیواکگرو د شتون په وجه دغه ډگر پر له پسی تر توغندوئی بریدونو لاندي راځی، د ننگرهار اوسېدونکی دغلته د امریکایی یرغلگرو په شتون ناخوښه دی.
- د دلو په ۷ یوې درنی بمی چاودنی د جلال آباد ښار ولړزاوو، چاودنه د د جلال آباد ښار غرب لوری ته د امیر شهید باغ ته نږدی هغه مهال رامنځ ته شوه چي یوه ناپېژانده شخص په ډېره چټکی سره له ځانه سره راوړی بم ځای په ځای او منفجر کړ. بریدکوونکی له پېښې څخه خوندی پاتی شو او له دغه ځایه په تېښته بریالی شو. چاودنی ډېر مالی او ځانی زیان له ځانه سره لرلی دی خو د مرگ ژوبلي دقیقه شمیره ئې نه ده په ډاگه شوی. چاودنه دومره درنه او قوی وه چي د امیرحبیب الله، امیرامان الله او حاجی عبدالقدیر قبرونو ته ئې سخت زیان اړولی دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

# اولسمه اعلامیه

د حوت میاشتي هم په افغانستان او عراق کي د امریکایي یرغلگرو لپاره ډېر بد خبرونه درلودل، د مسلسل درنو بریدونو او د دوی د عسکرو د لوي شمیر مرگ ژوبلي او د امریکا او امریکا پلوه رژیمونو په ضد د نړۍ والو د ژوري کرکي او نفرت د تشدید خبرونه، او په خپله امریکا کي د جورج بش د جنگي سیاست په ضد د خلکو د مخالفت د زیاتوالی خبرونه. د دي میاشتي ځیني سیاسی او نظامي پېښي دا دي:

- د هسپانیا امریکا پلوه حاکم حزب په انتخاباتو کي ماتي وخوړه، مخالف حزب غوڅ اکثریت ترلاسه کړ، د دي حزب مشر له بري نه وروسته اعلان وکړ چي د هسپانیا یو زر دري سوه عسکر به له عراق نه راباسي، د جورج بش د ملگري ازنار ماتي د ده لپاره لویه او شرموونکي ماتي وه، د ده په ماتي سره د نړۍ له څلورو سترو مجرمانو او جنگي جنایتکارانو څخه یو په خپله سزا ورسېدو، د هسپانیي ولس هغه د افغانستان او عراق په

جګړو کې د امریکا د ملګرتیا په وجه ورټلو، انشاء الله چې بش، بلیر او هاوارډ د استرالیا صدراعظم به هم له ورته برخه لیك سره مخامخ کېږي، هاوارډ اعتراف کړي چې د ده حزب به په راتلونکو انتخاباتو کې د ازنار د حزب له برخه لیك سره مخامخ کېږي، د ایران اصلاح طلبانو هم د امریکایانو د ملګرتیا جزا ولیده، د ایران ولس پدي خاطر دوی ته له رأي ورکولو ډډه وکړه چې دوی له امریکایانو سره د کابل او بغداد په نیولو کې مرسته وکړه او پدي کرکجني او خائنانه مرستی د شرم په ځای ئې پر هغې فخر او مباهات کولو او مکرر ئې دا ویل چې که د تهران ملګرتیا نه وي نو امریکایانو کابل او بغداد داسې ژر او په دومره آساني نشو نیولی، انشاء الله د امریکایانو نور غلامان به هم د مظلومو افغانانو او عراقیانو له قاتل بش سره د خائنانه ملګرتیا او ځان خرڅوني جزا ګوري.

- د کربلا او کویټې دردوونکو حوادثو او په سترو بمي چاودنو کې د سلهاوو ویرکوونکو شیعه وو مرګ ژوبلي وښوده چې له امریکایانو سره د افغاني او عراقي شیعه وو ملګرتیا په خپله دوی ته خطرناکي پایلي لري. له امریکایانو سره پدي ناروا ملګرتیا سره دوی له اسلامي امت نه بیل او د اسلام له دښمنانو سره د مسلمانانو په ضد پدي صلیبي جنګ کې ملګري شول او دا دي اوس یا امریکایان او د دوی یهود ملګري د دي لپاره دا چاودني کوي چې دا راولاړ شوي اختلاف مزید تشدید کړي او یا هغه ناپوه مسلمانان دا کار کوي چې د دوی دښمنانه دریځ او له صلیبي ځواکونو سره د شیعه وو ملګرتیا تحریك کړي. شیعه وو ته پکار ده چې لدي حالت نه ځان وباسي، د صلیبي ځواکونو له ملګرتیا نه لاس واخلي او له امت سره یوځای شي که نه نو له ډېرو بدو پایلو سره به مخامخ شي.
- د بشري حقوقو د څارني امریکایي ټولني په امریکایي یرغلګرو سخته نیوکي وکړي او په خپل کلني راپور کې ئې ولیکل چې امریکایانو

په افغانستان کي تر زرو نه زيات افغانان له کوم قانوني دليل نه پرته نيولي، په غير انساني طور ئې تعذيب کړي، د مرگ تر حده ئې وهلي، تر اوسه دري کسان د تعذيب لاندي مړه شوي، نور ئې له محاکمې پرته دوه کاله په حبس کي ساتلي، نه د وکيل نيولو اجازه ورکوي او نه له خپلوانو سره د ليدو اجازه، امريکايانو د دي شديد اعتراض په ځواب کي وويل: تاسو د افغانستان له حالت نه خبر نه یاست، زمونږ هرڅه د جنگي قوانينو مطابق دي، د وژل شوو کسانو په اړه زمونږ تحقيقات روان دي!!

• د برمل ۲۰۰ سپين ږيري د کابل د امريکايي حکومت چارواکو ته د امريکايي يرغلگرو له ظلمونو او تيريو نه د شکايت لپاره کابل ته لاړل او هلته ئې د امريکايي يرغلگرو له وحشيانه، او غيرانساني سلوك نه شکايت وکړ او وئي ويل چي کورونو ته له اجازې پرته ننوځي، باعزته خلك سپکوي، هرڅوك چي وغواړي نيسي، دوی او د دوی افغاني ملگري کورونه لوټوي، گنې، پيسي او شخصي وسلي اخلي. دوی اعلان وکړ چي که د دي ظلمونو مخه ونه نيولی شي د لوئي پکتيا ټول ولس به په قيام او پاڅون لاس پوري کړي. همدا راز له شمال نه هم د سپين ږيرو لويه ډله کابل ته پدي اميد راغله چي چارواکي دوی د شمالي ټلوالی له ظلمونو، تالان، په سر، مال او عزت تيري نه وژغوري، د امريکايانو پست فطرته ملگري هلته هم مظلوم افغانان په آرامه نه پرېږدي، هلته ئې هم د غارت، چور، تالان، او شوکو بازار گرم کړي، بي بي سي پدي هکله وويل: په افغانستان کي د وسله والو زور زياتی دوام لري. د افغانستان له شمال څخه د سپين روبو يوه ډله کابل ته رسېدلې او وايي د دولتي مشرانو له ژمنو سره سره تر اوسه پورې هورې حالات ښه شوي نه دي . د سپين روبو په وينا د قومندانانو له امله نه يوازې دا چي پخواني بې ځايه شوي کسان بيرته خپلو سيمو ته نه ستنېږي بلکه نور خلک هم اړ وځي چي د شمال

ولایتونه پرېږدي . مونږ دي ورونو ته وایو: د کابل گوډاگي او لاس پوڅي حکومت ته په شکایت کولو هیڅ نه جوړېږي، لدي سپکاوي نه د ژغورنې لار دا نده چي له وحشي او ظالم امریکایانو نه د دوی سپکو او ذلیلو غلامانو ته شکایت وکړي، چاره ئې دا ده چي بیا وسلي ته لاس کړو، د خپل متې په زور له خپل عزت نه دفاع وکړو، د روسانو او پرنگیانو په څېر امریکایان او انگریزانو ته هم په خوله سوك ورکړو، له مجاهدینو سره یو ځای شو، په هیڅ ځای کي یرغلگر آرام پري نږدو، ټول افغانستان ورته سور اور کړو، په هر ځای کي په دوی برید وکړو، که له هر کلي نه دوه دوه کسان ووځي او پردښمن چریکي بریدونه پیل کړي، دښمن به ډېر ژر له افغانستان نه وتلو ته اړ کړي او خپل دین، ناموس، عزت او وطن به د دوی له تیري وژغوري.

- امریکایانو ۲۲ نور بندیان د گوانتانامو له جهنمي زندان نه خوشي کړل، ټولو وویل چي پدي دوو کلونو کي له دوی سره سخت ظالمانه او وحشیانه سلوك شوي، امریکایانو تر اوسه لدي زندان نه ۱۲۰ کسان خوشي کړي، او تر ۷۰۰ زیات لاپاتي دي، پوښتنه دا ده چي دا کسان په کوم جرم او د کومو انساني حقوقو له مخي دوه کاله له محاکمي پرته، تر وحشیانه تعذیبونو لاندي په اوسپنیزو قفسونو کي وساتل شوو، د بشري حقوقو دروغجن مدعیان د دغه ظلم، وحشت، او بې رحمانه تعذیبونو لپاره څه توجیه لري، د دوی بې شخصیته لیبرل دیموکرات مزدور پلویان څنگه دا د تاریخ ترټولو مستبدو واکمنانو نه زیات وحشي او قسي القلبه فرعونان د بشري حقوقو مخکښان گڼي، او په افغانستان او عراق د دوی شنیع او قبیح تیري له آزادي او دیموکراسي نه د دفاع مشروع تیري شمیري؟!!
- امریکایانو په غزني کي د نهو ماشومانو وژنه یو مشروع او د جنگي

قوانینو مطابق عمل وګڼلو، د دوی له نظره د هلمند، نورستان، ګردیز، سید کرم، زابل او د افغانستان د نورو سیمو د بې ګناه افغانانو بې رحمانه وژني، له یرغل نه تر نن پورې د پنځوسو زرو افغانانو وژنه، دا ټول مشروع او د جنګي قوانینو مطابق وژني ګڼي، نه ندامت ښیي او نه له افغانانو نه د عفوي او بخښني غوښتو ته ځان اړ ګڼي، د دوی افغاني پست فطرته مزدوران هم پدې د اعتراض په ځای په سلهاوو دلایلو هغه توجیه کوي او د تروریزم په ضد د جګړې عادي او طبیعي پیښې ئې ګڼي!! دا دې د همدې حوت په میاشت کې امریکایي هلیکوپترو په کندهار کې د عادي افغانانو د سورلۍ په ګاډي راکټې وورولې او لږ تر لږه دولس بې ګناه افغانان ئې ووژل، خو د کابل امریکایي حکومت نه خفګان وښود او نه ئې اعتراض وکړ!!

- د انتخاباتو په اړه هڅې توندې شوې، بش غواړي د امریکا له راتلونکو انتخاباتو نه مخکې په افغانستان کې انتخابات ترسره شي، خو ملګري ملتونه د افغانستان امنیتي شرائط د انتخاباتو لپاره مساعد نه ګڼي، امریکایانو د امنیت راوستو په طمع ستر تصفیوي عملیات پیل کړي، د نورو ځواکونو د رالېږلو تصمیم ئې نیولی، خو نه پدې عملیاتو سره څه ترلاسه کولی شي، او نه د نورو فوځونو په رالېږلو سره.
- له مونږ نه افغانان پوښتنه کوي چې په راتلونکو انتخاباتو کې کوم دریځ غوره کړو، چا ته رأي ورکړو، زمونږ ځواب دا دی: که داسې څوک د انتخاباتو لپاره راوړاندې شو چې نه له روس پلوه ډلو سره ملګري شوي وي او نه امریکا_ انګلیس پلوه ډلو سره، د هېواد خپلواکي غواړي، او په آزاد افغانستان کې د ولس د خوښې اسلامي حکومت، نو په انتخاباتو کې برخه واخلي، او همدی کس ته په رأي ورکولو سره د مبارزې پدې ډګر کې دښمن ته ماتې ورکړې، که نه نو مه د روسانو جاسوسانو ته رأي

ورکوي او مه د امریکایانو نوکرانو ته، او مه ډبل جاسوسانو ته. دا مو باید په پام کي وي چي تر بې ړیري جاسوس ړیره ور جاسوس خطرناك وي، او تر سینګل جاسوس ډبل جاسوس خطرناك. دا مو هم په پام کي وي چي افغانستان یوه بل انقلاب ته ضرورت لري، مخکني اسلامي انقلاب په نیمائي کي پاتي شو، د روسانو له تیري نه وروسته افغانانو ته د آزادي جنګ ورپه غاړه شو، د روسانو له وتلو نه وروسته له یوه ستري بین المللي توطئي سره مخامخ شول، او دا دي اوس همغه توطئه په بلي بڼي کي او د روسانو په ځاي د امریکایانو په قیادت کي د اسلام، واقعي مجاهدینو او افغانستان په ضد روانه ده، د امریکایي یرغلګرو له ایستلو وروسته به انشاء الله د اسلامي انقلاب پاتي نیمائي برخه ترسره کوو. راځي چي ټول پدي خبري له خپل رب سره صادقانه ژمنه وکړو چي اسلامي انقلاب به راولو او سوچه او واقعي اسلامي حکومت به جوړوو.

• د کابل د امریکایي حکومت د عدلیي وزارت دریو کمونستو ډلو او یوي داسې مختلطي ډلي ته د رسمي فعالیت اجازه ورکړه چي له لیبرل دیموکراتانو او کمونست دیموکراتانو نه جوړه شوي او په سر کي ئې د منحطي او مفسدی شاهی کورنۍ یو مفسد غړي دي. روس پلوه کمونستان اوس د امریکا په لاس پوځو بدل شوي، امریکایان لدوي نه د اسلام او آزادي غوښتونکو افغانانو په ضد همغه کار اخلي چي روسانو ورنه واخیست.

• د ټایم امریکایې جریدی ولیکل: امریکا په افغانستان کي ښښتی ده!! جریده لیکی: پنځلس کاله مخکی چي روسی پوځونو ته د وتلو حکم وشو نو هغوی د سکون او آرامی ساه واخیسته او یو روسی جنرال ښکاره اعتراف وکړ چي موږ ته دا نه وه معلومه چي په افغانستان کي څومره غرقیدونکی یو. کله چي روسیه له افغانستان نه وتلو ته اړ شوه نو بیا لوی

طاقت نه وو پاتې او په څو ټکړو ویشل شوی وه. روس د هند د سمندر ګرمو اوبو ته د رسېدو په ارمان افغانستان ته راغلی وو او اوس امریکا د دغی سیمی په ټولو هېوادو د سلطی ټینګولو او خصوصاً په چین باندي د اوسپنیزو نینو چیچلو لپاره راغلی ده، خو پوځی او سیاسی مبصرین په دی عقیده دی چي امریکا کومه کنده د نورو لپاره کنستی وه پخپله پکی لویدلی ده.

- همدا راز یوې بلي امریکایي جریدی ټائم د افغانستان حالات څېړلی او لیکلی ئې دی چي افغانستان د امریکایانو لپاره د جهنم کنده ګرځیدلی ده. د یو لسم سپتمبر له پیښی نه وروسته چي امریکایی پوځونو پر افغانستان شدیده بمباری وکړه نو پدی خیال وو چي ډېر ژر به پر افغانستان بشپړ کنترول حاصل کړی او لدینه پس به ایران، پاکستان او چین ته سزا ورکړی، په افغانستان کي د امریکایی پوځونو دوه کاله په پوره کېدو دی خو تر اوسه یی د افغانستان په یوه ولایت هم بشپړ کنترول ندی ترلاسه کړی او سلګونه امریکایی کمانډو په لوی غم ککړ دی. څو ورځی بعد دیخنی له ختمیدو نه وروسته د امریکایانو په خلاف چریکی عملیات شروع کېدونکی دی. د بش خیال وو چي په افغانستان کي به خپل مخالفین ډېر ژر وځپی او په راتلونکی انتخاباتو کي به کامیابی تر لاسه کړی، د بش دا آرمان خاوری ایری شو او اوس په یوه دوه کي حیران دی. امریکایان غواړی چي په راتلونکی جون میاشت کي په افغانستان کي عمومی انتخابات وکړی خو د امن او امان حالت دومره خراب دی چي د ملګرو ملتو ټیمونو په یو لس ملیونو رای اچوونکو کي تر اوسه یوازې په سلو کې د ۹ رای ورکوونکو نومونه ثبت کړي دی. دغی اداری په جون کي انتخابات مسترد کړیدی او ویلی یی دی چي د جون په میاشت کي انتخابات ناممکن دی ځکه چي په افغانستان کي د امن او امان مسئله

ډېره خرابه ده. امریکا هره میاشت تقریباً نوی کروړه ډالره د افغانستان د امن امان د ښه کولو لپاره مصرفوی، په افغانستان کي سیاسی، اجتماعی او اقتصادی استحکام خورا مهم دی، مگر یوائی د امریکا له وس نه نده پوره چي هلته د امن او امان حالت ښه کړی. د امریکایی وگړو خیال دی چي امریکا په عراق او افغانستان باندي له حملې نه پس پخپله محفوظ ندی پاتی بلکی نور هم غیر محفوظ شویدی. کله چي د ټایم میگزین نماینده له کرزی نه تپوس وکړ چي که امریکا خپل پوځونه له افغانستان نه وباسی نو د ا فغانستان حالت به څه وړ شی؟ نو کرزی په ځواب کي وویل په افغانستان باندي به دوباره د مجاهدینو حکومت قائم شی او القاعده به بیرته فعاله شی. د حامدکرزی لدی خبری نه په څرگند ډول معلومېږی چي کرزی د افغانستان په خلکو کي هیڅ قسم محبوبیت نلری، هغه صرف د امریکایی پوځونو په زور په کابل کي ټینگ دی، که همدا نن امریکایان له افغانستان نه ووځی سبا ته به د حامدکرزی د حکومت تخته چپه وی. ټایمز لیکی چي په افغانستان کي د امریکایانو له ورتگ نه مخی صرف په ا تو ولایتونو کي کوکنار کرل کېدل لیکن اوس په اته ویشتو ولایتونو کي کوکنار کرل کېږی. د ملگروملتو د ماهرینو په قول سږکال به نږدی څلور زره ټگنه کوکنار تولید شي. ځینی ا طلاعاتی ځانگی خو دا هم وایی چي د کوکنارو په کرلو او د پوډرو په تجارت کي پخپله امریکایی جنرالان ملوث دی او لدی لاری په کروړونو ډالره تر لاسه کوی. ټایم لیکی چي په افغانستان کي اوس هم مجاهدین په گڼ تعداد کي موجود دی، هغوی اوس تر ډېره حده پوری منظم شوی هم دی، او د دی بشپړ صلاحیت لری چي په امریکایی پوځونو او د دوی په ملگرو او حامیانو باندي بریدونه وکړی. څه وخت وړاندی چي د کابل پشان ښار کي شهادت طلبانه عملیات ترسره شول او کاناډایی او بریتانیائي پوځیان یی ووژل، پدی

خبره ښکاره دلالت کوی چي مجاهدین د دی استعداد لری چي د امریکایانو په خلاف موٌثر بریدونه وکړی او سخت نقصان ورته ورسوی. امریکایی او افغاني عسکر د مجاهدینو له حملو نه سخته ویره لري او هر وخت پدی غم کي شپی ورځی تیروی چي یوه نه یوه ورځ به خامخا د مجاهدینو له لاسه وژل کیږی . افغانستان ته چي د هر هیواد پوځیان راځی هغه باندي دا رعب او ویره هر وخت سپره وی چي د مجا هدینو تر برید لاندي به خامخا راځی. د امریکایی پوځیانو قوماندان مائیك هورډ وایی چي زمونږ دښمن کمزوری شویدی او موږ په کلاره کلاره کامیابی ته ورنژدی کیږو مگر د پوځیانو وینا ده چي امریکایی قوماندانان د خپلی ویری پټولو لپاره داسی خبری کوي، هغوی پوهیږی چي په یوه خطر ناك حالت کي قرار لري او مجاهدینو د هغوی خوب تښتولی دی.

• ټایم د افغان پولیسو د مشر د منظور محبوب خبره رانقل کړی، هغه وایی چي موږ سره صرف ټوپکی دی او زموږ شاوخوا څلور طرفونو ته زموږ مخالفین پراته دي. پخپله امریکا کي هم وگړی لدی جنگ او تاوان نه په تنگ راغلی او د صبر پیمانه یی ډکه شویده، هغوی له بش حکومت څخه پوښتنه کوی چي امریکایان به ترڅو مالی او جانی نقصان زغمی او تر څو به خپل زامن په افغانستان کي قربانوي؟ په افغانستان کي دیره امریکایی قوماندانان اعتراف کوی چي د افغانستان جنگ ډیر اوږد دی، که پدی کي موږ کامیابی تر لاسه نکړی شو نو لږ ترلږه ماتی خو باید ونه خورو او په ټیټو سترگو ونه وځو.

• جنرال ډیویډ بارنو، د یرغلگرو امریکایي ځواکونو قومندان، ادعا کړي چي پدي کال کي به وروستی بریا ترلاسه کوي!! خو مونږ هغه ته وایو: د روسي فوځونو د وتلو نه څو میاشتی د مخه ستا سلف جنرال گروموف هم همداسې دعوی کړي وه، خو څو میاشتي لا نه وي تیري شوي

چي دي د ځلوېښتم قول اردو له وروستيو قطعاتو سره يو ځاي، سرتېټي له افغانستان نه ووت او د ترمذ سرحد خوا ته ئې خبريالانو ته وويل: په افغانستان باندي تيري يوه غلطي وه، مسکو به بيا داسې غلطي نه تکراروي!! انشاء الله ته به هم دهمدي ۲۰۰۴کال په پاي کي له خپلو ماتي خوړلو قطعاتو سره په ټيټو سترګو وځي او بيا به د ګروموف په شان د خپلو خاطراتو په کتاب کي ليکي: د جورج بش نسکور شوي حکومت پر افغانستان باندي د يرغل له ناسمي او غلطي فيصلي سره د امريکا متحده ايالات لدي بدو پايلو سره مخامخ کړه، ته لږ صبر وکړه، يو کال وروسته به ستا دا خبره درياد کړو.

• محقق له وزارت نه ليري کړي شو او ده په مطبوعاتي کنفرانس کي وويل چي ما خپل شکايت خليلزاد ته ورساوو!! او دا شو يو شيعه انقلابي او د امام حسين پيرو او د يزيد دښمن!! په امريکايي حکومت کي شامليدل، د امريکايانو ترقومندي لاندي د خپل ولس په ضد جنيدل، او له حکومت نه د ايستل کېدو په صورت کي د بش په څېر د لوي فرعون خاص استاځي ته شکايت، نه د مذهب خلاف عمل دي او نه د امام د خط خلاف!!

• د بشری حقونو د څارنی نړيوالی اداری وويل: امريکايان په افغانستان کي بې ګناه خلك وژنی، دی موسسی په افغانستان کي ميشت امريکايی ځواکونه په زور زياتی او له خپل ځواك څخه په ناوړه ګټه اخيستو تورن کړل، دغی اداری په خپل يو خپور شوی رپوټ کي ويلی دی چي امريکايی يرغلګرو لـه خپل ځواك څخه بېساری کار اخيستی، او د دغه هېواد ولسی او عامه وګړو ته يی زيانونه رسولی او هغوی ته د زياتو تلفاتو د اړولو سبب ګرځيدلی دی. په نيويارك کي ميشت د بشری حقونو د څار نړيوال سازمان "هيومن رايټس واچ" پدی خپور کړی رپوټ کي په

امریکا نیوکه کړی چي په افغانستان کي د نیولو لپاره له اندازی زیات ځواك کار وی چي د بې ګناه ولسی و ګړو د مرګ ژوبلی سبب کېږی، د رپوټ لیکونکی جان سیفټن ویلی چي مونږ د امریکایی او حکومتی ځواکونو تر کنټرول لاندي په کلیوالو سیمو کي بې ځایه نیونو حیران کړی یو، د بشری حقوقو د څار نړیوالی ټولنی په خپل رپوټ کي ویلی چي له ۲۰۰۲ میلادی کال را پدیخوا په افغانستان کي له ۱۰۰۰ څخه زیات افغانان توقیف او بندیان شوی دی چي د بې خوبی او د لوړی درجی له تودوخی، او وهلو ټکولو سره مخ دی. په افغانستان کي د امریکایی یرغلګرو ویاند د دغه رپوټ خپرولو قهرولی دی او وایی چي مونږ د جنګ په ډګر کي یو او له خپلو مخالفینو سره د سولی د وخت سلوك نه شو کولی.

- د افغانستان له شمال څخه د سپین ږیرو او قومی مشرانو یوه ډله کابل ته رسېدلی او وایی د انتقالی اداری د مشرانو د ژمنو سره سره تر اوسه پوری په شمال کي حالات ښه شوی نه دی. دغه پلاوی وایی د قوماندانانو د ظلمونو له امله نه یوائی دا چي پخوانی بې ځایه شوی کسان بیرته خپلو سیمو ته نه ستنېږی بلکه نور خلك هم اړ ایستل کېږی چي شمالی ولایتونه پرېږدی. دوی وایی اوس هم ټوپك سالاران په زور کي دی او د دغو وسله والو د ظلم سره نوری کورنی هم دی ته اړ شوی چي خپلی سیمی پرېږدي. دغه سپین ږیری وایی د بدخشان نه نیولی تر بادغیس پوری قوماندانان د خپلو افرادو او اسونو سره پرخلکو په زوره میلمانه کېږی او ټول مصارف په زوره د خلکو نه اخیستل کېږی، او سیمه ایز قوماندانانو د خلکو سر، مال، ناموس او عزت ته ګوابنی متوجه کړی.

په نظامي اړخ کي د دي میاشتي ځیني پیښې دا وي:

## خوست، پکتیا، پکتیکا

- په خوست کې امریکایانو ته د جاسوسی په جرم ۲ تنه اعدام شول، او د هغوی مړی ئې د عبرت لپاره د یوه سړك پرغاړه چې خلك وربانديې تګ او راتګ کوی غورځولی دی، عاملینو له وژل شوو کسانو سره یو لیك هم ایښی چې په کې ویل شوی: ځوك چې له بهرنیو ځواکونو سره مرسته کوی، هغوی ته کار کوی او د سیمی په اړه ورته معلومات برابروی او جاسوسی ورته کوی نو دا به ئېحال وی. که څه هم د دغو کسانو هویت نه دی په ډاګه شوی خو ویل کېږی چې د بیرمل اوسېدونکی دی دا پیښه د انګور له اډې څخه تقریباً دری کیلومتره لری رامنځ ته شوی ده. له وژل شوو کسانو سره یوه اندازه ډالر او د ستیلایټ تیلفونونه هم وو.
- د حوت په ۵ د برمل په ولسوالۍ کې د ائتلافی ځواکونو ۳ پوځی موټرونه په ماینونو والوزول شول، په دی پیښه کې د ائتلافی ځواکونو ۱۰ تنه وژل شوی او یو امریکایي پوځی افسر سخت ژوبل شوی دی، د پیښی سیمه له انګور اډې نه د پنځه کیلومترو په واټن پرته ده. په الوزول شوو موټرو کې دوه لاری او یو جیپ شامل دی. ما ینونه له مخکی نه د ائتلافی ځواکونو د موټرونو د تګ راتګ په لار کې ځای پر ځای شوی وو. په وژل شوو کې امریکایي او افغاني عسکر شامل دی. د خوست په سرحدی سیمه کې دوه ورځی وړاندی امریکایي او افغاني عسکرو پراخه تصفیوی عملیات پیل کړی دی چې پیاده او هوایي ځواکونه په کې ونډه اخلی.
- د حوت په ۷ د هغو لاریو ډریورانو د مجاهدینو له ویری خپلی لاری ودرولی چې امریکایانو ته ئې خوراکی مواد انتقالول. څه د پاسه شپږ سوه کانتینرونه چې له خوراکی موادو څخه ډك دی او د پاکستان د کراچی له بګندر نه د خوست پولی ته نږدی غلام خان ته رسېدلی او

ټاکل شوی چي د افغانستان خاوری ته منتقل او له هغه ځایه د امریکایانو مرکزونو ته ولېږدول شی، خو د لاریو ډریوران د مجاهدینو له ویری د دغو مالونو د وړلو جرئت نه کوی ځکه چي مجاهدینو خبرداری ورکړی چي په هغو موټرو حتماً برید وکړي چي نوموړی مواد په کښی یوړل شی.

• د حوت په ۸ په پکتیکا کي مجاهدینو پر هغه امریکایی پوځی کاروان برید وکړ چي په هغه کي دیرش پوځی ګاډی شامل وو چي له امله ئي کاروان ته ډېر زیان اوښتی، دښمن پدې ستر برید اعتراف کړی خو د خپلو تلفاتو په اړه ئي له څه ویلو ډډه کړی.

• د حوت په ۱۲ په ارګون کي د امریکایی او حکومتی ګډو ځواکونو یو کاروان د مجاهدینو تر برید لاندي راغی چي په ترڅ کي ئي دښمن ته د سر او مال درونډ تاوان واوښت.

• د حوت په ۱۴مجاهدینو د خوست په هوایي ډګر دری توغندی وورول، توغندی په هوایی ډګر کي دننه لګیدلی چي د پرواز سرك یی تخریب کړ، دښمن د تل په څېر د مرګ ژوبلی د شمیر له افشاء نه ډډه وکړه.

• د حوت په ۲۰ په خوست کي د افغاني امریکایانو یو پوځی موټر چي د خوست ولایت د مرکز په لور روان وو د خوست ښار ته نږدی په ماین وخوت او ویجاړ شو چي له امله یی ۲ حکومتی عسکر مړه او د یوه پوځی افسر په ګډون ۳ تنه نور سخت ټپیان شول.

## کابل- پروان- کاپیسا

• د حوت په ۷ په کابل کي یو امریکایی عسکر مړ او بل ټپی شو. پیښه د امریکا د سفارت مخی ته وشوه، په کابل کي د ایساف د ځواکونو ویاند کرش هنډرسن خبریالانو ته د دی پیښی د جزئیاتو

ورکولو څخه ډډه وکړه خو دومره یې وویل چې د موټر سورلی دوه امریکایي سرتیري وو.

• د حوت په ۷ کابل ته نږدې د سروبي د وزبین په سیمه کې ناپیژاندو وسله والو بریدکوونکو د اف بي اف موسسې د کارکوونکو په موټر باندې ډزې وکړې، چې له امله یې د دغې موسسې ۵ تنه کارکوونکي ووژل شول، ۲ نور سخت ټپیان او یو ئې تري تم شوی دی.

• د حوت په ۱۲ د کابل د امریکایي حکومت د دفاع وزارت لخوا له دندې څخه ګوښه شوو په سلګونو صاحبمنصبانو په کابل کې احتجاجي غونډه او لاریون وکړ او د خپلو حقوقو غوښتنه یې وکړه. مظاهره کوونکو ادعا کوله چې د نهه میاشتو راهیسې دوی ته معاشونه نه دي ورکړل شوي.

• د حوت په ۲۴ دوه توغندي د تلویزیون په غره ولګېدل او بل ئې په شهرنو کې د یوه فوځي مرکز خواته.

• د حوت په ۱۲ د کاپیسا په ولایت کې د یوې وسله والې ښښتې په ترڅ کې ۷ تنه ووژل شول. په وژل شوو کسانو کې یو سیمه ایز وسله وال قوماندان اسدالله هم شامل دی.

• د حوت په ۲۴ د بګرام په هوایي ډګر کې دوه امریکایي عسکر د یو ځمکني ماین د چاودلو په ترڅ کې ټپیان شول، د امریکایي یرغلګرو ویاند په کابل کې د یوه خبري کنفرانس په ترڅ کې وویل چې ژوبل شوي عسکر د امریکا د هوایي ځواکونو سره تړاو لري، ویاند دا هم وویل چې د یوه تن سرتیري روغتیا یې حالت ډېر خراب دی او د درملنې لپاره آلمان ته لېږدول شویدی او دوهم سرتیري د بګرام په هوایي اډه کې تر درملنې لاندې دی.

## قندهار - زابل - هلمند - ارزګان

- د حوت په ۱۵ مجاهدینو د کندهار د معروف په ولسوالی کي په یوې پوځی پوستی برید وکړ چې په ترخ کې ئې ۷ تنه حکومتی عسکر ووژل شول. مجاهدین د پیښی له ځای څخه خپلو سیمو ته خوندی تلی دی.
- د حوت په ۱۹ مجاهدینو په کندهار کي د ائتلافی ځواکونو په اډه باندي ۲ توغندی وورول.
- د حوت په ۲۳ د کندهار د شورابك په ولسوالی باندي د مجاهدینو لخوا برید وشو، د دغه برید په ترڅ کي زیات شمیر حکومتی سرتیری ټپیان شویدی، او څو موټرو او دولتی ودانیو ته هم زیان رسېدلی دی.
- د حوت په ۲۴ ناپیژاندو وسله والو د شملزی ولسوالی وسوځوله. په همدی ورځ د میوند او ګرشك ولسوالیو ترمنځ په یوه دولتی پوسته برید وشو چي په نتیجه کي ئې دوه دولتی عسکر مړه او څلور تنه ټپیان شول.
- د حوت په ۱۵ په زابل کې د ناپیژاندو وسله والو په برید کي د ترکیی یو انجنیر ووژل او بل سخت ټپی شو، دا پیښه د شاجوی په سیمه کي هغه مهال رامنځ ته شوه چي ناپیژاندو وسله والو له یوه کمین څخه د ترکی کارکوونکو په موټر باندي ډزی پیل کړی. د دغه ولایت والی د نوموړی پیښی په اړه خبریالانو ته وویل چي په دی ناڅاپی برید کي یو افغان پوځی هم وژل شوی او یو تن بل تښتول شوی دی.
- د حوت په ۲۲ زابل مجاهدینو په امریکایی یرغلګرو حمله وکړه چي په نتیجه کې ئې دښمن ته زیات تلفات رسېدلی خو دقیق شمیرئی ندی افشاء شوی.
- د حوت په ۲۲ په هغه عملیاتو کي چي د غرنی توپان نوم ئې

ورکړې وو د ائتلاقی یرغلګرو یو عسکر د نیکولاس په نامه مړ او دوه تنه نور ئې ژوبل شول.

- په یوه درنه نښته کې چې د مجاهدینو او اشغالګرو قواوو ترمنځ په ارزګان کې وشوه د اشغالګرو قواو دوه عسکر مړه او ۲ نور سخت ټپیان شول چې د ټپیانو حالات ډېر خطرناك وو او سمدستی د بګرام هوایی ډګر ته انتقال شول.

## کنړ، جلال آباد

- د حوت په ۱۰ د چغه سرای دولتی ودانی د مجاهدینو د راکټی برید لاندې راغله چې په نتیجه کې دولتی ودانی ته زیان ورسېد خو چارواکو د ځانی تلفاتو په اړه څه ونه ویل.
- د حوت په ۱۹ د کنړ په ننګلام کې د ائتلافی ځواکونو پوځی اډه د مجاهدینو د درندو او سپکو وسلو تر برید لاندې راغله. ډګرمن هیلفرتی په کابل کې یوې خبری غونډې ته د دغه برید په اړه وویل: د کنړ په ننګلام کې د ائتلافی ځواکونو په اډه باندې د شلو په شاوخوا کې توغندی وتوغولی شوو او ورپسې د سپکو وسلو ډزی وشوی، خو ده د تلفاتو په اړه څه و نه ویل. عینی شاهدان وایی چې امریکایی پوځیانو ته په دغه برید کې زیات مالی او ځانی تاوان اوښتی دی.
- د حوت په ۲۳ مجاهدینو د بریکوت په کنډك باندې برید وکړ چې په نتیجه کې ئې دغه کنډك ته زیات ځانی او مالی تاوان ورسولو.
- د حوت په ۲۵ مجاهدینو د امریکایی قواوو د خوراك رسولو لاری په بم والوزوله، دا پیښه د ډاګو په سیمه کښی رامنځ ته شوه، پدې لارة کې په ننګلام کې دیره امریکایانو ته خوراك وړل کېدل. په پیښه کې دوه ساتونکی ژوبل شوی هم دی.
- د حوت په ۲۴ په جلال آباد کې د یوې غربی خیریه موسسی دفتر

خواته یو توغندی وچاود او دفتر ته ئې زیات نقصان واړاوو.

- د حوت په ۱۲ په هرات کې د یوه لاسی بم په چاودنه کې ۷ تنه مړه او ژوبل شول، دغه بمی چاودنه د هرات د ګذری ولسوالی د چکر په سیمه کې د ناپیژاندو بریدکوونکو لخوا د یوه سیمه ایز قوماندان کور ته یوه لاسی بم په غورځولو سره رامنځ ته شوه.

د مجاهدینو سري فوځ
۱۳۸۳/۱/ ۱
افغانستان

## د حمل د میاشتی پیښبي

د حمل د میاشتي سیاسي او نظامي پیښبي هم ډېري حیرانوونکي او د بش او بلیر لپاره ډېري سرخوږوونکي وي، هم په عراق کي او هم په افغانستان کي. له یوي خوا د عراقي او افغاني مجاهدینو بریدونه تشدید شوو او له بلي خوا په بش او بلیر باندي له عراق او افغانستان نه د فوځونو د بیرته ایستلو فشارونه زیات شوو، لندن، نیویارک، واشنگټن او د نړۍ ډېر نور لوي لوي ښارونه د سترو سترو تظاهراتو شاهد وو، خلکو جنگونه غندل، د بش او بلیر عکسونه ئې سوځول او د بهرنیو فوځونو د فوري وتلو غوښتنه ئې کوله. د دي میاشتي ځیني پیښبي دا دي:

• جورج بش بیا وویل: د عراق آزادي او دیموکراسي به په منځني ختیځ او ټولي نړۍ کي د امنیت باعث شي او امریکا به لازیاته خوندي شي!! د عراق له وروستۍ پیښبي به عراقیانو ته د قدرت د انتقال کار ونه ځنډوي!! په ریښتیا چي د قرآن قضاوت د کافرانو په هکله څومره دقیق

دي، دوی سفیه او بې عقله دي، په دروغو سره د نورو د غولولو هڅه کوي خو په حقیقت کې ځان غولوي!! نه پوهېږو چې دا دعراق د آزادۍ خبره څنګه د دوی په خوله راځي؟! څنګه پدي خبري نه شرمېږي؟! د عراق د آزادی خبره خو د هغه چا خبره ده چې د اشغالګرو ځواکونو له سلطې نه د عراق د آزادولو لپاره خپل سرونه نذرانه کوي، قرباني ورکوي، او په خالي لاس د دښمن مقابله کوي. د بش په خوله د دي خبري د راتلو معني دا ده چې الله تعالی د حق خبره د هغه چا په ژبه جاري کوي چې د حق دښمن دي او عملاً ئې حق تر پښو لاندي کړي!! مونږ، ټول عراقیان، او ټول آزادي غوښتونکي همدا خبره کوو چې د عراق آزادي به نه یوازي په منځني ختیځ کې بلکه په ټولې نړۍ کې د امنیت په راوستو کې مرسته وکړي، اشغالګران به پدي پوه کړي چې د ملکونو د اشغال دوران تیر شوي، نور نو هیڅ ځواك د وسلو په زور پر ملتونو د خپلې خوښې نظامونه نشي تپلی، هیڅوك د اشغالګرانو دیموکراسي نه مني، بش او بلیر او د دوی ملګري به پدي پوه کړي چې د اسلامي امت په ضد د صلیبي جګړي پیل کول یوه نه جبرانیدونکي تاریخي غلطي وه، د اسلامي امت د توان او ځواك په هکله د دوی محاسبه غلطه وه، دوی ملتونه له پامه غورځولي وو، د واکمنانو د ضعف او بې همتي له مخي ئې د اسلامي امت په اړه قضاوت کولو!! نړیوال بش او بلیر ته همدا خبره کوي چې د عراق آزادي به د هغي جګړي د پاي ته رسېدو باعث چې بش او بلیر پیل کړي. خلك تپوس کوي چې تاسو د عراق د اشغال په دوران کي او پداسې حال کي چې ټول واك د امریکایي حاکم په لاس کي دي تاسو عراقیانو ته کوم واك او د څه شي اختیار لېږدوي؟ تاسو د عراق ذلیلي حاکمي شوری ته څومره اختیار ورکړي؟ په فلوجه مو برید وکړ، په یوي اونۍ کي مو اوه سوه بې ګناه عراقیان ووژل، ستاسو لاس پوڅي حاکمه شوری مجبوره شوه پدي بې

رحمانه او وحشيانه عام وژني اعتراض وکړي، ځينو غړو ئې استعفاء وکړه، نورو د جگړو د دوام په صورت کي د استعفاء گواښ وکړ، خو نه د دوی اعتراض څه تأثير درلود او نه ئې استعفاء!! که په افغانستان او عراق ستاسو له بريد نه وروسته دلته آزادي او ديموکراسي راغلي وي نو الله تعالی دي په امريکا او انگلستان کي همداسې آزادي او ديموکراسي راولي!! انشاء الله همداسې به کيږي، د مظلومو افغانانو او عراقيانو انتقام به منتقم خداي حتماً اخلي. هغه ديموکراسي چي د رأي صندوقونه پکي نشته خو په ځاي ئې هره ورځ هري خوا ته تابوتونه په اوږو ليدل کيږي!! هغه آزادي چي د هر عراقي د کور مخي ته مسلح نيواکگران ولاړ وي، او پر سر ئې د اپاچي هليکوپتري کرځي او راکټي ورو‌ي!! ديته يوازي د بش په څېر بد سترگي او بې شرمه کسان آزادي او ديموکراسي ويلي شي!!

- د کابل د امريکايي حکومت ستري محکمي يو ځل بيا د امريکا ترسلطې لاندي سيمو کي په فساد، فحشاء، گډا، شراب او د خنزير په غوښي اعتراض وکړ او له کرزي نه ئې وغوښتل چي دا کارونه د اساسي قانون خلاف دي او د رژيم مخالفين ورنه تبليغاتي استفاده کوي نو ځکه ئې بايد مخنيوي وشي!! کرزي د دوی د غوښتنليک په ځواب کي خلکو ته "نصيحت" وکړ چي بايد لدي "بدو کارونو" نه ډډه وشي!! پدي سره ستره محکمه گمان کوي چي مسئوليت ئې ترسره شوي، اوس به هم خداي ورنه راضي وي او هم ولس!! او کرزي گمان کوي چي اوس به خلك پده باندي دا شك نه کوي چي د دغو "بدو کارونو" حامي دي او په انتخاباتو کي به ده ته له رأي ورکولو نه ډډه نه کوي!! خو هرڅه همغسي دي لکه لدي "غوښتنليك" او "تبليغاتي او رياکارانه نصيحت" نه مخکي چي وو، حتی ترمخکي نه زيات او په لازيات جسارت سره. د دي کارونو تر شا هغه ځواك دي چي

کرزي ئې "د غلام آقا" په حیث راووست او تر ده لاندي کسان ئې د "غلام مامورینو" په حیث. او دا هغه خبره ده چي کرزي رباني ته کړي وه: اعتراض مه کوه؛ زه او ته دواړه امریکایانو راوستي یو، زه ئې د آقا په حیث او ته ئې د نوکر په حیث!!

• مقتدا الصدر د عراق شیعه له تاریخي رسوایي څخه ژغوري. متأسفانه شیعه ډلو په افغانستان، عراق، او کشمیر کي له نیواکگرو سره د ملګرتیا لار غوره کړه، د ایراني اصلاح طلبانو امر ته ئې غاړه کیښوده، په افغانستان کي د امریکایانو تر قومندي لاندي د افغان ولس په ضد جنګ ته تیار شول، په عراق کي ئې د انګریزانو او امریکایانو راتلو ته ښه راغلاست وویلو، او په هغه لاس پوڅي حکومت کي شامل شول چي واکمن ئې پال بریمر دي. په کشمیر کي هم دوی له کشمیري آزادي غوښتونکو نه خپله لار بیله کړه او د هند له حکومت سره خبرو ته کښېنستل.

• یوه امریکایي جنرال اعتراف وکړ چي زمونږ فوځ په افغانستان کي ماتي خوړلي. "هاي روستیل" چي د پنتاګون له خوا د افغانستان د جګړي د څیړني لپاره د یوه کمیسیون په سر کي ګمارل شوي وو، پنتاګون ته په خپل راپور کي ئې ولیکل چي: جګړي په افغانستان کي داسي شرائط راوستي چي په جنګ سالاري، مسلحانه شوکو او غلاوو، او مخدره موادو په تولید منتج شوي. ده په خپل راپور کي لیکلي چي د طالبانو د حکومت له نسکوریدو وروسته امریکا پدي ونتوانیده چي په افغانستان کي په زړه پوري شرائط برابر کړي.

• د هرات، فاریاب، مزار او داي کندي نښتي، د امریکایي نیواکګرو پر تور مخ داسي کلکي څپیړي وي چي دنیا ته ئې یو ځل بیا وشرمول، د دوی لاس پوڅي حکومت ئې مزید رسوا کړ او په افغانستان کي ئې د

امریکایانو ناکامي لا زیاته برښڼه کړه، دا جګړې ښیي چي اوس د کابل په امریکایي نظام کي د ملیشو او حکومت ترمنځ شخړې د ښتو پوړې ته اوچتي شوي، پدي تیرو دیرشو میاشتو کي امریکایان پدي ونتوانیدل چي دا شخړې حل کړي، د کابل د امریکایي حکومت د واك دائره ولایاتو ته وغزوي، د هرات او مزار د ګمرك عائدات مرکز ته راانتقال کړي، او د لاس پوڅي نظام اداري مصارف لدي نه تأمین کړي، او پدي سره له یوي خوا خپل مصارف راکم کړي له بلي خوا هغه ګواښونه راکم کړي چي د ملیشو لخوا د کابل امریکایي حکومت ته متوجه دي. دي ته مو هم باید پام وي چي دا جګړې د داخلي عواملو ترڅنګ خارجي عوامل هم لري، دا نه د دوستم او عطا محمد جګړې دي او نه د تورن اسمعیل او نائبزاده جګړې، پدي کي له یوي خوا روسیه او ایران لوی لاس لري او له بلي خوا امریکا او ازبکستان، په اصل کي دا جګړې د دغو ځواکونو د رقابت جګړې دي، که دا ځواکونه د دوی له حمایي لاس واخلي نو هیڅ یو ئې د لنډې مودې جنګیدو توان نلري، دا پنجشیریان نه وو چي له ټولو سره جنګیدل، د دوی تر شا د روسیې، ایران او تاجکستان د متو زور وو چي دوی ته ئې د جګړو توان وربخښو، د یوي وړې ولسوالۍ خلك که هرڅومره جنګیالي شي په یوازې سر د دوو ولسوالیو له خلکو سره مقابله نشي کولي، له ټول افغان ولس سره به څنګه مقابله وکړې شي، څنګه به هم له پښتنو سره، هم له ازبکو سره او هم له هزاره وو سره وجنګېږي!! دا دوی نه وو چي جنګیدل، بلکه د دوی ترشا دا دري ملکونه وو چي دوی ئې جنګول. اوس هم دا جګړې د دغو ملکونو جګړې دي.

- د هرات غونډه او وریسي د کرزي په ضد د کابل مظاهره هم د دي میاشتي یوه جالبه پیښه وه. دا غونډه د جبل السراج هغي غونډې ته ورته وه چي د نجیب د حکومت له نسکوریدو نه لږ دمخه جوړه شوه او د جبل

السراج توره معاهده ئې پایله وه او یو داسې ائتلاف ئې نتیجه وه چې د خونړیو جګړو پیلامه شو، خو لدي فرق سره چې هلته د هېواد فوځ، خاد، پولیس، او د پلازمیني په شمول اکثر حساس ځایونه د پرچم ډلي په لاس کي وو، او دوستم له خپلو ملیشو او وسلو سره د دي ائتلاف د ملا تیر. خو اوس که دوستم او پرچمیان دواړه پکي دي خو نه هغه مخکني زور ځواك لري او نه په حساسو سیمو سلطه، او نه هم ایران او روسیه پدي موډ کي دي چي د هغه وخت په څېر د دي ائتلاف ملاتړ وکړي.

- د بش د اداري چارواکي د عراق او افغانستان له وضعیت نه شکایت کوي، او پدي اعتراف کوي چي له سختو اونیو او بدو ورځو سره مخامخ دي، په افغانستان کي د حمل د میاشتی د وروستۍ اونۍ په یوي ورځ کي دوه جاسوسي طیاري او په همدي ورځ په عراق کي دوه اپاچي هلیکوپتري رانسکوري شوي!! لدي نه معلومېږي چي په افغانستان او عراق کي د امریکا جنګي ټیکنالوژي ماتي خوړلي.
- مونږ یو ځل بیا له ټولو مجاهدینو نه غواړو چي خپل ټول زور ځواك، او وسایل او امکانات د اصلي دښمن په ضد توجیه کړي، د انګریزانو او امریکایانو په ضد، دا جګړه د افغان انګلیس څلورمه جګړه وګڼي، ستاسو پلارونو په مخکنیو دریو جګړو کي دښمن ته ماتي ورکړه، د میوند او جګدلك حماسي ئې د تاریخ په زړه کي ثبت کړي، اوس ستاسو وار دي، تاریخ درته انتظار کوي، له تاسو نه د دغسي حماسو انتظار لري، په فرعي او بې اهمیته جبهو کي ځان مه مصروفوي، د دښمن د غلامانو او د دوی په پوستو او مرکزونو د برید په ځاي په هغه چا برید وکړي چي دا ذلیل غلامان ئې د څو ډالرو په مقابل کي استخدام کړي او د خپل ولس په ضد ئې جنګوي، د غلامانو په وژلو سره نه دښمن کمزوري کېږي او نه خفه کېږي، د سلو غلامانو وژل د یوه انګریز له زخمي کولو سره برابر ندي.

خپل جهاد داسي تنظيم کړي چي تل بريدونه ستاسو له لوري وي، د دښمن په گزمو، قطارونو او مراکزو باندي، خو هغه وخت او هلته چي دښمن غافل وي، د دفاع چانس او امکانات ئې ضعيف وي، د بريد ځاي او وخت تاسو ټاکلي وي، له جبهه اي جگړو نه ډډه وکړي، په هيڅ ځاي کي اوس ثابت مرکزونه مه جوړوي، هيڅکله دښمن ته دا موقع مه ورکوي چي په تاسو د بريد مجال او امکان ترلاسه کړي، بريدونه مو بايد سريع، قاطع او لنډ وي، له هر بريد نه وروسته د عملياتو ساحه پرېږدي، د عملياتو ښه وخت له لمر لويدو نه نيمه گنټه مخکي ده، ترڅو له عملياتو نه وروسته تياره راشي او دښمن له طيارو نه استفاده ونشي کړي. د دښمن په مرکزونو باندي توغندويي بريدونه ښه دي خو نتائج ئې ډېر محدود دي، گټه ئې فقط دا ده چي دښمن تل نارامه او لالهانده وي او هره شيبه د توغندي د راپريوتو په ويره کي، خو اساسي کار دا دي چي د دښمن په گزمو او قطارونو باندي بمي بريدونه وشي، له کمينونو سره مخامخ شي او ځاني تلفات ورواوړي، دا کار هم آسان دي او هم په لږو وسايلو او افرادو ترسره کېدي شي.

• ايراني چارواکو د امريکا په غوښتنه عراق ته هيئت ولېږو، د دي لپاره چي ايران پلوه شيعه له عمومي پاڅون سره له يو ځاي کېدو راوگرځوي!! بغداد ته د هيئت د رسېدو په ورځ په بغداد کي د ايران د سفارت لومړی سکرتر د ناپيژاندو وسله والو لخوا ووژلي شو، معلومه نده چي د دي ترور تر شا د چا لاس دي، د موساد که د عراقي انقلابيونو؟ که د هر چا له خوا وي تهران ته دا پيغام لېږي چي دا منځگړيتوب يوه خطرناکه لوبه ده!! پوښتنه دا ده چي ايران ولې د کابل او بغداد په نيولو کي د امريکا مرسته وکړه او اوس ولې د عراقي ولس د عمومي پاڅون د مخنيوي لپاره د امريکا په وينا بغداد ته هيئت لېږي؟ او بيا د دي پټي او

ثرګندي ملګرتیا سره سره د واشنګټن او تهران ترمنځ زرګري جنګ او د یوه بل په ضد تبلیغات څنګه توجیه کړو؟ آیا دا هم د دغو پټو موافقو یوه برخه ده، تهران او واشنګټن دواړه ورته اړ دي، د ملګرتیا په حکم به په پټه کې یو کار کوي او د خپل ولس او عام مسلمانانو د اغفال لپاره په ظاهر کې دا بل کار؟ په نږدې راتلونکي کې به مزید حقایق څرګند او دي پوښتنو ته ځواب وویلي شي؟ دا هم د حیرانتیا ځای دی چې ایراني چارواکي څنګه د خپل امام له خط نه داسې ژر عدول کوي او نن د "شیطان بزرګ" په وینا د یوه انقلاب د مخنیوي لپاره منځګړیتوب ته ملا تړي!!

بسم الله الرحمن الرحیم

# د اسامه په شهادت به امریکا ډېره خوشحاله شي که ایران؟

د اسامه ابن لادن وژل خو اوس د امریکا یو ستر او اساسي هدف دی، د دې ناولي هدف لپاره ئې کلکه ملا تړلې، په ټول توان طاقت ئې لویه جگړه پیل کړې او د لسهاوو زره فوځ ترڅنگ ئې د سي آي اي په زرهاوو جاسوسان په کار اچولي، د ده نیونه او وژنه د امریکایانو لپاره په داسي یوې درنې مسئلې بدل شوی چي د امریکا او د اوسني جمهور رئیس برخلیك پوري تړل شوی، طبیعي ده چي د ده په نیولو او وژلو سره به که ټول امریکایان نه وي نو ډېر به ئې خوښ شي، که څه هم په دې سره به نه د امریکا په ضد د نړیوالو کرکه راکمه شي او نه به د امریکا په ضد روان مقاومت تضعیف شي. خو خبره دا ده چي ایران به ولې په دې خوښ شي چي یو مسلمان مبارز د امریکایانو په لاس ووژل شي؟ د ده نیونه او وژنه به

ایران ته څه ګټه ورسوي؟ دي پوښتني ته د سم ځواب موندلو لپاره باید لاندي خبري په پام کي ولرو:

- که تاسو د ایران دولتي مطبوعات، ورځپاڼي، راډیو او ټلویزیون تعقیب کړي وي نو دې ته به حتماً متوجه شوي وئ چي ایران تل د اسامه په ضد پراخ تبلیغات کړي، تبلیغات خو څه کوئ حتی په دې ئې ټینګار کړی چي اسامه امریکایانو صحني ته راایستلی، چي څه کوي د امریکایانو لپاره او د دوی په مشوره ئې کوي، د امریکا په ضد د ده مبارزه او جهاد هسي یوه ډرامه ده!! د نیویارك، واشنګټن، کینیا، تانزانیا، عدن او نورې پېښي، په ده باندي د امریکایانو بریدونه، د ده د نیولو او وژلو لپاره د امریکایانو دا ټولي هڅې، یو هم له امریکا سره د ده د دښمنۍ نښه نه ګڼي، مسلسل ئې دا انګازې خورې کړې چي اسامه نیول شوی، د امریکایانو په لاس کي دی، په مناسب وخت کي به ئې د نیولو خبر خپروي او دې ته ورته نورې اوتي بوتي!!
- پر افغانستان باندي د امریکایانو د برید په مهال ایرانیانو څو لوړ پوړي هیئتونه اسامه ته ورولېږل، په کندهار کي ئې له ده سره لیدني کتني درلودې، ایران ته ئې د تلو بلنه ورکړه، د برید په مهال ئې طالبانو او القاعدې ته احوال ولېږو چي د پناه لپاره ایران ته راتلی شي او ایران دې ته تیار دی چي دوی ته پناه ورکړي، ډېر کسان ایران ته ولاړل، نږدې وو اسامه هم له خپلي کورنۍ سره هلته ولاړ شي، خو زما او د ځینو نورو دوستانو د مشورې په اساس ئې خپل تصمیم بدل کړ.

• ټول هغه کسان چي ایران ته تللي وو، یو په بل پسې ونیول شول، ځیني ئې د افغانستان امریکائي حکومت ته وسپارل، ځیني ئې له داسي لارو له ایران نه وایستل چي په پای کي امریکایانو ته په لاس ورغلل، ځیني ئې په غیرمستقیم طور او د امریکا پلوه هېوادونو له لاري امریکا ته تسلیم کړل. ځیني نور لاتراوسه د ایران په زندانونو کي پاتې دي!! کوم پنځه سوه کسان چي ایران ئې د نیولو او له خپل ملك نه د ایستلو خبره کوي همدا کسان دي چي د دوی په بلنه دې هېواد ته تللی وو.

• کندهار ته د ایراني هیئتونو د تلو موخه دا وه چي اسامه په دام کي واچوي، ایران ته ئې بوځي او بیا د ده په سر له امریکا سره معامله وکړي او یا د ده د اوسېدو ځای معلوم او امریکایانو ته اطلاع ورکړي.

• زما په اړه هم ایران له امریکایانو سره دا موافقه کړې وه چي ما به له ایرانه باسي خو په داسي لار چي امریکایانو ته په لاس ورشم.

• د طالبانو په ضد د جنگ په دوران کي ایراني افسران له امریکائي او انگریز افسرانو سره اوږه په اوږه، په شمال کي، د شمالي ائتلاف په اکمال او سوق او اداره مصروف وو، گډي غونډي ئې درلودې، استخباراتي معلوماتونه ئې له یوه بل سره تبادله کول، په تخار، پنجشیر او مزار کي ئې د قومندي گډ مراکز جوړ کړي وو او د عملیاتو گډ پلانونه ئې جوړول!!

• د برید په دربیمه اونۍ ایران امریکایانو ته اجازه ورکړه چي د سیستان او خراسان له فضاء نه په استفادې سره په کندهار، هرات

او د جنوب غرب په نورو مراکزو باندي هوايي عمليات ترسره کولی شي، د دې مقصد لپاره ئې څو ورځې د زاهدان هوايي ميدان تړلی وو او دې سيمي ته ئې د ملکي طيارو تګ راتګ متوقف کړی وو او امريکائي طيارو په پوره ډاډ او اطمئنان سره له بحري اډو الوتنې کولې، د ايران له فضاء تېرېدلې او په کندهار او هرات ئې بمونه ورول!! دا هغه بمبارد طيارې وې چي په خليج کي د امريکا له اډو او طايره وړونکو بېړيو الوتلې، د ايران له فضاء به تېرېدې او په افغانانو ئې بمونه ورول، د همدې امريکائي طيارو لپاره ئې د افغانستان سرحد ته نږدې د مسافر وړونکو طيارو الوتنې متوقف کړې وې.

- عجيبه دا ده چي دا هېواد ځان ته مسلمان هم وايي!! موږ نه پوهېږو چي کوم ايمان او اسلام او کوم مذهب، د مظلومو مسلمانانو په ضد د ظالمو کفري ځواکونو ملګرتيا جائز ګڼي او د اسلام او مسلمانانو په ضد دا ستر خيانت توجيه کولی شي چي د يوه اسلامي هېواد په نيولو کي له کفري ځواکونو سره مرسته وشي، د مسلمانانو په وژلو او د دوی د جوماتونو، کليو او کورونو په ورانولو کي له يرغلګرو سره ملګري شي!!
- په افغانستان د امريکائي ځواکونو د سلطې د نه بخښونکي جرم لوی مسئوليت تر ټولو مخکي د همغو هېوادونو په غاړه دی چي شمالي ټلواله ئې له امريکا سره ملګرتيا ته اړ کړه. که دوی د امريکايانو لپاره نه وی جنګېدلي نو امريکايان هيڅکله په دې نتوانېدل چي زموږ هېواد اشغال کړي. په دې کي هيڅ شك نشته چي

د افغانانو په وژلو کي او زموږ په هېواد کي د اسلام ضد ټولو فعالیتونو او د بې دینۍ او اخلاقي فساد د خورولو په هڅو کي ټول هغه هېوادونه د امریکایانو د جرم شریکان دي چي امریکایانو د دوی په مرسته زموږ هېواد اشغال او د بې دینۍ د خورولو موقع ئې ترلاسه کړه.

- دا هېواد اوس د افغانستان د تجزیې لپاره هڅه کوي او د فدرالي نظام خبره کوي! د افغانستان له حالت نه واقف هر انسان په دې پوهېږي چي په دې ظروفو او شرائطو کي د فدرالي نظام معنی د افغانستان له تجزیې پرته بل څه نه شي کېدی. دوی په اصل کي لومړی د هغو لړکیو لپاره د بېل بېل فدرالي حکومت جوړول غواړي چي له دوی سره ژبني او مذهبي اړیکي لري او بیا له افغانستان نه د دوی د سیمو بېلول او له ځان سره ئې یوځای کول غواړي. امریکا هم له دوی سره په دې هکله توافق لري چي زموږ په هېواد کي فدرالي نظام رایج شي. اختلاف په دې کي دی چي امریکا په څلورو فدرالي حکومتونو او دوی په پنځو ټینګار کوي.
- افغانان له خپلو ډېرو ګاونډیو نه ګیلې لري، له چا کم له چا زیات، خو یوه ګاونډي د دوستۍ په جامه کي له افغانانو سره هومره دښمني کړې چي هېرول ئې ګران دي. دا هغه ګاونډی دی چي لومړی ئې له روسانو سره د افغانانو په ضد لاس یو کړ، د شمال جهادي – کمونستي ټلواله ئې جوړه کړه، د دې ټلوالې په لاس ئې د جګړو اور بل کړ، روسانو به د همدې ګاونډي له لاري شمالي ټلوالې ته وسلې او پیسې لېږلې، د دوی ډېر شمېر افسران او جنګي قطعات د

شمالي ټلوالې په خوا کي په جگړو بوخت وو، مخصوصاً د طالبانو په ضد جگړو کي، په دې کلونو کي خو دوی د خپلو سرتېرو گڼ شمېر مستقلی جنگي جبهې جوړې کړې وې او هره ورځ به ئې څو طيارې وسلې او مهمات شمال ته لېږل، خپلو ملگرو ته به ئې ويل: که په سوريې کي يو وړوکی اقليت کولی شي په هغه هېواد حکومت وکړي نو تاسو ولې په افغانستان کي دا کار نه شئ کولی، ټول اقليتونه راغونډ کړئ او د پښتنو په ضد گډه جبهه جوړه کړئ. د امريکايانو تر قومندې لاندي د طالبانو په ضد وجنگېږئ، د اقليتونو لپاره دا ډېر ښه فرصت دی، د امريکا په مرسته کولی شي قدرت ترلاسه کړي، پښتانه وځپي، ټول هغه شخصيتونه او ډلي د امريکايانو د وسلو، پيسو او ځواکونو په مرسته وټکوي چي پښتانه راغونډولی شي.

- ايران نه غواړي په اسلامي نړۍ کي داسي شخصيتونه سر رااوچت کړي چي د امت سني اکثريت ورباندي راغونډ شي، دا هم په داخل کي د ځان لپاره يو گواښ گڼي اوهم په نړېواله سطحه. په ايران کي سنيان ځواکمن شتون لري، په سلو کي تر دېرش زيات سنيان دي، خو له خپلو ټولو انساني او اسلامي حقوقو څخه محروم دي، په تهران کي د جومات د جوړولو اجازه نه ورکوي، په مشهد کي ئې د دوی مشهور او لرغونی جومات وران کړ، په دې ئې هم اکتفاء ونه کړه د دې جومات امام ئې په هرات کي په شهادت ورساوو، د ايران په ټول نظام کي د وزير په کچه خو پرېږده حتي د رئيس او مدير په کچه هم يو سني نه شئ موندلی، د سنيانو ټول

سیاسي مشران او ګڼ شمېر مذهبي مشران ئې یا زنداني کړل، یا ترور، یا له هېواد نه هجرت ته اړ، له هېواد نه بهر ئې هم دوی آرام پرېنښودل، څو کسان ئې د پاکستان په کراچۍ او کویټه کي ترور کړل او د ډېرو نورو د ترور او وژلو لپاره ئې بې شمېره پټې او څرګندې هڅې وکړې.

• په افغانستان کي د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت له جوړېدو نه ئې سخته وېره درلوده، د روسانو له وتلو نه وروسته ئې له نجیب سره خبري پیل کړې، په کابل او نورو ځایونو علاوه ئې له هغه سره په مشهد کي مذاکرات وکړل، په ایران پورې تړلې شیعه ډلو ته ئې وظیفه ورکړه چي له نجیب سره لاس یو کړي او په بامیانو کي د مجاهدینو د تلو راتلو لار وتړي، په دغي سیمي کي چي دغو شیعه ډلو له مجاهدینو سره کومي جفاوې کړې، د جهاد یو تور باب جوړوي. د نجیب له تلو نه د مخه ئې پرچمیان، شیعه، تاجك او ازبك په یوه داسي ژبني ائتلاف کي راغونډ کړل چي ایران او مسکو په ګډه حمایه کاوو، د جبل السراج د ائتلاف په جوړولو کي د ایران ډېر اوږد لاس وو. ایران چي په دغه موده کي له شمالي ائتلاف سره د وسلو او پیسو کومي مرستي کړې دي، د هغې پنځه په سلو کي ئې د جهاد په دوران کي نه دي کړې. د ایران په سلو کي **۹۵** مرستې د داخلي جګړو د تشدید او دوام لپاره وې نه د روسانو په ضد جنګ لپاره. دا دی د امریکایانو د حملې په وخت کي ئې له دې دښمن سره لاس یو کړ او په ډاګه ئې وویل: که زموږ مرستي نه وی نو امریکا کابل او بغداد داسي ژر او په دومره آسانۍ سره نه شو نیولی، دا

خبره د دوی جمهور رئیس، د ده معاون، خارجه وزیر او د تهران د جمعي د لمانځه موقت امام رفسنجاني، نه یو ځل بلکي مکرر کړې!!

• په خارج کي هم ایران د دې هڅه کړې چي د اسلامي امت قیادت تر لاسه کړي او مسلمانان ئې مشرۍ ته غاړه کېږدي، د همدې لپاره ایرانیانو له انقلاب نه وروسته خپل هېواد ته د (ام القریٰ) نوم ورکړ چي تر اوسه همدا نوم استعمالوي، د ام القریٰ نوم د قرآن له لوري مکي مکرمې ته ورکړی شوی، ایرانیان غواړي تهران د اسلامي امت لپاره هغه حیثیت ولري چي مکي مکرمې د پیغمبر علیه السلام په وخت کي درلود!! دوی له انقلاب نه وروسته د سعودي په ضد شدید تبلیغات هم د همدې مقصد لپاره پیل کړي وو، همدا تبلیغات د حج په موسم کي د ایرانیانو او سعودیانو ترمنځ د خونړیو نښتو لامل وو.

• ایران په افغانستان کي د یهودانو حکومت منلی شي خو د سنیانو او پښتنو حکومت نه مني!! له امریکایانو سره د افغانستان په اشغال کي د دوی ملګرتیا همدا حقیقت په ګوته کوي. د نجیب حکومت د نسکورېدو په وخت کي کابل ته د حزب اسلامي د ځواکونو د ننوتو په ورځ رفسنجاني وویل: موږ به په هیڅ بیه دا ونه منو. د طالبانو په ضد له شمالي ائتلاف سره د ایران بې دریغه او پراخې مالي او نظامي مرستي او په پای کي د دوی په ضد له امریکایانو سره ملګرتیا همدا حقیقت ثابتوي.

• دا عجیبه نه ده چي په عراق کي د مقتدا الصدر د پلویانو له وروستي پاڅون نه وروسته ایران د امریکا په وینا عراق ته له شیعه

وو سره د منځګړيتوب لپاره هيئت ولېږو، د دوی نظر دا دی چې پرېږدي د عراق سنيان چې اوس د امريکائي يرغلګرو مقابله کوي، ښه وځپل شي، د دې ګټه شيعه وو ته رسېږي، د عراق شيعه بايد د سنيانو په څېر د مقاومت لار غوره نه کړي، برعکس بايد د سيستاني او عبدالعزيز حکيم په څېر له امريکايانو سره د ملګرتيا لار غوره او سنيان د امريکايانو د متېو په زور وځپي. په دې حساس وخت کي او د اشغالګرانو او شيعه ډلو ترمنځ د روغې جوړې لپاره د هيئت د لېږلو مقصد له دې پرته بل څه نه شي کېدی.

• ایران د بن په امريکائي غونډې کي او هلته د کابل لپاره د يوه امريکائي حکومت د جوړلو په کار کي تر ټولو هېوادونو ناپاك او مضر رول ادا کړ، هومره چې امريکايان د دغه خبيث رول د ادا کولو لپاره ترې مننه کوي او ترې غواړي چې همداسي يو رول د عراق په اړه هم ادا کړي، معلومېږي چې د دې لپاره ئې هم متېې رابډوهلې!! خپلو پلوي ډلو ته وايي چې له امريکايانو سره ملګرتيا ستاسو په ګټه ده، د سنيانو په ځپلو کي ترې استفاده وکړئ، له مخالفت نه ډډه وکړئ، د بغداد په راتلونکي امريکائي حکومت کي په زړه پورې برخه ترلاسه کړئ. د دې هېواد مشرانو اعلان کړی چې له امريکا سره د افغانستان په څېر ملګرتيا او مرستې ته تل او په هر ځای کي تيار دي!! نړۍ وال په خپلو سترګو ګوري چې دا هېواد د عراق په اړه همغه څه کوي چې د افغانستان په ارتباط ئې وکړل. که تاريخ ته رجوع وکړو نو وبه ګورو چې د اسلامي امت په ضد ټولو جنګونو کي، که دا د عربو په ضد وو او که د ترکانو په ضد، دې هېواد تل

همداسي لوبه کړي، له دښمن سره په پټه او ښکاره ملګری شوی. او دا دی نن چي د مسلمانانو په ضد یو بل صلیبي جنګ پیل شوی، عراق او افغانستان د امریکائي ځواکونو په لاس اشغال شوي،دا ګاونډی مو بیا همغه څه کوي چي په تاریخ کي ئې په وار وار کړي.

• ایران خپلي ملي ګټې په افغانستان کي د جګړو او عدم استقرار په دوام کي لټوي، د دې لپاره چي د مرکزي آسیا تیل او ګاز د افغانستان له لاري بهر ته انتقال نه شي، د دې سیمي بازار د دوی په واك کي راشي او تیل او ګاز ئې د ایران له لاري انتقال شي او پاکستان د دې سیمي بازارونو ته لار ونه مومي، زموږ په هېواد کي د جګړو او تشنج د دوام لپاره هڅه کوي.

• لکه څنګه چي په افغانستان کي د شیعه - سني، هزاره - پښتون او اقلیت - اکثریت جګړه د ایران د لاسوهنو او مداخلو نتیجه وه، په پاکستان کي هم د شیعه او سني ترمنځ د خونړیو نښتو لړۍ د ایران د سیاستونو نتیجه ده، دا نښتې د ایراني انقلاب نه وروسته پیل شوې، له دې د مخه د پاکستان شیعه او سني د ورونو په څېر د یوه بل خوا ته اوسېدل، د کویټې او د پاکستان د نورو سیمو د نښتو مسئولیت تر ټولو د مخه د ایران په غاړه دی. د کربلا د وروستۍ پېښې لاملونه هم باید په هغه سیاست کي ولټوو چي د عراق شیعه ئې له اشغالګرانو سره ملګرتیا ته وهڅول او د عراق آزادي غوښتونکو ته ئې شیعه ټولنه د پردیو او دښمنانو د بریځو په توګه معرفي کړه.


مورږ له هغه دښمن نه منتقم خدای ته شكايت كوو چي د دوستۍ په جامه كي له مظلومو افغانانو سره دښمني كوي، خدای دې مظلوم مسلمانان د هغه دښمن له شر نه وژغوري چي تل ئې له شا نه په خنجر وهي، خپلي گټې د افغانانو په جنگ ځپلی هېواد كي د جگړو په دوام كي لټوي او له يهودانو او نصاراوو سره د مسلمانانو په ضد متحد كېږي.

انشاء الله دا تياره شپه به الله تعالی حتماً پای ته ورسوي، او اسلامي امت به يو ځل بيا خپل تېر مجد او عظمت ترلاسه كړي، دا روانې جگړې كه له يو پلوه د مسلمانانو د مظلوميت ښكارندويي كوي نو له بلې خوا د دوی د بيداري او له غلامۍ او اسارت نه وتلو كلك عزم او هوډ ښيي. كه د مسلمانانو دا د قربانۍ جذبه وي، او دا له افتخار نه ډك مقاومتونه نو د دنيا هيڅ ځواك ئي لدې وروسته په غلامي كي نشي ساتلی.

# د امریکا جنایات په عکسونو کي

په ابوغریب، بگرام، گوانتانامو، کندهار او د امریکا په نورو زندانونو کي د وحشی امریکئیانو په لاس له بې وزلو بندیانو سره شوی ظلمونه بالآخره افشاء شول او د امریکا د دیموکراسۍ اصلی کرغیړنه څېره ئې نړۍ والو ته بربنډه کړه.



چا گمان کاوو چې امریکایان به تر دې حده ذلیل، بې رحمه، وحشی او رذیل وی؟



دا هغه بربنډ کړی شوی بندیان دی چي پلاستیکی کڅوړی ورپه سر شوی، یو د بل د پاسه اچول شوی او یوه امریکایي عسکره وربانديي پرته او بل عسکر ترشا ورته ولاړ دی



لوڅ کړی شوی عراقي بندی ته پړی په غاړه کي اچول شوی او امریکایي عسکر ئې کشوی



دې مظلوم بندی ته برقی شارتونه ورکوی!



دا مظلوم بندی ئې بربنډ کړی او په گندگیو ئې لړلی او د تعذیب لپاره ئې د صلیب نښه ورباندې جوړه کړی.



دا هغه بندیان دی چي رذیلو امریکایانو بربنډ کړی او یو د بل د پاسه ئې
اچولی او دوه امریکایی عسکر سړی او ښځه ئې تماشا کوی



په گوانتانامو کي د بشری حقوقو بله بیلگه



امریکایان او په سپو د بندیانو داړل



بش وایي: څوك چي غواړي زما ملګرتیا وکړي نو باید زما د دې سپي په
څېر تیټه لکۍ او مړاوی غوږونو سره زما تر شا روان وی





دلته یوه امریکائې عسکره گورئ چې سگریټ په خوله کې او د بربنډ بندی
د ذکر په لور ئې لاسونه غزولی



دلته په لاسی کراچۍ کې د مړو او زخمیانو لېږدونه ګورئ، دا د اشغال شوی عراق مظلوم ولس ته د امریکایي دیموکراسۍ تحفی دی.



مظلوم بندی ته توره کڅوړه ورپه سر شوی او له خپل ماشوم زوی سره په سخته ګرمی کې، د شګو په سر، په سرخلاص زندان کې ساتل کېږی.





امریکایي عسکر افغاني او عراقي ماشومان تلاشي کوي.



افغاني ماشومان او امریکایي کلستر بمونه













امریکایان او د ماشومانو انسانی حقوق پدې عکسونو کي ښه انځور شوی



امریکایانو د دغه ماشوم مور پلار وژلی او دیته ئې هم نه پرېږدی چي په لاس کي نیولی وچه ډوډی په ډاډه زړه وخوری.



له امریکایي زندان نه خوشی شوی بندی گورئ چي په خپلو پښو نشی تلی
او خپل ملگری په شا کړی



دا له بندیانو سره د صلیبی دیموکراتانو د وحشیانه سلوك بله بیلگه



افغانان او عراقیان که خپلواکي غواړي نو داسې یو شمیر نور تابوتونه هم باید امریکا ته ولېږي.

Download from:aghalibrary